# پښتانهٔ

## د تهذيب په څپو کې



ډاکټر باقي دراني

# پښتانهٔ

## د تهذیب په څپو کي

Pukhto.Net

ډاکټر باقي درانے

صحاف نشریاتي مؤسسه کوټه

Published by
Sahaf Publishing Institution
Quetta
2008

د دې کتاب ټول حقوق د ليکوال دي
ترې په ګټه اخسنه کې د اخځ ښونه لازمي ده

د کتاب نوم : پښتانه د تهذيب په څپوکې
ليکوال : پروفېسر ډاکټر عبدالباقي درانے
durraniab@yahoo.cm

لومړے چاپ
د چاپ کال : ۲۰۰۸ زېږده
د چاپ ځاى : الحق پريس لاهور
د چاپ شمېر : زر(۱۰۰۰) ټوکه

د پښتۍ انځور: ډاکټرعبدالخالق

بيه : درې سوه روپئی (۳۰۰)

چاپوونکے او خپروونکے صحاف نشرياتي مؤسسه کوټه
کاسي روډ نورمسجد ته مخامخ
فون ۰۸۱۲۶۶۴۲۳۲

# اهداء

د ستر احمد شاه بابا وَ روح ته چي په چيغه چيغه د هېواد له هري کنډوالي څخه له مونږه د روغي جوړي او امنيت خواست کوي-

ډاکټر باقي درانے



# مننه

د دې کتاب په ليکنه کې مې د يو شمېر کورنيو او بهرنيو ليکوالو ليکنې او څېړنې تر کره کتنو تېرې کړې- د ډېرو پوهانو او اِدارو څخه مې مشورې پرې واخستې چې ترې په ګټه اخسنه کې يې د اخځ ښوونه ځان لره افتخار ګڼم او مننه يې کوم- که څه هم په دې لنډه"مننه" کې د خپلو ټولو ملګرو نومونه جلاجلا اخستل کېدای نه شي خو د دغه تهذيبي او تاريخي ښير په بېرته کتنه کې د دروېش دراني د پېرزويني او د سهېل جعفر د پښتني ميني ډېره مننه کوم- د ظاهرخان مندوخېل، سعيد خان کاکړ، جهانزېب خان ناصر، اورنګزېب، عبېدالله برېڅې او عبدالرحمان سره سره د ډاکټرعبدالخالق هم شکريه ادا کوم چا چې د دې کتاب د پښتې د انځور په جوړښت کې خپله مينه څرګنده کړه- د دې کتاب په ليکنه کې زۀ د بانو، ابدال او سېدال هم احسان مند يم چې دوی تر لويې مودې په ورين تندي دماسره مرسته وکړه او دا کتاب يې راسره بشپړ کړ- په آخر کې د محترم احمدالله صحاف هم ډېره ډېره مننه کوم د چاپه پښتني مينه او زيار چې دا کتاب تر تاسو ورسېد-

ډاکټر باقي دُرانے
ايچ -۶ انسکمب روډ
کوټه

# لړليکونه

**سرليک** | **مخ**


| سرليک | مخ |
|---|---|
| سريزه | ۱۲ |
| ۱ – پښتانه د تهذيب په څپو کي | ۱۵ |
| ۲ - د افغانانو ټولنيزه پېژندنه | ۳۲ |
| ۳ - دنړۍ زېږده | ۴۷ |
| **د تهذيب لومړۍ څپه** | |
| ۴ - د تهذيب پېلامګر | ۵۷ |
| ۵ - اولني تهذيبونه | ۶۳ |
| ۶ - آريا او آريانه | ۷۷ |
| **د تهذيب دويمه څپه** | |
| ۷ - دويم تهذيبي دور | ۹۹ |
| ۸ - باختر، ساکان او ساکستان | ۱۱۷ |
| ۹ - کوشاني يا کوچياني دولت | ۱۳۷ |
| ۱۰ - يپتالي دولت | ۱۴۸ |
| ۱۱ - کابلستان، خُراسان او سيستان | ۱۵۴ |
| ۱۲ - د اسلام څرك يو ستر آوښتون | ۱۶۱ |
| ۱۳ - صفاري دولت | ۱۷۹ |
| ۱۴ - غزنوي او غوري دولتونه | ۱۹۰ |
| ۱۵ - پښتانه او چنګېزي يرغل | ۲۱۵ |

## د تهذیب درېیمه ځپه


۱۶ - درېیم تهذیبي دور او پښتانه ۲۳۱
۱۷ - مغل او افغاني مبارزې ۲۳۹
۱۸ - د تهذیب ستورے (شېر شاه سوري) ۲۵۷
۱۹ - د آزادۍ هلي ځلي ۲۶۶
۲۰ - میروېس نیکه او ایران ۲۷۷
۲۱ - احمد شاه بابا او لوی افغانستان ۲۹۵
۲۲ - تېمور شاه او پایتخت کابل ۳۲۲
۲۳ - د انګرېزانو خلاف افغاني مبارزې ۳۲۹


## د تهذیب څلورمه ځپه


۲۴ - شلمه پېړۍ ۳۶۳
۲۵ - امان الله خان او د افغانستان سیاسي خپلواکي ۳۷۳
۲۶ - داؤد خان او جمهوریت ۳۸۶
۲۷ - د روس پر ضد افغاني مزاحمت ۴۰۷
۲۸ - د طالبانو خوځښت او امریکي مداخلت ۴۲۸
۲۹ - تهذیبي تاریخي او ثقافتي ورثه ۴۴۶
۳۰ - نوې لویه لوبه ۴۵۵


## د تهذیب پنځمه ځپه


۳۱ - یویشتمه پېړۍ ۴۶۷
۳۲ - حامد کرزے او لویه جرګه تحریك ۴۷۷
۳۳ - عالمګیریت او افغانان ۴۸۹
۳۴ - د عالمي نظام نوے تشکیل ۴۹۶
۳۵ - پښتانه د سبا په څار ۵۰۰


* * *

| عکسلیك | مخ |
|---|---|
| ۱- په افغانستان کي زړې تاریخي نخښې | ۲۵ |
| ۲- ساکي او پارتي ګذار | ۳۹ |
| ۳- پر ځمکه د زړو نخښو ځایونه | ۴۹ |
| ۴- له یوه ځایه تر بله د اولنَیو انسانانو د کوچ لاري | ۵۲ |
| ۵- دسومري، مصري، سیندي او چیني تهذیبونونقشه | ۵۸ |
| ۶ - په بېن النهرېن کي د اولني تهذیب نخښې | ۶۴ |
| ۷ - په ګیزا کي د مصري تهذیب زړې نخښې | ۶۷ |
| ۸- د سیند د حوزي تهذیبي نخښې | ۶۹ |
| ۹- د سیند د حوزي د تهذیب زوال | ۷۰ |
| ۱۰- حتي تهذیب | ۷۱ |
| ۱۱- دحتي تهذیب مهم ښار ټروے | ۷۲ |
| ۱۲- د حتي باچا مرسلېز مجسمه | ۷۳ |
| ۱۳- د آریاوو د کوچ لاري | ۷۸ |
| ۱۴- د آریانه مهم ښارونه | ۸۰ |
| ۱۵- د حتي آریایي کلتور یوه نخښه | ۸۷ |
| ۱۶- پر دیوال جوړشوے د زراتښترا زوړعکس | ۹۰ |
| ۱۷- د بُست تاریخي کلا | ۹۲ |
| ۱۸- د بخت نصر سلطنت | ۹۴ |
| ۱۹- د ساکانو اوېجه | ۱۰۱ |
| ۲۰- دساکي مېرمن تمایره له لاسه دسایرس وژنه | ۱۰۶ |
| ۲۱- د هخامنشي سلطنت نقشه | ۱۰۵ |
| ۲۲- د سکندراعظم د سلطنت نقشه | ۱۰۹ |

۲۳- باختري مېرمن روښانه (دسکندرښځه) ۱۱۰
۲۴- د باميان بودايي نخښې ۱۱۲
۲۵- د رومي سلطنت نقشه ۱۱۳
۲۶- پرکراسته جوړه يوه زړه ساکي نخښه ۱۱۸
۲۷- ساکي جنګيالے (پرپخوانۍ سِکه) ۱۲۰
۲۸- په سيستان کي هخامنشي کنډوالې ۱۲۲
۲۹- په ۵۵۰ مخزېږده کي د آريانه ښارونه ۱۲۳
۳۰- د يونانوباختري واکمنو سِکې ۱۲۹
۳۱- د ګندهارا پر لور دباختري ساکانو مخه ۱۳۰
۳۲- هندو سکايي دولت ۱۳۳
۳۳- د ټېکسلا يوه سکايي نخښه ۱۳۴
۳۴- په ۱۵۰ زېږده کي د اېرواېشيا نقشه ۱۳۹
۳۵- د کوشاني سلطنت نقشه ۱۴۰
۳۶- کوشاني باچا کنيشکا ۱۴۲
۳۷- د کوشاني دولت پلازمينه (پايتخت) ۱۴۳
۳۸- د کنيشکا مجسمه ۱۴۵
۳۹- يپتالي سلطنت ۱۵۰
۴۰- د اسلام د پر مختګ لاري ۱۶۶
۴۱- د آرامي او يوناني خط نخښې ۱۷۳
۴۲- يعقوب صفار ۱۸۳
۴۳- د يعقوب صفار مزار ۱۸۵
۴۴- سلطان غياث الدين غوري او ددۀ ورور ۲۰۳
۴۵- د غوري سلطنت نقشه ۲۰۴
۴۶- سلطان علاء الدين غلجے ۲۰۸
۴۷- دسلطان علاء الدين غلجي سلطنت ۲۱۰

| | |
|---|---|
| ۴۸- د چنگېزخان د سلطنت نقشه | ۲۱۹ |
| ۴۹- په مغلي سلطنت کي تېموري اضافه | ۲۲۶ |
| ۵۰- د تجارت تاريخي ورېښم لار(Silk Road) | ۲۳۲ |
| ۵۱- سلطان ابراهيم لودي | ۲۴۵ |
| ۵۲- کندهار د مغلو او صفويانو تر منځ | ۲۵۴ |
| ۵۳- شېرشاه سوري | ۲۵۹ |
| ۵۴- دشېرشاه سوري مزار | ۲۶۱ |
| ۵۵- خوشحال خان خټك | ۲۷۰ |
| ۵۶- ميروېس نيکه | ۲۷۸ |
| ۵۷- شاه محمود او شاه اشرف | ۲۸۷ |
| ۵۸- د مير وېس نيکه د کورنۍ افغاني دولت | ۲۹۰ |
| ۵۹- احمد شاه بابا | ۲۹۹ |
| ۶۰- د لوی افغانستان نقشه | ۳۱۷ |
| ۶۱- د احمد شاه بابا مزار | ۳۲۰ |
| ۶۲- تېمورشاه | ۳۲۳ |
| ۶۳- زمان شاه او شاه شجاع | ۳۳۱ |
| ۶۴- افغانستان تر انګرېزانو لمخه | ۳۳۵ |
| ۶۵- په لومړي جنګ کي د انګرېزانو د تېښتي لار | ۳۴۱ |
| ۶۶- وزير اکبر خان | ۳۴۲ |
| ۶۷- امير دوست محمد، شېرعلي اوعبدالرحمان | ۳۴۴ |
| ۶۸- د خېبر دره | ۳۴۵ |
| ۶۹- د ګندمك تړون | ۳۴۹ |
| ۷۰- د مېوند د جنګ نقشه | ۳۵۲ |
| ۷۱- د ملالۍ خيالي شبيهه | ۳۵۴ |
| ۷۲- د افغانستان اوسنۍ نقشه | ۳۵۵ |

۷۳- جمال الدين افغاني ۳۵۶
۷۴- پر هيروشيما د امريکا له خوا اټمي حمله ۳۶۸
۷۵- غازي امان الله خان ۳۷۵
۷۶- نادر شاه او محمد ظاهر شاه ۳۸۱
۷۷- محمد داؤد خان ۳۸۷
۷۸- ډاکټرخان، باچاخان او صمدخان اچکزے ۳۹۰
۷۹- کمونيسټان ۴۱۵
۸۰- مُجاهدين مشران ۴۲۵
۸۱- له منځنۍ آسياڅخه دتيلو پايپ لاينونه ۴۵۶
۸۲- د غبرګوليوميناړونودويشتني ننداره ۴۷۱
۸۳- پرتوره بوره دامريکايانودبمبارۍ منظر ۴۷۵
۸۴- ظاهرشاه اوحامد کرزے ۵۷۸
۸۵- په لويه جرګه کي د عبوري واکسپارني منظر ۵۸۲
۸۶- مولانا فضل الرحمان، اسفنديارولي او محمود خان ۵۰۸


***

**لښتليك** **مخ**


| | |
|---|---|
| اوّل لښتليك : پښتانهٔ | ۳۵ |
| دويم لښتليك : دپښتو زوکړه | ۳۶ |
| درېيم لښتليك : دافغاني کلتور پسول | ۸۸ |
| څلورم لښتليك : ساکان او پښتني ټبر بندي | ۱۳۵ |
| پنځم لښتليك : کوشانيان (کوشابون) (کوچيانيان) | ۱۳۸ |
| شپږم لښتليك : يپتاليان (ابداليان) | ۱۴۹ |
| اووم لښتليك : غورغښت ټبرونه | ۱۷۷ |
| اتم لښتليك : بېټني ټبرونه | ۲۰۹ |
| نهم لښتليك : کرلاڼ ټبرونه | ۲۶۷ |
| لسم لښتليك : کوشابون يا خرشبون سړبني ټبرونه | ۲۶۸ |
| يوولسم لښتليك : شرخبون سړبني ټبرونه | ۳۱۹ |


*** 

# سریزه

د پښتنو تاریخ ډېر زوړ او تهذیب یې خورا موړ دے- له پخوا څخه تر اوسه افغانستان په آسیا کې د لویو قوتونو په لار کې پروت دے او هري تهذیبي څپې وربانديِ خپل اثر پرې اېښے دے- دا وطن چونکي د ختیځې آسیا، منځنۍ آسیا، او هندوستان ترمنځ دے ځکه د جغرافیایي موقعیت له کبله د آسیا زړه بلل شوے دے- وګړو یې په وارو وارو قُربانئی ورکړې دي او د زمانې په اوږدو کې یې په عالمي تاریخ کې لوی لوی بدلونونه راوستې دي- چونکي دوی په هره پېړۍ کې د یوۀ نه یوۀ عالمي قوت سره **د بقا په جنګ** پاته شوي وو ځکه یې دومره موقعه نه وه ترلاسه کړې چې علمي کارونه یې کړي وای- همدا وجه ده چې پخوانیو پښتنو خپل تاریخ پخپله نه دے لیکلے او خاریجي تاریخ لیکونکو یې په تاریخ کې ډېرې خاشې ماتې کړې دي-

د اوسَنیو تاریخ پوهانو علمي کتابونه او څېړنې په عالمي تاریخ کې د افغانانو اصل مقام څرګندَوي خو د عامو خلګو تنده نه په ماتېږي- پښتنو تاریخ پوهانو د افغاني تاریخ ډېر ستر کتابونه لیکلي دي او ډېر اوږدۀ علمي بحثونه یې هم وربانديِ کړي دي خو د

زيات شمېر لوستنه او په پوهنه د عامو خلګو تر وس لاندي نه ده- په افغانستان کي د ورور وژني مخنيوے هله کېداى شي چي د عامو خلګو سر د خپل هېواد په شخړو خلاص شي او د قام په پرمختګ کي برخه واخلي- ځکه پکار دے چي عامو خلګو لره د دوى په خپله ژبه ډېرځه وليکل شي- ډېرعام خلګ تاريخ لوستل او په تاريخ پوهېدل غواړي خو د تاريخ علمي کتابونه دومره مُشکِل دي چي لوستنه يې د خلګو حوصلې ورماتوي- ځکه دا اِحساس راته وشو چي عام خلګ يوۀ داسي کتاب ته اړتيا لري چي يوې خواته يې لوستل آسان وي چي هر څوك په پوهـ شي، بلي خواته د تهذيب په پنځو واړو څپو کي د ټول افغاني تاريخ لنډيز وي او دريم طرف ته په تهذيبي او تاريخي کتابونو کي مهمه اضافه وي چي د اوسنۍ افغاني شخړي بېلا بېل اړخونه هم تر پام لاندي راوړي، ولي چي د ختيځ د دې څنډي تهذيب او عمومي تاريخ په اوسني دور کي په عالمي توګه د پاملرني وړ ګرځېدلي دي- په تېرو څلوېښتو کلونو کي افغان وطن بيا د عالمي قوّتونو ترمنځ دجنګ مېدان شو چي پکې زياتوکم شل لکه وطنوال شهيدان شول- په دې وخت کي چي پر هرچا ځان ډېر ګران دے، افغاني ننګيالو شهيدانو بيا هم په خپلو وينو دخپل وران وطن بېرغ اوچت وَساتۀ- په دې سيمه کي د څالاکه دُښمنانو له لاسه دا خونړے جنګ لا تراوسه دوام لري چي پکې د سپېځلو پښتنو ويني بهيږي- "پښتانه د تهذيب په څپوکي" د افغانانو د هر پښت قدرونه او روايتونه سره راغونډوي او د هر دور تاريخي، معاشرتي، سماجي، مذهبي او علمي اړخونه په لنډه توګه

ځرګندوي- په دې کتاب کې په آسانه ژبه د نړۍ له زوکړې څخه تردې وخته د پښتنو د تاریخ لنډیز دے چې د عامو خلکو او طالبعلمانو د پاره د معاشي، معاشرتي او ثقافتي اړیکو په ترڅ کې د پښتني معاشرې تشکیل وړاندي کوي-

تاریخ د ژوندانۀ هغه هینداره ده چې انسان خپله حقیقي څهره پکې ګوري او بیا ورو ورو د قام د ټولنیز ژوند د بښګړي په حقله د تېرمهال د واقعاتو په رڼاکې خپله لار او مزل لټوي- زما دا کتاب یوازې دلرغون د واقعاتو مجموعه نه ده بلکې دقام د پخوانۍ ورثې هغه سبق دے چې ما د زاړۀ دودیز او نوي ساینسي پښتني پښت څېړني تر اثر لاندي په دې هیله لیکلے دے چې ګوندي دغه تحریر ترعامو خلکو هم اصل حقایق په اساني ورسوي- ولې چې د پښتنو اصل قوت د دوی تاریخ دے چې یوې خواته د اِستقلال سوګند دے او بلې خواته د خپلواکۍ عمارت ورباندي ټینګ ولاړ دے- دا تاثر غلط دے چې پښتانۀ تش په جنګ غښتلي دي- حقیقت دادے چې پښتنوهرکله د رواداري ثبوت ورکړے دے خو د بقا هلې ځلې یې تر تېښته غوره ګڼلي دي- په دې کتاب کې د تیري نیمي پېړۍ د پرلپسې ناورینونوجاج په خصوصي توګه اخست شوے دے او ځایي، علاقایي او عالمي اثرات یې هم تر پام لاندي راوړل شوي دي- ځکه د دې کتاب مرام له عالمي تهذیبي ادوارو سره د افغاني تاریخ سمون هم دے-

**ډاکټر باقي دُراني**

# ۱

# پـښتانهٔ دَتهذيب په څپوکي

د قامونو پېژندنه او ارزښت د هغوی تهذيبونه دي- تهذيب يوازي د ښارونو جوړښت نه دے اونه په يوهٔ خاص دور کي د مادي ترقۍ د آثارو نوم دے- د مادي قدرونو اشتراك هم د يوهٔ خاص تهذيب بُنياد نه شي جوړېدای- بلکي دا د ثقافتونو د قرابت اومعاشي ومعاشرتي اړيکو پر بُنياد د يوې معاشرې تشکيل دے- د پښت واړه قدرونه او روايتونه د تهذيب سره تړلي دي- دا په اصل کي د يوهٔ دور د معاشرتي ، سماجي ، مذهبي ، علمي او صنعتي ترقۍ ټول اړخونه څرګندَوي- د قام د تهذيب اصل عناصر د هغه تاريخ، نظريې، عقايد، ادب، موسيقي او مصّوري دي چي قام په پېژندل کيږي- د پښتنو بد قسمتي داده چي په دې سيمه کي تراوسه د نورو قامونو ليکلي، د تاريخ هغه کتابونه لوستل کيږي چي هغوی د خپلو خاصو مقاصدو په ترڅ کي ليکلي وو- د نورو قامونو دا تش په نامه دانشوران په خپل کار خوراغښتلي او څالاکه وو- چونکي پښتون قام په دې سيمه کي د هغوی يوازينے سارے ؤ ځکه هغوی

غوښت چي د پښتنو له تهذيب او ثقافته (کلتوره) خلګ بېخبره وساتي او تاريخ په دا شان پېش کړي چي د پښتنو خو څه خپل تهذيب نشته-

"تهذيب" چونکي د ثقافتي موجوديت اقرار ګڼل کېږي ځکه په عالمي تاريخ کي"دور" هغه وخت بدلېږي چي په تهذيب کي بدلون راشي خو دا بدلون په ټوله نړۍ کي په يوۀ وخت نشي راتلای ځکه په عالمي تاريخ کي د "دور" د شروع او ختمېدو صحيح نېټه نشي ټاکلکېدای- په تهذيب کي بدلون يا په عالمي تاريخ کي "دور" د "څپي" په شان تېرېږي- زړو ليکوالو تاريخ د زاړه دور، منځني دور او اوسني دور پر بُنياد تقسيم کړے ؤ خو دا وخت سائنسي علوم عام شول او اطلاعاتي ټيکنولوژي(Informatin technology) ډېره پرمخ روانه ده- هر قسم معلومات په آسانۍ سره تر لاسه کيږي- ځکه د تاريخي معلوماتو ډېره لويه ذخيره اوس د تهذيبونو او تهذيبي ادوارو پر بُنياد وېشل شوې ده -

اوس انسانان د خپل تېر مهال په حواله په ډېر څه خبر دي- د تېرمهال د تهذيب په لړکي د هغه وخت زاړه عمارتونه، لوښي توري او نور د استعمال شيان تر ځېرني لاندي راغلي دي چي په علمي توګه د زاړه مهال په لړ کي خورا غوره معلومات ورکوي- په طبعي سائنس کي هم تحقيق ډيرمخ په وړاندي روان دے ځکه له "کاربن" څخه د تېر مهال په حقله ډېر معلومات حاصليږي- د تېر مهال ادبيات د زړو تهذيبونو په حواله ډېر غوره معلومات ورکوي او د ژبپوهني په رڼا کي هم د تېر مهال تهذيبي قدرونه معلوم شوي دي- زاړه تحريرونه اوس وئېل کېدای شي او دا معلوميږي چي د فرعونانو

په وخت کي او تر هغوی هم له مخه خلګو ليك لوست څنګه کاوۀ او څه يې ليکلي دي؟ د جديد دور د ځينو څېړونکو دا عقيده ده چي پنځوس زره کاله وړاندي په آريانه کي خلګو ژوند کاو او بياله دغي سيمي هندوستان، ايران، عراق او يورپ ته په وارو وارو کوچېدلي وو ځکه بېله څه شکه آريانه د بشر مور ده-

د پښتني سيمي پرون ډېر روښان ؤ کوم چي اوس د پښتنو تاريخ بلل کيږي- آ ريانه د افغانستان زوړ نوم ؤ او پښتانۀ د آ رياوو پايځوړ دي- د پښتنو اسلاف له پښته د آسيا په ډېره لويه برخه کي اوسېدل ځکه نن هم د آسيا په زړه (افغانستان) کي آباد دي- د آرياوو يو ځلاند لرغونے تاريخ دے او په زړو تهذيبونوکي لوړ مقام لري ځکه پر زړه آريانه آباد دغه پښتانۀ په اصل کي د تهذيب پيلامګر بلل کېدای شي- "حتي تهذيب" هم د آ ريايي نسل دغو خلګو جوړ کړے ؤ[1]- همدارنګه ساکان د هخامنشي تهذيب يوه مهمه برخه وو-

**نن** د ترقۍ په ميدان کي پښتانه ډېر شاته پاته شول- که څه هم دا د پرېشانۍ خبره ده ، خو د قامونو په تاريخ کي داسي وختونه راځي- د ژوندو قامونو دا خاصيت وي چي هغوی په يوۀ حالت کي نه شي اوسېدای او همېشه د بدلون په لټون وي- همدغه فطرت دے چي هر وخت په حرکت کي ښکاري- موږ پښتانۀ يو، پښتو مو ژبه او عدالت دے، پښتونوالے مو آئين دے او پشتونخوا مو ټاټوبے- خو دا هم حقيقت دے چي په يويشتمه پېړۍ کي د بقا د پاره تعليم او صنعتي ترقي دواړه لازم دي-

بهرَنيو تاريخ ليکونکو د پښتنو سره انصاف نه دے کړے- ځينو

خو دومره تعصب کړے دے چي پښتانهٔ يې دتهذيب دُښمنان بللي دي- وجه يې دا وه چي هغوی د افغانانو ګاونډيان وو او په وارو وارو يې د پښتنو سره نښتي شوي وې چي د افغانانو په ګټه او ددوی په نقصان تمامي شوي وې- د خپل شکست پټولو او د خپلو خلګو د تسل د پاره د افغانوخلاف ليکل د هغوی مجبوري کېدای شي خو له تاريخ سره لويه ناانصافي ده-

تاريخ د يوهٔ قام يا د يوې ټولني ملکيت نه دے بلکي هر يوقام د بل قام سره په يوه نه يوه تاريخي کړی تړلے دے ، ځکه د خپل قام په تاريخ ځان خبرولو لره دا هم لازم دے چي پښتانهٔ د نړی په تاريخ ځان خبر کړي- د نړی تاريخ ګواه دے چي انسان څنګه ورو ورو ترقي وکړه ؟ له جهالته ترتهذيبه دانسان سفرنامه په اصل کي تاريخ بلل کېدای شي- د خپل تاريخ پاڼي پلټل، د قام تهذيبي قدرونه لټول، د نورو قامونو سره بشري رشتې ټينګول او دا نړی په ګډه آبادول د انسان د ترقی زينې دي-

افغانستان له ډېر پخوا څخه د لويو قوتونو لار پاته شوے دے- د تجارت پخوانی لويه لار يعني د ورېښمولار (Silk Road) له چين او هند څخه په افغانستان کي و يورپ ته تېرېده- ځکه د فاتحانو تر منځ د ډېرو لويو جنګونو مېدان افغانستان ؤ- دا وطن د ډېرو زورَورو آخري آرامګاه هم دے ځکه خوجهاني وايي:

شېخه سرته امان غواړه مات يې نه کې تصويرونه
دلته سر په سر سودا ده دا وطن د پښتنو دے

دا د افغانانو ځمکه ده، چي په تاريخ کي ټوله کله هم د چا ماتحته (کالوني) نه ده پاته شوې- دا وطن د منځنی آسيا،

ختيځي آسيا، هندوستان او لري ختيځ ترمنځ دے- علامه اقبال هم افغانستان د آسيا زړه بللے دے- پر دې خاوره کوروش، سکندر، چنګېز، ګوډتېمور، ايرانيانو، سيکانو، مغلو او انګرېزانو خپل وس تمام کړ خو افغانانو خپله خپلواکي بيا هم په خپلو وينو، تر اوسه ساتلې ده- دوی زرتښتي او بودايي مذهبونه پر خپل غولي را لوی کړي دي او بيا ټولو ورو ورو د سمي لاري په توګه، اسلام خپل کړے دے- ځکه د افغانستان په لمن کي د زړونخښو(آثارقديمه) لويي لويي خزانې دي چي پر دې سيمه له زرګونو کلونو څخه د افغاني تهذيب ګواهي ورکوي- د يونيسکو يو راپورټ دے چي د بلخ ښار شمار د نړۍ تر ټولو په زړو ښارونو کي دے- د دغه ښار کنډوالې اوس هم په افغانستان کي له مزارشريف څخه پر څو ميله خوَرې وَرې پرَتې دي-

له۵۰۰ مخزېزدي يا قبل مسيح څخه افغانستان د بهرَنيو حمله کونکو مقابله کوي لګيادے- سايرس اعظم په ۵۰۴ مخزېږده کي د اوسني افغانستان يوه څنډه ونيوه او بيا يې د ساکانو(افغانانو) سره د "واك په ګډه" تر اصول لاندي يو کنفېډرېشن جوړ کړ- سايرس د دوی په مرسته ورو ورو هخامنشي تهذيب جوړکړ او د" ګندهارا تهذيب" په جوړښت کي يې د ساکانو مرسته هم وکړه خو وروسته د ساکانو سره د نښتو په سوَب له منځه ولاړ- بيا تر عيسیٰ عليه السلام تقريباًدرې سوه کاله مخکي سکندراعظم له خپلو دېرشو زرو فوجيانو سره درې کاله په افغانستان کي نښتے ؤ چي هندوستان ته يې لار نه شوه کېدای-

تر ساکانو وروسته کوشانيانو (کوچانيانو) ګندهارا تهذيب ته نوره ترقي ورکړه چي تفصيل به يې په راتلونکو پاڼوکي مخته راشي- بيا غزنويانو، غوريانو، لوديانو او سوريانو په افغانستان او

هندوستان کي اسلامي تهذیب پرمخ روان کړ- احمد شاه بابا په کال ۱۷۴۷ کي د "جدید افغانستان" بنسټ کښېښوو، ورو ورو یې په هندوستان کي مرېټیان ، جاټ ، راجپوت او سِیکان په سزا ورسول او "عظیم افغانستان" (افغان ایمپراتوري) یې ترې جوړ کړ- انګرېزانو د احمدشاه بابا په سلطنت کي هیڅ لاس وهنه نه کوله خو وروسته یې د هغه د اولاد په منځ کي د نفاق اچولو په غرض یو باقاعده مخابراتي (انټېلیجنس) نظام جوړکړ- د انګلستان دا کوښښ ؤ چي په افغانستان کي داسي هیڅ یو قوت وجود ونه لري چي افغانان ورباندي راټول شي او همدغه یې د پاتو روزل شوو ډلو پالیسي ده- انګرېزانو ورو ورو افغانستان کمزورے کړ او په کال ۱۸۹۱ کي یې، په تاریخ کي اوّل ځل پښتانه د ډیورېنډ په کرَښه پر دوو برخو" لر او بر" ځله وَ وېشل-

په نولسمه عیسوي پېړۍ کي هم افغانستاں د برطانیه او روس تر منځ د یوۀ دېوال په شان ولاړ ؤ- دغو دواړو عالمي قوتونو هغه وخت په دې علاقوکي واك تر لاسه کول غوښت او یو د بل دلارنیوي په هلو ځلو کي وو- دغو دواړو لویو عالمي طاقتونو افغانستاں د هغه جنګ مېدان کړ چي په تاریخ کي د "ګرېټ ګېم" یعني لویې لوبې په نامه یادیږي-

افغانان د تهذیب علمبرداران وو ځکه په اوّل او دویم جنګِ عظیم کي غېر جانبدار وو او جنګ یې د تهذیب بقا لره خطره ګڼله- بیا د روس او امریکه ترمنځ سوړ جنګ د افغانانو پر ځمکه تود شو- روس پر افغانستان قبضه وکړه او د هېواد واك یې د خلق او پرچم ګوندونو و کمونیسټانو ته په لاس ورکړ- کمونیسټان د افغانستان د قبائلو په مزاج او د افغاني معاشرې په جوړښت پوهـ نه وو ځکه یې د هېواد خلګ دې ته اړ کړل چي د دوی خلاف جهاد وکړي- افغان

مجاهدينو د شلو لکو شهيدانو په قُربانيو روسيان له خپلي خاوري وَشړل- خو لکه چي د افغانانو الميه ده، مجاهدين په خپلو کي هم سره متحِد نه وو ځکه يې هېواد جوړنه کړ بلکي نوريې لوټه لوټه کړ-

د روس تر ماتي وروسته امريکا د"يو قطبي" (يوني پولر) دنيا يواځينے لوی قوت شو- د امريکايانو نظر د نړۍ د تيلو پر لويو لويو زخيرو ؤ ځکه يې پر افغانستان، عراق او ايران سترګي سرې شوې- که څه هم په افغانستان کي دومره تېل نشته خو د خزر(کاسپين) سمندرګي په خوا وشاکي چي کوم تېل دي، امريکا هغه د افغانستان له لاري تر خليج پوري رسَوَل غواړي- د خپلو ګټو د پاره امريکا پر دغو سيمو د حملو عُذر غوښت، چي له بده مرغه په کال ۲۰۰۱ زېږده کي د ستمبر په يوولسمه نېټه (نائين الېون)، د نيويارك غبرګولي مينارونه ( ټوين ټاورز) او د پنټاګان عمارت په جهازونو وَويشتل شول- پرافغانانو دا پېښه د يوۀ آسماني عذاب غوندي ښکاره شوه- امريکايانو دا پېښه د اُسامه بن لادن له لاسه ګڼله او اُسامه د روسانو خلاف په جهاد کي د افغانانو مرستيال ؤ، چي له هغه وخته د افغانانو په هېواد کي دمېلمه په توګه اوسېد- په ظاهره امريکا ځکه پر افغانستان حمله وکړه چي اُسامه او د هغه کوربه طالبانو ته سزا ورکړي خو اصل مرام يې ښايي چي د کاسپين سمندرګي د غاړي تېل ؤ- له دغه واقعې وروسته د افغانانو پاکه خاوره بيا د عالمګيريت تر طوفان لاندي راغله-

يويشتمه پېړۍ، په نړۍ کي د ختيځ او لوېديځ تر منځ د تهذيبونو د ټکراؤ (Clash of civilizations) د بَلا تر سايه لاندي شروع شوه[۲]- "سوړجنګ" سوړشو او د روس "سوئت يونيئن" په

۱۹۹۲ کي له ختمېدو وروسته "روسي فيډرېشن" د لوېديځ لمن نيولې تر شا ورپسې روان شو- د کمونيزم او سوشليزم نظريې له منځه ولاړې- خلګو د نوي شناخت هلي ځلي شروع کړې- او دا شناخت يې له نوې سره پر ثقافتي کرښو روان کړ[۳]- په سرائيو کي دوه زره کسان سره راجمع شول او په کال ۱۹۹۴ کي يې د اپرېل د مياشتي په اتلسمه نېټه دسعودي عرب او تُرکي بېرغونه راواخستل، مظاهره يې وکړه چي موږ مسلمانان يو او په ډاګه د مسلمانانو سره خپل شناخت تړل غواړو- د لوېديځ (يورپ او امريکا) خلګ خپل تهذيب آفاقي ګڼي خو د آفاقيت دا دعوې د چين او اسلامي نړۍ سره د ټکراؤ خطره پيدا کړه- د تهذيبونو د ټکراؤ دا خطره روځ په روځ زياتيږي- حقيقت خو دادے چي لوېديځ تهذيب آفاقي نه دے بلکي منفرد ګڼل کېداى شي- يوه معاشره په بله ګډَول يا بدلَول د نړۍ امن په خطره کي اچولاى شي- د لوېديځ خلګ صليب د ثقافتي علامت په توګه په غاړه کوي- د ختيځ خلګ هلال (مياشت) خپل شناخت ګڼي- افغانان پټو(څادر) د خپل ثقافتي علامت په توګه تر هر څه مهم ګڼي- داسي ښکاري چي خلګ د نوي شناخت په بنه دخپل پخواني شناخت په لټون دي- خلګ خپل قام، خپله ژبه، خپل ثقافت او خپله تاريخي ورثه د خپل شناخت لازمي برخي ګڼي-

افغانانو د همدغه شناخت په لټون له آدمه تر دې دمه په زرګونو مبارزې کړي دي خو د خپلواکۍ څخه يې لاس نه دي اخستي- لوى شمېر مبارزې د نړۍ د لويو تهذيبونو تر منځ د پښتنو پر ځمکه شوي دي- ولي چي پښتانۀ له خپله شناخته او له خپلواکۍ څخه

سترګي نه پټوي او په هرقيمت دا دواړه ساتل غواړي- خو يو وضاحت لازمي دے چي جديديت له مغربيته بېل شے دے- په نوي وخت کي پر نوو کرښو ترقي لازمي ده- تعليم او زدَکړه د ترقۍ زينې دي- قلم د نن ورځي تر ټولو لويه وسله ده- پښتانهٔ که په راتلونکو وختونوکي خپله آزادي او خپل شناخت ساتل غواړي نو قلم به د وسلې په توګه اخلي او د نړۍ په ګام به ځي-

پښتون له نورو قامونو څخه ځکه شاته پاته شو چي د ترقۍ پر لار دَ نړۍ په ګام روان نه ؤ، دَ قلم جهاد يې ونه کړ او د تعليم په مېدان کي چوك شو- د ژوندو قامونو دا خاصيت وي چي هغوی له تاريخ څخه سبق اخلي- تاريخ ګواه دے چي پښتنو په اِتفاق هر غټ قوت په ګډه مات کړے دے خو دا هم حقيقت دے چي بې اتفاقي د دوی الميه ده- ددې ځمکي پرسر پښتنو د تهذيب په هره تاريخي څپه کي ډېري خوارۍ وړي دي- دوی د قام ژغورني د پاره د يوې ټينګي کلا په توګه د خپلو غرونو تر منځ په هره څپه کي د افغان وطن دِفاع کړېده او هر کله يې د يرغلګرو په مقابله کي يوبل ته لاس سره ورکړي دي- کله چي به له هغوی څخه اوزګارشول نو به يې پر نورو سيمو حکمراني کوله- د تاريخ په اوږدو کي د زمريانو په شان پښتنو کله کله پخپلوکي هم ځله څنډلي دي او همدغه يې د لوی زيان سوَب ګرځېدلے دے- دا وخت که څه هم د پردو د تېري او لاس وهني له کبله دوی پخپلوکي سره بدګمانه دي او نظرياتي اِنتهاپسندۍ (Ideological Extremism) يې سيمه دډېرو لويو شخړو سره مخامخ کړې ده خو ملت د يوهٔ ځلاند سبا په څاردے- پښتانهٔ د

يوۀ ژوندي قام په حېث د تهذيب په واړو تاريخي څپوکي په همدغه شان له ازله راروان دي ځکه خو اجمل خټک وايي:

خپل کوګل مي دجَرس غوندي ټک ټک کړۀ
د خېبر د لويي لاري قافله شوم

د نړۍ له زيږدي څخه د انسان تخليق او بيا له آدم علېه السلام څخه د نوح علېه السلام تر لوی طوفان پوري د انسان تاريخ يوه پټه خزانه ده چي هيڅوك هم په خبر نه دي- د تاريخ ليکني له مخه (قبل التاريخ) حالات که چاليکلي هم دي نو يقين ورباندي نه شي کېدای- په دې لړکي څه پاتمړي (ميراث) مذهبي معلومات انسان ته ورپاته دي او څه نا څه انسان پخپله هم د ځمکيندني (Excavation) له امله ليکلي دي- انساني تاريخ که څه هم يوې خوا ته له جنګونو، يرغلونو او بربادېو ډك دے خو بلي خوا ته د امن او خوشحالۍ په وختونو کي د مدنيتو نخښي هم پکي کمي نه دي- له پخوا څخه چي پر کومو سيمو انسانان اوسېدلي دي ، هلته يې د خپلو بدو او ښو مهالونو په زرګونو نخښي پرې ايښي دي- د تېر مهال کومي نخښي چي اوس په ځمکه کي موندل شوي دي، د زړوآثاروماهرينو(Archaeologists) پرهماغو نخښوخپل خپل عقلي دليلونه ورکړي دي- دا لاندي نقشه (عکس نمبر1) په اوسني افغانستان کي د زړو نخښو ځايونه (Archaeological Sites) څرګندَوي[۴] -

دا نقشه په اوسني افغانستان کي تر تاريخ ليکني مخکي




<u>عکس نمبر</u> **1** په افغانستان کي د زړو تاريخي نخښو ځايونه

نخښي، تر اسلام وړاندي نخښي او د اسلامي دور زړې نخښي په بېلا بېلو علامتونو ښکاره کوي- د افغانستان په هره څنډه کي د تېر مهال په زرګونو زړې نخښي دي چي نوے تاريخ په آساني ترې مُرتب کېداى شي- په پښتونخوا کي هم ډېر داسي ځايونه دي چي د هر دور زړې نخښي پکي خوندي دي-

انساني تهذيب پر پنځو تاريخي برخو تقسيم دے[۱]- هره برخه يې د تېر مهال يوه څپه وه چي تېره شوه خو پنځمه څپه لا رَوانه ده- لومړۍ څپه د بين النهرين له وړو وړو ښارونو څخه شروع شوه او تر ۵۵۰ مخزيږدي پوري يې دوام درلود- اولنے تحرير(علامتي تحرير) د هغه وخت لوى ايجاد ؤ- وروسته له ښارونو څخه سلطنتونه راپورته شول- فرعونان هم په دغه تهذيبي دور کي تېر شوي دي[۵]- دمهرګړتهذيب، سومري تهذيب، مصري تهذيب، د

سيند د حوزي تهذيب او حتي تهذيب په دغه اوّل تهذيبي دور کي پر مخ تللي وو- حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت موسي عليه السلام د اوّل تهذيبي دور پېغمبران وو- يهوديت او زرتښتي مذهب د اوّل تهذيبي دور دوه لوی مذهبونه وو- د دغه تهذيبي دور په وروستۍ برخه کي لوی سلطنتونه روم او فارس وو- کوشاني سلطنت هغه وخت د زوکړي په حالت کي ؤ-

د انساني تهذيب دويمه تاريخي څپه له ۵۵۰ مخزېږدي څخه شروع شوه او تر پنځلسمي عيسوي پېړۍ (۱۴۵۰) پوري يې دوام درلود- په دغه دور کي"حروف تهجي" ايجاد شول او ابجدي تحرير ترقي وکړه- دا دور د لويو پېغمبرانو او فلسفيانو دور ؤ- بودايي مذهب، عيسائيت او اسلام ټول په دغه تهذيبي دور کي منځ ته راغلل- پښتنو اوّل زرتښتيزم بيا بودايزم او وروسته اسلام د مذهب په توګه خپل کړي وو- د افغانانو قيادت تر اسلام مخکي اوّل کوشانيانو (کوچيانيانو) او بيا يپتليانو (ابداليانو) کړے ؤ- غزنويانو او غوريانو په اسلامي تهذيب کي د افغانانو رهبري وکړه- عيسائيت او اسلام په آخر کي يو له بله سره ټکراؤ شول- د صليبي جنګونوله کبله ورو ورو دواړه لوی مذهبونه کمزوري شول[۶]- په ديارلسمه پېړۍ کي د چنګېزيانو له حملو سره دا دورهم ختم شو- غوري سلطنت پر ختمېدو شو او افغانان پر وړو وړو ټبر واکيو ووېشل شول-

د انساني تهذيب درېيمه تاريخي څپه له پنځلسمي پېړۍ (۱۴۵۰) څخه تر شلمي پېړۍ (۱۹۲۰) پوري وه- دا مهال په

یورپ کي "چاپ" ایجاد شو او د کتابونو چپایي شروع شوه- سکولونه، کالیجونه او پوهنتونونه په همدغه تهذیبي دور کي منځ ته راغلل- احمد شاه بابا لوی افغانستان (Afghan Empire) جوړ کړ او د افغاني سیمي طبعي سرحدونه یې وټاکل- تقریباً تر پنځوسو کلونو پوري احمد شاه بابا او تېمورشاه لوی افغانستان ساتلے ؤ[۷]- دا مهال نوي کاروباري اِدارې جوړي شوې- په دغو نوو کاروباري اِدارو کي "ایسټ اِنډیاکمپنۍ" هم شامله وه کومي چي د هندوستان، افغانستان او ایران په سیاست کي لوی لوی تخریبونه وکړل- د دې دور زوال له اوّل جنګِ عظیم څخه شروع شو او له دویم جنګِ عظیم وروسته ختم شو- افغانانو اصولي فېصله وکړه او په دغه دواړو جنګونو کي غېرجانبداره پاته شول-

د اِنساني تهذیب څلورمه تاریخي څپه غونډه شلَمه پېړۍ وه- دا دور په اصل کي د لوبو او تفریح دور ؤ، چي له کال ۱۹۲۰زېږدي څخه یې تر۱۹۹۰ پوري دوام درلود- د دغه تهذیبي څپې بُنیاد لوبي او خبرونه وو- دغي تاریخي څپې په آخر کي خپله تهذیبي بالا دستي ثابته کړه- دا څپه صنعتي دور هم بلل کیږي- په دغه دورکي ډېرلوی شمېرکارخانې جوړي شوې- د کمونیزم او سوشلزم نظریې مخته راغلې او بیا د روس په افغانستان کي له مداخلت سره، د افغانانو په مېړانه ختم شوې- د دې دور تر ټولو لوی کمال "برقي مواصلاتي تېکنالوژي" ؤ- په همدغه څپه کي ډېر نوي نوي الېکټراني ترکیبونه مخته راغلل- ټېپ، ټیلیویژن، سټېج، ډش، او کېبل یو نوے کلتور منځ ته راوست- یوې خواته دا کلتور له مذهبه

سره متصادم شو او بلي خوا ته د عالمګيريت تصوّر د نړۍ سياسي نظام هم بدل کړ- جنګ په برقي ذريعو (ميډيا وار) ګټل هم د ځلورم تهذيبي دور خاص خاصيت ؤ- په دې تهذيبي دور کي پښتانه د انګرېزانو او روسيانو سره د بقا په جنګ اخته وو[٨] ځکه په تعلمي، صنعتي، تجارتي اوسياسي مېدانونو کي شاته پاته شول، خو خپلواکي يې وساتله چي د افغانانو اصل مرام ؤ-

د انساني تهذيب پنځمه تاريخي څپه له کال۱۹۹۰ څخه شروع شوه چي يويشتمه پېړۍ يې اوس په مخه ده- دا دور د"کمپيوټر ټېکنالوژي"دوردے-د انټرنېټ اوسپټلايټ په قوت دجديد اوبالادست کلتور رامخته کولو هلي ځلي رواني دي- په دغه هلوځلوکي شپږ عالمي طاقتونه ياديږي چي امريکا، اوروپا (يورپ)، چين، جاپان، روس اوهندوستان پکې شامل دي[٢]- اوس دمغربي تهذيب د آفاقيت دعوه په حقيقت بدلولو او د عالمګيريت تصوّر عملي کولو جنګ روان دے- معلومه نه ده چي دا جنګ به لا ترکله دوام ولري؟

دا ښکاره خبره ده چي پښتانه په اوّل، دويم او درېيم تهذيبي دور کي د نړۍ په ګام روان وو خو په ځلورم تهذيبي دور کي له علمي اوصنعتي ترقۍ څخه وروسته پاته شول- يوه وجه يې دا وه چي دافغانانو پر ځمکه انګرېزانو خپل وس تمام کړ چي قبضه ورباندي وکړي خو څه لاس لره ورَنه غلل- د مخبرانو له لاري يې په قام کي نفاق راووست او افغانستان يې برباد کړ- دويمه وجه بيا د روس او امريکا تر منځ د ساړه جنګ (Cold War) له کبله د روس پر افغانستان قبضه وه چي افغان مجاهدينو په ډېره مېړانه ختمه کړه- روسيان يې له خپلي خاوري وَشړل او د سوشلزم نظريه يې له منځه

يووړه- روسانو چي له شکسته وروسته کله افغانستان خالي کړ نو په هېوادکي خانه جنګي پېل شوه- جنګ ځپلي افغانان د ګاونډيانو د لاس وهني له کبله نور هم دربدره شول[۷]- د ورور وَژَني او نااِتِفاقۍ په وجه د زمانې له سېله ډېر شاته پاته شول- له بده مرغه د روس تر وتو وروسته دپنځم تهذيبي دور دکال ۲۰۰۱ د ستمبر دمياشتي په يوولسمه نېټه يوه عجبه پېښه وشوه چي يو بل عالمي طاقت امريکا ته يې په افغانستان کي د مداخلې موقعه په لاس ورکړه- دغي پېښي د نړۍ تاريخ ته نوے ول ورکړ چي د پخوا په شان يې بيا پښتانه مخي ته راغلل- عالمي سياست پوهان داسي ګمان کوي چي دا ژوندے قام (پښتانه) به په دې پنځمه څپه کي د قلم جهاد پېل کړي، تعليم به په خپله ټولنه کي مخ ته بوزي، صنعتت او تجارت ته به اهميت ورکړي او په يويشتمه پېړۍ کي به ځان د نورو قامونو سره په هره توګه برابر کړي-

که څه هم خاريجيانو په افغاني تاريخ کي ډيري خاشې ماتي کړي دي خو د نېکمرغۍ خبره داده چي افغانان اوس دخپل تاريخِ قبله سموي لګيا دي- د اوسَنيو ليکوالو تحريرونه او پلټني په عالمي تاريخ کي د افغانانو اصل مقام څرګندَوي- اروابناد استاد عبدالحي حبيبي، اروابناد احمد علي کهزاد، اروابناد مير غلام محمد غبار، اروابناد عبدالشکور رشاد، ډاکټر حبيب الله تږي، دوست شنواري، ډاکټر مجاور احمد زيار، پوهاند حبيب الله رفيع، عبدالرزاق پالوال، امين سېکل او نورو تاريخ پوهانو د افغاني تاريخ ډېر ستر علمي کتابونه ليکلي دي خو د زيات شمېر لوستنه او په

پوهنه د دې سيمې د عاموخلګو تر وس لاندي نه ده- قاضي عطاء الله خان، بهادر شاه ظفرکاکاخېل او نورو تاريخ پوهانو هم په دې لړ کې ډېر د قدر وړ کتابونه ليکلي دي خو د ضخامت له کبله يې لوستنه آسانه نه ده- په نوي دور کې د مُختصر او جديد تاريخ ليکني ضرورت نور هم زيات دے[۹]- اوس دا سوال نه دے چې پښتانه څوک دي؟[۱۰] بلکې مسئله داده چې په عالمي تاريخ کې د پښتانه سره انصاف وشي او اصل مقام يې څرګندشي- په افغانستان کې حقيقي امن لره هلې ځلې وشي چې نه يوازې د افغاستان بلکې د ټولو ګاونډيانو په ګټه دي[۱۱]-

دځينو خارجي ليکوالو دا کوښښ چې افغانان د تهذيب دښمنان ثابت کړي، له تاريخه سترګې پټول دي- له سکندره او چنګېزه څوک ناخبره دي؟ څوک د انګرېزانو له منافقته او د هغوی د وړو وړو قامونه سره د ظلمونه څخه انکار کولاى شي؟ د هټلر نوم د چا په ياد نه دے ؟ څوک د روس هغه جبر هېرَولاى شي چې د يونيئن د پراخېدو په غرض، تر اَوِيا (۷۰) کلونو روان ؤ- څوک د هيروشيما او ناګاساکي له پېښو سترګې پټوَلاى شي؟ پر عراق حمله او هلته د بشري حقوقو حال له چا څخه پټ دے ؟ ځکه د تهذيب په څپوکې د انسانيت دُښمنان نوردي، پښتانه خو د تهذيب پېلامګر دي- پښتونخواه هغه سيمه ده چې له زرګونو کلونو څخه تر اوسه د مدنيتونو چينه، د فرهنګونو لار او د انساني فکر او تهذيب ځانګو ده[۱۲]- د نړۍ سنجيده ليکوالو له پښتنو زدکړه کړې ده او ترې يې اثر اخستے دے[۱۳]-

# اخځليك


۱- ويليم مېك ګاګي، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه ، حسن عابدي ، مشعل لاهور،۲۰۰۵

۲ - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټكراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizationz and the new world order) اوكسفورډ، ۱۹۹۷ -

۳ - هنري اې كسينجر، ډيپلومېسي (Diplomacy)، سائيمن اېنډ شسټر نيويارك، ۱۹۹۴

۴ - لو ئز ډوفري ، ( Afghanista:East and wesrnt meet and mingle ) افغانستان، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۳

۵ - ډيورانټ وِل ، د تاريخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن ياسر جواد، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶ -

۶ - مانفرېډ اې ، (History and Civilization of the World) تاريخ و تهذيبِ عالم، ژباړن اميرالدين تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

۷ - رسانېګم انجيلو، د افغانستان جديد تاريخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۸ - لو ئز ډوفري ، ( Afghanistan:East and wesrnt meet and mingle ) افغانستان، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۳

۹ - علي ډاكټر مبارك ، جديد تاريخ ، فكشن لاهور ، ۲۰۰۱

۱۰ - كاكا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا كي ، پېښور، ۱۹۶۳ -

۱۱ - احمد رشيد، طالبان، ا سلام اوپه منځنى آسيا كي نوې لويه لوبه ، ترجمه حميد جهلمي، مشعل لاهور، ۲۰۰۱ -

۱۲- حبيبي عبدالحى، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش كتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۱۳ - اولف كېرو ، پښتانه (The Pathans) مېكميلن كمپني لندن، نيويارك اېسټي مارټن پريس ،۱۹۶۵

# ۲

# دافغانانو ټولنیزه پیژندنه

تر عيسیٰ علیه السلام دونیم درې زره کلونه مخکې په افغانستان (آريانا) کې" آريا " اوسيدل- دموسیٰ علیه السلام په وخت (۱۴۰۰-۱۳۰۰ مخزيږده) کې افغاني فرهنګ په" وېدي دور" کې زوکړے ؤ- تر هغه وروسته يې په " اوېستا دور" کې خاپوړې کړې وې-" آريانا" له وېدي دورڅخه د افغانستان زوړنوم را رَوان دے- په اوېستا کې دا نوم "اېريانا ويجه" ياد شوے دے- پښتانۀ، ايرانيان، د يورپ خلګ، او لوی شمېر هندوستانيان د آرياوو پايڅوړ بلل کيږي- پښتانۀ د آرياوو د "پکت" يا "پکتوېس" (Puktues) [1] پښې څخه دي چې ټاټوبے يې پکتيکا (پښتونخوا) ؤ او تر اوسه پر زاړه وطن " آريانا " آباد دي، ځکه پکتايان(پښتايان) بلل شوي دي- آريايان د زرتښتي مذهب (زرتښتيزم) پېروکاران وو چې د آريايي پېشوا زرتښت (زرا تشترا) په واسطه ؤ[2]- زرا تشترا بلخي ؤ او بلخ تر اوسه لا هم د افغانستان په جغرافيائي حدونوکې دے- د هخامنشيانو په وخت کې د پښتنو اسلافو د"سکايانو" په نامه خپل قوّت درلود او د "ساکستان" په نامۀ يې وروسته خپل

دولت هم ساتلے ؤ- "اوېستا" د آرياوو ډېر زوړکتاب ؤ چې د آئين حېثيت يې هم درلود- دا کتاب څومره زوړ دے ؟ د دې سوال جواب ډېر مشکل دے خو اوېستا له تورات (۱۳۰۰مخزېږدي) څخه پنځه سوه کلونه وروسته، تقريباً په کال ۱۰۰۰ مخزېږده کي وجود درلود- "ريګ وېدا" او" ژند اوېستا" خو برهمنو او ساسانيانو تر ډېره وخته د آرياوو د مذهبي کتابونو په توګه لوستل- پښتانۀ لومړے ځل په مذهبي کتاب رېګ وېدا کي د پکتايانو په نامه ياد شوي دي- په وېدي سرودونو کي چي د کومو تاريخي پېښو ذکر شوے دے، يو ډېر مشهوره جنګ هم دے چي د لسو آريايي قبيلو تر منځ شوے دے- د دغو قبيلو نومونه په دې ډَول وو [۳]:

۱ - شيوايان

۲ - **پکتايان**

۳ - الیناسان

۴ - بهالانيان

۵ - ويشانيان

۶ - انويان

۷ - دريوهويان

۸ - توروااسايان

۹ - يادويان

۱۰ - پوروويان

پښتانۀ په اصل کي هماغه پکتايان دي چي په هغولسو قبيلو کي ياد شوي دي- دوَنيم زره کلونه وړاندي يوناني تاريخ ليکونکي هېروډوټس[۴]هم پښتون د "پکتوېس(Paktues)" په نامه ياد کړے دے- هېروډوټس پښتونخوا د "پکتيکا"(Paktuika) په نامه ياده

کړې ده- وروسته د افغان نوم د "اپګان "په شکل د ساساني باچا شاپوراوّل په حکم، په پارتي او یوناني ژبو لیکل شوي ډبر لیك کي ښکاره شوے دے- بیاچیني ګرځندوی چانګ هم د "اپکان" ذکر په خپله سفرنامه کي کړے دے- دا نوم په اسلامي دور کي د پښتنو سره ډېر ټینګ تړون موندلے دے-

د پښتنو تاریخ نورو قامونو لیکلے دے- چا بني اسرائیل بللي دي او افغانه یې د بخت نصر په وخت کښي د سزا په توګه دې غرونوته رالېږلے دے- چا عرب بللي دي اوکاس (قېس) عبد الرشید پکتان (فتحان، پټهان) یې د خالد بن ولید ( چي عرب دے) سره تړلے دے- چا البانیان بللي دي او لیکي چي دوی د قفقاز (کوه کاف) څخه راغلي دي- دمغلي دور درباري تاریخ لیکونکو د پښتنو د تاریخ سره ډیري لوبي کړي دي- حقیقت خو دادے چي نه پښتانهٔ بني اسرائیل دي، نه عرب او نه البانیان- دا ټولي د شپاړسمي پېړۍ ببولالي دي- د افغانستان تاریخ خو له اوّله سره د مرکزي آسیا سره تړَلے دے-

په نوي اکادیمیك (academic) پښتني پښت څېړني دا خبره ثابته ده چي پښتانهٔ د شمال ختیځ آریایي قام دے چي یوې خواته د سکایتئن، سېتئن(Scythian) یاسکایي په نامه د نړۍ په لرغوني تاریخ کي خپل ځلاند وجود لري او بلي خواته د کوشانیانو په توګه د عیسیٰ علیه السلام د زوکړي په وخت کي لوی تهذیب لرونکے قام دے (اوّل لښتلیك)- وروسته یې د یپتالیانو، صفاریانو، خلجیانو، سوریانو (غوریانو)، ابدالیانو، هوتکو، سدوزیانو او محمدزیانو په توګه په تاریخ کي خپل مقام ساتلے دے -




اوّل لښتليك

داسي برېښي چي د خپل پراخ وطن "سکايتيا" له کبله "پکتايان" سکايان هم بلل شوي دي- د سکايانو(Scythians) دوې پښې پارتيان او ساکان يا سکه (Saka) دي چي مېړانه يې په لرغوني تاريخ ثابته ده- ساکان هم په تاريخ کي په بېلا بېلو نومونو بلل شوې دي: لکه سکه، ساك، ضحاك، ساکي، کاس، قبس او سکولوتس چي يو ښه روښان تاريخ لري- د دوى تاريخ له درو زرو کلونو پخوا څخه څرګند دے- ساکان تر هخامنشانو لمخه او بيا د هغوى په زمانه کي هم په آريانه کي اوسېدل- داريوش دوى سکه بللي دي او له هغه وخته په آريانه کي اوسي- کاس غر (کاشغر) او کاس مير (کا شمير، کشمير) هم د دوى زړې ميني دي- تر بني اسرائيلو او عربو ډېر له مخه سکايان او بيا ساکان په آسياکي موجود وو چي اوسني پښتانهٔ يې پايځوړ دي-

اروابښاد عبدالحی حبيبي صاحب[۵] د ډاکټر ګوستاولبون په حواله

لیکي چې په آریانه کې د آریاوو اوّلنۍ ژبه **اریك** (اریایي) وه چې ورو ورو د وخت له تېرېدو سره په نورو ژبو کې تقسیم شوه- د ژبودغه ډله"هندواوروپایي آریایي ژبې" بلل شوې ده- دغه ډله بیا په " اوروپایي" او "هندوآریاني" ژبو وېشل شوې ده- دا وروستۍ ژبنۍ ډله د زمانې په اوږدو کې په "هندي" او " آریاني" ژبو وېشل شوې ده- په هندي ژبو کې سنکسرت، هندي، بنګالي، سیندي، پنجابي ملتاني او دا شان نوري ژبې شاملې دي-

د **آریاني** ژبو دوې ډلې وې- په لوېدیځه (ایراني)ډله کې پارسي، پارتي، بلوڅي، کُردي او زازا شاملې دي او په ختیځه (افغاني) ډله کې اوېستا او زړه پښتو(Proto-Pashto) د لرغوني ژبني پېر(له۳۰۰۰ څخه تر۵۰۰ م ز) لویې ژبې وې(دویم لښتلیك)- د مارګن ستېرن دا وینا چې "پښتو ژبه د ساکانو اولسي ژبه




دویم لښتلیك

معلوميږي" حقيقت ښکاري ولي چي د ساکانو باچهانو نومونه د پښتو او ساکي د نزديکت ثبوت ورکوي- په منځني پېر کي اوېستا د خوارزمي په توګه وجود درلود او د ساکي ژبي بېلا بېل ګړدودونه په همدغه پېرکي پر څوڅو خپلواکو ژبو اوښتي دي، په کومو کي چي يوه د باختري په بڼه کوشانيانو او يپتليانو وئيله- ښايي چي د منځني پېر پښتو د اوسنۍ ترينو (وړېځي) په توګه لا تراوسه د سپينو تريننانو ژبه وي[۶]- چونکي ساکان کوچيان وو، په باختر او ساکستان کي شکېل نه دي پاته شوي ځکه هماغه مهال د ساکي ډېر ګړدودونه رامنځ ته شوي دي- په دويم لښتليك کي څرګنده ده چي پښتانه د ژبپوهني په رڼا کي هم نسلاً يو ستر آريايي قام دے چي ژبه يې هم آريايي ده- پښتو که څه هم يوه شمال ختيځه آرياني ژبه ده چي له باختر يا بلخ څخه سويلي افغانستان ته راغلې ده خو د خپلوانو ژبو سره يې لا تر اوسه هم اړيکي ساتلي دي- "پښتو" يوې خواته د قول او آئين په توګه ژوندۍ ده او بلي خواته د پښتنو ژبه هم ده- دا د اوېستا روايت دے چي پښتو ټينګ ساتلے دے، ځکه خوحمزه بابا جنت ته هم د پښتو سره تګ غواړي:

وايي اغيار چي د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

زيار صاحب پارتيان د سکايانو ښاخ نه ګڼي، ولي چي د ساکانو او پارتيانو ترمنځ د ډېرو جګړو تاريخي ذکر د دوی د بل قام په حېث دليل جوړيږي مګر دا خو د پښتنو الميه ده چي دوی په خپلو کي سره اخته وي- که څه هم د ژبپوهني په رڼاکي دپارتي ژبي ترون

د آرياني ژبو د لوېديځې ډلي سره دے او د پښتو تړون د آرياني ژبو د ختيځي ډلي سره، خو دا هم يو حقيقت دے چي"چا سره چي اوسې په خوی به د هغو سې"- پارتيان د سکايانو هغه پښه وه چي په لوديځه آريانه کي اوسېده ځکه دوی د پارسيانو ګاونډيان وو او ژبه يې هم ورو ورو د پارسي تر اثر لاندي راغله- ډاکټر عبدالرزاق پالوال[7] په "دپښتنو نوے پخوانے تاريخ" کي پارتيان د سکايانو يوه پښه ګڼي- اولف کېرو په خپل مشهور کتاب "The Pathans" کي "د پښتو زوکړه" تر عنوان لاندي پارتيان د سکايانو (Scythians) پښه او دساکانو(Saka) تربورونه ګڼلي دي- د پارتيانو په حواله د نړۍ لوی اليکټراني تاريخ انکارټا (EncartaEncyclopedia-2005) هم د دې خبري تائيد داسي کوي:[8]

"Parthia was an ancient empire of Asia, in what are now Iran and Afghanistan . The Parthians were of Scythian descent , and adopted Median dress and Aryan speech. They were excellent horsemen and archers. In battle, mounted Parthians often discharged their arrows back toward the enemy while pretending to flee ; this is the origin of the phrase a " Parthian shot."...............

يعني پارتيا د آسيا يوه زړه ايمپارتوري وه کومه چي اوس ايران او افغانستان بلل کيږي- پارتيان په اصل کي د سکايانو يوه پښه وه چي لباس يې د مېديانو ؤ او ژبه يې آريايي وه- دوی ډېر ښه سپارۀ او ښه غشي وِيشتونکي وو- پارتيانو شاته راتلونکے دښمن هم د آس له شا څخه په غشو وشتای شو- دا مهارت نن هم "پارتيئن ګذار" (عکس نمبر2) بلل کيږي- که څه هم د غَشويشتني دا انداز دلته پارتيئن ګُذار بلل شوے دے خو په اصل کي دا سايتيئن ګُذار (Scythian Shot) دے چي ساکانو او پارتيانو شاته راتلونکے



عکس نمبر 2 ساکي او پارتي ګُذار

دښمن د آس له شا څخه په ویشت- ډاکټر ریاض احمد[۹] پارتیان یو ایراني خاندان ګڼي او لیکي چې" آخر یوهٔ ایراني ایرساسس (Arsaces) په کال ۲۴۷ مخزېږده کې د پارتي خاندان حکومت جوړ کړ"- پارتي سلطنت متحد نه ؤ او نه پکې څه انتظامي صلاحیت ؤ- د دغه سلطنت صوبې بېخي آزادي وې- که څه هم متراډټ دوَیم پارتي حکومت مضبوط کړ خو د روم تر بالا دستۍ لاندي ؤ- پارتیان د سکه قبایلو سره په جنګ وو چاچي د دوی دوه باچهان ور ووژل- پارتیانو روم ته په کال ۵۳ مخزېږده کې د کارې (Caerhae) پرمیدان شکست ورکړخو په ۴۰ عیسوي کال کې دوو

وروښو پارتي سلطنت څله تقسيم کړ او زوال يې شروع شو-

د ساکانو او پارتيانو ترمنځ له ډېرو جګړو وروسته پارتيانو ساکان دسوېل پرلوري وشړل چي وروسته په زرنج (درنګيا)کي سره را غونډ شول او د دغي سيمي نوم يې "ساکستان" کړ کوم چي وروسته په سيستان بدل شو- ساکانو بيا پر ختيځ مخ په وړاندي تګ وکړ اوکابل يې ونيو- تر آريائي دور وروسته ساکان (پښتانهٔ) ټول پر يوهٔ ځای نه وو بلکي له پنځمي پېړۍ څخه تر اتلسمي پېړۍ پوري په وړو وړو سيمه واکيوکي تقسيم وو- باختر، ساکستان (سيستان)، خُراسان، کابلستان ، تخاريستان ، زا بلستان او نوري سيمه واکۍ په تاريخ کي يادي شوي دي- ترڅو چي په اتلسمه پېړۍ کي احمد شاه بابا لوی افغانستان جوړکړ او پښتانهٔ يې ټول د يوهٔ ستر قام په حېث پکښي يو ځای کړل-

د پښتانه تاريخ يو ډېر زوړ تاريخ دے- پکتوېس او پکتيکا خو د هيروډوټ په وخت کښې هم موجود وو چاچي تر عيسیٰ عليه السلام مخکي دا ليکلي دي چي پکتيکا (پښتونخوا) هيڅکله هم د پارسيانو په لاس نه ده وَرَغلې خو ددې سيمي څه خلګ د هخامنشانو په فوج کي وو څکه دوی دا دعوه لري چي دغه سيمه هم په هخامنشی سلطنت کي شامله وه- حقيقت خو دادے چي سکايان به هر وخت د دوی سره په جنګ او جګړو وو-

روايت دے چي سکايانو د دښمن له سره کاسه جوړَوله څکه دوی کاسيان هم بلل شوي دي- وروسته د دښمن له سره کاسه جوړَول فرانك قام او ويزيګوتيك قام په يورپ کي هم پېل کړ چي د سکاليپينګ (Scalping) په نامه ياد شوے دے- انسايکلوپېډيا انکارټا[۸] په دې لړ کي کاږي چي:

"Scalping was cutting and tearing the scalp from an enemy, either alive or dead.The severed scalp was believed to bestow on the victor the power of the victim and frequently served as a trophy. Scalping was practiced in Europe by the ancient Visigoths and Franks and in Asia by the Scythians" ...................... ......................

مطلب دا چي سکالپينګ د ژوندي يا مړۀ دُښمن له سره کاسه جوړول ؤ چي ګټونکي لره د قوت يو علامت ګڼل کېدۀ او چي څومره به په شمېر ډېر وو دومره يې د اِعزاز حېثيت درلود- په يورپ کي ويزيګوتي او فرانك قامونو دا طريقه خپله کړې وه او په آسيا کي سکايانو-

سکايانو چي کاسيان هم بلل شوي دي، د عيسیٰ عليه السلام تر زوکړي مخکي، په اتلسمه پېړۍ کي، په هلال آباد ( Fertile cresent) يا بين النهرين (Mesopotamia) کي پر بابل تر ۵۷۶ کلونو حکومت کړے ؤ- هيروډوټ[۴] (۴۸۶ - ۴۲۶ مخزېږده) ليکي چي "د باختريا او پکتيکا (پښتيا) خلګ سره ورته دي-" هغۀ په خپل کتاب کي پکتوېس او سکايان هم ياد کړي دي- په زړه هندي (سنسکرت) کي د پکهت او پکتاس ذکر شته کوم چي د پښتون او پښتونخوا سره سمون لري- نامتو ليکوال اولف کېرو د خپل کتاب "پښتانۀ" (The Pathans)[۱] په پنځم څپرکي کي ليکي چي"ساکان د پارتيانو تربورونه وو او په اوّله مخزږده پېړۍ کي ګندهارا ته را کوچ شوي وو چيري چي دوی تر سلو کالو پوري پر ساکستان حکومت وکړ- د دوی پر ډېرو سِکو د څلورو باچهانو ماوس، آزس اوّل، آزيليزس او آزس دويم نومونه ليکلي دي"- د ساکانو په باب د عبدالرزاق پالوال[۷]، استاد حبيبي[۵]، ډاکترحبيب الله تږي[۱۰]، حبيب الله

رفيع[11] ، دوست شنواري[12] ، احمدعلي کهزاد[13] حسن کاکړ[14] او مجاور احمد زيار[6] پلټني د پښتنو د زاړه تاريخ ډيري غوټي خلاصه وي-

سکندراعظم هم د سکايانو څخه خپل ځان ځچ کړے ؤ- کله چي سکندراعظم د سيحون غاړي ته ورسيد او نور پر مختګ ورته ډير ګران شو نو يې د ساکانو سره روغه وکړه ، له سيحون څخه يې لار چپه کړه او بېرته د هند په خوا را وګرځيد- تر سکندر وروسته په کال ۲۵۶ مخزيږده کي ساکستان يو خپلواك دولت ؤ- ساکانو شمال لويديځ هند هم ونيو او ساکي دولت ته يې د "هندو سکايي دولت" نوم ورکړ-

کوشانيان او ييپتاليان (ابداليان) هم د پښتنو زړې ريښې دي- کوشانيانو د سيند سيمه د باختريا سره ګډه کړه- دا يو ځلاند حقيقت دے چي د سيند، سيحون او جيحون سيمي د افغانانو تاريخي ميراث دے- له کال۴۰ عيسوي څخه تر۲۲۰ عيسوي پوري د پښتنو پر ځمکه د "کوشان"سلطنت ؤ اوکوشانيان دپښتنو يوه زړه قبيله وه- دا سلطنت يوې خواته له کاشغره تر پارتيا پوري غزيدلی ؤ او بلي خوا ته د ګنګا څخه تر اورال سمندرګي پوري- په هغه وخت کي په ټوله نړۍ کي د کوشان (افغانستان)، چين، پارتيا او روم دولتونه وو- د نړۍ واك هغه مهال په افغانستان کي د کوشانيانو، په پارس کي د ساسانيانو، په هندوستان کي دګوپتا خاندان او په يورپ کي د روميانو په لاس کي ؤ-

په۲۲۰ عيسوي کال کي ييپتاليانو(ابداليانو) دافغانانو د خاوري واك تر لاسه کړ او ييپتالي دولت يې جوړ کړ- دوی په ۵۰۰ عيسوي کال کي خراسان، شمالي هندوستان او ماوراء النهر هم ترخپل قوت لاندي راوستل- د دوی د ييپتالي دولت تفصيل به په راتلونکو پاڼو

کي مخته راشي-

له۶۵۰عيسوي کاله اسلامي نړۍ پراخېده لګياوه څکه په کال ۶۵۵ کي تر افغانستان پوري هم را ورسېده- په دغه وخت کي د هند اوچين څخه تر تُرکيه او روم پوري د ساکانو تر مشري لاندي يو بل لوی دولت موجود ؤ- دا دولت په تاريخ کي"صفاري دولت" بلل شوے دے چي د افغانانو خپلواکي يې د عمروليث صفاري تر مشرى لاندي ساتلې وه-

پښتون د پکتيا او پکتيکا سره پېوستون لري، چي اصل زاړه نومونه دي، ځکه د پکتيا او پکتيکا په نومونو، په اوسني افغانستان کي هم ولايتونه وجود لري- د زمانې په اوږدو کي د ژبي د اِرتقا له امله "ك" په "ښ" بدل شوے دے- يا نورو قامونو "ښ" په "ك" بدله کړې ده، ولي چه "ښ" خالص پښتو حرف دے اونور څوك يې نشي ادا کولای- ځکه ښايي چي پښتون په پکتون يا پکتوېس بدل شوے وي، پښتيا په پکتيا او پښتونخوا په پکتويکا يا پکتيکا- پښتون نن هم پرخپل زاړه حال دے خو پښتيا او پښتونخوا ، د غېروپه خوله، اوس پښتانه هم پکتيا او پکتيکا بولي- هغه زاړه نومونه يې خلګو بېخي هېر کړل- د دليل په توګه د باختريا نوم اوس هم په يوناني او انګرېزي کښي بېکټريا ( Bacteria) ليکل کيږي- داسي ښکاري چي د يونانيانو په ژبه "ښ" نه ادا کېده ځکه ددې علاقې او خلګو نومونه په خپل اصل شکل کي نه دي ليکل شوي-

داخو اوس بېخي ښکاره خبره ده چي سکايان، ساکان (کاسيان)، کوشانيان، يپتاليان (ابداليان) سوريان او لوديان ټول دپښتنواسلاف دی- پارتيان هم سکايان وو چي د کوچيانو په توګه يې د افغاني سيمي په لوېديځه څنډه کي ژوند کاوو- دوی د پارتيا څخه ترعيسیٓ

عليه السلام دوه نيم سوه کلونه مخ کي يعني په کال ۲۴۷ مخزېږده کي يو ډېر غټ سلطنت (Empire) جوړکړے ؤ کوم چي د کوشان او روم سره ګاونډ ؤ- دسيند ناوې په پارتيا پوري اړه درلوده نه چي په هند پوري- پښتنو هغه وخت هم تجارت کاو او له هند څخه يې سره زر (طلا) راوړل- دسيند په حواله ساکستان او سيستان هم دافغانستان زاړه نومونه يادېږي چي د سيند او آمو تر منځ يې وجود درلود- د سکايانو د طِلا ډېري زړې نمونې د يوکرائن په موزيم کي لا تر اوسه خوندي دي-

لکه مخکي چي يې بيان وشو افغان په اصل کي د "پښتون" دويم نوم دے- د اوغان او افغان کلمه پخوا د زورَور يا غښتلي په معنا استعمال شوې ده- ډاکتر حبيب الله تږے [۱۰] د اليکزنډر کنينګهم د کتاب "دهند زړه جغرافيه" په حواله ليکي چي د اوومي زېږدي پېړۍ چيني بودايي ګرځندوی هيون چانګ (Hiuen Tsang) هم افغان د "اوپوکين" په نامه ياد کړے دے او د"اوپوکين" يوه لنډه تذکره يې هم کړې ده- چانګ ليکلي دي چي اوپوکين له فنو(بنو) څخه تر غزني پوري آباد دي- دا د افغان ترټولو زوړ ذکر دے چي چينيانو کړے دے- د هرات په تاريخنامه کي، سېفي هروي [۱۵] هم په کال ۱۳۲۱کي لفظ افغان ښوولے دے- په کال ۱۶۱۲ کي اخوند درويزه ننګرهاري [۱۶] په پښتوکي د پښتنو سيمي ته "پښتونخوا" او په فارسي کي (تذکره الابرار ولاشرار) يې "افغانستان" ويلي دي- د افغانيه او افغانستان نومونه بيا وروسته په ۱۷۴۷کي د افغان سره په رسمي توګه ډېر ټينګ پېوند شوي دي، کله چي احمد شاه بابا د افغانانو د هېواد نوم په رسمي توګه " افغانستان" کښېښوو- له هغه وخته په دې هېواد کي اوسېدونکي ټول خلګ د افغانانو په نامه

وبلل شول-

نوي اکاديميك (academic) پښتني پښت څېړني د نعمت الله هروي[۱۷] دا خبره چي پښتانۀ بني اسرائيل دي ، غلطه ثابته کړه چي د حقيقت سره يې هيڅ تعلق هم نشته- دا خبره اوس په جديد تحقيق ببخي ثابته ده چي پښتانۀ يوستر ساکي(Saka) آريايي قام دے[۱، ۴، ۵، ۱۳] - سبط حسن[۱۹] د پروفېسر بدهه پرکاش په حواله ليکي چي ساکان په اتمه او نهمه مخزېږده کي راغلي وو- دوی که څه هم په ختيځ کي آباد آريايي قبايل وو خو په تهذيبي توګه له وېدي آريايانو څخه بېل وو- دوی د سماجي درجو قايل نه وو او د برهمنو روحاني قيادت يې هم نه ؤ منلے- د ساکانو مشرانو چي"توخار"بلل کېدل(توخي قبيله هماغه رينښې لري ) ديني رسمونه هم پخپله اداکول- دوی غوښه خوړله او په سند کي يې د نوو مېوو استعمال هم پيل کړ- له هخامنشيانو څخه وروسته هم تر ډېره وخته پردې سيمه هندوان او تُرکان پرمنظر نه وو ځکه د اولف کېرو[۱] په قول د ساکانو بغېر د دغي سيمي تاريخ هيڅ صداقت نه لري- باختريا، پارتيا او سوګديانا د ساکانو وطن ؤ- پښتو يوه ساکي آريايي ژبه ده، چي تر نورو څلورو آريايي ژبو يې ډېر ښه تاريخ دے- د پښتنو ژبه تر ډېره حده هماغه ژبه ده چي د ساکانو ژبه وه او بېله څه شکه د کوشانيانو ژبه هم وه خو په ريښو کي يې د اولنۍ ايرانۍ ژبي اثرات هم شته[۱] - روسي ليکوال ګنکوفسکي هم پښتو ساکي تخاري ژبه ګڼي[۲۰] - دۀ د پاکستاني قوميتونو په حواله په خپل کتاب کي ييپتاليان هم په صفا ټکو ابداليان منلي دي-

# اخځلیك

١- اولف کېرو، پښتانه ( The Pathans: The Birth of Pashtu) مېکمیلن کمپني
لندن، نیویارك اېسټي مارټن پریس ، ١٩٥٨
٢ - یونکر ، پندنامك زرتشت او کارنامك اردشېر، هائیډلبرګ اېکډمي، ١٩٠۶-
٣ - احمد علي کهزاد، د افغانستان پخوانۍ تاریخ کابل ، ١٣٣۴ د
۴ - هېروډوټس ، هسټریز ، ترجمه کېري ، لندن ، ١٩٠١
٥ - حبیبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دویم چاپ
دانش کتابتون ، پېښور، ٢٠٠٣-
۶ - زیار مجاور احمد، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکې ، ساپي مرکز
پېښور، ٢٠٠١-
٧ - پالوال عبدالرزاق ، دپښتنو نوې پخوانۍ تاریخ ، پښتو اېکډمي کوټه، ١٩٩۴
٨ - انکارټا ، سي ډي (Encarta Encyclopedia-2004) ، پارتیا ، مائیکرو
سافټ کمپني ، ٢٠٠۴ -
٩ - ریاض احمد، مغربي یلغار، تخلیقات لاهور ٢٠٠٣ -
١٠ - تړې حبیب الله، پښتانه، (د پښتني فرهنګ دودي ټولنه جرمني)
دانش پېښور، ١٩٩٩
١١ - رفیع حبیب الله ، د افغانستان لنډکی تاریخ ، دانش ، پېښور ، ١٣٧٨
١٢- دوست شینوارے ، د افغانستان ژبي او توکمونه ، کابل ، ١٩٧٥
١٣ - کهزاد احمد علي، تاریخ افغانستان، کابل ١٩٧٥ -
١۴ - کاکړ حسن ، افغان و افغانستان ، پېښور ،١٩٨٨
١٥ - هروي سېفي ، تاریخنامه هرات ، تصحیح زبېر صدیقي، کلکته، ١٩۴٣
١۶ - درویزه اخوند، مخزن الاسلام (مقدمه سید تقویم الحق)، پېښور، ١٩۶٢ -
١٧ - هروي نعمت الله ، تاریخ خانجهاني و مخزن افغاني ، تصحیح سید امام
الدین ، ډهاکه ، ١٨۶٠-
١٩ - سبط حسن ، په پاکستان کي د تهذیب ارتقا، دانیال، کراچي، ٢٠٠٢ -
٢٠ - ګنکوفسکي، دپاکستان قومیتونه ، ترجمه اشفاق بېګ مرزا، فکشن، لاهور، ٢٠٠٠-

# ۳

# دنړۍ زېږده

## (تر تاريخ او تهذيب وړاندي)

خدای کله او څنګه دا نړۍ جو ړه کړه ؟ څنګه پر ځمکه باندي ژوند پيدا شو؟ څنګه د آدم تخليق وشو؟ بشريت څه رنګه پر ځمکه ځله خپور شو؟ او بيا دمدنيت ابتدا څنګه او له کومه ځايه وشوه؟ دا ټول سوالونه، په بيلا بيلو سيموکي بېل بېل جوابونه لري- د پښتنو دا عقيده ده چې کائنات دخُدای په حکم جوړ شو او پر ځمکه اوّل انسان حضرت آدم علېه السلام ؤ چي له خاوري پېدا کړل شوے ؤ- دا عقيده د عيسايانو او يهوديانو هم ده- مذهبی عقيده د درې واړو لويو مذهبونو سره ګډه ده- د نوح علېه السلام د وخت، د لوی طوفان عقيده هم په درو واړو لويو مذ هبونو کي يو رنګه ده-

د انسان کښته کېدو ته "هبوط" وايي او "ديار" علاقه يا وطن ته وئېل کيږي ، ځکه "ديارِهبوط" هغه ځای دے چيري چي آدم علېه السلام د اللّٰه په حکم د جنت څخه ځمکي ته کښته شوے ؤ- څېړونکي دَ آدم علېه السلام پر ځمکه د کښته کېدو په لړ کي پر څه خاص ځای مُتفق نه دي خو عرب ليکوال ابوالحسن بن حسېن علي

مسعودي[1] په ۳۳۲ هجرى کي ليکلي دي چي انسان په ديارهبوط کي پر ځمکه کښته شوے ؤ- افغانان دا ګمان کوي چي ديار هبوط په کندهار کي دے او پښتانه ورته دېراووت وايي[2]- ددې خبري تائيد اوروپايي ليکوال ښاغلي آرنالډ ټائن بي داسي کړے دے چي انسان اوّل ځل په جنوب لوېديځه آسيا کي پيدا شوے ؤ[3] او د افغانستان تاريخ په دغه سيمه کي له پنځوسو زرو کلونو څخه څرګند دے - ځينو مغربي تاريخ څېړونکو د افغانانو پر ځمکه د انسانانو د استوګي مهال پنځوس زره کاله ثابت کړے دے-

اوسني تاريخ ليکونکو د نوي اکاديميك (academic) بشري تاريخ څېړني په رڼاکي ترتاريخ ليکني وړاندي(قبل التاريخ) حالات هم د ځمکيندني (excavation) له امله ليکلي دي- په دې لړکي د زړوآثاروماهرين (archaeologists) دا وايي چي انسان اوّل ځل په افريکا کي د "اِرتقا" له امله پيدا شوے دے[4] خو د انسان دغه اولنے شکل د انسانيت له معياره بېخي لري ؤ- اصل انسان (Homosapien) چي د ښه ذهانت له کبله تر نورمخلوق غوره اوستر(اشرف المخلوقات) ګڼل شوے دے د آسيا په دې څنډه کي ښکاره شوے ؤ چيري چي اوس افغانستان دے- اوسني تاريخ ليکونکي دا نتيجه له هغو زَړو آثارو څخه اخلي کوم چي دوى د نړۍ په بېلا بيلو برخو کي موندلي دي- حقيقت خو دادے چي د اولني دور حال هيڅا ته هم نه دے معلوم ، اوبيا که څه نا څه نخښي شته هم، نو د هغو وختونو حال ليکل ډېر ګران کار دے-

داسي ښکاري چي تاريخ له هماغه وخته شروع شو کله چي انسان د تاريخ په قِصولاس پوري کړ، بيا چي يې ورو ورو ليك اولوست زده کړل نو يې خپل تاريخ ليکل پيل کړ چي تر اوسه لا هم

نيم ګړے غوندي پروت دے- د نړۍ د ابتدايي حالاتو په حواله انسان ډېر کم معلومات تر لاسه کړي دي- له بېخي ډيري پلټنې او د ډيرو زړو نخښو(archaeological investigations) تر موندلو وروسته، خلګ نن دا وئېلای شي چي تاريخ خپلي ساينسي رينښې هم لري[۵]- پر ځمکه د ژوند د اولنيو نخښو (Fossils) موندلو ځايونه په عکس نمبر3 کې ښوول شوي دي په کومو کي چي افغاني سيمه هم شامله ده-




عکس نمبر3 پر ځمکه د زړو نخښو ( Fossils) موندلوځايونه

د يويشتمي پېړۍ تاريخ پوهان د ساينسي پلټني له رويه وايي چي تقريباً ۵۰۰۰۰۰۰۰۰ کلونه لمخه اولنے ځل پر ځمکه د ژوند آثار ښکاره شوي وو، ۳۰۰۰۰۰۰۰۰ کلونه مخکي انسان په ځمکه وجود درلود او۱۵۰۰۰۰۰ کلونه مخکي يې دومره ذهانت موندلے ؤ چي تر نورو مخلوقاتو افضل بلل کېدای شو- اوّل اوّل انسانان يوازي په افريکا کي اوسېدل ولي چي تقريباً ۷۵ زره کلونه مخکي نوره ځمکه

ښېخي یخه وه او د یخي دور ورته وئېل کیږي- پنځوس زره کلونه مخکي انسان د یخو علاقو په خوا هڅه کړې وه- په دغه دور کي خلګو په سمڅو کي ژوند کاوو او یوازینے خوراك یې د ښکار غوښه وه-

په افغانستان کي د هغه وخت د آثارو د کاربن له مخي ټاکل شوے عمر هم پنځوس زره کاله یادیږي- دغه نخښي د بدخشان له کوردرې، د سمنګان له دادل درې، چخماخ درې ، زرسمڅې او د غزني له ناورڅخه موندل شوي دي- له پنځوویشتو زرو کلونو څخه ترلسو زرو کلونو مخکي پوري زوړ ډبرین دور بلل شوے دے- د دغه ډبرین دور نخښي دخلم له قره کمر څخه موندل شوي دي- د هغه وخت یوه نایابه ډبرینه مجسمه د بلخ له آق کپروك څخه را وتي ده[۶]- هغه مهال د دنیا آبادي ۴۰ لکه یاده شوې ده- له لسو زرو نه تر اوو زروکلونو مخکي پوري نوے ډبرین دور ؤ- د دغه دور زړې نخښي هم په افغانستان کي د بلخ له آق کپروك څخه را وتي دي- د کندهارله مونډیګك او یمراسي غونډۍ څخه هم د هغه وخت زاړه اوزار ترلاسه شوي دي چي د توږلو ډبرو او خاورینو لوښو په بڼه کي دي- له اوو زرو کلونو مخکي نه تر شپږو زرو کلونومخکي پوري د ژړو او وسپني(مېټل) دوربلل شوے دے- دمېټل دور د ژړو لوښي هم په افغانستان کي په لوی شمېر موندل شوي دي[۷]-

په زړو معاشرو کي انسانانو ساده ژوند تېراوۀ- د ځان ژغورني په غرض به یې د دنګو غرونو په لوړو ځایونو کي سمڅې کیندلې او استوګه به یې پکي کوله- دا **تر تاریخ وړاندینے دور** بلل شوے دے- وروسته قبایلي ژوند پېل شو او قبیلې په خاندانونو کي تقسیم وې- خوراك یې ښکار ؤ او یا به یې نور قدرتي وسائل د خپل

خوراك اوڅښاك د پاره پکار راوستل- د حېوانانو پوستونه به يې د لباس په توګه استعمالَول چي اوس هم د پوستين په توګه په پښتني معاشره کي وجود لري- د ضرورت نورشيان لکه غړکه، چاګله، بنۍ او ګوډے يې هم له پوستونو څخه جوړَول- ډَبري يې تراشلې او د ضرورت اوزار(چاړه او چټك) به يې تري جوړَول- له هډونو څخه يې غشي جوړَول- وروسته انسان کر او کښت هم شروع کړل او کروندې يې آبادي کړې- په دې غرض يې حېوانان هم په خپل کار راوستل- کله چي له کښت او کروندو څخه د انسان د خوراك ضرورت پوره شو نو يې د ټولني ضرورت محسوس کړ- خلګ يو له بل سره د خاندانونو په بڼه په کلو کي آباد شول- کله چي لږ غوندي اوزګار شول نو يې فنونو ته هم پام شو- اوّل يې له خټي څخه لوښي جوړول زده کړل، بيا يې ورو ورو مِس، ګيلټ او وسپنه په خپل استعمال کي راوستل- مِس خو انسان اوه زره کلونه مخکي په خپل استعمال کي راوستي وو خو وسپنه يې تقريباً درې زره کلونه لمخه ويلي کول زده کړل، بيا يې ورو ورو ترقي ورکړه، اوس ډېر څه تري جوړېږي-

د زړوآثاروماهرين(archaeologists) دا وايي چي د شام په شمالي څنډه کي د"ايوموريه" په مقام د ځمکيندني (Excavation) په نتيجه کي دا سي ښکاري چي پر ځمکه کر او کښت له تقريباً لسو زرو کلونو څخه کيږي- د فلسطين په "جريچو" کي او د دجله په شمال کي په"جارمو" کي تقريباً نهه زره کلونه مخکي وړوکي ښارونه ووچي آبادي يې تخميناً درې زره نفره وه- د جنوبي تُرکي په "قيت الحيوق" کي چي کومي تاريخي پلټني شوي دي له هغوی څخه دا ښکاري چي نهه زره کلونه مخکي هلته يو وړوکے ښار ؤ چي آبادي يې خواؤشا له پنځو نه تر لسو زرو نفرو پوري وه- دا ښار د لاکو د تجارت مرکز ؤ- د هلال آباد (بين النهرين)دغه ښارونه تر

اوسه د دُنيا اولني ښارونه ګڼل کيږي[۴]- د افغانستان په بېلا بېلو سيمو کي چي کومي تاريخي پلټني شوي دي او د څمکيندني په نتيجه کي چي کوم زاړه آثار وجود لري هغه تر تاريخ ليکني لمخه (Pre-History) پر دې څمکه د بشر د اوسېدو ځلاندي نخښې دي او دا هم ثابته وي چي پنځوس زره کلونه مخکي انسانانو پر افغاني سيمه استوګه کوله- د ډبرين دور (Stone Age) څومره غوره ثبوتونه چي د پښتنو پر سيمه موندل شوي دي ، په نړۍ کي د ډېرو کمو سيمو په نصيب دي-

ورو ورو انسان له يوه ځايه تر بله کوچ کاؤ لګياؤ- له افريکې څخه د آسيا په خوا ، بيا له آسيا څخه په خواوشا ، انسان د ښو ورشو په لټون چيري چيري ټوکري خوړلي وې؟ څوك خبردے؟ خو د نړۍ دغه لاندي نقشه يعني عکس نمبر4 د بشر له يوه ځايه تربله دکوچ



عکس نمبر4 له يوه ځايه تر بله د ا ولني انسانانو د کوچ لاري[۸]

لاري څرګندَوي- دا ښکاره خبره ده چي بشريت ورو ورو ترقي کړې ده- انسان له ډېره ساده ژونده خپل سفر پېل کړے دے او تر تهذيبه يې بېخي ورد سفر په ډېر ورده مدت تر سره کړے دے-[۹]

دا خبره هم په تاريخ ثابته ده چي د حضرت نوح عليه السلام د وخت ترلوی طوفان وروسته، د ځمکي پر مخ پاته خلګ اوّل ځل د پښتونخوا په دنګو غرونو کي ښکاره شوي دي- اوّل تهذيبي دور په اصل کي هماغه وخت پېل شو کله چي په اِنساني معاشره کي د "حکومت" تصوّر راغے- د معاشرې سياسي اِدارو په قبايلي جنګونو کي آمرانه اختيارات ترلاسه کړل- سردار يا خان د قبيلې (ټبر) عسکري سربراه شو او قبيلې د جنګي ضرورتونو په ترڅ کي د حکومت ضرورت محسوس کړ- د قبيلو ترمنځ جنګونو يوه قبيله فاتح او بله مفتوح کړه- چاچي به جنګ ګټلے ؤ هغه به حاکم شو او چاچي به وَبائيلۀ نو به د مرَيي يا غلام په نامه يادېدۀ- دا شان سماجي درجه بندي شروع شوه او د ځمکي تقسيم او د حقوقو غوښتنه به هم د دغو سماجي درجو پر بنياد کېده- ورو ورو خلګ يو له بله سره نژدې کېدل او د امن په وختونو کي به يې په ګډه خپل رسمونه ادا کول- د غښتلو جنګياليانو زيارتونه جوړېدل او د باچهانو درجې ورځ په ورځ غټېدې لګيا وې- ښو خلګو د وزرګانو په توګه په معاشره کي خپل مقام پيداکړ- پوهانو خلګو به ځوانانو ته د راتلونکو نسلونو دپاره د علم او فن درس ورکاوۀ او دَ پرمختګ لار به يې ورښووه[۱۰]-

ترلوی طوفان وروسته، په۴۵۰۰ مخزېږده کي، يعني تقريباً شپږ نيم زره کلونه مخکي، اولنۍ باچهي د سومريانو (Sumerians) وه او د هغوی باچا "سوشان" ؤ- هماغو سومريانو په هلال آباد (Fertile Cresent) يا بين النهرين (Mesopotamia) کي وروسته سومري مدنيت جوړکړے ؤ چي دنړۍ اولنے تهذيب ګڼل کيږي- په ۴۰۰۰ مخزېږده کي د رودِ نيل پرغاړه مصري مدنيت هم پېل شو-

ترهغه وخته د نړۍ ټولو خلګو قبایلي ژوند تېراوۀ، کوچیان وو او له یوه ځایه به بل ځای ته د خپلو مالونو سره تلل- د سومري او مصري تهذیب ابتدا له څو وَړو وَړو ښارونو څخه وشوه چي شمېر یې له لسونه تر دوولسو زیات نه ؤ- حداد دمسعودي په حواله لیکي چي د سومر(Sumer) قام اصل وطن د هیرمند (هلمند) ناوه وه چي غزنی اوبُست هم په ګډ وو[۲]- ښایي چي دا د خپلي خاوري سره د حداد مینه وي خو دا یو حقیقت دے چي په ټولو تاریخي حوالو پښتونخوا د انساني تهذیب ځانګوده او دحمزه بابا په قول پښتون د اِنسانیت په سرکي ولاړدے-

# اخځلیك


۱ - المسعودي ابوالحسن بن حسین علي ، مروج المذهب ، لندن ، ۱۸۹۳ -

۲ - حداد قدرت الله ، افغان ملي تاریخ ، ساپي پېښور ، ۲۰۰۵ -

۳ - ټائن بي آرنلډ، څمکه د بشر مور(Mankind and mother earth) ، لندن ، ۱۹۷۶

۴ - ویلیم مېك ګاګي ، (Five epochs of civilization) دبشري تهذیب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵ -

۵ - هاکس جکوټیا ، نوی موړ ، بشري تاریخ او سائنسي ترقي (History of mankind and sientific development)، اول جلد، لندن، ۱۹۶۳

۶ - حبیبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دویم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۷ - رفیع حبیب الله، د افغانستان لنډکے تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۱۳۷۸

۸ - انکارټا ، (Encarta Encyclopedia-2004) ، پارتیا ، مائیکروسافټ ، ۲۰۰۴ -

۹- ډیورانټ وِل ، د تاریخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن یاسر جواد، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶ -

۱۰ - مانفریډ اې ، (History and Civilization of the World) تاریخ و تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حېدر، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶

# د تهذيب اوّله څپه

Pukhto.Net
پښتو

# دَ زور او زورَور دور

Pukhto.Net
پښتو

# ۴

# د تهذيب پيلامګر

عالمي تاريخ ليکونکي پر دې خبره متفق دي چي د تهذيب پيلامګر هماغه قامونه وو کوم چي د لويو لويو سيندونو (رودونو) پر غاړو اوسېدل، او د نړۍ تر ټولو زاړه تهذيبونه هم د دغو سيندونو پر غاړو آباد وو- دا هغه وخت ؤ چي انسانانو کر او کښت زده کړے ؤ- ورو ورو ډيري تجارتي لاري جوړي شوې او دغه تهذيبونه يو له بله سره په همدغو لارو وَتړل شول[1]- د دغو تهذيبونو نخښي په عراق کي د "فرات" او "دجله" رودونو پر غاړو، په مصرکي د"نيل" پرغاړه، په چين کي د "هوانګ هو" پر غاړه او په دې سيمه کي د "سيند" پر حوزه په لوی شمېر موندل شوي دي (عکس نمبر5)- د "هيلمند"پرغاړه او د"امو" په خواوشا کي هم زړې تهذيبي نخښي شته- دمهرګړ زړې نخښي تر سومري مدنيت هم مخکي ښکاري- دا نخښي (آثار) کوټه ته نزدې، د"بولان" سيندګي په خواوشا کي موندل شوي دي- دکوټې خواوشا کي له




عکس نمبر5 دآسيا په نقشه کي د سومري ، مصري، اندس او چيني تهذيبونو ځايونه

اوّله سره پښتانهٔ او بلوڅ آباد دي او د مهرګړ زړې نخښي د دې حقيقت ګواهي هم ورکوي چي افغاني سيمه په هغو سيمو کي شامله ده چيري چي اولني تهذيبونه پېل شوي وو- داشان په ډېره اسماعيل خان، سوات، لورالايي او موسىٰ خېل کي هم د زړو تهذيبونو ډېري نخښي موندل شوي دي-

لکه چي وړاندي يې ذکر وشو، سومريانو اولَنے تهذيب په بين النهرين (Mesopotamia) کي جوړکړے ؤ چي سومري تهذيب بلل کيږي- هم دغه شان د سيند حوزه د اباسين شاوخوا ده چي آثار يې يوازي په سند کي نه دي موندل شوي بلکي په ټوله پښتونخوا کي هم خواره واره دي- د دغه تهذيب څه ناڅه مهارتونه په هلال آباد (Fertile cresent) يا بين النهرين کي هم ليدل شوي دي کومه چي اوس د عراق حصه ده[۲]- له دغو نخښو منطقي نتيجه دا اخستل

کېدای شي چي لرغونو تهذیبونو یو له بله سره اړیکي درلودې-

د تاریخ لیکونکو پر دې خبره اتفاق شته چي انسانانو اول ځل کر او کښت د هماغو سیندونو پر غاړو پیل کړي وو چیري چي خوراك له ځمکي څخه په آساني او په لوی مقدار ترلاسه کېد- بیا ورو ورو آبادي زیاتېده او د اولنیو وړو وړو ښارونو آبادېدل شروع شو- کله چي د خوراك مسئله حل شوه او انساني آبادي هم زیاته شوه نو څه خلګ د تهذیبي ژوند نورو اړخونو ته هم چمتو شول- دغه خلګ وروسته د اولنیو تهذیبونو پېلامګر شول-

دپښتنو اَسلاف (نیکه ګان) له پښته دآسیا په ډېره لویه برخه کي اوسېدل- داسي ښکاري چي دخلیج له لاري د دوی اړیکي له بین النهرین سره هم وې- تاریخ ګواه دے چي د آریانه له خوا راغلو خلګو[۳] هلته د "اور" یا "اُر" ( UR) مدنیت جوړکړے ؤ، کوم چي د ابراهیم علېه السلام د زوکړي ځای یادېږي- بیا د دغه تهذیب تراثرلاندي له بین النهرین څخه د سمندر له لاري تهذیبي قدرونه مصر ته هم منتقل شوي وو او هلته د نیل پر غاړه ورو ورو د مصري تهذیب بنسټ هم شوے ؤ[۴] -

جدید تحقیق اوس دا خبره ثابته کړې ده چي د سیند دحوزي تهذیب (موهنجوداړو او هړپا) د بین النهرین تر" اُر" تهذیب کشر دے- دا خبره د آرنالډ ټائن بي په کتاب (ځمکه د آدم مور) ثابته ده چي د سیند مدنیت د بین النهرین او مصر سره په سمندري لارو تړون درلود-[۳] سومري تهذیب تر عیسیٰ علیه السلام ۴۵۰۰ کلونه مخکي وجود درلود او ابراهیم علېه السلام تر عیسیٰ علیه السلام دوه زره کلونه مخکي یعني په۲۰۰۰ مخزېږده کي، په" اُر" کي زوکړے ؤ- د دې مدنیت زاړه آثار په طل العبېد کي موندل شوي وو

ځکه عُبېد مدنیت هم بلل کیږي[٢] -

افغانان دا ګمان هم کوي چي سومریان د هیرمند(هیلمند) څخه هغو سیمو ته تللي وو- "سور" د پخوانۍ او اوسنۍ پښتو لفظ دے چي مطلب یې رنګ هم دے او اور هم - د"سور اور" او "سورلمر" ټکي د پښتو دي او د لمر رب النوع "سوریا" ده ، چي مجسمې یې په هند او افغانستان کي له ځمکیندني له امله ایستلي شوي وې- دا وخت هم په پښتنو کي سوریان د قام په حیث وجود لري- سومریانو د اور او د لمر عبادت کاوو[٥] - دوی د آسور دولت (کلده او آشور) هم جوړ کړے ؤ-

دا روایت چي سکایانو د دُښمن له سره کاسه جوړوله ځکه دوی کاسیان هم بلل شوي دي، حقیقت ته څومره نژدې دے؟ داخو نه ده معلومه، لاکن دا په تاریخ ثابته ده چي کاسیانو د عیسیٰ علیه السلام تر زوکړي ډېرمخکي، یعني په اتلسمه مخزېږده پېړۍکي، په هلال آباد یا بین النهرین کي پر بابل تر٥٧۶ کلونوحکومت کړے ؤ- د هغو کاسیانو باچهانو نومونه په دې ډول وو:
ګنداش، برنابوریش، کشتلي اشوت، اګوم کادریمي، کارا انداش، کادشمن، کېګالزو، کوري ګالرو، کارا هردوش، نازي مرتاش، نازي بګاش، کداشمن تکلتې نینودرا، انیل نادي شومي، کاداشم اشور، ادادشوما، ملي شیپاك او زباباشو- داټول نومونه د ژبپوهني په رڼا کي آریائي نومونه دي او د دې خبري دلیل دے چي دَ هغو کاسیانو تعلق د آریانه (افغانستان) سره ممکن دے[۶] -

کله چي د مهرګړ د مدنیت نخښي، کوټه ته نږدې وَموندل شوې نو دا خبره ښېخي ښکاره شوه چي دا آثار تر هغونخښو هم زاړه دي کوم چي په کلده او آشورکښي موندل شوي وو- دا پر دې ځمکه له

زرونو کلونو څخه، د خلګو د استوګي تر ټولو لوی ثبوت دے- داسي ښکاري چي پنځلس زره کاله مخکي خلګو ښکارکاوو او همدغه يې د خوراك ذريعه وه- تقريباً لس زره کلونه وړاندي پر افغاني سيمه کرنه کېده- نهه نيم زره کلونه مخکي په افغانستان کي د بشري مدنيت اِبتدا شوې وه او بيا څلورنيم يا پنځه زره کلونه له مخه سومري تهذيب د هلال آباد سره سره په سيند او اباسين کي هم وجود درلود-

اوّل تهذيبي دور کوم چي د "فرات" او"دجله" سيندونو تر منځ په بېن النهرين کي شروع شوے ؤ او تر۵۵۰ مخزيږدي پوري يې دوام درلود، د لويو لويو سلطنتونو او غټو غټو باچهانو دور ؤ- د دغه دور په باچهانو کي د فرعونانو نومونه ډېر مشهوره دي- د اوّل فرعون نوم "نارمر" ؤ چاچي په ۳۱۰۰ مخزېږده کې د جنوبي مصر د نيل پر دوآبه فتح حاصله کړه- دے د مصر اولنے فرعون ؤ چي په اوّل تهذيبي دور کي په تاريخ کي د باچا په توګه پېژندل شوے دے- بيا نور فرعونان هم په درو بېلو وختونو کي، په دغه تهذيبي څپه کي تېر شوي دي[7]- د بشري تاريخ اولنے تحرير چي د علامتونو په شکل کي ؤ، د هماغه وخت لوی ايجاد ؤ-

کله چي سومريانو شِرك او بت پرستي پېل کړه نو خدای د دوی د لارښوني دپاره حضرت ابراهيم عليه السلام د پيغمبرپه توګه ور واستاو- فرعونانو لره يې حضرت موسیٰ عليه السلام د نبي په توګه ور وَلېږهٔ چي د سمي لاري ښوونه ورته وکړي- دوی دواړه د اولني تهذيبي څپې نبيان وو چي د بشريت د لارښوَني د پاره خدای راستولي وو- مذهبي عقيده دا ده چي حضرت ابراهيم عليه السلام

په مکه کي د خدای د کعبې بنیاد اېښې ؤ چي تر ازله به د ځمکي پر سر د بیت الله په توګه دوام ولري- حضرت موسیٰ علیه السلام دفرعون (رېموسس دویم) غرور ورختم کړ او په راتلونکو وختونوکي یې د عبرت د یوۀ نښان په توګه په نړۍ وَپېژاندۀ- زرتښتي مذهب هم د اوّل تهذیبي دور لوی مذهب ؤ[8] چي پر افغاني سیمه یې خلګو ته د انسانیت د احترام او د حق او باطل ترمنځ د فرق کولو پېغام ورکاو- که څه هم دغه لوی مذهبونه د لومړۍ تهذیبي څپې مذهبونه وو خو اثرات یې په دویمه تهذیبي څپه کي څرګند شول-

## اخځلیك


١- ویلیم مېك ګاګي، دبشري تهذیب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، ( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي ، مشعل لاهور، ٢٠٠٥-

٢ - فاروق عمادالحسن آزاد ، د مغربي ایشیا مسلمانان ، لاهور، ١٩٩٣

٣ - ټائن بي آرنلډ، ځمکه د بشر مور(Mankind and mother earth) ، لندن ، ١٩٧۶

۴ - ډیورانټ ول ، د تهذیب قصه ( The story of civilization) جلد اول ، نیویارك ، ١٩٣٢

٥ - حداد قدرت الله ، افغان ملي تاریخ ، ساپي پېښور ، ٢٠٠٥ -

۶ - زیار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي ، ساپي مرکز پېښور، ٢٠٠١-

٧ - ډیورانټ وِل ، د تاریخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن یاسر جواد، نګارشات، لاهور، ٢٠٠۶ -

٨ - مانفریډ اې ، (History and Civilization of the World) تاریخ و تهذیبِ عالم، ژباړن امیرالدین تقي حبدر، نګارشات، لاهور، ٢٠٠۶

# ۵

# اولني تهذيبونه

د تېرمهال په حواله اوس ډېرڅه واضح دي- اولني تهذيبونه له زړو عمارتونو، لوښو او د هماغه وخت د استعمال له څيزونو پېژندلي شوي دي- له طبعي سائنسي تحقيقه[۱] او په ايرو کې د کاربن څخه د تېر مهال په حقله چې کوم معلومات ترلاسه شوي دي، هغه دا څرګندَوي چې تر عيسیٰ عليه السلام څلورنيم زره کلونه لمخه (شپږ نيم زره کلونه له اوسه څخه) د ښارونو آبادَول شروع شوي وو- اولنۍ انساني آباديانې ورو ورو په اوسني عراق کې د دجله (طغريث) او فرات تر منځ (عکس نمبر6) شروع شوي وې[۲]- "حلافي" تهذيب دختيځ او لوېديځ په خوا غزېدۀ لګياؤ- دا مهال له ختيځ څخه يو قام (سومر) د بېن النهرين په خوا را وڅکېد او په سهېلي عراق کې يې تهذيب پر مخ روان کړ- سومريانو هلته اُر، اُرك، لاګاش لارسا او ايروډو ښارونه آباد کړل- د سومريانو په نامتو باچهانو کې ګيلګامش، ايناتم، سرګن او نموأر(نمرود) وو-




<u>عکس نمبر</u>6 "دايره" د عِراق په بېن النهرين کي د اوّلني تهذيب د نخښوځای دۀ

وروسته بيا شلګي او بخت نصر هم پر دغه علاقه حکمرانان تېر شوي دي- هماغه مهال په مصر کي د نيل په خواؤشا کي واړه واړه ښارونه جوړ شول[۳]-

**سومري تهذيب** تراوسه د دُنيا اولنے تهذيب ګڼل کيږي- په دغه اولني تهذيب کي خلګو په ډېرلوی تعداد، په مُنَظمه توګه استوګه کوله- ورو ورو سومر قام په تعميراتو کي ډېره ترقي وکړه، د ستونونو (تمبو) استعمال يې شروع کړ او پر دېوالونو يې ښايسته نقش ونګارکاوۀ- ښکلي مجسيمې يې جوړَولې او پر لوښو يې پالش کاوۀ- خلګو په نوو پېشو پېل وکړ او ورو ورو تجارت هم ډېره وده وکړه- دوی څه نا څه صنعتي هنر مندي هم لرله- د مِسو استعمال يې په ډېر هنر کاوۀ- د اولني تحرير ايجاد هم د سومري تهذيب کارنامه وه چي لومړے په تصويري يا علاماتي (Pictographic) او

بیا په مېخي (cuneiform) رسم الخط کي ؤ- هغه وخت کاغذ نه ؤ ځکه دوی په خټه کي لیکل- اولنۍ باچهۍ هم په دغه اولني تهذيبي دور کي جوړي شوې[۴] -

انسان له اوّله سره په دې فکر سرګردان ؤ چي د کاینات جوړولو والا یو ډېرستر واکمن خو شته مګر څوك دے؟ چیري دے؟ او څه رنګه دے؟ دا ورته واضح نه ؤ- ځکه انسان کله لمر ته د خدای (نعوذوبالله) په حېث عبادت کاوۀ اوکله يې پخپل لاس جوړکړي بُتان دعبادت لائق ګڼل- سومريانو هم شِرك او بت پرستي کوله ځکه خدای د دوی د لارښوني دپاره حضرت ابراهيم عليه السلام د پېغمبرپه توګه ور واستاؤ- هغه وخت په بېن النهرېن(عراق) کي واك د نمرود (نمو اُر) په لاس کي ؤ-

د نوي سائنسي تاريخ څېړني په رڼا کي دا هغه مهال ؤ چي آريايي او سامي نسلونو کوچ کاوو لګياوو- ځکه په بېن النهرېن کي واك له يوۀ قام څخه وَبل ته اَووښت- دغه واك اَووښتون سومريان هم له لويي بربادۍ سره مخامخ کړل- د سامي کوچيانو سره سره ابراهيم عليه السلام هم بېن النهرېن پرېښوو، اوّل فلسطين ته ولاړ چيري چي د **بي بي سارا** له بطنه د اسحاق عليه السلام نسل پر مخ ولاړ، او بيا يې مکه مکرمه ته د خدای په حکم د کعبې د تعمير په نيت هجرت وکړ چيري چي د **بي بي حاجره** له بطنه د اسماعيل عليه السلام نسل خپور شو- د اوسني اسرائيل په "بيرشيبا" کي يو ځاګے دے چي د يهوديانو په عقيده حضرت اِبراهيم عليه السلام هماغه وخت جوړ کړے ؤ-

همدارنګه اللّٰه تعالیٰ فرعونانو لره حضرت موسیٰ علیه السلام د نبي په توګه راواستاو چي د سمي لاري ښوونه ورته وکړي- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، دوی دواړه د اوّلنۍ تهذیبي څپې نبیان وو چي دَ بشریت دَ لارښووَني د پاره خدای راستولي وو- حضرت ابراهیم علیه السلام چي د خدای د کعبې کوم بُنیاد اېښی ؤ هغه به تر ازله د ځمکي پر سر د بیت الله په توګه دوام ولري-

سومریانو و نورو تهذیبونو ته ډېرڅه ور پرېښوول- د دوی تر تهذیبي اثر لاندي د نړۍ نورو قامونو هم په خپل ژوند کي بدلون راووست- له سومري تهذیبه لږ وروسته **مصري تهذیب** دَنیل په خواؤشاکي پرمختګ وکړ- مصري تهذیب په طب، تعمیراتو، جیومېټري، مصوري او مُجسمه سازي کي ډېر پر مخ تللے ؤ- د شماریاتو او قانون یو ښه نظام یې جوړ کړے ؤ- جنګونه په ډېره لویه پېمانه او تر یوه کمان لاندي کېدل- په مصر کي ټول وطن د یوهٔ باچا ملکیت ګڼل کېد، ځکه خلګو (نعوذوبالله) خدای ګڼلے ؤ[٥]- په دغه وخت کي د مړو د ښخېدو یو ښه نظام هم وجود درلود-

قاهره ته نِزدې په " ګیزا" کي " اهرامِ مصر" (عکس نمبر7) د نړۍ په عجایباتو کي شامل دے، چي هره ورځ په زرګونو خلګ د کَتَني د پاره ورته ورځي- لوی اِهرامونه د باچهانو د قبرونه په توګه جوړ شوي وو په کومو کي چي د فرعونانو جِسمونه هم تر زرګونو کلونو په اصلي حالت کي خوندي وو- په مصر کي هماغه مهال علامتي عبارت لیکل پېل شوے ؤ- د نیل پر غاړو موجود یو بوټے ؤ چي "پپایرس" بلل کېدهٔ- مصریانوله دغه بوټي څخه کاغذ غوندي شیټونه جوړول اوعلامتي عبارتونه به یې ورباندي لیکل-



عکس نمبر7 په"ګيزا" کي د اهرامِ مصر او نورو زړو مصري تهذيبي نخښو يو منظر

کله چي زه په کال ۲۰۰۶ کي سکندريه او قاهره ته ولاړم نو د مصري تهذيبي ورثې د کتني سره سره مي په قاهره کي وليدل چي مصريانو د"پپايرس" شيټونه اوس هم جوړَول او د راغلو مېلمنو د خوښي عبارتونه يې پرې ورليکل-

فرعونانو تر درو زرو کلونو پوري مصر متحد ساتلے ؤ- له ۳۰۰۰ مخزېږدي څخه تر تقريباً ۲۱۰۰ پوري قديم مصري باچهانو مصر په سياسي توګه يو مُټې کړ- د دغه زاړه دور آخري فرعون پېپي دويم ؤ چي په ۲۱۸۴ مخزېږده کي مړ شو- بيا منځني مصري باچهانو تقريباً تر۱۰۰۰ کلونو پوري مصر تر خپل واك لاندي ساتلے ؤ- نوي مصري سلطنتونه تر۵۰۰ مخزېږدي پوري قايم وو- نوميالے فرعون "راموسس دويم" چاچي د موسیٰ عليه السلام څخه شکست خوړلے ؤ، هم په تاريخي توګه په نوو مصري باچهانوکي شامل ؤ[۶]- وروسته مصر تر کال۴۰۰ مخزېږدي پوري د ايراني سلطنت حِصه ؤ او بيا تر۳۳۲ مخزېږدي پوري ورباندي نيم آزاد حکومتونه وو- له کال ۳۳۲ څخه تر ۳۲۳ مخزېږدي پوري پر مصر د سکندر اعظم حکومت ؤ-

د حضرت موسیٰ علیه ا لسلام په وخت کې یعنې تر عیسیٰ علیه السلام تقریباً دیارلس سوه کلونه وړاندې( ۱۲۷۰ مخزېږده)، د دغه تهذیب بدې ورځې شروع شوې، خو پر ځمکه د مصرې تهذیب اوس هم دومره نخښې پاته دې چې هرسړے ورته حیران دے - څوك ورته د عبرت په نظر ګورې اوڅوك د حېرت ګوته په غاښ دي-

**دسیند دغاړې تهذیب** یا انډس وېلې سیویلائزېشن هم دسومرې او مصرې تهذیبونو همزولے ښکارې خو د ښارونوجوړښت یې ښکلے دے ځکه په تاریخې توګه ترهغو کشر بلل کیږې[۴]- تقریباً په ۴۵۰۰ مخزېږده کې د سیند پر غاړو یو ډېر ښکلې تهذیب وجود درلود- که څه هم د دغه ښکلې تهذیب ډېرې غوره نخښې په موهنجوداړو او هړپا کې موندل شوې دې او دا وخت کتل کېدای هم شې، خو په دې حقله ډېر کم معلومات مخ ته راغلې دي-

د ځمکیندنې له امله په موهنجوداړو او هړپا (عکس نمبر8) کې چې کوم ښارونه موندل شوې دې هغه ترسومرې (عراقې) او مصرې تهذیبونو ترقې یافته ښکارې، ځکه د سیند د حوزې د تهذیب عمر تقریباً پنځه زره کلونه ( ۳۰۰۰ مخزېږده ) یادیږې- دا ښارونه په ښه توګه جوړشوې دې او تهولې څنډې یې باقاعده په کوڅوسره پېوند دې- داسې ښکارې چې د موهنجوداړو ا و هړپا خلګو جوارې او غنم خوړل، او له پمبَوو څخه یې د خپل استعمال کپړې هم جوړولې- دغو خلګو لیك او لوست کاوو خو تحریر یې لاتر اوسه نه وئېل کیږې ولې چې ژبه یې دراوړې وه- د دې تهذیب ډېر نور واړه واړه ښارونه د همالیه د غره له لمنې څخه ترګجراته پورې خپاره دې- د افغانستان په شمالې او ختیځو برخو کې هم دسیند د حوزې تهذیبې نخښې موندل شوې دې- دا خلګ " دراوړ"




عکس نمبر8 د سيند د حوزي تهذيبي نخښي او لرغوني ښارونه ( مُهنجودرواوهړپا)

بلل شوي دي چي په بڼه بد رنګه او په قد واړه وو-

دا خبره په عالمي تاريخ ثابته ده چي کله د مدنيت بنسټ اېښوول کېد لګياؤ نو په آسيا کي لوی کوچ (Mass Migration) شروع شو چي تر زرګونو کلونو (۳۰۰۰-۱۲۰۰ م ز) يې دوام درلود- ښکاري چي د سيند دغاړي دغه تهذيب د **آريايي** نسل خلګو د هند په خوا د کوچ په وخت وران کړے ؤ[۳]- عکس نمبر9 د

کاسپين له غاړي د هند په خوا دآرياوو دکوچ لاري څرګندَوي کوم چي د سيند د غاړي د تهذيب د ورانېدو سوَب ګڼل شوے دے-

څلور زره کلونه مخکي (۲۰۰۰مخزېږده) زيانګ شؤ او لانګشان قبيلو په چين کي د هوانګ هو سيند په خواؤشاه کي **چيني تهذيب** جوړکړے ؤ- اوّل چيني مدنيت په ۱۹۰۰ مخزېږده کي دايرليټؤ (Erlitov) په نامه آباد شوے ؤ- چينيانو د رودونو پر




عکس نمبر9 دسيند دحوزي دتهذيب دزِوال سوب د آريا وو دهند په خوا کوچ کول ؤ؟

غاړو کر اوکښت کاوو- د آسانو سپارلي او نور استعمال يې هم زده کړے ؤ- د وريښم له چينجي څخه يې وريښم جوړول هم پېل کړل- په ۱۵۰۰ مخزېږده کي **شانګ** خاندان د مرکزي چين واك ترلاسه کړ- له۱۵۰۰ مخزېږدي څخه وروسته ټول تاريخي ريکارډ په ليکلي شکل کي وَجود لري - وايي چي دا مهال چينيانو پر لوښو ډېر ښايسته کارکاوۀ او چيني خط ليکل هم پېل شو- په ۱۰۰۰

مخزېږده کې **ژو** خاندان وَ شانګ خاندان ته ماته ورکړه او واك يې په خپل لاس کې را ووست[۴]-

**حتي**(Hittites) **تهذيب** (عکس نمبر10) په تاريخ کې د آريئن تهذيب په نامه هم ياد شوے دے- آرياله عيسیٰ عليه السلام څخه ۳۰۰۰ کلونه مخ کې د کاسپين سمندرګي په خواؤشا کې آباد وو- دوی کوچيان وو او د مغربي آسيا په خوا يې د معاش په لټون




<u>عکس نمبر</u>10 په انا طوليه کې دتورسمندراو مېډېټريئن سمندرترمنځ"حتي تهذيب"

هڅه کړې وه- دا خلګ تر اناطوليه پورې تللي وو کوم چې اوسنے تُرکي دے- په اناطوليه کې د حتي تهذيب نخښې له ۱۹۰۰ مخزېږدي څخه ياديږي- وايي چې حتيانو په ۲۰۰۰ مخزېږده کې وړې آسيا ته کوچ کړے ؤ او تر ۶۵۰ مخزېږدي پورې يې په وړې

آسيا کي زړې نخښې موندل شوي دي- حتيانو په اناطوليه کي د نړۍ تر ټولو زوړ ښار کتلهيوك (۷۰۰۰ مخزېږده)موندلے ؤ، له کومه چي دوی تهذيبي اثر اخستے ؤ- د آريايي نسل دغو خلګو هلته په۱۵۷۰ مخزېږده کي حتي تهذيب جوړکړے ؤ چي تر۱۳۴۳ مخزېږدي پوري يې پايښت درلود- بيا په کال ۱۶۳۰مخزېږده کي حتيانو دخپل يوۀ مشر **لابارنا** په مشرۍ کي"**حتوسا**" پايتخت جوړکړ- هغۀ دغه ښار ډېر آباد کړ ځکه دے حتوسس اوّل هم بلل شوے دے- دۀ يوه لويه باچهي جوړه کړه چي دويم لوی او تاريخي ښار يې **بوغاز ټروے** (Troy) ؤ دا ښار وروسته په تاريخ کي ډېر پخوانے او خورا مهم ښار ګڼل شوے دے- په عکس نمبر11 کي د دغه ښار له کنډوالو څخه مصوّر يوه خيالي شبيهه جوړه کړې ده چي دښارجوړښت ترې څرګندېږي- د حتيانو باچهان وروسته"مرسليز"بلل



عکس نمبر11 د"حتي تهذيب" مهم ښار ټروے (Troy)

شوي دي- حتي آريايي باچا مرسلېز اوّل(Mursilis. I) په ۱۵۹۵ مخزېږده کي بابل فتح کړے ؤ[۴]-



عکس نمبر12 په ترکي کي د حتي باچا مرسلېز مُجسمه

د يوۀ حتي مرسلېز مُجسمه په عکس نمبر 12 کي[۷] ښکاره ده چي لباس يې اوسني پښتني لباس ته ښېخي ډېر ورته دے- چونکي آرياوو په نړۍ کي اوّل ځل د انساني حقوقو په لړکي قانون سازي کړې وه ځکه حتيانو هم د بشري حقوقو خيال ساتۀ- د انتقام او سزا پر ځای يې د حق او حقدار خبره کوله او د مرګ سزا يې ډېره محدوده کړې وه-

په کال ۱۲۰۰ مخزېږده کي آخري حتي باچا سپيلوليمس له نامعلومه حمله کوونکو څخه شکست وخوړ- دغه حمله کوونکي په تاريخ کي چا" ګاشګا" بللي دي او چا سمندري خلګ ياد کړي دي- خپلواک حتي دولت په سهېل شرقي اناطوليه او شمالي سيريا (شام) کي تر اوومي مخزېږدي پېړۍ پوري دوام درلود- د آريايي تهذيب تفصيل به په" آريا او آريانه" کي په راتلونکو پاڼو کي ګورو-

هغه مهال دَ هلال آباد (Fertile cresent) په خواوشا کي نور واړه واړه دولتونه هم وو- د هلال آباد په تاريخ کي د فونيقي دولت ذکر د فينيشياپه نامۀ شوے دے- فونيقي دولت د سامي نسل يو ووړ دولت ؤ چي په ۲۸۰۰ مخزېږده کي د خليج فارس څخه تر شام پوري د يوې تراټي په بڼه غزېدلے ؤ- په فينيشيا کي ډيري وړې وړې مغربي سامي قبيلې اوسېدې- دا هېواد پر څو آزادو ښارونو مشتمل ؤ چي اوګرېت، ببلوس، تاثر او سېدون پکي ياد شوي دي- فونيقيانو بيا پخپله هوشياري او مکاري د مصريانو له کمزورۍ څخه فائده واخسته او ورو ورو يې پر مخ تګ وکړ- يونانيانو به له دې کبله هر چالباز ته فونيقي وئېل- که څه هم د۱۵۰۰ مخزېدي په خواوشا د فينيشيا ځيني ښارونه د مصريانو

ترحکومت لاندي شول او ځیني د حتیانو خو په دوولسمه مخزېږده کي یې بیا خپلواکي ترلاسه کړه- د دوی باچا هیرام په عسکري توګه فینیشیا مضبوطه کړه او قبرص یې هم د ځان کړ- د افریکا پر شمالي ساحل د کارتېج ښار هم فونیقیانو آباد کړے ؤ- د حروف تهجي ایجاد د دوی له خوا پر نړۍ باندي لوی احسان بلل کیږي- تردوی لمخه په بین النهرین کي تصویري (Pictographs) یا مېخي (cuneiform) رسم الخط رائج ؤ[۳]-

د دجله او فرات په شمال کي د آشوریانو د سلطنت بنسټ له څو وړو وړو قبیلو د یوځای کېدو سره پېل شو چي مرکز یې د آشور ښارؤ- ورو ورو یې ترقي وکړه او په اتمه مخزېږده کي د دوی باچا تغلث پلېسرر شام او فینیشیا هم فتح کړل- اسرائیل باج ورکاوۀ او بابل یې تر نیولو وروسته خپل پایتخت کړ- تر دۀ وروسته سرګون او ایسارهدون نورفتوحات هم وکړل او اشوریه یې د عالمي طاقت تر حده ورسوله- اشوریه بېله څه شکه په عسکري توګه د خپل وخت تر ټولو لوی قوت ؤ- مینوان تهذیب په هماغه زمانه کي د کرېټ په خواوشا د وړو وړو جزیرو په بڼه د سمبري تهذیب د پایځوړ په توګه آباد ؤ- په کال ۲۰۰۰ مخزېږده کي مینو باچا په کېنوس کي یو محل جوړ کړ چي بیا د مینو تهذیب یو یادګارشو- مینو خلګو له مصر، لبنان او یونان سره د جست کاروبار کاوۀ-

بشري تهذیب په خپله اوّله تاریخي څپه کي مخ په وړاندي روان ؤ او روځ په روځ یې پرمخ ترقي کوله خو باچهانو یې یو پر بل حملې هم کولې- یو ځل خو داسي هم وشو چي د نیل پر غاړه "نارمر" نامي فرعون تر جنګ ګټلو وروسته، په ۳۱۰۰ مخزېږده کي دوه تاجونه پر سر کړل[۴]-

د کومو تهذيبونو ذکر چي بالا وشو دا ټول سياسي او تجارتي سلطنتونه وو- باچا د سلطنت مطلق العنان حکمران ؤ- د لرغوني مهال دا ټول تهذيبونه يو له بله سره په تجارتي لارو تړلي وو او د آريانه د خلګو برخه په دې انساني تهذيبونو کي درنه وه -

# اخځليك


١ - هاکس جکوټيا ، نوی موړ ، بشري تاريخ او سائنسي ترقي (History of mankind and sientific development)، اول جلد، لندن، ۱۹۶۳ -

۲ - ډولي سر ليونارډ ، د *تهذيب ابتدا* ، بشري تاريخ او سائنسي ترقي (History of mankind and sientific development)، دويم جلد لندن، ۱۹۶۳ -

۳ - فاروق عمادالحسن آزاد ، د مغربي ايشيا مسلمانان ، لاهور، ۱۹۹۳

۴- ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، ( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵-

۵ - ډيورانټ ول ، د تهذيب قصه ( The story of civilization) جلد اول ، نيويارك، ۱۹۳۲

۶ - کارپيسيسي البرټو کارلو ، د مصر آرټ او تاريخ (Art and History of Egypt) ، بونچي اټلي ، ۲۰۰۵ -

۷ - ډګلس جي برينکلي ، Visual History of the World (د نړۍ عکسي تاريخ ) ، نېشنل جغرافيك، واشنګټن ډي سي ، ۲۰۰۵ -

# ۶

# آريا او آريانا

آريا په قد غټ او په بڼه ښائسته خلک وو چې پزې يې اوږدې او رنګونه يې صفا وو- دوی کوچيان وو او په جنګ خورا غښتلي وو- د دوی ګډه ژبه "اريك" وه- ډېر پخوا، له تاريخ ليکنې څخه هم وړاندې، دآريايي نسل خلک پر ډېرو قبيلو(ټبرونو) ځله وېشلي وو- د ډېرو قبايلودغه لوی ګروپ که څه هم اصلاً په منځنۍ آسياکې اوسېدۀ خو مشرقي يورپ ته هم غزېدلے ؤ- دا خلک له عيسٰی عليه السلام څخه ۳۰۰۰ کلونه مخکې د کاسپين سمندرګې په خواوشا کې آباد وو- وروسته يې له خپله وطنه دکاختۍ له کبله يا بيا د ښه معاش په تلاش نورو سيمو ته (عکس نمبر13) کوچ کړے ؤ[1]- له منځنۍ آسيا څخه آرياوو دغربه علاوه د سُهېل په خوا ايران ته هڅه کړې وه او د شمال په لور تر چينه پورې تللي وو- څه ټبرونه داسې هم وو چې پرختيځ مخ په وړاندې تر هندوستانه رسېدلي وو-




عکس نمبر13 د آريايي نسل د خلګو او د هغوی د ژبو وَ هند او يورپ ته د کوچ لاري

د آريانا تاريخ ډېر ځلاند دے او جغرافيه يې ښېخي واضح ده- د هندوکش د غرونوخواوشا دآريانا ۱۶ جغرافيايي څنډې (ولايتونه) وې چي اروانښاد کهزاد[۲] د "ونديداد" له لومړي باب څخه په دې ډول نقل کړي دي:

۱- اريانم ويجو
۲- سغده
۳- مورو
۴- بخدي (بلخ)
۵- نيسا يه
۶- هرويو (هرات)
۷- واکرته (کابل)
۸- خننته
۹- اوروه(روه)

۱۰- هراوتي (دهراوت)
۱۱- هیتومنت (هیلمند)
۱۲- راغه(بدخشان)
۱۳- کاکره
۱۴- وارینه (واورینه علاقه؟)
۱۵ - هپته هندو(سیند)
۱۶- رانګه

له دغو ولایتونو څخه بخدي (بلخ)، راغه (بدخشان)، مورو (مرو)، هریوه (هرات)، هراوتي (دهراوت ارغنداب)، هیتومنت (هلمند)، او کاکرا (کاکړ خراسان؟) لا تر اوسه د افغانانو مهمي سیمي دي- تردغه وخته آریاوو خپله سِکه نه درلوده او د ژوند ټولي معاملې یې د جنس (آس، پسۀ، خره، اوښ ) په عوض کولې[۲]-

آریاوو یوډېرښه ټولنیزحکومتي نظام درلود- اجتماعي جوړښت یې پر درو برخو تقسیم ؤ چي روحانین، منتظمین او بزګران وو[۳]- سیاست د روحانینو په لاس کي ؤ او باچهانو ته یې پېشدادیان وئېل- د اوېستایي مدنیت دور له ۱۲۰۰ مخزېږدي څخه څرګند دے- په بخدي کي اوّله باچهي د اوېستا له حوالې د اهورا مزدا (لوی بادار) په امر "**یمه**" ودانه کړې وه- یمه اولنے بخدي باچا ؤ چاچي د تهذیب او ښاري ژوند بنسټ ایښے ؤ- د دغو اولنیو آریایي پېشدادیانو نومونه هېوشنګ، ترهوشنګ، تمهورث، او جمشېد وو- تمهورث یو عادل باچا ؤ چا چي تر ډېرشو کالو پر آریانا حکومت کړے ؤ- جمشېد په تاریخ کي اوّل ځل د نوروز جشن جوړ کړے ؤ- هغۀ د تهذیب په پرمختګ کي خورا غوره کارونه کړي وو- په همدغه وخت کي د وړیو وربښل او د کالیو ګنډل پېل شول- آریاوو

ددۀ په دور کي په آريانه (عکس نمبر14) کي ليك او لوست کول-




عکس نمبر 14 دآريانا څلور مهم ښارونه

دارنګه وروسته نور باچهان د کياني او اسپه کورنيو څخه هم په تاريخ کي د قديم بلخ يا باختر باچهان تېر شوي دي-

د آرياوو کورنۍ نظام وَ اوسني پښتني کورني نظام ته بېخي ورته ؤ- پلار به له بَهَره د کور د خوراك څښاك او پوښاك بندوبست کاوۀ او مور به په کورکي دننه د کورنۍ تر منځ د دغو څيزونو دَ وېشني زمه واره وه- بچيانو به واړه واړه کارونه کول او ځوانانو به يې د مشرانو د احترام خيال ساتۀ- دا کورنۍ نظام د آرياوو په وخت کي"کولا" بلل شوے دے-" کَوول" يا " کهول"نن هم پښتانۀ خپل اوسني کورني نظام ته وايي-

کلي هغه وخت نه وو، د کږدۍ ژوند ؤ، څو کورونه به پر يوۀ

ځای شول، يو مشر به يې وټاکهٔ او په ګډه به يې څاروي ودَرَول- دا مشر به د اوسني کلي د مَلَك حېثيت درلود- داجوړښت د "ګوترا" په نامه بلل شوے دے[۴]- کومه علاقه چې به د ګوتراګانو ګډه ورشو وه "ګوشي" بلل کېده- دهغې دپاره به يو مشر وټاکل شو چې له ورشو سره تړلي پيښې به يې هوارولې (لکه يو ووړ خان)-

لويه علاقه چې پکې ډيري ګوشتياني راتلې او د اوسنۍ اولسوالۍ برابره وه د "ګرامه" په نامه ياده شوې ده- د ګرامې مشر به هم يو سړے ټاکل شوے ؤ چې اختيار به يې د اوسني لوی خان برابر ؤ- د آرياوو د دغه جوړښت رنګ اوس لا هم په پښتنو کې شته- باګرام، بټګرام، اخاګرام او کاټېګرام نن هم په پښتني سيمه کې د لويو علاقو نومونه دي-

"دېسه" له ډيرو ګرامو څخه جوړېده او يو مشر به په ګډه ورته ټاکل کېدهٔ- د حبيب الله رفيع صاحب په قول دېسه يا دېس د ولايت په مانا اخست شوے دے او"جانه" جان يا جهان د باچهۍ نوم ؤ چې د يوهٔ مشر ورته ټاکل لازمي ؤ-

کله چې وروسته په آريانه کې د کلو او وړو وړو ښارونو جوړښت منځ ته راغے نو د"سيما" يا "سيمه" په نامه يوه وړه جرګه هم جوړه شوه چې کليوالي لانجې به يې هوارولې- کله چې به لويه پېښه وشوه نو سيمه ايځ مشران به په "سيمتي" کې سره راغونډ شول، يو مشر به يې وَټاکهٔ اود لويو لانجو فېصلې به يې کولې- دا جوړښت اوس هم د جرګې او لويې جرګې په توګه په افغانانو کې دوام لري[۴]-

آرياوو له عيسیٰ عليه السلام څخه دونيم زره کلونه مخکې د امو پر شمالي غاړه په **آريانا ويجه** نامي هېواد کې ژوند کاوو[۵]- دوی هغه وخت هم د ټاکنو(الېکشن) ډېر ښه نظام درلود- د دوی د

سياسي او ټولنيز نظام بڼه هم اوسني جمهوري نظام ته ډېره ورته وه- د آرياوو د ټولنيز ژوند جوړښت له کښته نه تر بره د خلګو په ګډون تر سره کېد- دا خلګ اوّل اناطوليه (اوسني ترکي) ته غزېدلي وو- بيا يې شايد د ښو ورشوګانو په تلاش يا د آبادۍ د زياتوالي له کبله، تقريباً په ۲۰۰۰ مخزېږده کي له منځنۍ آسيا څخه د غرب پر لوري يورپ ته کوچ کړے ؤ او د سُهېل خواته يې ايران ته هڅه کړې وه- څه آريايي ټبرونه داسي هم وو چي پر ختيځ مخ په وړاندي تر هندوستانه رسېدلي وو (عکس نمبر13)- ښايي چي همدغو آرياوو د سيند پر غاړو آباد دخپل وخت ښکلے مدنيت (موهنجو داړو) وران کړے ؤ اوځايي خلګ يې ټول شړلي وو-

آريا ټول په يوۀ وار نه وو ځله پړکېدلي بلکي په وارو وارو د ډلو په شکل پر مخ راغلي وو- د دوی اوّله څپه د کال ۲۰۰۰ مخزېږدي په خواوشا او دويمه څپه يې تقريباً په ۱۵۰۰ مخزېږده کي د سيند اوهند په لور را غلې وه- دا دويمه څپه يې ډېره خطرناکه وه کومي چي ډېرځايي **"دراوړ"** خلګ وژلي وو، څه يې تښتولي او نور يې غلامان کړي وو- دراوړ چونکي په بڼه بدرنګه او پيت پزي وو ځکه به آرياوو ورته "پز پرېکړي" وئېل-

آرياوو له مِسو او وسپني څخه دخپل استعمال شيان جوړول زده وو- دوی چي کوم وطن د ځان ګاڼۀ هغه افغانستان ؤ چي پکي څو ايراني علاقې هم شاملي وې- دا وطن تر اوسه لاهم په ټوله نړۍ کي د" **آريانا**" په نامه يادېږي چي د افغانستان لرغونے نوم دے - که څه هم د ښو ورشوګانو په لټون وتلي آريا وروسته د نړۍ په بېلا بېلو څنډو کي آباد شول او ترقي يې وکړه خو په پراخ نيت يې د خپل وران مورني کور" آريانه" يعني اوسني افغانستان د جوړښت فکر ونه کړ- پخپله ځينو ناپوهه افغانانو هم د جوړښت پکي څه ځای پرې

نه ښوو او زړې ودانۍ هم ورو ورو ترې وراني شوې-[۶]

**حتي تهذیب** د آریایي نسل خلګو جوړ کړے ؤ- یو روایت دادے چي د آریاوو یوې ډلي دکاسپین(خزر) سمندرګي له غاړي کوچ وکړ او د تور سمندرګي (بحر اسود) شاوخوا د خپلو مالونو سره راګرځېدل او د شرقي یورپ په خوایې هڅه وکړه- کله چي اناطولیه ته ورسېدل نو یې هلته ښېټه وکړه- دویم روایت دادے چي آریا د کاسپین سمندرګي له سُهېلي غاړي څخه د شمالي ایران په خوا راکوچ شول اوبیا یې د مغرب په خوا هڅه وکړه- په هرحال حتیانو تر۱۶۳۰ مخزېږدي پوري په منځنۍ اناطولیه کي د وړو وړو ټبرواکیو په بڼه استوګه کوله- وروسته لبارناس نامه حتي مشر څاړي واړي ټبرونه سره را غونډ کړل او سیاسي وحدت یې ورکړ- هغهٔ د اناطولیه زوړ ښار"حتوسا" خپل پایتخت کړ څکه حتوسس اوّل هم بلل شوے دے- حتوسا ډېر ژر ترقي وکړه او د یوهٔ ستر ښار په توګه وپېژندل شو- بیا یې یو بل زوړښار بوغاز ټروئے(Troy) هم آبادکړ چي وروسته په عالمي تاریخ کي ډېر پخوانے او خورا مهم ښار ګڼل شوے دے- ورو ورو دوی یوه لویه باچهي جوړه کړه- حتي باچهان "مرسلیز" بلل شوي دي چي باچهي یې خورا مُنظمه او طاقتوره وه- د حتي حکومت د طاقت اندازه له دې څخه په آساني لګېدای شي چي د حتوسس مشر زوی مرسلیز اوّل په کال ۱۵۹۵ مخزېږده کي پر بین النهرین ور ودانګل او سومري علاقې ته ورسېد- سومري باچا ته یې ماته ورکړه اوبیا یې شام هم ونیو[۵]- هغه یوازي یو ښه عسکري قومندان نه ؤ بلکي خلګو د موسم د خدایګوټي (نعوذوبالله) په توګه هم پېژندلے ؤ- په کال۱۵۹۰ مخزېږده کي مرسلېز اوّل دخپل اخنبي له لاسه ووژل شو- د مرسلېز

اوّل تر وژني وروسته حتي سلطنت له کورنيو ناچاکيانو سره مخامخ شو څکه شام بېرته تري بېل شو[۷]- سپيلوليمس وروسته حتيان سره يوځای کړل او خپل حتي سلطنت يې بيا بحال کړ- د هغهٔ زوی مرسليز دويم له ميتانيانو او مصريانو څخه د شام غوښتنه وکړه-

چونکي د آريايي نسل خلګ د حتي تهذيب د جوړښت پېلامګر وو څکه هغوی سومري سلطنت بېرته بحال کړ او تر ۱۱۶۹ مخزېږدي پوري يې ساتلے ؤ- د حتيانو يو لوی خاصيت دا ؤ چي هغوي د پرمختګ لاري خلاصي ساتلي وې څکه په دغه تهذيب کي نوي نوي ايجادونه وشول-

حتيانو په جنګ کي د اِستعمال دپاره اوّل ځل د آسانو ګاډۍ جوړي کړې- په څوَرلسمه مخزېږده پېړۍ کي حتيانو دومره واك درلود چي د مصر تر سلطنت هم مزي وو- په ديارلسمه مخزېږده پېړۍ کي د مصريانو او حتيانو تر منځ د شام قبضه کولو په غرض لوی جنګ وشو- حتيانو د 'کادېش" پر مقام په ۱۲۸۶مخزېږده کي مصريانو ته شکست ورکړ- شام تقسيم شو او وروسته د حتيانو او مصريانو تر منځ روغه وشوه- دا په تاريخ کي لومړے جنګ ؤ چي د دوو تهذيبونو تر منځ وشو[۳، ۷]-

حتيانو د تهذيب څه اجزا له سومري تهذيبه خپل کړل، څه يې له شاميانو اوڅه ناڅه يې له مصري تهذيبه د ځان کړل- که څه هم سومريانو د ليك لوست فن تر حتيانو له مخه زده کړے ؤ خوحتيانو له مصري تحرير څخه هم استفاده وکړه اوځان لره يې يو نوے تحريرايجادکړ چي په تاريخ کي "هيروغليفي" تحريربلل شوے دے- دا تحرير حتيانو د خپلو آرائشي کتباتو د ښائست د پاره په خپل استعمال کي راوستے ؤ خو دخپلي ژبي دليك لوست او سرکاري

کاروبار دپاره " اَکادي مېخي" خط هم په دوی کي رائج ؤ-

آریاوو په نړی کي اوّل ځل د انساني حقوقو په لړکي قانون سازي کړې وه- د اِنتقام او سزا پر ځای یې د حق او حقدار خبره کوله او د مرګ سزا یې د باغي او جنسي مجرم تر حده محدوده کړې وه- حتي قانون دخپل وخت تر ټولو اِنسان دوست قانون بلل شوے دے- که څه هم اوّله تهذیبي څپه د زور او زورَور دور ؤ خو حتي حکومت تر ډېره حده ترقي یافته او جمهوري ؤ- د حتي تهذیب خاص د حېرت خبره دا وه چي د زاتي دښمنی او انتقام پکې هیڅ ګنجائش هم نه ؤ- مجرم ته سزا ورکول یوازي د حتي حکومت ذمه واري وه، خلګ ترې خلاص وو- دحتیانو په وخت کي د اناطولیه ختیځه څنډه د کوه کاف (قفقاز) ترغرونو غزېدلې وه- دا غرونه له معدیني دولته ډك وو ځکه اوس هم د لوی شمېر تاریخ لیکونکو داخیال دے چي انسان اوّل ځل د دهاتونو(مِس، ګِلَټ او وسپنه) استعمال له همدغي ځمکي پیل کړے ؤ- له وسپني څخه فولاد جوړول هم د حتیانو کارنامه ده-

د حتیانو سلطنت د نړی د تاریخ پر پاڼو په دوو بېلو وختونو کي، پر زاړه او نوي حتي دولتونو وېشل شوے دے- زوړحتي دولت له کال ۱۵۷۰ څخه تر۱۳۴۳مخزېږدي پوري قایم ؤ اونوي حتي دولت له ۱۳۳۵ څخه تر۱۲۰۰ مخزېږدي پوري دوام درلود- لکه وړاندي چي یې ذِکر وشو، په دغو دولتونو کي تر ډېره حده د بشري حقوقو خیال ساتل کېدۀ- حتیانو لوی جنګونه هم کړي وو او په مېړانه یې د خپل دولت او خپلواکی دفاع کوله خو دوی په خپلو دغو دواړو حکومتونو کي تر جنګ امن خوښاوۀ- د مصریانو سره د حتیانو تاریخي روغه د دې خبري لوی دلیل دے- حتي باچا حتوسیلس دریېم چي د فرعون (رامسس دویم) سره په کال ۱۲۵۹

مخزېرده کې د روغې کومه لوظنامه وکړه هغه تر اوسه لا په مېخي خط ليکلې د تاريخ په پاڼو کې خوندي ده، چې متن يې په دې ډول دے:

"وګورئی د مصر ستر باچا راموسس مي امانا له ستر حتي باچا حتوسيلس سره د امن او دوستۍ لوظنامه لاسليك کړه- وګورئی د مصر د ستر باچا راموسس بچيان او د ستر حتي باچا حتوسيلس بچيان به تل د امن او دوستۍ د دې لوظنامې پابند وي- د مصر سلطنت او حتي سلطنت به د همېشه دپاره د امن او دوستۍ په حال کې اوسي"-

تر دغه تړون يوڅلوېښت کاله وروسته، په کال۱۲۰۰ مخزېرده کې حتي باچا سپيلوليمس له نامعلومه حمله کوونکو څخه چې په تاريخ کې سمندري خلګ ياد شوي دي، ماته وخوړله- حتوسا چې هغه وخت پايتخت ؤ، حمله کوونکو برباد کړ- ټروئے ښار هم په دغه وخت کې برباد شوے دے چې کنډوالې يې په تُرکي کې د حتي تهذيب د نخښو په توګه خوندي دي- د پښتنو تهذيبي ريښې په همدغه حتي تهذيب کې دي ځکه يې کلتور لا تر اوسه هم حتي کلتور ته ورته دے- د مثال په توګه په عکس نمبر12 کې د حتي مرسلېز ښځه وګورئی- د حتي تهذيب د زړو نخښو تر جاج اخستو وروسته دا نتيجه اخسته کېدای شي چې په زړو وختونو کې هم د آريايانو د ژوندانه ډېر اړخونه داسي وو چې اوسني پښتني ژوند ته بېخي ورته وو- په دا لاندي عکس نمبر15کې حتي ښځه څرخے ورېشي او بچی يې ورته ولاړه ده-



عکس نمبر15 د حتي آريايي نسل د يوې ښځي مجسمه چي څرخے وريښي او خپله ماشومه ورته ولاړه ده-

دغه منظر نن هم موږ په خپل کلتور کي په هماغه زاړه شکل کي ليدلای شو چي لا تر اوسه دوام لري- پښتانه يو ستر آريايي قام دے- د دوی تاريخي کړۍ له ساکانو سره تړلي دي- چونکي د قام د تهذيب اصل عناصر د هغۀ تاريخ، کلتور، نظريه، عقيده، ادب، موسيقي او مُصّوري دي ځکه د پښتنو تهذيبي ريښې په حتي تهذيب کي دي- تر اسلام وړاندي افغانستان يوې خواته د پېړيو په اوږدو کي د ډېرو سترو مدنيتونو لار پاته شوې ده چي ورو ورو يې ځايي رنګونه اخستي او افغاني شوي دي، بلي خواته خپل ځايي مدنيتونه پکي زېږېدلي او پايېدلي دي- د اسلام د مذهبي عقايدو تر اثر لاندي اوس پښتون دپښتونوالي او اسلامي رواياتو(درېيم لښتليك) په پسول ښايسته دے چي يو ځانګړے افغاني کلتور دے

او قام په پېژندل کيږي-




دريم لښتليك: افغاني كلتور

**مائسيني تهذيب** (اوّل يوناني تهذيب) هم د آريايي نسل خلګو جوړ کړے ؤ کوم چي له عيسیٰ عليه السلام څخه ۲۰۰۰ کلونه مخ کي يونان ته رسېدلي وو- تر دې له مخه يونانيان يو وحشي قام ؤ- تر شپاړسمي مخزېږدي پېړۍ پوري يونانيان په همدغه انداز اوسېدل- دا هغه وخت ؤ چي په **کرېټ** جزيره کي د بين النهرين او مصر تر اثر لاندي مدنيت ښه پرمخ تګ کړے ؤ- دوه ښارونه ډېر آباد وو، يو **مائسي** او بل ټيرنس- له مائسي څخه مائسيني تهذيب وتلے دے- د آريايي نسل خلګو تر کال ۱۴۰۰ مخزېږدي پوري کرېټ مدنيت شاته پرېښو [۷]-

دا هماغه وخت ؤ چي د مصر باچا اخناتون تر موسیٰ علېه السلام مخکي په څورلسمه مخزېږده پېړۍ کي دا نظريه پېش کړه

چي خدای يو دے او هغه لمر(Aton) دے [۳]- خو د لمر د شبيهه جوړولو او عبادت کولو څخه يې خلګ منع کړل ولي چي هغهٔ د خدای د جسماني هيئت قائل نه ؤ- اخناتون هغه وخت د مصري ادب تر ټولو اوږد او ښکلے تاريخي نظم هم د لمر(آتن) په حواله ليکلے ؤ- د دغه نظم يو بند دا ؤ چي:

ا ے آتنه! ته زما په زړه کي پروت يې
ته د ځمکي او د هرڅه يَو خالق يې
ستا ځلا د کاينات د ژوند پيغام ده
ته په خپل ذات کي يکتا يې
ته د ژوند لوی علامت يې

بيا موسیٰ عليه السلام د بشريت د بقا او لار ښووني پيغام، په ديارلسمه مخزيږده پيړۍ کي راوړ- هغهٔ د خدای د وحدانيت يو واضح او حقيقي تصوّر پيش کړ- يهوديت د مذهب په توګه راپورته شو او خلګو ته يې لار ښوونه کوله- د موسیٰ عليه السلام مُعجزې داسي وې چي د خدای وحدانيت يې ثابت کړ- ځکه خوفرعون هم دَ موسیٰ عليه السلام او دَ هغهٔ د منونکو يهوديانو له مصرڅخه صحيح سلامت د وتلو لارنه شوه نيوای- وروسته تحريري قانون هم جوړ کړل شو او دَ يهودي قام بنيادونه په ټينګ شول[۸]-

آ ريايان د زرتښتي مذهب (زرتښتيزم) منونکي وو چي آريايي پيشوا يې "زراتشترا" يا زرتښت (عکس نمبر16)[۹] نوميږهٔ- دے د



عکس نمبر16 په شام کی د تېر مهال د زړو کنډوالو پر يوه دېوال جوړ د زرا تشترا عکس

تاريخي ښار بلخ(باختر) اوسېدونکے ؤ چی تراوسه لاهم دافغانستان په جغرافيائي حدونوکي دے- زرتشتي مذهب تر ډېره حده وَ اوسني

هندوئيزم ته ورته ؤ- که څه هم د يوۀ لوی خدای منونکے مذهب ؤ خو د وَړو وَړو خدايانو تصوّرهم ځای پکي درلود- لکه وړاندي چي يې ذکر وشو، د آرياوو اولنۍ ژبه اريك وه- کتاب يې اَوېستا بلل شوے دے چي وروسته د تاريخ په وړدو کي تقريباً ورك شوے ؤ خو يوه خطي نسخه يې د کوپنهېګن (ډينمارك) په ميوزيم کي اوس هم خوندي ده- دا نسخه په دينِ دبيره رسم الخط کي ده چي ديني مواد پکې زيات دے- د خېر، شر، جنت، دوزخ، سمه لار، حساب او ميزان ټول تفصيل په اوېستا کي موجود دے[۲]-

آرياوو دروغ بد ګڼل، غلاپکې جُرم وه او قاتل يې نه باخښۀ- معاش يې مالداري او زراعت وو- دوی په خپل آر ټاټوبي " آريانه" کي ډېر پرمخ تللي وو- د ۱۲۰۰ مخزېږدي په خواوشا يې **اوېستايي تهذيب** جوړ کړے ؤ- د دغه تهذيب اولنے ښار بخدي ؤ چي اولنے شاهي نظام د "يمه" په مشرۍ کي پکې پېل شوے ؤ- د غلام محمد غبار له قوله د زرتښتي مذهب اِبتدا غالباً په ۱۰۰۰ مخزېږده کي شوې وه خو د نوي سائنسي تحقيق له رويه په ۶۲۸ مخزېږده کي، په افغانستان او ايران کي دا مذهب پېل شوے ؤ چي تر اثر لاندي يې د بشري حقوقو احترام هم کېدۀ- په زر تښتي مذهب کي د خېر او شر تر منځ يوه ووړده تاريخي مباريزه وه- آريايي باچا ويشتاسپه (ګشتاسپ) وروسته د زرتښتي مذهب سر پرستي وکړه ځکه زرتښتيزم اوّل رياستي مذهب شو[۵]- بيا ساسانيانو دويم وار هم د رياستي مذهب په توګه اختيار کړ-

د زرتښت په وخت کي د آريانه باچا ګشتاسپ امر ورکړ چي د زرتښتي کتاب دوولس زره نسخې دي د سروزرو(طِلا) په څپروکو وليکل شي او د **ورهران** په اورتون (آتشکده)کي دي کښېښوول شي-

ورهران مزدك (عبادتګاه) اسفنديار د بلخ باميك په نوازك کي ودان کړے ؤ- په اوسني هلمند ولايت کي د بست تاريخي ښار په همدغه وخت کي بستاوېري (Bastawairi) ودان کړے ؤ- د بست کلا اوس هم د پښتنو دکلتور، دود، تاريخ او فرهنګ يوه ژوندۍ بېلګه ده- داکلا د غزنويانو او غوريانو تر منځ د کورنۍ جګړې له کبله ونړول شوه خو بيا چا د دغي تاريخي کلا د ژغورني فکر ونه کړ[۶]- دا ګيله منه کلا چي په لرغون (ماضي) کي يې ۱۳ پوړه ښکلے د باچهانو د استوګي ځاى درلود او تر ځان لاندي يې د اوبو يو ښايسته سيستم غزېدلے ؤ، اوس د آرياوو پر مېنه ډېره خفه غوندي ولاړه د سبا په ځار ده (عکس نمبر17) چي کله به څوك دا هم د مصر او ترکي د لرغونيو نخښو په شان، په مينه او په فخر نړيوالو ته ښکاره کړي- کله چي په افغانستان کي امن ؤ نو د نورو منطقو څخه سېلانيان د دغو تاريخي نخښو د کتو په نيت



عکس نمبر17 په هلمند ولايت کي د لښکرګا سره نږلې د بست تاريخي کلا

افغانستان ته تلل راتلل خو اوس هر څوك په افغانستان کې د امن په څار دي-

د آريائي نسل د خلکو تر منځ د نا اتفاقۍ له کبله ډورین قام هغوی ته شکست ورکړ اومائسیني تهذیب د ډورین قام له حملوڅخه تباه شو- خلک يې د ډیرو جنګونو سره مخامخ شول او ښارونه يې ټول برباد کړل شول- ډورین قبائل په دوولسمه مخزیږده پیړۍکي له شمال لوېديځ څخه یونان ته را ولوېدل- دا خلک په جنګ غښتلي خو له تهذیبه بېخي نابلده وو- تر څلورنیمو پیړیو پوري دوی یونان په تهذیبي توګه بربادکړ-

ډيرو ستونزو او ناچاکیانو ورو ورو یوناني قام په اتمه مخزیږده پیړۍ کي بېرته را ویښ کړ- فلسفه، ادب ، لوبي او ديني علوم مخ په وړاندي روان شول- ورو ورو د امن او خوشحالۍ په لټون نوي نظریې مخ ته راغلې او بیا يې یوه نوي"هیلیني تهذیب" ته لار خلاصه کړه[۳] - په کال۶۴۰ مخزیږده کي د نړۍ اوّل فلسفي طالیس (تیلز) په یونان کي پیدا شو- که څه هماغه مهال د لومړي تهذیبي دور وروستۍ برخه وه خو دغه عظیم فلسفي د دوَیم تهذیبي دورفلسفیانو لره ټینګ بنیاد کښېښوو-

د لومړۍ تهذیبي څپې په دغه آخري برخه کي یو بل بدلون دا هم ښکاره شو چي په کال ۶۱۲ مخزیږده کي د بخت نصر پلار نبوپولاسر د دجله پر شرقي غاړه پر نېنوا حمله وکړه او آشوریانو ته يې ماته ورکړه- وروسته يې بیا زوی بخت نصر بابل ته ترقي ورکړه او یو ډېر ښایسته ښار يې تري جوړ کړ- دهغه وخت ځړاندباغ (Hanging Garden) اوس د نړۍ په اوو عجائباتو کي شامل دے- بخت نصر د مصر او فلسطین خلاف تاریخي جنګونه هم وکړل- په

کال ۵۹۷ مخزېږده کي هغهٔ پر يروشلم (اوسني بېت المقدس) لومړی حمله ځکه وکړه چي د يروشلم خلگو (يهوديانو) له باج ورکولو څخه نټه کړې وه- په کال۵۸۷ مخزېږده کي دهٔ ښار تباه کړ اوپه ۵۸۶ مخزېږده کي يې پر يروشلم قبضه وکړه- دوولس زره يهودي مشران يې وَوژل او نور يې له فلسطينه څخه وشړل[11] - لوی شمېر يهوديان يې غلامان کړل او په بېگار(جبري مزدوري) کي يې چَلَول- په کلده او بابل کي د بخت نصر د سلطنت نقشه په عکس نمبر18 کي څرگنده ده[10] -




عکس نمبر 18 د بخت نصر د وخت د کلده او بابل دويم سلطنت [10]

وروسته سايرس د ساکانو په مرسته د بخت نصر له زوی څخه بابل لاندي کړ- سايرس او دهغهٔ ملگرو ساکانو پر يهوديانو لوی احسان وکړ- دوی يې نه يوازي له بابليانو خلاص کړل بلکي آزاد يې

هم کړل چي يروشلم ته مخه وکړي او بېرته هلته آباد شي[۱۲] -

د لومړۍ تهذيبي څپې په دغو آخري ورځو کي يعني په کال ۵۶۳ مخزېږده کي دنېپال دساکيه قبيلې يوشهزاده سُدهارته چي وروسته د "بودا" په نامه مَسَوا ؤ، په ځواني کي له تخته ځان رابېل کړ او د حقيقت په تلاش کي سرګردان شو- هغهٔ د بودائي مذهب پېشوا ؤ چي وروسته يې په دويم تهذيبي دور کې ډېر پر مختګ وکړ[۱۳] -

# اخځليك


۱ - ډيورانټ ول ، د تهذيب قصه ( The story of civilization) جلد اول ، نيويارك ، ۱۹۳۲ -

۲ - كهزاد احمد علي ، دَ آفغانستان پخوانى تاريخ پښتو ترجمه (ذباړه) د تاريخ انجمن افغانستان ، كابل، ۱۳۳۴ كال د حوت مياشت .

۳ - ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، ( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي، مشعل لاهور، ۲۰۰۵ -

۴ - رفيع حبيب ا لله ، په افغانستان كي د تاريخي انتخاباتو بهير، بګړۍ، لومړۍ ګڼه ، لښكرګاه، هېلمند، ۱۳۸۳ لمريز كال

۵ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش كتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۶ - مېرمن نازو ، دبُست كلا، بګړۍ، لومړۍ ګڼه ، لښكرګاه، هېلمند، ۱۳۸۳ لمريز كال

۷ - رياض احمد، مغربي يلغار، تخليقات لاهور ۲۰۰۴ -

۸ - ډولي سر ليونارډ ، د تهذيب ابتدا ، بشري تاريخ او سائنسي ترقي (History of mankind and sientific development) ، دويم جلد، لندن، ۱۹۶۳ -

۹ - ډګلس جي برينكلي ، Visual History of the World (د نړۍ

عکسي تاریخ ) ، نیشنل جغرافیك ، واشنګټن ډي سي ، ۲۰۰۵ -

۱۰- وېلز - ایچ جي کلیات تاریخ (The Outline of History) فارسي ژباړن مسعود رجبنیا ، تهران ، ۱۹۷۳

۱۱ - غبار میرغلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ ، کابل ، ۱۹۶۷ ،

۱۲ - نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاریخ یو نظر ( Glimpses of the world history ) تخلیقات لاهور ، ۱۹۹۲ -

۱۳ - ډیورانټ وِل ، د تاریخ ښاغلي(Heroes of History) ژباړن یاسر جواد، نګارشات، لاهور، ۲۰۰۶ -

# د تهذيب دويمه څپه

Pukhto.Net
پښتو

# دمذهب او فلسفې دور

# ۷

# دويم تهذيبي دور

که څه هم د انساني تهذيب دويم تاريخي دورله۵۵۰ مخزېږدي څخه شروع کيږي، خو دا تاريخ د دوو تهذيبي او تاريخي ادوارو، يو له بله څخه د بېلېدو يوازينے تاريخ نشي قبلېدلای- دويم دور د لويو پېغمبرانو او فلسفيانو دور ؤ- د دغه دور لويه ټېکنالوژي "حروف تهجي" وه، چې په اوّل تهذيبي دور کې فونيقي خلګو ايجاد کړې وه خو يونان په دويم دور کې ځان لره په جلا انداز خپله کړه- په دې حواله تر ټولو زوړ تحرير د ببلوس د باچا اهيرام پر قبر ليکلے دے چې تاريخ يې ۹۷۵ مخزېږده دے[1]- په دغه وخت کې د فونيقيانو ۲۲ حروف تهجي په استعمال کې وو- د دويم دور تهذيب په اصل کې له "ابجدي تحرير" څخه پېژندل کيږي- بودايي مذهب، عيسائيت او اسلام ټول په دغه تهذيبي دور کې منځ ته راغلي وو- افغانانو اوّل زرتښتيزم بيا بودايزم او وروسته اسلام دمذهب په توګه خپل

کړ- دمذهب نوعيت هم په دويم تهذيبي دور کي بدل شو- تر دې له مخه خلګو د ډېرو خُدايانو تصوّر درلود، خو په دويم دور کي د وحدانيت تصوّر پر مخ ولاړ- اخلاقي قدرونه او انساني حقوق د مذهب په تعليماتو کي شامل شول[۲]-

زرتښتي مذهب چي په لومړي تهذيبي دورکي له موسیٰ عليه السلام څخه وروسته نړۍ ته د خېراوشر تصوّر ور کړے ؤ، په دويم دورکي يې نورهم د افغانانو او ايرانيانو اخلاقي قدرونه اوچت کړل- دآرياناپه لوېديځ کي، زرتښتيزم په اُووَمه مخزېږده کي دهخامنشانو (اېش مېنينز) او ساکانو مذهب ؤ او د انساني حقوقو خيال ساتل د دغه مذهب يولوی پېغام ؤ، څکه نامتو جرمن دانشور نطشې په خپل کتاب"څکه زرتښت وئېل"(And Thus Spoke Zarathashtra) کي زرا تشترا د خپلي فلسفې او فکر ترجمان منلے دے- نطشې خپله ليکي چي"ما زرتښت دخپلي فلسفې ترجمان څکه ګڼلے دے چي هغهٔ د انساني تاريخ لومړے مُفکر ؤ چا چي د خېر او شر تر منځ کشمکش محسوس کړ- زه څکه زراتشترا دخپلي فلسفې ترجمان ګڼم چي هغهٔ رشتيا وايي او د رشتيا مرستيال دے"- د زرتښتي مذهب بنيادي تصوّر د" آهورا مزدا " (حق) او" اهرمن" (باطل) تر منځ په جاري کشمکش کي د حق مرسته کول ؤ- اوّل اسپه آريايي خاندان او بيا ساسانيانو زرتښتيزم ته د رياستي مذهب حېثيت ورکړے ؤ[۳] -

د انساني تهذيب په پرمختګ کي د آريايي نسل د خلګو لويه برخه ده او ددې دويم تهذيبي دور ترقي هم د آريايي نسل احسان دے- د يوناني تهذيب په وخت کي د آريانه خواوشا ته کوچيان اوسېدل چي په ختيځ کي د اوسني چين او منګوليا تر سرحده

رسېدلي وو- یونانیانو دوی سیتیان (Scythians) بللي دي- لکه چي په عکس نمبر19 کي ښکاره ده، دغو سیتیانو له ختیځي (مشرقي) آسیا څخه د لوېدیځي (مغربي) آسیا په خوا هڅه کړې وه- ورو ورو تر والګا سیندګي پوري رسېدلي وو- ساکان او پارتیان




عکس نمبر19 د ساکانو اوښجه

په یوناني دور کي د سیتیانو دوې غټې قبیلې یادي شوي دي- ساکان د آریانه په ختیځه برخه کي تر چین پوري غزېدلي وو[۴]- دوی په هغه وخت (اتمه مخزېږده پېړۍ) کي د اوسني چین په حدونو کي، د آلتې (Altay) په غرونو کي هم اوسېدل- کاس غر (کاشغر) او کاس میر (کاشمیر، کشمیر) د ساکانو(کاسیانو) زړې میني وې- ساکانو وروسته د روس په خوا هم ډېر پر مخ تګ کړے ؤ چیري چي د دوی زړې نخښي په لوی شمېر موندل شوي دي- د ساکانو(کاسیانو) تاریخ له ډېر پخوا نه څرګند دے او اوسني پښتانه

د هماغه ساکانو پايځوړ دي- ساکي ژبه هم پښتو ته ښېخي ورته ده ځکه خو د اوسنی پښتو انا ګڼل کيږي-

په اوومه مخزيږده پېړۍ کي يوناني جزيرو ايتنز، سپارټا، تريس او مقدونيه د رياستونو په شکل وجود درلود- ايتنز د تجارت په لړکي د غټو سمندري جهازونو په جوړولو لاس پوري کړے ؤ- لکه مخکي چي په اوّل تهذيبي دور کي بيان شو، د نړۍ اوّل فلسفي طاليس (تېلز) هم په ۶۴۰ مخزيږده کي زوکړے ؤ- پخپله د هغۀ تعلق د فونيقي نسل سره ؤ او له مصرڅخه يې د رياضي او هندسو علم هم زده کړے ؤ[۲]- دۀ هماغه مهال په يونان کي، د کائنات په حواله په خپلو فلسفيانه خيالاتو، د ساينسي غور او فکر يوه ټولنه جوړه کړې وه-

اوومه مخزيږده پېړۍ په دې لحاظ هم ډېره مهمه وه چي يو بل آريايي قام "ماد" په همدغه پېړۍ کي د ايران په شمال کي لوی حکومت جوړ کړ چي پلازمينه (پايتخت) يې اکماتن(همدان) ؤ- د دوی باچهي په تاريخ کي "امادای" يا ماديه بلل شوې ده- د دوی څلور لوی باچهان دېوکس، فرورتس، هوخشتر، او استاګس وو- دوی له ۷۰۸ مخزيږدي څخه تر۵۵۰ مخزيږدي پوري واك درلود- په ۶۱۲ مخزيږده کي ميديانو او د فارس خلکو په ګډه د اسيريا پايتخت "نېنوا" لاندي کړ او بيا د دغي سيمي لوی قوت شول-

لکه مخکي چي يې ذکر وشو، له خپل پلار څخه وروسته بخت نصر (Nebuchadnazzar) دَ باچا په توګه دَ بابل حکمران شوے ؤ او ډېر طاقتور رياست يې جوړ کړے ؤ- دۀ بيا يروشلم هم ونيو او يهوديان يې له يروشلمه بابل ته وشړل کړل- بخت نصر يو ټينګ او غښتلے حکمران ؤ خو پر مېنه يې کمواکه زوی پاته شو چي وروسته

سائرس بابل ترې لاندي کړ- د هغه وخت تر ټولو لوی بدلون دا ؤ چي د ایران باچا سایرس (کوروش) تر۵۵۰ مخزېږدي پوري اوّل میدیا فتح کړه او بیا د لیډیا حکمران هم شو- دارنګه د مېدیانو ځای هخامنشیانو ونیو[۵]-

دونیم، درې زره کلونه مخ کي (۱۰۰۰-۵۰۰ مخزېږده) ساکانو خپل لوی قوت درلود- سایرس د دوی په مرسته په ۵۳۸ مخزېږده کي بابل ونیو او د هخامنشي سلطنت بُنیاد یې ټینګ کړ- تر دې وروسته د سایرس او ساکانو ترمنځ جګړې پېل شوې- ساکانو د هخامنشي سلطنت په شمالي څنډه کي ځان لره یو ستر ځواك درلود- په دغه وخت کي د ساکانو مشري د هغوی د ماساګیت پښې دمېرمن تمایره (Tomyris)[۶] په لاس کي وه- سایرس د شمال په خوا هڅه وکړه چي ساکان وپرځوي خو دا خواهش یې پوره نه شو بلکي ساکانو دے په سخت مشکل کي واچاو- هخامنشیان تر ډېره وخته د ساکانو سره په جنګ وو- آخر په کال۵۳۰ مخزېږده کي مېرمن تمایره د سایرس لښکرته ماته ورکړه اودے پخپله هم ووژل شو (عکس نمبر20)-

تر سایرس وروسته، ددۀ زوی کمبایزس د پارس تخت تر لاسه کړ- هغۀ ساکان پرېښول او د مصر په خوا یې مخه وکړه- په ۵۲۵ مخزېږده کي یې مصر فتح کړ- په ۵۲۱ مخزېږده کي دارا (داریوش) اوّل د سایرس د سلطنت واګي ترلاسه کړې او د هغۀ پرتخت کښېنوست- دۀ دساکانو سره خپلي اړیکي سمي کړې او د دوی په مرسته یې ورو ورو تر۵۰۰ مخزېږدي پوري خپل سلطنت ډېر پراخ کړ، کوم چي بیا تر ډېر پرمختګ وروسته **هخامنشي**



عکس نمبر20 د مصوّر په نېز د مېرمن تما یره له لاسه د سایرس (کوروش) و ژنه ۶

**تهذیب** ګڼل شوے دے- داریوش هم دساکانو ذکر کړے دے او هغوی یې **سکه** بللي دي- دفارس هخامنشي سلطنت هغه وخت په نړۍ کي ترټولو لوی سلطنت ؤ- د دغه سلطنت سرحدونه په عکس نمبر21 کي ښوول شوي دي- دارا شمال لوېدیځ هندوستان هم په خپل سلطنت کي شامل کړ او خپل لوی ایراني سلطنت یې پر شل ایالتونو تقسیم کړ- د بحر احمر او روډنیل تر منځ د نهر کیندنه هم د دهٔ په وخت کي وشوه- په ۴۹۰ کي ایتنز ایران ته د مراتن (Mrathan) په مېدان کي عارضي شکست ورکړخودارا بېرته یونان




عکس نمبر21 په ۵۲۰ مخزېږده کي د هخامنشیانو د سُلطنت سرحدونه

ونیو او ترکال ۴۸۶ مخزېږدي پوري یې حکومت وربانديي وکړ[۷]- وروسته زرزس(Zerxes) دیونان ښار(ریاست)"ایتنز" وسواځۀ خو د ایران سمندري فوج له یونانیانو څخه شکست وخوړ[۸]-

د ایتنز بد بختي دا وه چي له خپل ګاونډ ریاست سپارټا سره هم په جنګ اخته ؤ- د ایران سره په جنګ کي ایتنز دومره کمزورے شو چي سپارټا وربانديي قبضه وکړه- ایران ته دا قبوله نه وه ځکه یې د سپارټا خلاف جنګ پېل کړ چي تر دیارلسو کلونو پوري یې دوام درلود، ترڅو چي ایتنز له سپارټا څخه آزاد شو او د ایران سره یې په کوچنۍ آسیا (ترکي) کي د مداخلت نه کولو معاهده وکړه- د ایران او یونان تر منځ په جنګونو کي ساکان د یونانیانو پلویان وو ځکه د سکایانو او ایرانیانو تر منځ جګړو دوام ودرلود- ورو ورو هخامنشي سلطنت هم مخ پرځوړه روان شو او په ۴۰۰ مخزېږده

کي ونړېد[۴]

د تهذیب په دویمه تاریخي څپه کي د آ ریانا په شمال ختیځ کي هم لوی بدلون ښکاره شو- د بودایي مذهب پېشوا سدهارتهه یا"**بودا**" په ۵۶۳ مخزېږده کي د نېپال د ساکیه قبیلې یو شهزاده ؤ- ساکیه قبیله یوه جنګجو قبیله وه خو سدهارتهه په ځواني کي لا له جنګه بېزاره ؤ- هغهٔ له تخته ځان رابېل کړ او د حقیقت په تلاش یې دروېشي پېل ګره- که څه هم پخپله برهمن نه ؤ خو د دهٔ په وخت کي په هندوستاني مذهب کي فلسفیانه تصوّراتو دومره ځای موندلے ؤ چي سدهارتهه هم ترې اثر واخست- سدهارتهه د بودایي مذهب بُنیاد کښېښوو چي وروسته په دویم تهذیبي دور کي د نړۍ په لویو مذهبونو کي شمارشو- بودا د ساده ژوند تېرولو په غرض تخت او تاج پرېښوول او د ځنګل په خوا روان شو چي د کائنات پر پټه خزانه غور وکړي او د ژوند په معنا ځان پوهـ کړي- کله چي هغهٔ روحاني رڼا حاصله کړه نو کور په کور، کلي په کلي او ښار په ښار یې د حقیقت ښووَنه کوله روان ؤ- د بودا پېغام چونکي د افغانانو وَ فطرت ته نزدې ؤ ځکه د دوی لوی تعداد دا مذهب قبول کړ- آخر د هندوستان تر ټولو لوی سیاسي حکمران اشوك هم بودیزم د ریاست د سرکاري مذهب په توګه خپل کړ[۲]-

په چین کي کنفیوشیئس (۵۵۱ م ز) غوندي دانشور هم په دویم تهذیبي دور کي پېدا شو- کنفیوشیئس د قدیم چین په تاریخ پوهـ یو سترعالم اوفلسفي ؤ- هغهٔ د شانګ خاندان دوه باچهان په دې قانع کړل چي اخلاقي تعلیمات د چیني معاشرې په جوړښت کي لوی ځای لري-

**فیسا غورث** (انکسا ګورس) په کال ۵۰۰ مخزېږده کي

زېږېدلی ؤ- هغهٔ د **يونان** په اهم رياست ايتنزکي فلسفه پر مخ روانه کړه- تصوّف او رياضي يې په يوهٔ خاص انداز د خپلي فلسفې بنياد جوړ کړل- د دهٔ تر ټولو لوی کرامت دا ؤ چي نړۍ ته يې د "عالم بالا" تصوّر ورکړ- فېسا غورث روح ته د يوه ابدي عنصر په توګه کتل او د" آوا ګون" يا تناسخِ ارواح د نظريې قائل ؤ- وروسته هراکليس (۵۳۵-۴۷۵ مخزېږده) سقراط (۴۶۹ - ۹۹ مخزېږده)، افلاطون (۴۲۷ - ۳۴۷ مخزېږده) او ارسطو(۳۸۴ - ۳۲۲ مخزېږده) غوندي د لوړ فکر خاوندان هم په دغه دور کي د يونان له خاوري راپورته شول-

په دغه دورکي فلسفيانو ته د خپلو نظرِيو د پرمختګ د پاره د حکومتونو د سرپرستۍ ضرورت ؤ او حکومتونو ته د فلسفيانو ضرورت ؤ چي د خلکو د ښېګړي د پاره يې په کار راولي- د افلاطون مشوره دا وه چي د انسانيت د ستونزو اوا رَولو يوه لار ده چي باچا فلسفي وي يا بيا لوَړ فلسفيانه بصيرت وَلري- باچا ډائينوسس دويم په حکومتي فېصلو کي له افلاطون څخه مشورې اخستې- په همدغه دور کي د فلسفيانو له خوا د کائنات بنيادي عناصر اور، اوبه، هوا او خاوره وبلل شول- ارسطو په فلسفه کي د سائنسي فکر پېلامګر ؤ-

کله چي ساکانو د ايران باچا کوروش وواژهٔ، هغه مهال يوناني قام ويښ ؤ- فلسفه ، ادب او ديني علوم ډېر مخ په وړاندي روان وو او قام يوهٔ نوي دور ته ببخي تيار ؤ- په ۳۵۹ مخزېږده کي چي فلپ د يوناني رياست مقدونيه (Macedonia) باچا وټاکل شو نو يې يوناني رياستونه سره راټول کړل او يو ښه فوجي قوت يې ترې جوړ کړ- په ۳۳۸ مخزېږده کي فلپ پر ايتنز قبضه وکړه خو په ۳۳۶

مخزېږده کي قتل شو او زوی سکندر يې د رياست واك په لاس کي واخست- د سکندرپه تربيت کي د هغه وخت د لوی فلسفي ارسطو لاس ؤ[۹]-

**سکندر**(Alexander) چي د مقدونيه (Macedonia) باچا شو نو پر پارس باندي يې په **۳۳۴** مخزېږده کي حمله وکړه - هغهٔ په کال **۳۳۳** مخزېږده کي دَ" آئس" په مېدان کي ايرانيانو ته ماته ور کړه او د کال **۳۳۲** مخزېږده په پای کي يې پارس ونيو- آخري جنګ دَ دارا کوډومنس هخامنشي او سکندرمقدوني ترمنځ اوسني موصل ته نزدې په ګوګامېلا کي وشو، په کوم کي چي آخري هخامنشي باچا دارا ماتې وخوړه او ټول ايراني سلطنت په کال **۳۳۱** مخزېږده کي د سکندرمقدوني تر واك لاندي راغے- له سختي مقابلې وروسته دارا اګبتانا (همدان) ته تېښته وکړه خو د ختيځ ايران ساکانو او باختريانو جنګ ته ترسهاره دوام ورکړ- نامتو ليکوال اولَف کېرو په خپل کتاب "پښتانهٔ[۱۰] The Pathans" کي د سرډېوړ هوګارت[۱۱] په حواله کاږي چي د ګوګامېلا په جنګ کي د هندوکش پښتانهٔ او دغرني خلګ د فارس د آريايانو سره ملګري وو او د دوی له خوا جنګېدل- کله چي يونانيانو تختِ جمشېد ته اور ورکړ نو درېيم دارا خراسان ته تېښته وکړه چيري چي په کال**۳۳۰** مخزېږده کي دپنځوسو کالو په عمر د باختر د والي بسوس له خوا ووژل شو-

سکندرپه کال**۳۳۰** مخزېږده کي (عکس نمبر22) د **باختر** او نورو خواوشا سيمو ترخپل واك لاندي راوړلو په غرض رامخته شو[۱۲]- خودپښتني سيمو (ساکستان او باختر) نيولو دزړه خوږ ور وا چول او د ساکانو سره له نښتو وروسته بېرته پر شا شو[۴]- د پارتيانو په مرسته سکندربيا باختر ته راننووت خو ساکانو په




عکس نمبر22 په کال ۳۳۰ مخزېږده کي د یونانیانو د سُلطنت سرحدونه

پرلَپسې یرغلونو پارتیان له باختره څخه و شړل- یونانیان لا تر څو نوروکلونو پوري له باختریانو سره په جنګ وو خو وروسته یې د روغي لار غوره وګڼله- سکندرد دوستۍ په توګه د اوکسیارتس باختري (ساکي) لور **مېرمن روښانه**(عکس نمبر23) وغوښته او ورسره یې واده وَکړ[۵]- تر دغي روغي وروسته سکندر اعظم خپله لار بدله کړه او هند ته ورشوه شو خو قوت یې بېخي مات ؤ-

د پښتنو سره له دوستۍ وروسته باختر د سکندر د سلطنت برخه شو او سکندر۳۰ زره باختري زلمیان په ۳۲۸ مخزېږده کي په خپل فوج کي هم واخستل خو د کونړ **اسپېزو**(یوسفزو) د دهٔ حکم ونه مانهٔ- سکندر اعظم د باختریانو په مرسته د اسپېزو سره جګړې ته تیار شو- کله چي اسپېزو له خپلو ماته وخوړه نو سکندر د پېښور، چارسدې او ټېکسلا په خوا هم ورتېر شو- که څه هم دغه سیمه د



عکس نمبر 23 باختري مېرمن **روښانه** چي د سکندرِ اعظم کوروالا وه

سکندر تر واك لاندي شوه خو د پښتنو سره د جنګونو له کبله يونانيان دومره کمزوري شول چي د نړۍ د نيولو خواهش يې ختم شو- آخري جنګ يې جهلم ته نژدې، د راجه پورس سره د نس په خوږو وکړ او بېرته يونان ته روان شول- سکندرکورته ونه رسېد بلکي په کال۳۲۳ مخزيږدي کي پر لار مړ شو-

په آخري وخت کي خپلو سردارانو له سکندره دا پوښتنه وکړه چي ته دا خپل لوی سلطنت چا ته پرېږدې ؟ دهٔ هغوی ته جواب ورکړچي "تر ټولو زورَورته"- سکندر چونکي د خپل تخت وارث ونه ټاکه ځکه تر دهٔ وروسته يې سلطنت د وارثانو ترمنځ تقسيم شو خو د سکندر د ځايناست فېصله ونه شوه- دوی تر پنځوسُو کلونو پوري يو له بله سره په جنګونو اخته وو- کومو سردارانو چي د سکندر د سلطنت

پربېلابېلو حِصو قبضه وکړه هغوی ته په تاریخ کي ملوك الطوائف (ډیاډوچي) وايي[۱۳]-

د آریانا سهېلي ولايتونه له اراکوزیا(دکندهارسیمه) **څخه** د ګدروزي (مکران) ترسمندره پوري دسیبرتیاس (Sibyrtias) تر واك لاندي وو- د درنګیا (دهېلمند ناوه) او اریا (دهریرود ناوه) واکمن ستاساندر(Stasandar) شو- د بیکټریا (باختر) اوسغد حکمران ستاسانور(Stasanor) شو- د سکندر د ماندينې مېرمن روښانې پلار اوکسیارتس(Oxyartes) دمنځنۍ آریانه (کابل) واکمن شو- د آریانه ختیځ ولايتونه چي پرشپور(پشاور) او ټېکسیلا پکې شامل وو، دیوناني جرنېلانو او هندي شاهزادګانو ترمنځ په جګړه کي پاته شول- هماغه مهال په هند کي د **ماریا دولت** راپورته شو او بېکټریا(باختر) هم د خپلواك یونانو باختري دولت په توګه پر مختګ وکړ- د آریانا په ختیځو برخو کي د یوناني فکر، هنر او فرهنګ سره سره د ماریا له خوا دهندي فلسفې اثرات هم افغانستان ته راداخل شول- بودايي مذهب د آریانه په ختیځو ولايتونو کي خپور شو- دغه " ګریکوبودیك" کلتوري اثرات چي د آریانه په لرغوني کلتور راګډ شول نو په افغاني تهذيب کي یو غوره بدلون ښکاره شو- د اسلام تر خورېدو وړاندي په دې سیمه کي همدغه کلتور دوام دلود- په دا لاندي عکس نمبر24 کي چي په بامیان کي د بودايي مذهب کومي لرغونۍ نخښي ښکاره دي په همدغو کي د بودا تر ټولو لويي هغه مجسمي شاملي دي چي د طالبانو په وخت کي د دوی په حکم ماتي شوي وې او ډېر نړیوال په خواشني شوي وو- دا د تېر مهال زړې کنډوالې وې چي د هېواد د زاړه تهذيب ترنخښو پرته یې څه نورحېثیت نه درلود- نه یې چا عبادت



عکس نمبر 24 په باميان **کي د بودا** لويي نخښي

کاوۀ اونه د داسي کولو څه امکان ؤ ځکه يې ماتول ښه کار نه ؤ-

**د** روم بنسټ که څه هم په **۷۵۳** مخزېږده کي ايښوو شوے ؤ، کله چي اُوه (۷) رومي کلي سره را يو ځاى شول او د خپلو شخړو اوارولو په نيت يې لاس سره ورکړل، خو ورو ورو يې دومره ترقي وکړه چي د يوۀ سيمه ايځ قوت په توګه په نړۍکي وپېژندل شول- د يوۀ ژوندي قام په حېث روميانو تر کال **۵۰۸** مخزېږده پوري په خپل هېوادکي جمهوريت هم پېل کړ- بيا له **۳۹۳** مخزېږدي څخه تر **۸۸** مخزېږدي پوري روم د عالمي طاقت په توګه پر نړۍ را خپور شو- روميانو د ترقۍ سفر ته دوام ورکړ او تر لومړۍ مخزېږدي پېړۍ پوري يې د خپل مشر جوليس سيزر (قېصر) تر مشرۍ لاندي يو عظيم رومي سلطنت (عکس نمبر25) جوړ شو[1]-

**د رومي تهذيب** جوړښت يوناني تهذيب ته ډېر ورته ؤ- ترسکندره




عکس نمبر25 د رومي سلطنت سرحدونه

وروسته د دۀ له سلطنته واړه واړه رياستونه جوړشول خو سياسي غوبل د بحرِ روم پر لوېديځه غاړه ؤ- تر۲۶۴ مخزېږدي پوري د روم جزيرې سره يو ځای شوې- په کال ۲۵۰ مخزېږده کي يې اټلي فتح کړ- بيا روميانو د شمالي افريکا و"کارتيج" ته ماتې ورکړه او هغه سلطنت يې هم په روم راګډ کړ-

په کال ۱۹۷ مخزېږده کي روم د مقدونيه فوجونو ته ماته ورکړه او سهېلي(جنوبي) يونان يې قبضه کړ- وروسته يې د اوسني تُرکي په خوا هڅه وکړه- په کال ۱۶۸ کي يې د سکندر مورنۍ ځمکه هم خپله صوبه کړه- دا شان روم ورو ورو يو فيوډل سلطنت شو- تر۵۰ مخزېږده پوري روميانو ټول يورپ او پارس تر خپل واك لاندي راوړل- ورو ورو رومي کلتور مخته ولاړ، سړکونه اوعمارتونه جوړشول، دښارونو جوړښت پېل شو او د قانون حکمراني ته اهميت ورکړل شو-

لکه څنګه چي وئېل کيږي "هر کمال لره زوال شته" همدا شان

ښاري ژوند د روم خلک سُست او اسائش پرسته کړل- له ۳۰۷ څخه تر۳۳۷ عيسوي کاله پوري نورو قامونو (باربېرينز) ور باندي حملې کوَلې- آخر د روم حکمرانان دومره مجبوره شول چي پايتخت يې کانسټېنټېنوپول (استنبول) ته بدل کړ چي په نتيجه کي يې رومي سلطنت پر دوو برخو تقسيم شو- لوېديځ روم خپل پايتخت ته په روم کي دوام ورکړ او د ختيځ روم بازنطيني حکمران قسطنطاينِ اعظم د باسفورس سمندرګي پر غاړه کانسټېنټېنوپول (قسطنطيه) خپل پايتخت کړ چي اوس استنبول بلل کيږي- د کال ۲۰۰۷ په ستمبر کي چي کله زهٔ استنبول ته ولاړم نو د بازنطيني سلطنت ټولي زړې نخښي لا په ډېرښه حالت کي خوندي وې- دغه ختيځ روم يا بازنطيني سلطنت د اسلام ترخپرېدو پوري لا د رومي سلطنت اصل وارث ؤ[۲] -

بلي خوا ته په چين کي هوانګ تايي په کال ۲۲۱ مخزېږده کي چيني شَهِنشاهت قايم کړ- چينيانو په ۲۱۶ مخزېږده کي د بال کنايي په ميدان کي روميانو ته شِکست ورکړ[۳] او په کال ۲۱۴ کي يې د چين پر لوی دېوال هم کار پېل کړ چي اوس د نړۍ په لويو عجايباتو کي شامل دے- مشهوره ساينسدان ارشيمېدس په همدغه کال د هايډروسټېټِکس قانون ايجاد کړ- چونکي چينيان له "هسيونګ نو" نامي کوچي قبيلې څخه ډېر تنګ وو ځکه يې د هغوی د لار نوي په خاطر دغه لوی دېوال جوړ کړ- کله چي دېوال جوړ شو نو"هسيونګ نو" قبيلې"يوچي" قبيله شاته را و شَړله- يوچي قبيلې بيا ساکان هم شاته راپوري وَهل-

دغو ساکانو وروسته "هندوسکايي دولت" جوړکړ چي په کال ۷۰ مخزېږده کي د"مايس" تر واکمني لاندي يو لوی سلطنت ؤ- يوې

خواته دغه سلطنت د ارغنداب او هېلمند په شمول تر هري روده غزېدلے ؤ او بلي خواته د سيند په آخوا ټېکسيلا او لاهور هم په ګډ وو، څکه خومايس د پياوړي شهينشاه په نامه هم بلل شوے دے- ساکانو په دغه وخت کي له مصري توليمي (Ptolimic) دولت سره هم ډيري ښې اړيکي ساتلي وې-

د انساني تهذيب دغي دويمي تاريخي څپې تر پنځلسمي عيسوي پېړۍ (۱۴۵۰) پورې دوام درلود- په دغه څپه کي د افغانانو قيادت تر عيسيٰ عليه السلام وړاندي ساکانو کړے ؤ، تر اسلام مخکي اوّل کوشانيانو اوبيا پېتليانو (ابداليانو) وکړ- اسلام هم په دغه تهذيبي څپه کي پر نړۍ راخپور شو- هغه وخت په لوېديځه آريانه کي افغانان او ايرانيان د زرتښتي مذهب منونکي وو خو په شمال ختيځ کي پر ځينو سيمو د بودايي مذهب هم ډېراثرات وو- وروسته افغانانو اسلام د آخري دين په توګه خپل کړ چي تر اوسه لا د ټولو پښتنو دين دے- په اسلامي پېر کي اوّل غزنويانو او بيا غوريانو د افغانانو رهبري وکړه- د تهذيب دغه دويمه څپه په آخر کي د عيسائيت او اسلام ترمنځ د ټکراؤ (صليبي جنګونو) له کبله ورو ورو پرځوړه روانه شوه- د نړۍ د دوو لويو مذهبونو تر منځ د لويو لويو جنګونه نتيجه دا شوه چي په ديارلسمه پېړۍ کي د مغلو (چنګېزخان) د مقابلې صلاحيت په دوی کي پاته نه وو څکه دواړه د بربادۍ سره مخامخ شول- د مغلي حملو سره دا تهذيبي څپه هم تېره شوه- په افغانستان کي غوري سلطنت پر ختمېدو شو او افغانان پر وړو وړو ټبر واکيو تقسيم شول-

# اخځليك


۱ - فاروق عمادالحسن آزاد ، د مغربي ايشيا مسلمانان ، لاهور، ۱۹۹۳
۲ - ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، ( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي ، مشعل، لاهور، ۲۰۰۵-
۳ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش كتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-
۴ - زيارمجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاكي، ساپي مركز پېښور، ۲۰۰۱ -
۵ - لو ئز ډوفري ، افغانستان ( East and wesrnt meet and mingle ) ، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۳ -
۶ - ډګلس جي برينكلي ، Visual History of the World (د نړی عكسي تاريخ ) ، نېشنل جغرافيك، واشنګټن ډي سي ، ۲۰۰۵ -
۷ - وېلز - ايچ جي كليات تاريخ (The Outline of History) فارسي ژباړه مسعود رجبنيا ، تهران ، ۱۹۷۳
۸ - فرائي رچرډ اين ، د پارس وراثت (The Herirtage of Persia) ، لندن ، ۱۹۲۲ -
۹ - كبري ايم اې ، د يوناني دنيا تاريخ (History of the greek world)، لندن ، ۱۹۵۱ -
۱۰ - اولَف كېرو، The pathans (پښتانه تر عيسي علېه السلام ۵۵۰ كاله مخكي)، لندن ، ۱۹۵۷ -
۱۱ - هوګارت ډېوېډ، دمقدونيه فلپ او سكندر، جان مورېري، ۱۸۹۷
۱۲ - ډيورانټ ول ، د تهذيب قصه ( The story of civilization) جلد اول ، نيويارك ۱۹۳۲ -
۱۳- نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاريخ يو نظر ( Glimpses of the world history ) تخليقات لاهور ، ۱۹۹۲ -

# ۸

# باختر،ساكان اوساكستان

## ( تر عيسیٰ عليه السلام وړاندي )

**آريا** لکه مخکي چي بيان شو، تر عيسیٰ عليه السلام۳۰۰۰ کلونه وړاندي د کاسپين سمندرګي په خواوشا کي آباد وو- دوی وروسته له خپله وطنه د ښه معاش په تلاش نورو سيمو ته کوچ کړے ؤ- په دغو آرياووکي څوك ايران ته ولاړل او څوك يورپ ته- چا هند ته هڅه وکړه او چا چين ته- د چين په خوا کوچ شوي آريايي قبايل وروسته سيتيان (Scythian) ياسکايان بلل شوي دي- سيتي قبايلو په اتمه مخزيږده پيړۍ کي له ختيځي آسيا څخه بېرته لوېديځ ته مخه راکړې وه او تر والګا سيندګي پوري رسېدلي وو-

**ساكان** اوّل اوّل د اوسني چين په حدونو کي، د آلتې (Altay) په غرونوکي اوسېدل- دوی کاسان او کاشيان هم بلل شوي دي- کاس غر (کاشغر) او کاس مير(کاشمير، کشمير) هم د دوی زړې ميني وې- اوسني پښتانه د هماغه ساکانو پايځوړ ګڼل کيږي- دوی وروسته پر لوېديځ مخه کړې وه او د روس په خوا يې ډېر پر مختګ کړے ؤ- تر څلورمي مخزيږدي پيړۍ پوري سکايان د کوچيانو په

توګه د اوسني يوکرائن، روس (سهېلي څنډه)، او قازکستان پر سيمو اوسېدل- دوی د آسانو ښه سپارهٔ ګڼل کېدل اوپه جنګ خورا غښتلي وو- د ښه کلتور نخښي يې اوس هم په يوکرائن او سائبېريا کي خوندي دي- د سروزرو(طِلا) کاروبار يې کاوو او پر مړو يې ښه زيارتونه جوړول- په سايبېريا کي پر کراسته جوړ دا لاندي عکس نمبر 26 اوس دساکانو په يوهٔ زاړه زيارت کي په يخي کي پروت دے چي د يوهٔ ساکي مشر پخوانی نخښه ده-

د روس په ښار سېنټ پيټرزبرګ کي په سټېټ هرميټېج موزيم (State Hermitage Museum) کي دساکانو اوسرمتيانو له سروزرو



عکس نمبر26 په يخي کي پټ، پر کراسته جوړ، د يوه پرآس سپور ساکي مشر شبيهه

جوړ ډېر شيان د نخښو په توګه خوندي دي چي روسيانو د تور سمندرګي له شاوخوا څخه د ځمکيندني له امله لاس ته کړي وو او تر اوسه لا په دغه موزيم کي خوندي دي- اُووه سوه کلونه تر عيسیٰؑ عليه السلام مخکي دَ آريانه ختيځه څنډه د باختريه (Bactaria) په نامه ياده شوې ده او د باختر اوسېدونکي باختريان بلل شوي دي- لکه وړاندي چي يې ذکر وشو، بلخ ښار د نړۍ په هماغو ښارونو کي شامل دے چيري چي اوّل ځل ښاري ژوند پېل شوے ؤ- بلخ د باختريه (باختر) پايتخت ؤ- باختريان چونکي د آرياوو له ساکي پښې څخه وو ځکه دوی هم ببله څه شکه ساکان يا سکه وو- ساکان هغه مهال په منځنۍ آسيا کي په اقتصادي توګه ډېر مزي وو- د دوی په ګاونډ کي هغه وخت په لوېديځه آريانه (ايران) کي ماد او فارس قبايل آباد وو او په هندوستان کي پنچالا او کوسالا قبيلې اوسېدې چي په راماين کي يې ذکر شوے دے-

د ماد، فارس، پنجالا او کوسالا ټبرونو سره د باختريانو جګړې رواني وې- ورو ورو باختري دولت کمواکه شو او سياسي وحدت يې هم پاته نه شو- په دغه وخت کي اوّل د مېديانو دولت په اوومه مخزېږده پېړۍکي لوی قوت پېدا کړ او بيا هخامنشيان هم په شپږمه مخزېږده پېړۍکي غټ قوت شول-

ساکان کوچيان وو چي هغه وخت په آسيا او يورپ کي د خپلو مالونو سره له يوه ځايه بل ته تلل راتلل- دوی تر تور سمندرګي او ډان سيندګي پوري مالداري کوله- يوکرا ئن ، مالډوا او نوري روسي ځمکي هم د دوی تر مالدارۍ لاندي وې- تر اوسنۍ هنګري پوري د دوی تګ راتګ وو-

باختريان په اصل کي د هغه هِندواوروپايي آريايي ټبر "سيتي" (Scythian, Sithians) خلګ وو چي په آريانا وېجه کي يې د آمو

او سُردریاب ترمنځ په لوَړه ناوه کي ژوند کاوو- ساکان او پارتیان د سیتیانو دوې غټې پښې یادي شوي دي- ماساګیت، کوشانیان (یوچیان، کوچیان، کوچیانیان) او یپتلیان د ساکانو له نوماندو ټبرونو څخه وو[1]-

مخکي د دویم تهذیبي دور د آغاز په حواله دا خبره واضح شوه چي دوَنیم، درې زره کلونه وړاندي ساکانو خپل لوی قوت درلود- دوی په شپږمه مخزیږده پېړۍ کي ، په **ختیځه آریانا** کي د اوسني افغانستان بُنیاد کښېښوو- ساکان هره خواته دلویو ستونزو سره مخامخ وو ځکه یې هرکله د خپلي بقا د پاره جنګونو او یرغلونو ته مخه وه- کله به ختیځې (شرقي) آسیا ته غزېدل، کله لوېدیځې (غربي) آسیا ته اوکله پر شمال مخ- په هماغو وختونو کي ساکانو



عکس نمبر27 د باختریو ساکي جنګیالے د دُښمن سره په جنګ دے ( پر پخوانۍ سِکه)

اوّل په باختر او بيا په زرنج (درنګيا) کي خپله سياسي واکمني ساتلې وه- دوی دومره غښتلي(عکس نمبر27) وو چي د خپل آر ټاټوبي (ختيځي آريانا) سره سره يې نوري خواوشا سيمي هم تر واك لاندي ساتلي وې- کله به يې يوه خواته هڅه وکړه او کله بله خواته- ورو ورو تر والګا سيندګي پوري وَرَسېدل- د دوی تاريخ له ډېر پخوا څخه څرګند دے- ساکي ژبه هم د ژبپوهني په رُڼا کي پښتو ته بېخي ورته ده- داريوش دوی سکه بللي دي او له هغه وخته څخه دالته اوسي۱،۲-

**د مېديا سلطنت**، هماغه مهال وده کړې وه- مېديان د آريايي نسل خلګ وو چي د تېر مهال يوازينے ثبوت يې د آشوريانو سره تاريخي جنګ دے- ميديا اول د آشوريانو او بيا د ساکانو تر واك لاندي وه- د کال ۶۱۴ او ۶۱۲ مخزېږدي ترمنځ سيزارس نامه (King Cyaxares) مېدي باچا خپل قام له ساکانو او آشوريانو څخه د بابليانو په مرسته آزاد کړ- بيا يې زوی آسټياګس خپل واك تر وړې آسيا پوري وَغزاوۀ- دمېديا اوګاونډ ليډيا سرحد هېلي(Halys) سيند ۆ- مېدي سلطنت ورو ورو د هخامنشي سلطنت پر څنګ څنګ، پرختيځ مخ تر باختره وغزېد- آخر په کال۵۵۰ مخزېږده کي هخامنشيانو (سايرس) د ساکانو په مرسته مېديا ونيوه-

۵۳۸ په تېر څېړوکي کي دا حقيقت هم واضح شو چي په کال مخزېږده کي ساکانو او هخامنشانو په ګډه پر بابل قبضه کړې وه- تر کال۵۰۰ مخزېږدي پوري هخامنشانو او ساکانو په ګډه د اوسني ايران او افغانستان پر سيمه يو لوی هخامنشي سلطنت جوړ کړے ۆ چي سايرس اعظم (کوروش) يې مشر ۆ۳- د سايرس د زمانې نخښي لاتراوسه په پښتونخوا کي ساتلي شوي دي- د دغه وخت د يوۀ اورتون (آتشکده) کنډوالې د مردان د سيمي "شهباز ګړي" ته

نزدې (۱۲ میله) په " اسوټه" کي دي- هماغه مهال د ساکانو (کاسانو) په مناسبت د پېښور نوم کاسپتروس یاد شوے دے- د ساکانو ډېري نخښي په ایران کي د هغه وخت په زړو کنډوالو کي موندل شوي دي چي تراوسه لا خوندي دي- د افغاني سیستان وېش ته نزدې دیوۀ ښار زړې کنډوالې موندل شوي دي چي د هخامنشیانو د وخت دي- د دغو کنډوالو یوه څنډۀ په لاندي عکس نمبر 28 کي ښکاره ده-



عکس نمبر28 په سیستان کي د هخامنشیانو د وخت د یوې وداني کنډوالې

هخامنشي تهذیب په علام کي پرمخ تګ وکړ کوم چي تر اوسه د ایران برخه ده- سوسا (شوش) د علام هغه ښار ؤ چي ډېر پر مخ تللے او ترقي یافته ؤ- هغه وخت پرسیپولیس هم لوی ښار ؤ چي د هخامنشیانو پایتخت(پلازمینه) ؤ- **تخت جمشېد** په ایران کي د زاړه تهذیب د عظمت یو ژوندی مثال دے چي د محلونو یوه لویه مجموعه ده او له ځمکي څخه ۲۰ فټه لوړ او ۱۰۰۰ فټه پراخ ځای دے۴- هماغه وخت د نړی په نقشه (عکس نمبر29) کي د پښتنو




عکس نمبر29 په ۵۵۰ مخزېږده کي د سیند او دجله تر منځ لوی ښارونه

پر سيمه باختر(بلخ)، ارغوسيا(ارغسان)، درنګيا (زرنج) او هري (هرات) د ښارونو په توګه وجود درلود- **ګندهارا** هم د سايرس تر واك لاندي پاته شوې ده- نامتو انګرېز ليکوال اولَف کېرو دخپل کتاب "The Pathans" په څلورم څپرکي کي د پښتو د زوکړي تر عُنوان لاندي ليکي چي اوسنۍګندهارا هماغه علاقه ده چي هيروډوټس "پکتيکا" بللې ده او د پېښور خواوشا ټولي سيمي پکي ګڼې وې- په اراکوزيا کي دکندهار او غزني سيمي شاملي وې او درنګيا له هلمنده تر هراته غزېدلې وه چي اوس افغاني سيستان بلل کيږي- د هخامنشانو سره د ساکانو ذکر هيروډوټس په وارو وارو کړے دے-

د" **ګندهارا تهذيب**" شمېر د نړۍ په ډېرو پخوانيو تهذيبونو کي دے- په زړو ژبو کي د" ګند" معنا خوشبو وه- په دراوړي او سنکسرت کي د " ګنداهارا" مطلب خوشبودار ۇ- د ننګرهار،

سوات، دیر او باجوړ په زرغونو دنګو غرونو کي چي به کله ، د سیند (رود) څپي د شمشوبو سره نښتي نو یوه په زړه پوري خوشبو به تري راتله ځکه د سیند لوېدیځه غاړه له پېښوره ترکابله له پخوا څخه ګندهارا بلل شوې ده- د دُنیا په زړو تهذیبونو کي ګندهارا تهذیب ځان لره ډېر لوړمقام لري- ګندهارا یو قدیم نوم دے چي تر هېروډوټس له مخه یې په وېدي دور کي هم ذکر شته- د دغه تهذیب مرکز له هماغه وخته پېښور (کاسپټروس) ؤ-

د هخامنشیانو په دور کي د ګنداهارا اوسېدونکي ساکان وو چي د دوی سره یې په ګډه په دغه سیمه کي ګندهارا تهذیب ته ترقي ورکړې وه- ګندهارا اوّل د سایرس (۵۵۸ - ۵۲۶ مخزېږده) او بیا د دارا (۵۲۲ - ۴۸۶ م ز) تر اثر لاندي راغلې وه- د دارا د زمانې په ټولو ډبرلیکونو کي د ګندهارا ذکر شته- بیا سکندر او د هغهٔ ځیناستویونانیانو هم پرګندهارا خپل تهذیبي اثرات پرېښوول- وروسته د کوشانیانو په وخت کي ګندهارا تهذیب ډېر پرمخ ولاړ- په همدغه زمانه کي د ختیځ او لوېدیځ تهذیب امتزاج ګندهارا ته یو ښکلے پیکر ورکړ چي نخښې یې له کابله تر ټېکسیلا پوري په سوات، مېنګوره، لنډي کوتل، سېدو شریف، چارسده، او پېښور کي هم خورې ورې دي- د دغه تهذیب یو ډېر مهم ټاټوبے له مردان څخه ۱۶ کِلومِتره لري په تخت بایي کي دے چي د کتني د پاره یې هرکال له نورو هېوادونو څخه سېلانیان په لوی شمېر راځي- تر هخامنشانو وروسته دغه علاقه ټوله بیا د چا تر واك لاندي نه ده راغلې- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، تر ډېره وخته پردغه سیمه هِندیان او تُرکیان پر منظر نه وو ځکه د اولف کېرو په قول د ساکانو بغېر د دغي سیمي تاریخ صداقت نه لري- باختریا، شمالي پارتیا او سوګدیانا د ساکانو وطن ؤ- پښتو تر ډېره حده هماغه ژبه ده چي د

ساکانو ژبه وه او بېله څه شکه د کوشانیانو ژبه هم وه خو په ریښو کي یې د اولنۍ ایراني ژبې اثرات هم شته[۳]-

په آسیاکوچك یعني کُچنۍ آسیا (اوسنۍ تُرکي) کي **لیډیا** (Lydia) یو ډېر مور هېواد ؤ- دا هېواد د آسیا پر لوېدیځه سمندري غاړه موجود ؤ- چونکي د دغه سمندر پر غاړه د هغه وخت لوی لوی تجارتي مرکزونه وو او دا ملك د تجارتي قافلو لار وه ځکه ډېر مور ؤ- کروزس(Croesus) د لیډیا یو باچا ؤ چي ډېر دولتمند ؤ[۴]- د سِکو په توګه د دولت ژغورني نظام هم په نړۍ کي اوّل ځل کروزس خپل کړے ؤ- یوناني تاریخ لیکونکے هیروډوټس[۵] لیکي چي په کال۵۴۶مخزېږده کي د سایرس او کروزس ترمنځ جنګ وشو په کوم کي چي کروزس د سایرس له لاسه ماته وخوړه- په دغه جنګ کي هم ساکان د سایرس پَلویان یاد شوي دي- د ساکانو او هخامنشیانو مخته د کروزس دولت د هغهٔ په هیڅ کار هم وره نه غے او آخر مات شو- که څه هم هغهٔ قارون چي فرعون غوندي په تاریخ کي د عبرت یو لوی مثال دے، په مذهبي حوالو د موسیٰؑ علیه السلام په دور کي یاد شوے دے خو یونانیان لا تر اوسه کروزس قارون ګڼي حالانکي موسیٰؑ علیه السلام تر دغه کروزس تقریباً اته سوه کاله مخکي تېر شوے دے-

ډاکټر معین[۶] لیکي چي د داریوش وینا ده چي ساکان یې څه ووژل او څه یې شکېل کړل- داریوش دا هم وئیلي ؤ چي **دساکستان** (سیستان) د صوبې خلګ "د ښو کړو وړو وګړي دي"- وروسته هخامنشیان له **۵۴۵** مخزېږدي څخه تر **۵۳۹** مخزېږدي پوري یعني شپږ کاله د ساکانو سره په جنګ وو- آخر باختر، کرمان، ساکستان (سیستان)، بلوچستان او ګندهارا ټول هخامنشیانو قبضه

کړل او په خپل سلطنت یې د صوبو په توګه ګډ کړل- وروسته هخامنشي باچا سایرس(کوروش) دساکانو ماساګیت ټبر وواژهٔ چي منظر یې په څورلسمه پېړۍ کي یوه آرټیسټ په عکس نمبر 20 کي په ډېره غوره توګه وړاندي کړے دے[۴]-

په ۵۲۵ مخزېږده کي د کوروش زوی کمبازس مصر هم فتح کړ او د شپږویشتم (آخري) فرعون څخه یې د مصر باچهي واخسته- د هخامنشي سلطنت سرحدونه په عکس نمبر21 کي د نقشې په توګه څرګند دي- هماغه وخت، په کال ۵۰۸ مخزېږده کي په روم کي دېموکرېسي (جمهوریت) پېل شوه- لکه مخکي چي بیان شو، ورو ورو تر لومړۍ مخزېږدي پېړۍ پوري په روم کي د جولیس سیزر(قېصر) تر مشرۍ لاندي یو عظیم رومي سلطنت جوړ شو[۷]-

په پنځمه او څلورمه مخزېږده پېړۍ کي افغانستان که څه هم په سیاسي توګه کمواکه ؤ خو په تهذیبي توګه ډېر ښه ؤ- ساکانو په باختر کي د زرتښتي قدرونو په رڼا کي خپل ژوند کاوو- هغوی دغه قدرونه ایران ته هم منتقل کړل- په پنځمه مخزېږده کي باختریانو خپله سکه درلوده چي دا ګواهي ورکوي چي هغه وخت هم پښتنو تجارت کاوو- د ساکانو **رسم الخط خروشتي** ؤ چي له راسته لاسه چپ ته لیکل کېدهٔ- د هغه وخت ډېر لیکونه هم په دغه خط لیکل شوي دي- د دې خط نخښې اوس لاهم په افغانستان کي په جلال آباد، وردګ او درونته کي خوندي دي[۸]- په هِند او ایران کي آرامي رسم الخط ؤ- د هخامنشیانو سره دا خط هم افغانستان ته راننووت-

ساکستان(سیستان) دامهال د پارس یو ولایت ؤ او هخامنشیان د ساکانو په مرسته دخپل وخت لوی قوت ؤ- وروسته د دوی سره د

نښتو له کبله هخامنشان ورو ورو له منځه ولاړل- د ساکانو قوت هم د دغو جنګونوله کبله ختم شو، ځکه هغوی بېرته خپل مورني ټاټوبي باختر او ساکستان (سیستان) ته مخه راوکړه- د استقلال اعلان یې وکړ او"**بسوس**" چي د باختر والی ؤ د باچا په توګه وَټاکل شو- دا مهال د آسیا په دې څنډه کي د"باختر" (افغانستان)، پارتیا او ماریا (هند) دو لتونه د زوکړي په حال کي وو-

ټېکشاسیلا (ټېکسیلا) په هغه وخت کي د نړۍ یو لوی ښارؤ- ډېرلوی لوی عالمان، آرټیسټان او مِعماران په دغه ښار کي اوسېدل- یوه لویه یونیورسټۍ (پوهنتون) هم په ټېکسیلا کي موجوده وه- د اوسني ایران څخه تر هندوستان پوري ساکان آباد وو او د تجارت لویي لاري د دوی تر قدرت لاندي وې- ټېکشاسیلا یو ښه تجارتي ښار هم ؤ او د هندوستان څخه ترمغربي ملکونو پوري د دې ښار څخه لویي لویي تجارتي قافلې تلې- د ټېکسیلا آثار څه وخت وړاندي، پېښور ته نزدې په ځمکه کښي موندل شوي وو۸- ټېکسیلا د کوشانیانو په وخت کي د علم او ادب مرکز شو خو یپتلیانو وروسته برباد کړ-

یونانیان اوّل چوپانان وو، نه یې څه خط درلود او نه اخلاقي قدرونه- وروسته د کلدي او مصري تهذیبونو تر اثر لاندي مُتمدن شول- په سیاسي توګه یې هم مرکزیت نه درلود بلکي پر وَړو وَړو جزیرو تقسیم وو- ښځي یې تر کور نه شوې وتای- خلګ پر" آزاد" او "غلام" تقسیم وو- وروسته هغو آزادو خلګو چي فارغ او سوچ ته خلاص وو د اجتماعي ژوند د ښېګړي فکر پېل کړ- له فیثاغورث څخه وروسته سقراط غوندي فلسفي دخلګو د ښېګړي دَپاره خپل دلیلونه ورکول- په کال ۳۹۹ مخزېږده کي، په یونان کي پردغه نامتو فلسفي "سقراط" باندي مُقدمه جوړه شوه او د مرګ سزا

ورکړل شوه- تر هغۀ وروسته افلاطون او ارسطو غوندي فلسفیان پیدا شول- سکندر هم د ارسطو تر تربیت لاندي پاته شوے ؤ او د خپل پلار فلپ له مرګه وروسته یې واك تر لاسه کړے ؤ- دۀ په ۳۳۳ مخزیږده کي داریوش ته شکست ورکړ او هخامنشي سلطنت یې وران کړ- په کال۳۳۰ قبل مسیح یامخزیږده کي یې د هخامنشانو پاته قوت هم ورختم کړ او د باختر په خوا یې هڅه وکړه-

دیوناني تهذیب په وخت کي هم دباختر شاوخوا ساکان (کاسان) اوسېدل- کاس غر(کاشغر) اوکاس میر(کاشمیر، کشمیر) د ساکانو (کاسیانو) زړې میني وې- ساکانو د یونانیانو سره هم په وارو وارو جنګونه وکړل خو د دوی قوت د هخامنشانو سره په نښتو کي دومره شوے ؤ چي د سکندر لار نیول ورته آسان کار نه ؤ۱،۳- کله چي سکندر د راجه پورس سره له جنګه وروسته په ۳۲۳ مخزیږده کي د واپسۍ پر لار مړشو نو د دۀ پاته قوت د اقتدار په جنګ کي پر بېلا بېلو برخو تقسیم شو۹- لکه مخکي چي یې ذکر وشو، کومو سردارانو چي د سکندر د سلطنت پربېلابېلو حِصو قبضه وکړه هغوی ته په تاریخ کي ملوك الطوائف (ډیاډوچي) وئېل شوي دي-

تر"خپلواك آریانا" وروسته د باختر ساکان د هخامنشیانو او سکندر غوندي پرَدو له تېري څخه خوښ نه وو ځکه هغوی په آریانه کي دپاته شوو یونانیانو سره په ګډه د خپلواکۍ هلي ځلي پېل کړې- دغو پاته شوو یونانیانو د آریانه د ژوند او دود سره سم د ځایي خلګو سره اړیکي ټینګي کړې او خپلواك **یونانوباختري** حکومتونه یې جوړ کړل- د دغه دور ډېري سِکې (عکس نمبر30) په افغانستان کي موندل شوي دي چي د هغه وخت د حکمرانانو عکسونه هم ورباندي جوړدي- په کال ۲۵۶ مخزیږده کي دیودوتس



عکس نمبر 30 په افغانستان کې د يونانوباختري واکمنانو(ډپاډوچي) سِکې

دباختريانو په ملا تړ خپلواك حکومت اعلان کړ- په کال ۲۲۷ مخزېږده کې ايوتيدم د شام انتيوکوش او د هغه يرغلګر وشړل- بلوچستان هماغه مهال له افغانستان سره وتړل شو- باختر په دغه وخت کې ډېره ترقي وکړ ځکه يونانيانو دا وطن د زروښارونو وطن بللے ؤ- دا وخت پر باختر ۳۶ واکمنان تېر شوي دي-

ساکان اوّل په باختر کې له يونانيانو سره مله وو ځکه د ګډ وطن له کبله په دغه وخت کې باختريان هم بلل شوي دي- دوی د يونانيانو سره ډېر لوړ نظامي او عسکري منصَبونه لرل- بيا يې خپل ورونه سره راټول کړل، ورو ورو يې خپلواکي تر لاسه کړه او **ساکستان** يې جوړکړ چې بيا تر سلو کالويوخپلواك دولت ؤ-

په هند کې له ۷۰۰ مخزېږدي څخه د مګادها (بهار) دولت وجود درلود- چندرګُپت ماريا د مګادها شاهي خاندان څخه په کال ۳۲۶ مخزېږده کې ټېکسلا ته را تښتېدلے ؤ چيري چې هغهٔ له سکندر سره مل شوے ؤ- د سکندر له مرګه وروسته د پنجاب د سردارانو په مرسته هغهٔ پاته يوناني فوجونه وَشړل او د ماريا دولت بنسټ يې کښېښو- **ماريا سلطنت** له ۳۲۰ مخزېږدي څخه وروسته وده وکړه- په کال ۳۱۱ مخزېږده کې هسېلوکس نيکاتور پر بابل قبصه وکړه خو په ۳۰۳ کې يې په هندوستان کې له چندرګُپت څخه

ماته وَخوړه- هغه مهال چندرګُپت دمګادها فوجونو ته هم ماته ورکړه او د سلطنت په پراخېدو يې پېل وکړ- د مارياسلطنت پايتخت پټالي پوتره (پټنه) ؤ- د دغه خاندان درېيم باچا **اشوکا** نومېدۀ- دے د نړۍ يو ستر حکمران ؤ چي ماريا سلطنت يې ډېر پراخ کړ- د ساکستان يوې خواته اشوکا د هندوستان د پراخېدو هلي ځلي کولې او بلي خواته په کال ۲۴۷ کي آرسيکيس اوّل دَ پارتي سلطنت لومړۍ خښته کښېښووه-

پارتيان هم غښتلي خلګ وو او دساکانو په شان دآس په سپارلي کي نوموړي وو- د باختريانو غوندي پارتيانوهم د سکندر له پاته شوي سېلوکسي سلطنته خپلواکي ترلاسه کړه(عکس نمبر31)- باختريانو په کال ۱۷۵ مخزېږده کي دګندهارا پرلور، د مناندر ترمشرۍ لاندي ډېر پر مختګ وکړ- ټېکسلا او د پنجاب شمال




عکس نمبر31 په کال ۱۷۵ مخزېږده کي د باختر د ساکا نو د ګندهارا په خوا هڅه

لوېديځي برخي يې له ماريا څخه بېرته تر خپل واك لاندي راوړې- پېښور، چارسده او ټېکسلا تر مناندر وروسته هم د ګندهارا تهذيب لوی ښارونه وو-

که څه هم سکندر پخپله پر افغانانو (ساکانو) څه خاص اثر ونه کړ خو د دهٔ له تګه وروسته غالباً له کال **۱۷۵** مخزېږدي بعد ددهٔ يوهٔ جرنېل دپارس واك تر لاسه کړ او يوبل جرنېل يې پر افغاني سيمه **باختر**(باختريا) باندي حکمران شو- ساکان يې خوشحاله وساتل او د هغوی په مرسته يې خپل حکومت ته دوام ورکړ- په هند کي هغه وخت د اشوکا سلطنت ؤ چي د ماريا په نامه يې وجود درلود-"باختريا" او"ماريا" دواړه هغه مهال د يوناني سلطنت تر اثر لاندي وو، ځکه په هندوستان او افغانستان کي د يونانيانو او بودايانو اثرات تر ډېره پاته شول- کله چي اشوکا مړ شو نو ماريا سلطنت هم پرماتېدو شو[١٠]-

د باختر آخري يوناني حکمران مناندر چي په کال۱۶۰ مخزېږده کي يې واك تر لاسه کړے ؤ، په ۱۴۰ مخزېږده کي مړشو- له مناندر څخه وروسته افغاني دولت باختر(باختريا) له يوناني سلطنت څخه په بشپړه توګه آزاد شو او باختر پخپله د يوهٔ لوی دولت په توګه نړۍ وپېژاندهٔ[٣]- بلي خوا ته پر پارس باندي د ساکانو يوې بلي پښې چي کوچيان وو او د باختري دولت تر واك لاندي هم نه وو، حمله وکړه، پارس يې ړنګ کړ او له پارسيانو څخه هم آزاد شول- **خپلواك باختر** د دې برِ اعظم مر کز بلل کېدهٔ، چي تهذيب يې هغه مهال د " ګندهارا " په نامه ياد شوے دے- ټېکسيلا، کندهار او چارسده د مناندر له مرګه وروسته هم د هندوستان، افغانستان، ايران او يونان تر منځ د تجارت مرکزونه وو[٤،٥]

**ساساني تهذيب** هم د پارس په تاريخ کي لوړ مقام لري[۸] - ساسانيانو له سېلوکسي سلطنته خپلواکي ترلاسه کړې وه- دوی هم په نسل آريايان وو چي اوّل حکمران موسس يې ورروسته د ارشك يا اشك په نامه بلل شوے دے- په کال۲۵۰ مخزېږده کي اشك له سېلوکسي يوناني باچا څخه پارتيا نيولې وه- ساسانيان غښتلي کوچيان وو او د مهر داد باچا تر وخته پوري (۳۸-۱۷۱ مخزېږده) په جنګونو او يرغلونو بوخت وو- ساسانيانو ورو ورو له شام څخه ترهندوستان پوري يولوی سلطنت جوړکړخوکابل يې بيا هم تر واك لاندي نه را ووست- د دغه ساساني تهذيب په پرمختګ کي هم د پښتنو لويه برخه وه- د بده مرغه پښتنو خپل تاريخ نه دے ليکلے ځکه يې په تاريخ کي ذکرکم دے- په دغه وخت کي هم ګندهارا د ساساني تهذيب مرکزي برخه وه چي په عالمي تاريخ کي د افغانانو ځلاند لرغون (ماضي) څرګندوي[۴] -

د سايرس له وخته د پارس خلګ د يونانيت مخالف او د يهوديت محافظان وو- د يهوديانو يوې فرقې په کال ۷۰ مخزېږده کي د روم خلاف ګوريلا جنګ شروع کړ خو د "ټيټهو" فوجونو په ډېره بېرحمي سره د دغي فرقې منونکي يهوديان برباد کړل- آخر د دغي فرقې پاته خلګو په ۶۶ مخزېږده کي د "ساډا" په کلا کي په ګډه (اِجتماعي) خود کُشي وکړه- يروشلم يو وار بيا تباه شو- تقريباً لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) يهوديان له کال ۷۰مخزېږدي څخه تر۶۶ مخزېږدي پوري ووژل شول او تقريباً يو لك نفره يې روميانو غلامان کړل- يو يهودي رهنما جوهن بن ذکايي يهوديانو په تابوت کي د مَړي په توګه له يروشلم څخه د باندي واستاو- هغهٔ بيا د شاه سپاسيان څخه په جمنيا کي د يهودي اکېډمي اجازت واخست او د

یهودیت یوې نوي اداري کار شروع کړ[۳]-

دا وخت ساکستان (عکس نمبر32) یوې خواته تر هري روده غزېدلے ؤ چي ارغنداب او هېلمند هم پکي شامل وو، بلي خواته تر بولانه رسېدلے ؤ- د کال ۸۰ او ۵۰ مخزېږدي تر منځ د زړو




عکس نمبر32 په کال ۵۰ مخزېږده کي د **هندو سکايي دولت** مهم ښارونه

آریاوو په شان د ساکانو غټي غټي ډلي تر سیند ورواوښتې او په لوېدیځ هندوستان ور ګډې شوې- دا دولت تر میلاد وړاندي د پیاوړي حکمران مایس (Maues) او دهغه دځایناست آزس(Azes) تر واکمنۍ لاندي تر ټېکسیلا او بیا تر لاهوره وروغزېد- اوسني

هېلمند، کندهار، چارسده، پېښور، ټېکسلا، لاهور، سیند، ګجرات، کاټیاواړ، یوجېن او مادورا ټول په هندوسکایي سلطنت کي ګډ وو- ساکانو که څه هم د یونانیانو ډېري ودانۍ بېراني کړې خو د یوناني کلتور نخښي يې وساتلې- د دوی څه ناڅه حکمراني تر۴۰۰ عیسوي پوري لاهم په ګجرات او کاټیاواړ کي دوام درلود- دا ځایونه چي د دوی وروستے لوی مرکز ؤ، په بالاعکس کي په بېل ډؤل ښکاره دي- د ساکانو د وخت یوه نخښه، چي له ټېکسلا څخه لاس ته راغلې وه په لاندیي عکس نمبر33 کي ښکاره ده- له هندوستان څخه **ماؤز** او د هغهٔ زوی **آزس** ساکان شاته راپوري



عکس نمبر33 د ساکانو د دور یوه زړه نخښه ( ټېکسلا )

وهل[1] - د ساکانو کوچي ژوند ؤ، ورو ورو له ډېره مشکله سره مخامخ شول- د کډووالو ساکانو بېټي او ورشوګاني ترباختره پوري محدوده پاته شوې ځکه دوی په باخترکي مُستقل سکونت اختیار کړ او نني پښتانه يې پایڅوړ دے (څلورم لښتلیك)- په هېلمند کي "ساکزی"، په زابل او کابل کي "سهاك" تراوسه د دغه نامه ریښے لري- چونکي ساکانو خپل تاریخ نه دے لیکلے ځکه ددوی په حواله ډېرکم لکلي ثبوتونه په تاریخ کي خوندي شوي دي- د ساکانو په




څلورم لښتلیك

لږکي د چیني تاریخ پوهانو څو لیکني د هغه مهال څه نا څه معلومات ورکوي- آرکیالوجستانو د هغه وخت په زرګونو سکې موندلي دي او مطالعه یې کوي لګیا دي[8]- پروفېسر بدهـ پرکاش د دستاوېزي ثبوتونو په ترڅ کي او بیا د ژبپوهني په رڼا کي هم ساکان د سیند د حوزي دکلتور پېلامګر ګڼي- دے لیکي چي کرته (قمیص) د ساکانو له وخته په دې سیمه کي د خلګو لباس دے- دوی په سند کي د نوو مېوو (لکه سېب او بادام) استعمال هم پېل کړ- بدهـ پرکاش لیکي چي ساکان که څه هم په ختیځ کي آباد آریایي قبایل وو خو په تهذیبي توګه له وېدي آریایانوڅخه بېل وو- دوی په ټولنه کي د سماجي درجو قایل نه وو او د برهمنو روحاني قیادت یې نه ؤ منلے، ځکه یې غوښه هم خوړله - د ساکانو مشرانو ټول مذهبي دودونه هم پخپله کول- دے "مهابهارت" په اصل کي د وېدي آریایانو او ساکانو ترمنځ د اقتدار د جنګ داستان ګڼي-

کوشانيان هم د ۷۰ مخزېږدي په خواوشا پرافغاني سيمه د يوۀ قوت په توګه پېژندل شوي دي- دوی هم د ساکانو په شان کوچيان وو ځکه کوچانيان هم بلل شوي دي- د هغه وخت چيني تاريخ ليکونکو يوچي(کوچي) بللي دي-

دمخزېږدي په آخري کلونو کي په نړۍ کي ډيري پيښي وشوې- جوليس سيزر په کال ۴۸ مخزېږده کي پومپي ته خو شکست ورکړ مګر پخپله هم په ۴۴ مخزېږده کي ووژل شو- انتوني او کيلوپيترا په کال ۳۱ مخزېږده کي له اوکټيوين څخه ماته وخوړله- جرمنيانو په کال ۹ مخزېږده کي د روم درو فوجونو ته سخته ماته ورکړه[۷] -

## اخځليك


۱ - زيار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱-

۲ - حداد قدرت الله ، افغان ملي تاريخ ، ساپي پېښور ، ۲۰۰۵ -

۳ - اولف کېرو، پښتانه (The Pathan) ، مېکميلن لندن، ۱۹۶۵ -

۴ - ډګلس جي برينکلي ، Visual History of the World

(د نړۍ عکسي تاريخ ) ، نېشنل جغرافيك ، واشنګټن ډي سي ، ۲۰۰۵ -

۵ - هېروډوټس ، هسټريز ، ترجمه کېري ، لندن ، ۱۹۰۱-

۶ - محمد معين ، فرهنګ فارسي ، انتشارات امير کبير، تهران، ۱۳۷۱ ش

۷- -ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه،

( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵-۷

۸ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا،

دويم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۹ - فېرئير جې پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنګ ميل لاهور ، ۲۰۰۲ -

۱۰- نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاريخ يو نظر ( Glimpses of the world history)

تخليقات لاهور ، ۱۹۹۲

# ۹

# کوشاني ياکوچياني دولت

## ( تر عيسیٰ عليه السلام وروسته )

د حضرت عيسیٰ عليه السلام د زوکړي په وخت د دۀ قام له تېرو اتو سوو کلونو څخه د نورو قامونو ترغلامۍ لاندي ؤ- ددۀ تر زوکړي شپېته کاله وړاندي روميانو پر فلسطين حمله کړې وه ځکه په بيت المقدس کي د عيسیٰ عليه السلام د زېږېدو په مهال بني اسرائيل د روم تر غلامۍ لاندي وو- د دۀ له زيږېدو څخه عيسوي کال(زېږده) شروع شو- دے تر۳۰ زېږدي پوري موجود ؤ خو تش تر دونيمو کالو يې خپل قام ته دخدای د دين د تبليغ کولو موقعه وموندله[۱] - تردۀ وروسته بيا سېنټ پال په ۴۵ زېږده کي د عيسائيت تبليغ شروع کړ- په ۶۷ زېږده کي سېنټ پيټر ته په روم کي د مرګ سزا ورکړل شوه[۱] - هماغه مهال سيتي (Scythian) قبايل په کاشغر کي د چين ګاونډيان وو- کوشانيان د سيتي قبايلو هغه پښه وه چي تر ټولو په ختيځ کي اوسېده- دوی د ۷۰ مخزېږدي په خواوشا د يوۀ قوت په توګه تر"امو"رود را اَوښتي وو او پرافغاني سيمه يې واك موندلے وو- لکه وړاندي چي يې ذکر وشو دوی کوچيان وو ځکه

ښايي چي په دغه سوَب کوچانيان او کوشانيان هم بلل شوي وي، خو قوي اِمکان دا دے چي دوی د سړبني پښې له کوشابون يا خرشبون ښاخ څخه وو(پنځم لښتليك) چي پايځوړ يې يوسفزي، خليل،




<u>پنځم لښتليك</u>

مومند، شينواري، داوودزي، چمکني، کاسيان او نور ډېر پښتانهٔ ټبرونه دي- د هغه وخت چيني تاريخ ليکونکو دغه کوشانيان "يوچي" بللي دي-

که څه هم د عيسیٰ عليه السلام تر زوکړي لږ وړاندي کوشانيانو واك درلود خو په لومړۍ عيسوي پېړۍ کي يعني د ۴۰ زېږدي په خواوشا پر دې سيمه د **"کوشان"** لوی سلطنت ؤ چي يوې خوا له کاشغره تر پارتيا او بلي خوا له ګنګا څخه تر اورال سمندرګي پوري غزېدلے ؤ- دا هغه وخت ؤ چي په ټوله نړۍ کي فقط د کوشان

(افغانستان)، چین، پارتیا او روم دولتونو دوام درلود(عکس نمبر34)- داکوشاني سلطنت تر۲۲۰ زېږدي پوري قایم ؤ[۲]- د دغه




عکس نمبر 34 په کال ۱۵۰ زېږده کي د نړۍ ( **اېرو اېشیا** ) نقشه

کوشاني دولت لوېدیځ وېش د پارتیا سره نښتے ؤ او ختیځ وېش یې پر بنارس ؤ- د کوشانیانو د سلطنت په آغاز کي په اوسني کابل او کاپیسا کي ساکِستانا، په اراکوزیا کي پهلوا او له کندهاره تر اباسینه په کَڅو کي د ساکا(ساك) حکومت یاد شوے دے- د کوشانیانو لومړي باچا کجولو اؤل دکابل اوکاپیساعلاقې نیولي وې خو بیا یې له کندهاره تر اباسینه خپل حکومت غزولے ؤ- دهٔ دکال ۷۵ زېږدي په خواوشا د یوهٔ لوی خونړي جنګ په نتیجه کي ټېکسلا هم فتح کړې وه او په دغه سیمه کي آباد ساکان یې شاته پوري وهلي وو(عکس نمبر35)-




عکس نمبر35 په کال ۲۰۰ زېږده کي د **کوشاني دولت** نقشه

که څه هم ټېکسلا کوشانيانو ترلاسه کړه خو دوی پېښور د خپل حکومت اصل مرکز کړ- بيا يې تر دوو سوو کلونو پر ګندهارا، سند او ځينو هندوستاني سيمو حکومت وکړ- ګندهارا آرټ د کوشانيانو د تهذيبي برترۍ يو لوی ثبوت دے- وروسته بيا د اورال سمندرګي پر غاړو آباد پېټليانو کوشانيان هم را شاته کېدو ته اړ کړل- هغه وخت دهند ډېري نوري علاقي هم د کوشانيانو تر اثر لاندي وې- ځينوخارجي تاريخ ليکونکو د آرياوو، ساکانو، پارتيانو، کوشانيانو

او يپټليانو په حواله يوه فقره" له مرکزي آسيا څخه راغلي" ليکلې ده او په مرکزي آسيا کي هغه وخت د تُرکي نسل خلګ موجود نه وو ځکه دا يو ځلاند حقيقت دے چي دغه راغلي خلګ ټول د پښتنو اسلاف وو-

کوشانيان په ښه ښايسته ، په قد غټ او په زړه کلك خلګ وو- هغوی د باختر او پارتيا زړو حکمرانانو ته ماته ورکړه[۳]- بيا يې تقريبا په ۵۰ زېږده کي د خپل باچا کجولو کدفيزس تر کمان لاندي پر قطبي هندوستان حمله وکړه- کجولو د تيرو يونانيانو او پارتيانو پايځوړ له منځه ايستل غوښت ځکه يې ورو ورو د هندوستان واك تر لاسه کاوۀ لګيا ؤ- دۀ تقريباً ۲۳ کاله حکومت وکړ او په ۷۸ زېږده کي مړ شو- د دۀ ډېري راز راز سيکې موندل شوي دي چي له ميسو جوړي دي او يوناني او خروشتي ليکني ورباندي شوي دي-

تر کجولو وروسته د هغۀ زوی ويما کدفيزس د کوشاني سلطنت حکمران شو، چي ښېخي تر ډېره يې د پلار سلطنت ساتلے ؤ- هغۀ پنجاب او د هندوستان نوري ډېري سيمي تر ګنګا پوري په خپل سلطنت راګډي کړې[۴]- ويماکدفيزس يو پوهـ سړے ؤ- هغۀ د يونان سره سياسي او تجارتي اړيکي ټينګي کړې- دے د ۸۰ کالو په عمرکي په ۱۱۰ زېږده کي مړ شو- د دۀ په سيکو کي رومي رنګ ښکاره دے-

له ويماکدفېزس څخه وروسته ترڅو کالو پوري تاريخ خاموش دے- د يوۀ خاص باچا سيکې نه دي موندل شوي خو بيا سوترمګاس واك تر لاسه کړے دے- تر دۀ وروسته د کوشانيانو عظيم باچا کنيشکا (عکس نمبر36) ؤ چا چي په۱۲۰ زېږده کي د سلطنت واك واخست او تر۱۵۰ زېږدي پوري يې د کوشياني سلطنت

سرحدونه پرشمال ترکاشغره، پر ختيځ تر بنګاله، پر لوېديځ تر مرکزي آسيا او پرسهېل تر اوجئينه ورَسول[5]-



عکس نمبر36 د ستر کوشاني باچا **کنيشکا** شبيهه

د کوشانيانو پايتخت په ژمي پرشپور(پېښور) ؤ او په دوبي د کاپيسا باګرام- ټېکسلا (عکس نمبر37) د دوی په وخت کي خورا ترقي کړې وه- د کوشاني سلطنت په لوېځه څنډه کي د زړو ساکانو آزاده علاقه وه خو دکوشانيانو د تجارت لاري تر چائنا او روم پوري زَړو ساکانو خلاصي ساتلي وې- د کوشيانيانو په وخت کي تجارت

ډېر پر مخ تلَلے ؤ- تجارتي کافلې له هندوستان څخه ترسرۀ  سمندره پوري  په درو مياشتو کي رسېداى شوې-




عکس نمبر37   د **کوشاني دولت** پايتخت (پرشپور) ، ټېکسلا او ختيځ وېش

کنيشکا يو ډېر ذهين حکمران ؤ چي په حقيقت کي زَړو ساکانو حکمرانانو هم خپل باچا منلے ؤ- د هغۀ دارالحکومت لومړے کابل او بيا پرشپور(پېښور) ؤ- پرش پوره هم تاريخ ليکونکو د پېښور زوړ نوم بللے دے- کنيشکا پخپله بودايي مذهب قبول کړے ؤ او

نورو ټولو کوشانيانو ته يې هم دَ هغۀ د عبادت اجازت ورکړے ؤ، ځکه کوشاني سلطنت عملاً يو مذهبي سلطنت ؤ- کنيشکا د پرشپور (پېښور) په خواوشا کي ډېري عبادت خانې جوړي کړي وې[۶]- هغه مهال په پرشپور کي ډېر لوی لوی علمي مجلسونه کېدل- کنيشکا په خپل دور کي، د بودايي مذهب عالمانو لره يو لوی تاريخي بودا کانفرنس راغوښتے ؤ، په کوم کي چي د بودا منونکي پر دوو بېلومذهبي فرقو تقسيم شوي وو او بودايي مذهب پر هنيان او مهايان ځله مات شوي ؤ- هنيان فرقه بودا انسان ګڼي او مهايان فرقه دا عقيده لري چي بودا (نعوذوبالله) خدای ؤ- د کوشانيانو په وخت کي بودا مذهب تر چين، منګوليا او نورو ډېرو علاقو پوري خپور شوے ؤ[۷]-

روم هغه وخت ډېر پر مخ تللی ؤ ځکه په تاريخ کي د رومي تهذيب او بيا د بازنطيني تهذيب ذکر ډېر شوے دے- د رومي تهذيب تر اثر لاندي د بودا او کنيشکا مجسيمې (عکس نمبر38) جوړيدل پيل شول- تر اسلام مخکي په هِلال آباد يعني بين النهرين (Mesopotamia) کښي هم رومي تهذيب وجود درلود- په۲۰۰ زېږده کي رومي حکومت دقانون د احترام، امن او خوشحالۍ ضامن ؤ- فلسفه، ادب او صنعت هم ډېر پر مخ تللي وو [۱]- هغه وخت د نړۍ واك د افغانانو پر خاوره د کوشانيانو ، په پارس کي دساسانيانو، په هندوستان کي دګوپتا خاندان او په يورپ کي د روميانو په لاس کي ؤ[۲]- کوشاني دور ځکه هم يو ډېر مهم دور ؤ چي دا مهال پر افغاني سيمه د يوناني تهذيب او هندوستاني تهذيب اثرات ښکاره شول- کوشانيانو افغانستان او هندوستان دچين سره په تهذيبي او تجارتي رشتو وتړل- د يونان او روم سره يې هم



عکس نمبر38 د سترکوشاني باچا **کشینکا** ماته مجسمه او اټکلي شبیهه - دابې سره مجسمه په دمات نامي کلي کې موندل شوې وه چې د کوشاني فن یوه غوره نمونه ده-

ښې اړیکې پیداکړې- د لوېدیځ سره د هندوستان دا اړیکو پر بودایي مذهب هم اثر وکړ او د رومي تهذیب تر اثر لاندې د بودا بُتان او لويې مجسیمې جوړیدل پیل شول- کنیشکا که څه هم پخپله د بودها مذهب منونکے ؤ خو د نورو مذهبونوسره یې هم اړیکې ښې وې- د دهٔ په سلطنت کې زرتښتیزم او هندوایزم دوه نور لوی مذهبونه وو چې د هغه وخت پرسکویې اثرات شته-

تر کنیشکا وروسته هویشکا، وسودېوا، وسیشکا او شاکا هم د کوشاني سلسلې آخري باچهان وو- وسودېوا په کال ۱۸۲ زېږده کې باچا شو- هغهٔ د هندوستان په خوا زیاته هڅه وکړه ځکه ساسانیان له لوېځه ور وغزېدل- تر۲۲۰ زېږدي پورې د کوشانیانو سلطنت پرماتېدو شو[۲]- د بودایي دین منفي اثراتو د ساکانو، کوشانیانو او

یپټلیانو له عسکري تاب او هغه قوت سره جوړښت نه درلودکوم چي د لښکرو پر مټو او فتوحاتو یې تکیه درلوده، ځکه د کال ۲۲۵ زېږدي په خواوشا دکوشانیانو حکومت پای ته وَرسېد- د باختر او خواوشا لوی شمېرخلګ بېرته خپل زاړه برهمني دین ته وګرځېدل او " اورلمانځنه" یې پېل کړه- دا مهال له ختیځه هندي ګوپتایان را وځکېدل او له لوېدیځه د ساسانیانو باچا ارد شېر بابکان هم خپل سلطنت افغاني سیمه ته را وَغزاوهٔ- د ساسانیانو د هغه وخت په ډبرلیکونو کي د پشکیباور(پېښور) او ابګان (افغان) نومونه ښکاره شوي دي[۳]-

کوشاني سلطنت چي وړاندي یې یو منځنے حېثیت اختیار کړے ؤ پاته نه شو خو پاته کوشانیانو د آګسټس سیزر در بار ته خپل سفیر ور واستاو او تجارتي اړیکي یې ورسره ټینګي کړې- کوشانیانو که څه هم ټولواکمني له لاسه ورکړې وه خو دَ باختر او کابلستان واك یې د کوچنیو کوشانیانو په بڼه تر ډېره په خپل لاس کي ساتلے ؤ[۷]- د کوشاني شاهزیو (شهزادګانو) څخه د باختر د یوه باچا نوم کېدار یا کیداري ؤ ځکه دهغهٔ حکومت هم کیداري دولت بلل شوے دے- د کیدار له موندل شوو سیکو څخه څرګندیږي چي دے اوّل د ساسانیانو تر اثر لاندي ؤ خو وروسته خپلواك شوے هم ؤ- د کېداري سلسلې دوه نور باچهان هم په خپل وخت کي خپلواك پاته شوي وو چي پیرو او ورهران (بهرام) نومېدل- پر کابل هم د کوچنیو کوشانیانو حکومت ؤ او خپله جلا سیمه واکي یې ساتلې وه- د دغه سلسلې وړو وړو حکمرانانو پرخپلو ټبرواکیو، تر اسلامي پېره لاهم په څه ناڅه ګونه خپل وجود ساتلے ؤ-

# اخځليك


۱- ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، (Five epochs of civilizatin) ا رد و ترجمه حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵-

۲ - غبار ميرغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل ، ۱۹۶۷-

۳ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۳ - زيار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼاکې، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱-

۵ - لو ئز ډوفري ، افغانستان ( East and wesrnt meet and mingle ) ، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۳ -

۶ - احمد ډاکټر رياض ، مغربي يلغر ، لاهور ، ۲۰۰۳

۷- نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاريخ يو نظر ، تخليقات ، لاهور ، ۱۹۹۲ -


Pukhto.Net پښتو

# ۱۰

# يپتالي دولت

کله چي په ۲۰۰ زېږده کي هُن (چيني) سلطنت ختم شو او کوشاني سلطنت هم پر وړو وړو تېرواکيو ووېشل شو نو په نړۍ کي لويي پيښي وشوې- په هند کي سياسي بدلون راغے او ګوپتا خاندان را اوچت شو- په ايران کي هم ساسانيان د يوۀ لوی قوت په توګه راپورته شول- په کال ۲۲۰ زېږده کي کېدارانو، چي د کوشانيانو پايځوړ وو په باختركي د افغانستان څه نا څه خپلواکي ساتلې وه- ارد شېر ساساني په کال ۲۲۴ کي پارتيا ونيوه او تر کال ۲۲۷ زېږدي پوري يې په فارس کي د ساساني سلطنت بُنياد کښېښوو- په کال۲۶۰ کي د روم باچا والريئن له ساساني باچا شاپور څخه ماته وخوړه او د ساسانيانو سره بندي شو[1]- په کال ۳۱۳ زېږده کي رومي بازنطيني حکمران کانسټنټاين اوّل عيسائيت ته د روم د رياستي مذهب حېثيت ورکړ- دَ دغه اقدام مقصد د ساسانيانو د مقابلې په غرض د رومن کليسا مدد اخستل ؤ- په کال۳۳۰ زېږده کې کانسټنټاين د قسطنطنيه (استنبول) ښار د سلطنت د پايتخت په توګه خپل کړ[2]-

د يپتاليانو (ابداليانو) سيمه د کوشاني دولت هغه څنډه وه،

کومه چي د اورال سمندرګي پر ختيځه غاړه وه- د کوشانيانو له منځه تګ د يپتاليانو د ښور سوَب شو- دا د دوی د قامي غورځنګ برکت ؤ چي دَ افغانستان واك ورو ورو بېرته د افغانانو لاس ته راغے- يپتاليان د کوشيانيانو تربورونه وو- دوی د سړبنيانو له شاکبون يا شارکبون يا شرخبون(شپږم لښتليك) ښاخ څخه وو- کوشانيان او يپتاليان دواړه ټبرونه د آرياوو له ساکي پښې څخه وو اوبيا باختريان هم وو چي ګډه ژبه يې باختري وه [1] -




شپږم لښتليك

د يپتاليانو اوّل باچا يپتاليتو يا اپتالينوس ؤ چي مطلب يې د **مشر** ؤ- يپتاليتو په کال ۴۲۵ زېږده کي واك تر لاسه کړ- هغۀ اوّل پر تخارستان او بلخ خپل قوت جوړ کړ اوبيا يې لومړۍ جګړه په کال ۴۲۷ کي له ساساني باچا"بهرام" سره پېل کړه چي د "يزد ګر" او "فېروز" تر وخته يې دوام درلود- يپتليانو د ساسانيانو څخه هغه

ټول لوېدیځ ولایتونه بېرته واخستل کوم چي ساسانیانو له کوشانیانو څخه بېل کړي وو[۳]-

څه وخت وروسته دویم یپتالي باچا **اخشنور**، په کال۴۶۰ زېږده کي ساساني باچا **فیروز** او د هغهٔ زوی **قباد** ته شکست ورکړ او له هرات په آ خوا چي کومي علاقې له کوشانیانوڅخه ساسانیانو اخستي وې هغه یې هم بېرته ترې واخستې- په کال۴۷۰ زېږده کي یپتالیانو پر هندوستان حمله وکړه(عکس نمبر39)- ساساني باچا فیروز لومړے په باج ورکولو راضي شو خو په کال ۴۸۶ کي یې




عکس نمبر39 د یپتالیانو د پرمختګ لاري او د یپتالي دولت جوړښت

بېرته نټه وکړه او د مقابلې په غرض پر مخ راغے- اخشنور دا ځل فېروز ته بخښنه ونه کړه بلکي وَیې واژهٔ- له هلمند څخه تر کابلستان

پوري ورو ورو د کوشانيانو وړې وړې سيمه واکۍ هم يپتاليانو را يوځای کړې او له يوۀ مرکز سره يې وتړلې[۴]- هماغه وخت د روم آخري باچا په کال **۴۷۶** زېږده کي له تخته معزول کړل شو-

په کال **۵۰۰** زېږده کي يپتاليانو خراسان، شمالي هندوستان او ماورالنهر هم ونيول او تر خپل واك لاندي يې راوستل- د فېروز تر وژني وروسته دهغۀ زوی **بالاش** د پارس يو کمواك حکمران شو او د هغۀ ورور قباد د اخشنور يپتالي دربار ته پناه راوړه- اخشنور خپله لور ورکړه- څه وخت وروسته قباد د اخشنور په مرسته خپل ورور له تخته لري کړ او پخپله د پارس باچا شو- بالاش، قباد او خسرو اوّل يپتاليانو ته باج ورکاوۀ او خپلې سکې يې په باختري ليکدود کښلې[۱]-

درېيم يپتالي حکمران تورمان خان زاؤلي ؤ چي تعلق يې له زاول (زابل) څخه ؤ- تورمان پارس پرېښوو، د هند په خوايې پام شو او ګوپتا خاندان يې په مخه واخست- دے يو ډېر غښتلے سړے ؤ، په سکالا (سيالکوټ) کي يې سکندرګوپت ته ماته ورکړه او ورو ورو يې ګندهارا او شمالي هند هم فتح کړل- د تورمان ډېر ليکونه له سکهر، ګواليار او کورا څخه موندل شوي دي- په دغه ډېر ليکونو کي هغۀ ځان "تورمان مهاراجه شاه زابلي" ښولے دے[۳]-

څلورم يپتالي حکمران مهرګل (مهراګولا) ؤ چي په هند کي نور هم پر مخ ولاړ- کشمير يې تر واك لاندي راووست او هندي ګوپتا ځواك يې مات کړ- وروسته په هندوستان کي د مهرګل يپتالي خلاف د" آريه ورت" او مات شوي ګوپتا خاندان تر منځ اتحاد وشو- د ګوپتا خاندان آخري راجه "بالادت" او د منځني هند " راجه يسودرمن" آخر په ګډه د مهرګل مقابله وکړه- په کال **۵۲۸**

کي مهرګل ماته وخوړه او يپتلي ټولواکمني پر ځوړه روانه شوه- په کال۵۳۰ زېږده کي بالادت هم مړ شو او شمالي هند پر وَړو وَړو خپلواکیو تقسیم شو- دَجواهرلعل نهرو په قول په هند کي راجپوت خاندان هم د يپتاليانو پايځوړدے[۵] -

چیني تاریخ لیکونکو آخري دوه يپتالي حکمرانان تورمان اومهراکولا (مهرګل) سیتااونا یعني سپین هون لیکلي دي- چیني، مغربي او هندوستاني تاریخ لیکونکو چي کوم قبائل "سپین هون" بللي دي، هغه يپتاليان دي ولي چي له کومي سیمي (زابل) چي دوی راغلي وو هغه د يپتاليانو سیمه وه- په پېښور موزیم کي د يپتاليانو ډبر لیکونه تر اوسه خوندي ساتل شوي دي- د کابل بالاحصارکلا هم غالباً د يپتاليانو د وخت ده[۶]- د کندهار د روزګان په شالي دره کي د يپتاليانودوه ډبر لیکونه پر لویو لویو ډبرو کښلي لیدل کیږي[۴] - د يپتاليانو ژبه ترکوشیانو هم ډېره پښتو ته ورته وه- د"خان" نوم هم د تورمان خان له وخته د پښتنو په ریښو کي دے- آخري يپتالي حکمران او د هغهٔ لښکریان چي کله د هند د حکمرانانو د اتحاد تر فشار لاندي راغلل نو په آخري وخت کي د کشمیر ضلع هزاره او سوات غرونو ته وختل- هماغه وخت د تُرکانو په نامه یوهٔ نوي قام د يپتاليانو خلاف د ساسانیانو مرسته وکړه او په ګډه یې په کال ۵۶۸ زېږده کي يپتالي سلطنت ختم کړ[۷]-کله چي د يپتاليانو له لاسه واك و ووت نو لرغونے افغانستان هم پر وَړو وَړو سیمه واکیو تقسیم شو- هره سیمه د خپل سیمه ایځ واکمن تر واك لاندي تر ډېره حده آزاده وه-

# اخځليك


۱ - غبار میرغلام محمد، افغاستان در مسیر تاریخ ، کابل، ۱۹۶۷

۲ - انجم زاهد حسېن ، ۱۰۱ لوئي ښارونه ، لاهور ، ۲۰۰۳ -

۳ - زيارمجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱-

۴ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۵ - نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاريخ يو نظر ( Glimpses of the world history) تخليقات لاهور ، ۱۹۹۲ -

۶- لو ئز ډوفري ، افغانستان ( East and wesrnt meet and mingle ) ، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۴ -

۷ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور ، ۱۹۶۴ -

# ۱۱

# کابلستان خراسان سیستان

## ( پښتانهٔ د اسلام په درشل کي[۱] )

کله چي واك د کوشانيانو او يپتاليانو له لاسه و ووت نو افغانستان پر وَړو وَړو سيمه واکيو تقسيم شو چي بدخشان، باميان، غرجستان، کاپيسا (دکابل شمال)، جاغور، بادغيس او خراسان پکي شامل وو- د ساسانيانو وار ورته جوړشو او هغوی ته د اغيزو ښه موقعه په لاس ورغله- کابلستان، سيستان، هيلمند، غور، اراکوزيا او زابل هم بيلابيلي کور واکۍ شوې- دا کوشاني او يپتلي ټبرواکۍ له شپږمي څخه تر يوولسمي عيسوي پيړۍ پوري د ساسانيانو او بيا د ترکانو په لار کي خنډ وې- که څه هم په کال ۵۶۶ زيږده کي ترکانو اوساسانيانو د تيږ يپتالي ټولواکۍ څو برخي ترلاسه کړې خو افغانانو په ميړانه د هغوی لار ونيوه[۱،۲]-

دسيد بهادرشاه کاکاخيل[۳] په وينا **تُرکان** دغه وخت د يوهٔ نوي قام په حيث د يپتاليانو د حريف په توګه وپيژندل شول- دوی د چين او" ګوبي" صحرا ترمنځ په زرينو غرونو کي آباد وو- د دغو خلګو کِسب آهنګري وه ځکه ښايي چي د هغه وخت په وسله جوړولو پوهـ

وو- په دغه وخت کي د آواريانو سلطنت د ورېښمو د کاروبار په حواله ډېر مهم ؤ- تُرکانو له خپلو غرونو څخه د آواريانو سيمي ته هڅه وکړه- ورو ورو يې د آواريانو سلطنت لاندي کړ او قبضه وربانديي وکړه- دارنګه يې د ورېښمو تجارت هم په لاس کي واخست- د دوی اولنی باچا (خاقان) تومن نومېدۀ چي سلطنت يې له منګوليا څخه تر اورال سمندرګي پوري غزېدلی ؤ- ترکانو وروسته دساسانيانو سره ديپتاليانو خلاف اِتحاد وکړ- دا هغه وخت وو چي خسرو(نوشېروان عادل) دساسانيانو باچاؤ- دی د قباد زوی او د يپتاليانو لوی مخالف ؤ- د ترکانو او ساسانيانو ګډ فوج په کال ۵۶۸ زېږده کي يپتالي سلطنت ختم کړ-

د حضرت محمد رسول الله ﷺ د ځمکي پر سر د زوکړي په مهال د پښتنو پر سيمه واك د يپتاليانو له لاسه وَتلی ؤ او لکه مخکي چي يې ذکر وشو، افغانستان پر وړو وړو ټبر واکيو وېشل شوی ؤ، خو بيا يې هم تر ډېره حده خپل استقلال د وړو وړو ټبر واکيو په توګه ساتلی ؤ- ساکانو، کوشانيانو او يپتاليانو پر سيستان، خراسان، تخارستان او کابلستان باندي خپلي وړې وړې سيمه واکۍ ساتلي وې- په دغه وخت کي د **کابلستان** حکمرانان رتبېل، زنبېل، زنبورك، زګېر، شېر او آسما تېر شوي دي[1] -

دغو باچهانو له ساسانيانو او تُرکانو څخه د خپلو کورواکيو د ساتلو هلي ځلي کولې- تر اسلام وړاندي افغانستان د ګڼو مذهبونو ځاله وه- زرتشتي، بودايي او برهمني دينونو ټولو په دغه ځاله کي وده کوله چي د اسلام رڼا هر لورته ورو ورو خپرېده لګياوه- د اسلام په درشل کي هېواد د طوايف الملوکۍ په حالت کي ؤ- هغه وخت د دې سيمي ليکدودونه خروشتي، يوناني او هندي(سنکسرت) ؤ- په

کال ۹ هجري کي يو چيني بودايي ګرځندوی هيون چانګ افغانستان ته د بودايي مزدکونو (عبادتخانو) د زيارت په غرض راغلی ؤ- هغهٔ په دغه وخت کي د افغانستان د خلکو دمذهبي عقايدو سره سره د دې هېواد د طوايف الملوکۍ ذکر هم کړے دے- له ساسانيانو وروسته عربو هم افغانستان تر خپل واك لاندي راوستل غوښت خو افغانانو د عربو لار هم په ډېره مېړانه وَنيوه، تر څو چي دصفاريانو، غزنويانو او غوريانو حکومتونه راغلل او ساسانيان، عرب، او تُرکان يې وَشړل[۲،۴]-

**خراسان** تر څه مودې پوري د افغانستان نوم ؤ- دا يوازي ايالت نه ؤ بلکي د يوهٔ دولت په حېث هم پاته شوے دے- په خراسان کي، له پنځمي پېړۍ نه تر اتلسمي پېړۍ پوري هرات، غزنے، سمرقند، بخارا، فرغانه ، خوارزم ، سرخس او د صفويانو په دور کي کندهار هم شامل ؤ-

د حضرت عمر رضي الله تعالي عنه په زمانه کي(۱۵هـ) د عربو او ايرانيانو تر منځ د " قادسيئے" پر مقام يو لوی خونړے جنګ وشو په کوم کي چي ايرانيانو ماته وخوړه او د دوی سپه سالار او نامتو پهلوان "رستم" د خپلو ملګرو سره ووژل شو- له دې پس اسلامي فوج د ايران پر پلازمينه هم حمله وکړه- ساساني باچا يزد ګر "رې" ته وتښتېد- هلته يې يو لوی فوج جوړکړ او د اسلامي لښکر مقابلې ته چمتو شو- په کال ۶۴۳ زېږده (۲۰ هـ) کي د "نهاوند" پر مقام لوی جنګ وشو چي د ساساني سلطنت خاتمه پکې وشوه او تر دې وروسته د ايران ټول ښارونه ورو ورو فتح کېدل لګيا وو- يزد ګر تر څو کالو په خراسان کي د عربو د مقابلې هلي ځلي کولې خو وروسته د"ماهويه سوري" له لاسه ووژل شو-

په کال ۲۳هـ کې د بديل خزاعي د زوی عبدالله تر مشرۍ لاندې اسلامي فوجونه د خراسان پر دروازه(کلا طبس) ودرېدل- افغانان د يوۀ ستر آريايي قام په حېث چې تاريخي کړۍ يې له ساکانو سره تړلي دي د عربو خلاف ودرېدل- تر اسلام وړاندې افغانستان يوې خواته د پېړيو په اوږدو کې د بېلا بېلو مدنيتونو لار پاته شوې وه چې ورو ورو يې ځايي رنګونه اختستي او افغاني شوي وو، بلې خواته ډېر سترځايي مدنيتونه پکې زوکړي او پايېدلي وو، ځکه اسلام افغانانو ځانګېري افغاني کلتور ته خطر ګڼلے ؤ- ورو ورو اسلامي فوجونه د هرات له خوا تر تخارستان پورې ورسېدل او د سيستان له لارې تر ارغنداب پورې پرمخ ولاړل[3]- په دغه اسلامي پېر کې چې کله فتوحات پراخ شول نوخراسان اوساکستان (سيستان، سجستان) دواړه ولايتونه شول-

دهغه وخت کابلشاهانو، دغزني لويکانو او د زابل رتبېلانو له عربو سره درانه او ډېر اوږده جنګونه وکړل- په کابل کې دکابلشاهانو د وخت د غرونو دېوالونه تر اوسه لا هم د هغوی د لوړو حوصلو ګواهي ور کوي- د باميان شېرانو د عربو تر راتګ وروسته لا هم تر ډېره خپله محلي واکمني وساتله- د غور سوريانو هم هغه وخت خپله تېرواکي لرله چې واك يې په کال ۳۵ هجري کې د ماهويه سوري په لاس کې ؤ- چونکې سوريان د اسلامي خلافت دربار ته د هيئت تر لېږلو وروسته مسلمانان شوي وو ځکه خپلې واکمنۍ ته په دوام ورکولو کې بريالي شول[4]- امير پولاد په کال ۱۳۰ هجري کې، امير کروړ له ۱۳۹ څخه تر ۱۵۴ هجري پورې او امير ناصر د ۱۶۰ په خواوشا کې د دغې سيمه واکۍ واکمنان وو-

د هېواد لوېديځه سيمه، **سيستان** (ساکستان) د ساسانيانو تر

سياسي، فرهنګي او ديني اثر لاندي وه- سيستان په هغه وخت کي ډېر آباد ؤ- د اوبو مخي ته بندونه جوړ وو- بادي ژرندي هم چلېدلې- زرنج (نادعلي) يو لوی تجارتي ښارؤ- ساکان په رياضي پوهـ وو او ټولنيز(اجتماعي) اصول يې پر پښتونوالي وَلاړؤ- د حضرت عمر رضي الله عنه د دور په وروستيو ورځو کي او بيا د دهٔ تر شهادت وروسته د سيستان او خراسان خواته د عربو توجه کمه شوه ځکه د پاتو ساسانيانو په نفوذ د دغي سيمي خلک دعربو خلاف جنګونو ته بيا تيار شول- په کال ۳۱ هجري کي عبدالله بن عامر چي يو غښتلے عرب جرنېل ؤ دخراسان رياست نايب السلطنت وټاکل شو- دهٔ نيشاپور ښار خپل عسکري مرکز کړ او له دغه ځايه يې د خپلو فوجي افسرانو په ذريعه بېلابېلي علاقې کنټرولولې- د دهٔ تر مشرۍ لاندي يوهٔ عربي لښکر د کرمان تر نيولو وروسته سيستان ته هم هڅه وکړه- د عبدالله بن عامرلښکر چي کله سيستان ته راوَرسېد نو له ښار دباندي لوۍ جنګ ونښت- په دغه جنګ کي لوۍ شمېر خلک ووژل شول- د سيستان ساتندوی د زرنج په ښارکي ځان کلا بند کړ- د اسلامي لښکر يوه ډله ترکندهاره پوري مخ په وړاندي ولاړه- نور لښکر هم له زرنج څخه لږ شاته شو او د سولي خبري پېل شوې- کله چي د عربو له خوا د اسلام شرطونه دوی ته پېش کړل شول نو د ښار خلکو لره دا شرطونه څه نوي نه وو، ولي چي د دوی د پخواني دين له برکته سيستانيانو له پخوا څخه هم دروغ بد ګڼل، حرام يې نه خوړل، ناحق قتل يې نه کاوهٔ، د خلکو د ناموس خيال يې ساتهٔ او د زنا اجازت يې نه ورکاوهٔ نو دوی لره د اسلام شرطونه منل څه مسئله نه وه- دا رنګه د ښار خلک اسلام قبلولو ته تيار شول[۲]- ځکه د زرنج خلکو هم

روغه وکړه او د ښار واك يې مسلمانو ته په لاس ورکړ- د اسلامي لښکر کومه ډله چي پر مخ تللې وه د ارغنداو په ناوه کي د رتبېل سره په جنګ شوه- دغه جنګ د رتبېل په وژنه تمام شو[۵]-

د حضرت عثمان رضي الله تعالي عنه په خلافت کي اسلامي لښکرو پاته ساساني سلطنت هم ختم کړ او په دغه دور کي يې د عبدالله بن عامر تر مشرۍ لاندي کابلستان ته هڅه وکړه[۶]- ښار يې اوّل کلابند کړ بيا يې تر سختو نښتو وروسته ونيو- وروسته اسلامي لښکر نور هم پر مخ ولاړ- ورو ورو اسلامي نړۍ پراخېده پراخېده، افغاني هېواد يې هم ټول په غېږ کي واخست- د عربو له تګه وروسته د کابل خلګو بيا دخپلواکۍ اعلان وکړ او تر پنځو نورو کلونو پوري يې خپله سيمه واکي ساتلې وه-

تاريخ د دې خبري ګواه دے چي پښتانه خپله خپلواکي ساتي- که څه هم افغانستان پر وړو وړو کورواکيو، ټبرواکيو او سيمه واکيوو تقسيم وو خو دوی ګاونډيانو ته دلاس وهني موقعه نه ورکوله او دلويو قوتونو د يرغلونو مقابله يې په ګډه کوله- دوی د خپلي بقا جنګ ته په مېړانه دوام ورکړے ؤ- چونکي د اسلام سپېڅلے دين د افغانانو فطرت ته ډېر نزدې ؤ ځکه ټولو ورو ورو قبول کړ- د اوميّه خاندان په دور کي نيشاپور، هرات ،سيستان او مکران ټول په اسلامي سلطنت ګډ شول- دا رنګه خراسان هم په اوومه پېړۍ کي ټول د اسلامي خلافت برخه شر[۷]-

# اخځليك


۱ - زيار مجاور احمد، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱ -

۲ - غبار ميرغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷

۳ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور ، ۱۹۶۳ -

۳ - رفيع حبيب ا لله ، د افغانستان لنډکے تاريخ، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۸

۵ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ

دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۶ - شرر عبدالحليم ، د سيند تاريخ ، سيټي بك پواينټ، کتاب مارکيټ

اردو بازار، کرا چي ، ۲۰۰۳ -

۷ - فاروق عمادالحسن آزاد ، د مغربي ايشيا مسلمانان ، لاهور، ۱۹۹۳


Pukhto.Net
پښتو

# ۱۲

# داِسلام څرك يوستراَوښتون

کله چي حضرت محمدﷺ د نوي تحقيق له رويه په ۵۷۱ عيسوي کال کي د فروري په دوويشتمه (۲۲) نېټه د ځمکي په مخ وزېږېد، هغه وخت خلګ د وړو وړو خدايانو منونکي وو او لوی شمېر پښتانه په مذهب زرتښتيان وو- په کعبه شريفه کي هم۳۶۰ بُتان پراته وو او عربو يې عبادت کاو[1]- دا مهال پر پښتني سيمه د تېرو کوشانيانو او يپتاليانو څه نا څه پاشلي قوت موجود ؤ- پښتنو خپل اِستقلال دَ وړو وړو کورواکيو، ټبرواکيو او سيمه واکيو په توګه ساتلې ؤ- افغانان د ساسانيانو او ترکانو تر منځ په فشار کي وو خو د هغوی له اغېزو څخه يې د ځان ژغورني هلي ځلي کولې[2]- دوی پر پښتونوالي وَلاړ وو او د خپلواکۍ د ساتلو ذمه واري يې هم پر غاړه وه-

په نړۍ کي د حضرت محمد ﷺ په وخت کي دوو لويو سلطنتونو دوام درلود- يو سلطنت د روم ؤ او بل د ايران[3]- په ايران کي د ساسانيانو حکومت ؤ چي د افغانستان څو حصې يې هم تر پښو لاندي کړي وې-

په اومه عيسوي پېړۍ کي د عربو تر منځ مذهبي او سياسي کشمکش زور واخست- کله چي رسول الله ﷺ په کال ۶۱۰ زېږده کي د نبوّت اعلان وکړ نو ټول عرب سرداران يې پر ضد راپورته شول او تر شلو کلونو يې د اسلام د پرمختګ لارنيوے کاو- رسول الله ﷺ خپلو هلوځلو ته دوام ورکړ او د حق پر لار يې جهاد جاري وساتۀ- په کال ۶۲۲ کي يې مدينه ته هجرت وکړ-

هغه وخت په ايران کي د ساسانيانو د حکومت سره سره روم هم ډېر پر مختلے سلطنت ؤ- قسطنطنيه (استنبول) د روميانو يو لوی تجارتي اوعلمي ښار ؤ- کِسرا(خسرو) او قېصر(سيزر) د حضرت محمدﷺ په وخت کي د هماغو دوو سلطنتونو باچهان وو- ايران او روم يو د بل پر ضد وو او دا هلي ځلي يې کولې چي له دوو څخه ځله يو کړي[۴]- له کال ۶۰۴ زېږدي څخه تر ۶۲۸ پوري د ايران او ختيځ روم تر منځ لوی جنګ وشو- عربيان له دواړو خواوو د دغو لويو سلطنتونو په فوجونو کي د سپايانو په توګه شامل وو- له دغو جنګونو څخه عربو ډېر څه زده کړل- د جنګ په هُنر پوهـ شول او د يوۀ خدای له تصوُّره هم آشنا شول- د روم او ايران تر منځ دغه جګړي رواني وې چي په عرب کي يو نوی قوت راپورته شو- محمدﷺ د روم او ايران باچهانو ته ليکونه ولېږل چي اسلام قبول کړي-

که څه هم عرب په مکه مکرمه کي په مذهبي تنازعو سره اخته وو خو دَ الله دَ وحدانيت او دَ بُتانو خلاف آواز هغوی له يهوديانو او عيسايانو څخه هم اورېدلے ؤ- په يثرب (مدينه) او خېبر کي د يهوديانو ډېر لوی تعداد اوسېدۀ او د مدينې عرب د مکې تر قرېشو د يوۀ خدای په تصوُّر ښه خبر وو ځکه هغوی د

رسول الله مبارك پيغام په خوښه قبول کړ او له محمدﷺ سره مرستي ته تيار شول- د اسلام پيغام دا ؤ چي خدای یو دے چي د عبادت لائق دے او د هغهٔ هيڅ يو شريك نشته-

د مکې سرداران چي محمدﷺ اوّل دوولس کاله ورته دحق پيغام ورکړے ؤ، بيا هم په بت پرستي اخته وو، ځکه دا ضروري شوه چي د هغوی خلاف د خدای د دين د پاره لوی جهاد وکړل شي- په کال ۶۳۱ زیږده کي مسلمانانو مکه فتح کړه او دينِ اسلام مکمل شو- د اللّٰه رضا وه چي حضرت محمدﷺ له دُنيا څخه په کال ۶۳۲ کي رخصت شو- ترهغه وخته لوی شمېر عرب قبايل تر اسلامي سلطنت لاندي راغلي وو، خو د رسول الله ﷺ له وفات څخه وروسته هغه خلګ بېرته راپورته شول چا چي اسلام لا په صحيح معنا نه ؤ قبول کړے- مسلمانانو د دغو فتنو مخنيوے وکړ ځکه وروسته اسلام د يوهٔ لوی قوت په توګه ورو ورو پرتهوله نړۍ راخپور شو[1] -

حضرت ابوبکرصديق رضي الله تعالي عنه له ۶۳۲ څخه تر۶۳۴ زیږدي پوري د مسلمانانوخليفه پاته شو- هغهٔ يو مخلص رهنماؤ- د دهٔ په دور کي هغو خلقو بغاوتونه کول کومو چي اسلام لا د زړه له اِخلاصه نه ؤ قبول کړے- د دهٔ ټول خلافت د دغو بغاوتونو د ختمولو دور ؤ- دهٔ ورو ورو خلګ په دې قايل کړل چي مخالفت پرېږدي او د ساسانيانو او روميانوخلاف په جنګونوکي د مسلمانانو سره مرسته وکړی- د قرآن پاك سره راټولَولو ابتدا هم د دهٔ په دور کي وشوه -

د حضرت عمر رضي الله تعالي عنه په دور(۶۳۴ - ۶۴۴ ز) کي اسلام د مکران له لوري د افغانستان تر سر حدونو را رسېدلے ؤ-

د حبيب الله رفيع صاحب[5] په قول "دا وخت افغانستان د ملوك الطوايفی په بڼه اداره کېدۀ او په هر ښارکي يو ځانګړې واکمن ؤ، لکه: کابلان شاه، کشميران شاه، دمرو ماهويه، د سرخس رازويه، د زابلستان فېروز، د باميان شېر، د سيستان رتبېل، دغرجستان شار، دبادغېس اوتخارنېزك، دغور جهان پهلوان، دغزني او ګردېز لويك او نور"- په دوی کي ځينو د عربي فاتِحانو سره اوړدۀ او درانۀ جنګونه کړي دي- په دغه وخت کي اوّل د قېس زوی احنف بيا د بديل خزاعي زوی عبدالله او په پای کي د عمرو زوی عبدالله د کرمان له فتحي وروسته د اوسني افغانستان د سيستان په څنډه راګډ شو- مسلمانانو ترکال۶۴۱ زېږدي پوري عراق، شام او فلسطين ونيول- نيم بيت المقدس ښار هم د مسلمانانو تر قوت لاندي راغے- له يوې خوا څخه مصر، او له بلي خوا فارس او خراسان په اسلامي نړي راګډ شول- حضرت عمر رضي الله تعالي عنه يو سترعادل او ډېر ښه منتظِم ؤ- د سيستان او خراسان د فتوحاتو په حواله په فتوح البلدان، تاريخ ابن خلدون، تاريخِ ابن اثير او نورو اسلامي تواريخو کي تفصيل کتل کېدای شي[6]-

کله چي حضرت عمر رضي الله تعالي عنه د فېروزنامي ايراني له لاسه شهيد شو نو حضرت عثمان رضي الله تعالي عنه په کال۶۴۴ زېږده کي خليفه شو- په ۶۵۰ کي يې قرآن شريف ته ترتيب ورکړ او تر۶۵۶ پوري يې په مکمله توګه د کتاب په شکل کي دنيا ته وړاندي کړ- تر۶۵۱ عيسوي کال پوري د اسلام تر فشار لاندي ، په پارس کي ساساني سلطنت ختم شو- له ۶۳۳ عيسوي کال څخه تر ۶۵۱ پوري د ايران ټول سلطنت فتح شو او د روم ډېري څنډي هم په اسلامي سلطنت ګډي کړل شوې-

د عبدالله بن عامر (چي د حضرت عُثمان د ماما زوی ؤ) تر مشرۍ لاندي چي کوم لښکر ؤ هغه د کابلستان په خوا هم د حضرت عثمان رضي الله تعالي عنه په دور کي لېږل شوے ؤ- د اوسني افغانستان په ټولو څنډو کي د عربي لښکرو پر ضد بلواګاني پېل شوې- دا وخت د قېس زوی احنف په مرو او هرات کي، د الاربوعي زوی خبیب په بلخ او تخاریستان کي او د عمر لئیث زوی عبدالله په سیستان کي واکمن وو- اوّل په کابل کي یاغیانو ماتې وخوړه بیا ورو ورو نوري افغاني سیمي هم د عربو تر واك لاندي شوې-

د۶۵۲ عیسوي کال په خواؤشا د خلیفه له خوا د زیاد زوی ربیع سیستان ته رالېږل شوے ؤ- هغۀ د سیستان ډېري څنډې ونیولې، ورو ورو تر هېلمند رود راواوښت او زرنج ښارته نزدې د افغانانو سره په جنګ شو- په دې جنګ کي له دواړو خواوو ډېرزیان وشو- وروسته عربي لښکر د سولي په خبرو پېل وَکړ- اسلامي شرطونه د ښار خلګو ته وړاندي کړل شول چي هغوی لره نوي نه وو- د افغانانو د ټولنیز ژوند او اسلامي اصولونو تر منځ څه ډېر فرق نه ؤ ځکه خلګ په اسلام راضي شول- کله چي د زرنج مرزبان د اِطاعت په نیت عربي لښکر ته ور وړاندي شو نو یې ولید چي ربیع پر یوۀ مړي ناست او بل ته یې د بالښت په توګه ځنګ لګولے ؤ[۷]- دا فعل د زرنج د خلګو په زړونو کي د عربو خلاف بېرته نفرت پېدا کړ ځکه بیا پوره یوه پېړۍ د افغانانو او عربو ترمنځ په جګړو او پاڅونونو تېره شوه[۵]- د سیستان خلګ تر هغه وخته د عربو تابع وو تر څو چي ربیع په سیستان کي ؤ خو دوه کاله وروسته چي هغۀ ولاړ نو سیستان بیا په ښور کي شو- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، په هغه

وخت کي سيستان يوه آباده زرعي علاقه وه، خلګو د اوبومخي ته بندونه جوړکړي وو او په خواوشا کي بادي ژرندي هم چلېدلې- په افغاني سيمه کي آزاد تجارت کېدای شو او زرنج يو لوی تجارتي ښارؤ-

سيستان د بېرته نيولو په غرض، په کال ٦٥٥ زېږده کي (عکس نمبر40) د خلافت له خوا عبدالرحمان بن سمره د زرنج د




عکس نمبر40 د يپتاليانو د پرمختګ لاري او د يپتالي دولت جوړښت

خلګو سره خبري اتري پيل کړې او بېرته يې اسلام ته د هغوی هرکلے وَکړ- عبدالرحمان بن سمره چونکي يو تجربه کار صحابي ؤ څکه يې وروسته د زرنج ښار ساتندوی پرويز په اطاعت راضي کړ- عبدالحليم شرر[٧] په "تاريخِ سيندهـ" کي ليکي چي عبدالرحمان بن سمره له زرنج څخه وروسته هغه ټولي سيمي ونيولي کومي چي د

زرنج او وَدان ښار تر منځ وې- کله چي دے وَدان ښار ته ورسېد نو د ښار خلګ " کوهِ زور" ته وختل چيري چي په يوهٔ مزدك کي د سروزرو هغه بت ؤ چي دواړي سترګي يې له ياقوتو جوړي وې- عبدالرحمان بن سمره دغه بت مات کړ خو ياقوت او سره زر يې بېرته د هغه ځای مرزبان ته پرېښول او پخپله يې د زابلستان او کابلستان په خوا مخه وکړه- اِسلام هسي هم د افغانانو فطرت ته ډېر نِژدې ؤ ځکه ورو ورو ټولو قبول کړ خو د عربو تر واك لاندي ژوند کول د خپلواکۍ د اصولونو خلاف ؤ ځکه د عبدالرحمان له تګ سره بيا د سيستان خلګو بلوا وکړه او امير يې وتښتاوهٔ- دا هغه زمانه وه چي په مصر او عراق کي د حضرت عثمان رضي الله تعالي عنه د حاکمانو خلاف فتنې را وپاڅېدلې چي په نتيجه کي يې دے هم په خپل کور کي شهيد کړل شو-

حضرت علي (کرم الله وجه) د اسلام څلورم خليفه ؤ- په کال ٦٥٦ کي د حضرت عثمان (رضي الله تعالي عنه) له شهادته وروسته د خلافت زمه واري دهٔ پر خپلو ووږو واخسته- د دهٔ په دور کي هم سيستان او خراسان په قرار نه وو- عبدالرحمان بن سمره په دغه وخت کي کابلشاه ته ماته ورکړه او کابل يې ترې ونيو- حضرت علي (کرم الله وجه) د حضرت عثمان (رضي الله تعالي عنه) د وخت ټول واليان لري (معزول) کړل ځکه د دهٔ په دور کي د مسلمانانو تر منځ نفاق نور هم زيات شو- په ۳٦ هجري کي "جنګِ جمل" وشو او د حضرت عائشه (رضي الله تعالي عنها) پلويان له لويي بربادۍ سره مخامخ شول- حسکه بن عتاب حطبي، عمران بن فضيل برجمي او د دوی نورو ملګرو د سيستان په لور مخه وکړه- سيستانيانو يې هرکلے وکړ او په ګډه يې حکومت ورسره جوړ کړ- حضرت علي ( کرم الله وجه ) د دوی خلاف اوّل د

عبدالرحمان بن جروطايي تر مشرۍ لاندي لښکر واستاو چي له ماتي وروسته شهيد کړل شو ځکه يې د بصرې والي عبدالله بن عباس ته حکم ور کړ چي سم دلاسه دويم لښکر جوړ کړي- هغه د ربيع بن کاس عنبري تر مشرۍ لاندي يو بل لښکر د سيستان په لور روان کړ چي په زرنج کي يې له لويې مقابلې وروسته حسکه بن عتاب حطبي وواژۀ- حضرت علي (کرم الله وجه) په خپل ټول دور کي د مسلمانانو تر منځ د جنګونو مخنيوے کاوۀ ترڅو چي په کال۶۶۱ زېږده کي د ابن ملجم له لاسه شهيد شو[7]- د دۀ په دور کي قيکان (قلات) هم د مسلمانانو تر واك لاندي راغے-

ترحضرت علي (کرم الله وجه) وروسته د شپږو مياشتو پوري حضرت حسن (رضي الله تعالي عنه) خليفه شو خو امير معاويه (چي هغه وخت د شام ګورنر ؤ) په همدغه وخت په دمشق کي د خليفه په توګه کار پېل کړ- امير معاويه وروسته حضرت حسن په دې قانِع کړ چي د اسلام د سياسي وحدت په خاطر له خلافته لاس واخلي ځکه د حضرت علي له شهادته اُموي دورپه عملي توګه شروع شو چي تر۸۵۰ زېږدي پوري يې دوام درلود- په کال۶۸۰ زېږده کي امير معاويه هم د خداى پکار شو او خلافت په ملوکيت بدل شو- سيد ابوالاعلیٰ مودودي په خپل کتاب "خلافت و ملوکيت" کي پر دغه موضوع غوره بحث کړے دے-

له حضرت امير معاويه څخه وروسته د هغۀ زوى يزيد واك ترلاسه کړ- د حضرت علي (کرم الله وجه) کشر زوى حضرت امام حسېن (رضي الله تعالي عنه) د يزيد په خلافت راضي نه ؤ ځکه له خپلو ملګرو سره له مدينې څخه روان شو- د حضرت امام حسېن (رضي الله تعالي عنه) دا فېصله ځکه صحيح وه چي يو خو يزيد د

خلافت اهل نه ؤ بل د هغهٔ ټاکنه په اسلامي توګه نه وه شوې- یزید څه فوجیان امام حسېن ته واستول او د هغهٔ لارېې ونیوه چي بېرته مدینې ته راشي خو امام حسېن ونه منله- هغو فوجیانو امام او د دهٔ ملګري په ناترسي ووژل- د امام حسېن مبارك سر یې پرې کړ او یزید لره یې یووړ- د اسلامي تاریخ دغي پېښي مُسلمانو لره تر ټولو لویه بد مرغي راوړه- د دوی تر منځ نفاق نور هم زیات شو او د اُمّیانو خلاف د اهلِ بیت په نامه تحریکونه پېل شول-

د اُمیه خاندان په دور (۶۶۱ - ۷۵۰ز) کي اسلامي لښکرو نور فتوحات هم وکړل- عربو په دغه دور کي پنځوس زره نفره د افغانستان د شمالي برخي د طابع کولو په نیت هلته استوګن کړل- ورو ورو ټول افغانستان د خلافت تر اثر لاندي شو- نیشا پور، هرات، سیستان او مکران ټول په اسلامي سلطنت ګډ کړل شول- په دغه وخت کي ۱۴ اموي حکمرانان تېر شوي دي- د اموي دور یوه پېړۍ د عربو او افغانانو تر منځ په جګړو تېره شوه- افغانانو اسلام د خپل دین په توګه منلی ؤ خو پر خپله خاوره یې د عربو له سیاسي واکمنۍ سره اختلاف درلود- دوی غوښت چي یو خپلواك اسلامي دولت ولري- د امیانو او بني هاشم تر منځ په سیاسي اختلافاتو کي افغانان د بني هاشم پلویان وو[۵]- په دغه دور کي اُمیانو له افغانستان څخه ډېر څه د مالِ غنیمت په توګه یووړل او ډېر ځوانان یې هم د غلامانو په توګه بوتلل-

سیستان او خراسان دواړه په اووَمه پېړۍ کي د عربو تر واك لاندي شول- ورو ورو عربو نوري افغاني سیمه واکۍ هم په اسلامي خلافت راګډي کړې- د عراق والي حجاج چي دمفتوحه افغانستان واك یې هم په لاس کي ؤ، په کال۶۹۷ زېږده کي عبېدالله ته حکم

ورکړ چي پر کابل حمله وکړي- کابلشاه د کابل د دفاع په نيت د عربوخلاف د جنګ تياري پېل کړه او په مېړانه يې عربي لښکر ته ماته ورکړه- دا خبر چي حجاج ته ورسېد نوهغهٔ د عبدالرحمان په مشرۍ کي دکابلستان د فتح کولو په غرض، د بصرې او کوفې څخه ۱۲ زره تجربه کاره عرب جنګياليان را ولېږل- عبدالرحمان هم د کابلشاه مقابله وَنه کړه ځکه د حجاج او عبد الرحمان تر منځ اختلاف پېداشو [۷]-

تر دغي واقعې وروسته مسلمانانو په نورو سيمو کي په ډېره چسپاندي سره پر مختګ وکړ- يوې خواته يې تر روس پوري ختيځ رومن علاقې ونيولې او بلي خوا ته يې شمال لوېديځه افريکا هم قبضه کړه- په افغانستان او اُزبکستان کي يې د يپتاليانو پاته قوت هم ختم کړ او تر اورال سمندرګي پوري ولاړل- د محمد بن قاسم تر مشرۍ لاندي په هماغه وخت کي د سيند حوزه فتح کړل شوه-
مسلمانو د کال۶۷۰ په خواوشا د روميانو خلاف پر قسطنطنيه اول ځل حمله کړې وه- بيا په کال ۷۱۸ زېږده کي خليفه سلېمان بله لويه حمله ورباندي وکړه خو ناکامه شوه- (ډېره موده وروسته په کال۱۴۵۳ زېږده کي د ترکي خلافت قسطنطنيه قبضه کړه-) په سپېن او سهېل مغربي فرانس کي مسلمانانو ويسيګوتيك (Visigothic) باچهانو ته شکست ورکړ- له فرانس څخه پرقطب (شمال) مخ روان شول ، چيري چي په ۷۳۲ زېږده کي د "تورس" پر مېدان "فرانك" د مسلمانو پرمختګ ته خنډ شو- دا وخت په اُمويانو او عباسيانو کي نفاق هم ؤ ځکه پر مختګ ممکن نه شو پاته- د يورپ د ځينو خلګو دا خيال دے چي د مسلمانانو هغه پر مختګ په اصل کي په زوره اسلام په خلګو قبلول ؤ، خو دا خبره په

خپله د یورپ سنجیده لیکوالو هم رده کړېده- ولیئیم میك ګاګي لیکي چي"د نورو مذهبونو وَ منونکو ته چا ترهغه وخته څۀ نه وئېل ترڅو چي هغوی د حکومت اطاعت کاوۀ اوجزیه یې ورکوله" [۶]-

د حضرت عمر رضي الله تعالي عنه په وخت کي غېر عرب مسلمانانو ته ټېکس معاف شوے ؤ- ورو ورو چي د اسلامي حکومت خرڅ زیات شو نو اتم (۸) خلیفه دې ته اړ شو چي له غېر عرب مسلمانانو څخه هم دماصول غوښتنه وکړي- له دغي فېصلې څخه وروسته د مسلمانانو تر منځ ورور وژنه پېل شوه-

عبدالرحمان چي د **ابو مسلم خراساني** په نامه مسوا ؤ، په اتمه پېړۍ کي د اُمیه خاندان خلاف له خراسان څخه په کال ۷۴۱ زېږده کي خپل تحریك پېل کړ- هغۀ اوّل کوفې ته ولاړ، بیا یې له امام ابراهیم عباسي سره په مکه مکرمه کښي لیدنه کتنه وکړه، بېرته خراسان ته را ستون شو او خلګ یې د عباسیانو ملاتړ ته تیار کړل- دا تحریك چي ورو ورو پر مخ ولاړ نو ابو مسلم له مرو نه تر تخارستان پوري خلګ د ځان ملګري کړل- هغۀ د آلِ عباس خلافت اعلان کړ او پخپله د خراسان حاکم شو- وروسته ابو مسلم خراساني کوفې ته ولاړ چیري چي هغۀ د کوفې په جامع مسجد کي د عبدالله سفاح عباسي په نامه خطبه ولوسته او د اموي خلافت د خاتمې اعلان یې وکړ- دا شان عباسي دور په ۷۵۰ زېږدۀ کي شروع شو چي بیا یې تر ۱۲۵۸ زېږدي پوري دوام درلود- ابو مسلم زیرك سړے ؤ، هغۀ ماوراء النهر هم و نیو او په فاتحانه انداز مکه ته ولاړ- د عبدالله سفاح عباسي ورور منصور عباسي د ابومسلم خراساني څخه وېره وشوه ځکه یې د دۀ د وژني حکم ورکړ- دے د ۳۷ کلونو په عمر کي ووژل شو او خراسان د عباسي سلطنت برخه شو- د ابو

مسلم خراساني وژني افغانان د عباسيانو خلاف هم راوپاڅول- هغوی د عباسي لښکرو سره ډېر جنګونه وکړل- که څه هم عباسيانو د دوی پاڅونونه په ډېره ناترسي وکوټل خو دا يې يقين شو چي د خراسان خلګ عرب واکمن نور نه شي ځغملای نو يې ځکه محلي واکمن برمکيان وټاکل- د عبدالله سفاح عباس ځايناست منصور پايتخت له د مشق څخه بغداد ته راوړ- هغهٔ په ايران کي د اُموي خاندان خلاف بغاوت کونکي نور ۷۵۴ کسان هم ووژل- بغداد له هغه وخته د اسلامي تهذيب مرکز شو- اسلامي کلتور مخته ولاړ او علمي کارونه هم ډېر وشول[۵] -

**برمکيان** د بلخ يوه ډېره وزرګه کورنۍ وه- په کال ۷۸۲ زېږده کي **خالد ابن برمك** په خراسان کي د هغه اِنقلاب حمايت وکړ کوم چي پرخراسان باندي د عباسيانو د حکومت کولو لار خلاصه کړه[۷]- له اُميانو وروسته ۳۷ عباسي حکمرانانو تر ديارلسمي پېړۍ پوري پراسلامي نړۍ حکومت وکړ- عباسيانوخالد ابن برمك ته اوّل د وزير حېثيت ورکړ او بيا يې د پارس او تبرستان والي کړ- دوی وروسته د خالد ابن برمك زوی يحيٰ برمك د هارون الرشيد سېکرتري جوړکړ- يحيٰ او هارون دواړه خليفه موسیٰ الهادي په جېل کي واچول خو د خليفه له مرګه وروسته هارون الرشيد پخپله خليفه شو او يحيٰ يې ناظم اعلي وټاکهٔ- د يحيٰ زامن جعفر او فاضل هم د هارون په دور کي پر ښو عُهدو باندي وو- فاضل د خپل پلار غوندي د خراسان دګورنر تر عهدې پوري ورسېد- جعفر هم پر داخلي محکمو د مشر په توګه کارکاوهٔ-

د کال ۸۰۰ زېږدي وروسته دبرمکيانو قوت کم شو- په ۸۰۳ زېږدهٔ کي جعفر قتل شو- يحيٰ او فاضل هم په جيل کي په کال

۸۰۸ زېږدۀ کي مړه شول- پښتنو چي د کوم بابا خالد ذکرپه زړو تاريخونو کي کړے دے هغه هم غالباً دغه بابا خالد برمك دے[۸]- د اتمي پېړۍ په آخر کي عباسي حکمران (والي) ابراهيم بن جبريل په ۷۹۵ عيسوي کال کي، د فضل برمکي په مرسته له زمينداور (کندهار)، کابلستان او زابلستان څخه ټول کړي ډېر مالونه بغداد ته استولي وو- په نهمه پېړۍ کي لومړے د افغانستان واك د برمکيانو په لاس کي وو- بيا ورو ورو د دوی قوت کم شو- لکه مخکي چي يې ذکر وشو په کال ۸۰۳ زېږده کي جعفربرمك قتل شو، يحيٰ برمك او فضل برمك دواړه په جيل کي په ۸۰۸ کي مړه شول او وروسته د افغانستان واك د طاهريانو په لاس ورَغے- د عربو سره د افغانانو دوه سوه کلن جنګونه د هېواد په ګټه تمام شول- خُراساني کلتور د اسلامي کلتور سره مل شو او د اسلام ديانت هم د افغاني هېواد په وينه ګډ شو- د هېواد په ليکدودکي لوی بدلون ښکاره شو (عکس نمبر41)-



عکس نمبر41 په کندهار کي موندل شوې يوه زړه نخښه چي تر اسلام وړاندي يوناني او آرامي خط پکښي ليکلے دے- چپ لاس ته له تخاري درې څخه موندل شوي الفي نخښه ده

**طاهريان** پوهان خلګ وو او له ۸۲۱ څخه تر ۸۷۲ پورې يې د افغانستان داستقلال ساتلو زمه واري پرخپلو ورږو اخستې وه- طاهريان هم د بر مکيانو غوندې يو خانواده کورنۍ وه- دا کورنۍ د علم او ادب سره د مينې په وجه د هېواد په اشرافو کې شمار وه- د عباسي خلافت سره د طاهريانو ښې اړيکې وې- له برمکيانو وروسته په اسلامي خلافت کې طاهريانو د هغوی ځای ونيو- طاهر زواليمنين د بغداد د خلافت نظامي کومندان ؤ- منصور بن طلحه طاهري د خوارزم والي ؤ- عبدالله بن طاهر د بغداد حاکم ؤ- سلېمان بن عبدالله طاهري د تبرستان والي ؤ- طاهر په خپله شاعر ؤ او عبدالله هم پلار غوندې عالم او شاعر ؤ- طاهريانو د دين اسلام مکمل حمايت کاوۀ- دوی خپلواك نه وو خوله عربو څخه يې د ملي اسقلال غوښتنه کوله - طاهريانو په نيشاپور کې حکومت کاوۀ او خطبه يې د بغداد د خليفه ګانو په نامه وَيله- په کال۸۲۰ زېږدۀ کې طاهر بن حسېن پوشنګي په افغانستان کې د استقلال هلې ځلې رواني کړې[۸، ۹]-

عبدالله ابن طاهر په ۸۲۸ زېږده کې د افغانستان **زرتشتي کتابونه وسوځل** او اسلام يې د دې سيمې د يوازني دين په توګه تسليم کړ- د طاهريانو پايتخت نيشاپور ؤ چې د احمد شاه بابا د لمسيانو تر وخته د افغانستان حصه وه، اوس د ايران په جغرافيايي حدونوکې شامل دے- د طاهريانو په دور کې نوينې رسم الخط په افغانستان کې شروع شو- د عبدالله له مرګه وروسته په کال ۸۴۴ زېږدۀ کې طاهر دويم پرتخت کښېنوست خو واك يې په عملي توګه صالح سيستاني ته ور سپارلے ؤ- له ۸۶۱ څخه تر ۸۷۲ زېږدې پورې محمد بن طاهر دويم د سلطنت مشر ؤ- محمد بن طاهر

عياش سړے ؤ، ورو ورو يې د ملي استقلال سره تړون مات شو ځکه صفاريانو د دولت واك تر لاسه کړ او د افغانستان استقلال يې بېرته وساتۀ[۸] - ورو ورو په پنځه سوه کلونو کي ټولو افغانانو اسلام د خپل يوازيني دين په توګه قبول کړ چي د پښتنو په تاريخ کي يو ستر اَوښتون بلل کېداى شي- د دوى ليك اولوست بدل شو- پخوانے رسم الخط له منځه ولاړ، د زرتښتي کتابونو ځاى اسلامي (عربي) کتابونو ونيو- د عربو تر اثرلاندي د قبيلو ډلبندي وشوه اود شجره ليکني ضرورت محسوس کړل شو-

د کال ۹۰۰ زېږدي په خواؤشا لا هم د کسی (سلېمان) او غور په غرونو کي د پښتنو سيمه واکی وې چي د کوچانيانو او يپتاليانو له وخته يې وجود درلود- د دغو سيمه واکيو او ټبر واکيو ډېرنقلونه لا تر اوسه په پښتنو کي ځاى لري- د کسی د غرۀ يوه سيمه واکي د کاس (کېس) په لاس کي هم وه چي مرکز يې په اوسنی "شېراني" کي ؤ- د سلېمان د غرۀ دغه واکمن په افغاني تاريخ کي د " کاس پښتون" ، " کاس پکتان" ، " کاس پټان" او "قېس فتحان" په بېلا بېلو نومونو ياد شوے دے- تر اسلام قبلَولو وروسته کاس پکتان د " **قېص عبدالرشيد** فتحان" په اسلامي نامه بلل شوے دے- شجره نسب ليکل په عربو کي له ډېر پخوا څخه را روانه يوه سلسله وه چي پښتنو هم تري اثر اخستے دے، ځکه په دغه وخت کي د پښتنو قبائلو ډلبندي شوې ده- پښتانه خپل قامي مشر ته احتراماً د "نيکۀ" يا "بابا" نوم ورکوي لکه ميروېس نيکۀ، بېټ نيکۀ، احمد شاه بابا، خوشحال بابا، رحمان بابا، حميد بابا او ظاهر بابا- عبدالرشيد چونکي هغه وخت ټولو پښتنو د خپل قامي مشر په توګه پېژاندۀ ځکه يې ټول پښتانه ټبرونه په دۀ پوري تړلي دي-

سلېمان ماکو چې په ۱۲۱۵ زېږده کې د قبائلو کومه ډلبندي کړې وه هماغه بیا اخوند درویزه، نعمت الله هروي او نورو تاریخپوهانو نقل کړې ده- د غور څخه تر کسي (سلېمان) پوري په دغو دنګو غرونو کي د پښتنو ټبرواکۍ او سیمه واکۍ ټولي وروسته د کېس عبدالرشید پکتان (پټهان) اولاد ګڼل شوي دي حالانکه په دغه وخت کي د پښتنو ډېره لویه آبادي وه- هم دغه ټکے د سمېدو دے چي غورغښت، بېټني او سړبني ټبرونه او د دوی ډېري پښې تر اسلام وړاندي هم پر دغه سیمه له پېړیو آبادي وې-

چونکي پښتانهٔ تر دغه ډلبندي په زرګونو کلونه وړاندي، په تاریخ کي د پکتایانو، ساکانو، کوشانیانو او یپتالیانو (ابدالیانو) په بڼه پېژندل شوي دي، ځکه دوی ټول د عبدالرشید اولاد نشي منل کېدای- هم دغه خبره اوس په جدید ساینسي تحقیق ثابته شوې ده- دا یو ځلاند حقیقت دے چي که لروبر خواره واره پراته ټبرونه "پښتانهٔ" شي او د سلېمان ماکو ډلبندي د هغه وخت یو ضرورت وګڼي اوهېره یې کړي نو به د پړَدو لاس وهنه او تېرے هم بند شي- کاس (عبد الرشید) او بېټ نیکه د اسلامي دور خلګ وو او د دوی نومونه ښایي چي د کاس (ساك) او بېټني ټبرونو په ترڅ کي مور او پلار ورله خوښ کړي وي، ولي چي په پښتنو کي خو ډېر نومونه اوس هم د قبیلو پر نامه ایښوول کیږي- ساکي (کاسي) او بېټني ټبرونه تر کاس پکتان او بېټ نیکه لمخه هم په دغو دنګو غرونو کي آباد وو- د بېټ نیکه هغه تاریخي دُعا چي لا تر اوسه په پښتو ادب کي لوړ مقام لري[٩]، په اوسني پښتو کي ده ځکه د دې دور د شاعر په توګه د دهٔ دَ پېژندني ثبوت ورکوي- دغه دعا چونکي و ټولو پښتنو ته دهٔ ځکه دا ثابته وي چي هغه وخت هم پښتانه یو لوی

قام ؤ، نه چي يوازي د دهٔ خپل او د وروڼو زامن يې وو- بيټ نيکه پښتانهٔ د يوهٔ ټينګ او متحد قام په حېث ليدل غوښت او هيله يې لرله چي د دوی ترمنځ دنفاق سوَب که هر څه وي لارنيوے يې پکار دے- له پېړَيو راروانه دغه روايتي قبايلي ډلبندي په لنډه توګه، د څه ضروري بدلون سره په بېلا بېلو لښت ليکونو کي بېرته وړاندي شوې ده چي تفصيل يې د بهادرشاه ظفرکاکاخېل په کتاب "پښتانه د تاريخ په رڼا کښي کتل کېدای شي[۳]- په دا لاندي اووم لښتليك کي د قبايلي ډلبندۍ پېل د"قېس" پرځای د "ساك" (چي جمع يې ساکان ده) څخه شوے دے چي دغرغښت دغوره ټبرونو




اووم لښتليك

يوه لنډه غوندي خاکه ده- د بيټنيانو، سړبنيانو او کرلاڼيانو (کرلانيانو) د ټبرَنۍ ډلبندۍ لښتليکونه به د دغو ټبرونو د تاريخي ذکر په ترڅ کي وړاندي شي-

# اخځلیك


۱ - یزداني سلیم ، نبي کریمﷺ ، کراچي ،۲۰۰۱ -

۲ - زیار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱ -

۳ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاریخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۴ -

۴ - وېلز ابچ جي ، د تاریخ کرښي، (The outline of History) فارسي ترجمه، "کلیاتِ تاریخ " مسعود رجب نیا ، بنگاه تهران، (۱۳۵۱) ۱۹۷۳-

۵ - رفیع حبیب ا لله ، د افغانستان لنډکے تاریخ، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۸

۶ - ابن اثیر عزالدین علي کامل، ژباړه ابو قاسم او علي هاشمي حائري ، تهران ۱۳۵۲ هـ ش

۷ - عبدالحلیم شرر، تاریخ سیندهـ، سیټي بُك پواینټ ، کتاب مارکیټ اردو بازار، کراچي ، ۲۰۰۴-

۸ - غبارغلام محمد، افغاستان در مسیر تاریخ ، کابل، ۱۹۶۷

۹- حبیبي عبدالحئي، افغانستان بعدازاسلام ، کابل، ۱۳۵۷ هجري

# ۱۳

# صفاري دولت

## ( نهمه او لسمه عيسوي پېړۍ )

د اسلام له راتګه سره سم"عرب" د ختيځ د يوۀ ډېر لوی قوّت (Supper Power) په توګه پر نړۍ وپېژندل شول- ايران او شام يې دواړه فتح کړل او د منځنۍ آسيا پر تجارتي لارو يې هم کنترول غوښت- له بازنطتيني حکومت څخه يې هم مصر او شام اخستي وو ځکه په نهمه عيسوي پېړۍ کي د لوېديځ دغه لوی طاقت هم د عربو سخت خلاف ؤ- د مامون الرشيد تر وخته مسلمانان پر روميانو هم زورَور وو- د ايرانيانو او عربو ترمنځ تاريخي اختلاف د اسلام تر خپرېدو وروسته هم ختم نه شو ځکه مامون الرشيد په خپل فوج کي تُرکيان په لوی تعداد شامل کړل چي د عربو او ايرانيانو تر منځ اختلاف په کم کړي[۱] - بلي خوا ته روميانو هم د عيسائي مذهب له پادريانو څخه د اسلام خلاف مدد وغوښت- د مامون ځايناست ورو ورو کمواکه شول او تُرکيان د اصل قوت مالِکان شول- خلافت کمزورے شو او واړه واړو رياستونه ترې جوړېدل لګيا

وو- په هغه وخت (۸۲۱ زېږدۀ) کي د سيستان (ساکستان) خلگو (چي په اصل کي د زړو ساکانو پايځوړ ؤ) د زرنج د صفاريانو په مشرۍ، د هېواد د خپلواکۍ هلي ځلي رواني کړې- که څه هم حکومت د طاهريانو په لاس کي ؤ او هغوی د عباسيانو پلَويان وو خو د سيستان خلگ په اطمينان نه وو-

د سيستان خلگ تر اسلام له مخه په مذهب زرتښتيان وو او تر دغه وخته يې خپل زوړ دين ساتلے وو- عربو غوښت چي په سيستان او کابلستان کي په هره توگه اسلام راولي- سيستان له اوّله سره عربو سرکښ گڼلے ؤ او خوارج چي د بنو اُميه او بنو هاشم دواړو پر ضد جنگېدل، په سيستان کي جمع شوي وو- برمکيان او طاهريان د بغداد حمايتيان وو خو صفاريانو چي په ختِه ساکزيان[۲] بلل شوي دي، د عربو قبضه نه منله او د ملي آزادۍ هلي ځلي يې کولې- اولَف کېرو صفاريان په ختِه ايرانيان گڼلي دي خو پر دې خبره د افغان تاريخ ليکونکو سره مُتفق دے چي د عباسي حکمرانانو حکم او ټېکسونه د سيستان (ساکستان) خلگو نه شو ځغملای ځکه يې د ملي آزادۍ هلي ځلي پېل کړې[۳]-

لکه وړاندي چي بيان شو، ابراهيم بن جبريل په کال ۷۹۵ زېږده کي، د فضل برمکي په مرسته له سيستان څخه ډېر څه د ټېکسونو په توگه بغداد ته استولي وو- دغه شان له سيستان څخه بغداد ته د لوی ماليت څېزونه په وارو وارو لېږل شوي وو- د هېواد خلگو عربو ته ماليه ورکوَل نه غوښت ځکه په کال ۸۳۵ زېږدۀ کي افغانانو ابراهيم طاهري له زرنج څخه تښتَولے ؤ-

د سيستان دخلگو مذهب زرتښتيزم وو او عربو غوښت چي په هره توگه په دوی اسلام ومني ځکه د عربو سره د دوی اوږد جنگ

پېل شو[۴]- د عباسیانو خلاف د افغاني مبارزو دا سلسله روانه وه چي په زرنج کي د قرنېن په ښار کي د مسګرو له کورنۍ څخه یو پهلوان یعقوب صفار(مسګر) چي د لئیث زوی ؤ، را پورته شو او د خپلو درو ورونړو عمرو، علي ، او طاهر، په مرسته یې د پښتني مېړاني جنډه راپورته کړه- د ساکزیانو دغه علاقه (زرنج) اوس د"ناد علي" اولسوالۍ په نامه یادیږي-

هماغه وخت خوارج (عرب یاغیان) په سرکښ سیستان کي د حمزه بن ادرك تر مشرۍ لاندي را غونډ شوي وو او د خلافت پر ضد یې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړے ؤ- ځکه حمزه سجستاني (سیستاني) هم بلل شوے دے- حمزه سجستاني ځان ته امیر المومنین وئېل او د عبدالله په نامه یې کارکاوۀ- یعقوب صفاري به وئیل چي عبدالله کله هم د سیستان خلګ نه دي زورَولي ځکه صفاریان د خوارجو مرسته کوي-

**یعقوب صفار** یو غښتلے سړے ؤ- دے د لئیث زوی او د معدل لمسے ؤ- دے په پېشه مسګر(پښ) ؤ خو تل به له مېړنو سره ملګرے ؤ- کله چي طاهریانو د عباسیانو د پاره د سیستان پر خلګو ظلم شروع کړ نو یعقوب صفار تُوره راپورته کړه او د مېړنتوب یو مثال شو- په زرنج کي یې د"عیارانو"[۴] د فرقې سره په ملګرتیا د صفاري دولت بنیاد کښېښوو- عیاران په هغه وخت کي د نني سیاسي ګوند غوندي یوه ډله وه چي د خپلو سیاسي حقوقو غوښتنه یې کوله- یعقوب صفاري او د دۀ ملګرو عیارانو لومړے د احمدحاکم طاهري خلاف د سیستان د حاکم صالح مطوعه مرسته وکړه چي په عِوض کي یې صالح مطوعه ورته د بُست سرهنګي ورکړه- بیا د دۀ او صالح تر منځ هم ټینګي نښتي وشوې په کومو

کي چي صالح مطوعه آخر تېښته ته اړ شو- وروسته صالح د زاولشاه رتبېل څخه مرسته وغوښته اوهغهٔ د صالح په ملګرتيا د يعقوب سره لوی جنګ پېل کړ په کوم کي چي شپږ زره کسان ووژل شول او تقريباً دېرش زره ټپيان شول- پخپله رتبېل هم په دغه جنګ کي ووژل شو-

په کال ۸۵۸ زېږده کي درهم بن نصر سيستاني کوم چي د صالح مطوعه يو افسر ؤ د سيستان امير شو اويعقوب صفاري د سيستان سپه سالار شو- په کال ۸۶۰ زېږده کي يعقوب صفاري خوارج مات کړل، درهم بن نصر يې فارغ کړ او پخپله د سيستان امير شو- يعقوب صفار د سپاهي ژوند تېراوهٔ او ډېري ساده جامې يې اغوستې- د دهٔ تکيه پرخپلوخلګو وه او خلګو پر يعقوب اعتماد کاوهٔ- دا مهال افغانستان پر اسلامي او غېراسلامي برخو وېشلے ؤ او طاهريان د اسلامي برخي مشران وو- په کال ۸۶۱ عيسوي کي يعقوب صفار بيا د افغانستان د استقلال زمه واري پر خپله غاړه واخسته- يعقوب د غېر اسلامي او اسلامي برخو سره يو ځای کولو په غرض په کال ۸۶۲ کي کابلشاه وواژهٔ او صالح مطوعه يې په کندهار کي بندي کړ چي وروسته په جېل کي مړ شو- بيا د يعقوب خوارجو ته مخه شوه او د هغوی مشر"عماد" يې د زرنج ښار په در وازه را وَځړاوٚ-

په کال ۸۶۵ کي يعقوب صفاري (عکس نمبر42) صالح بن حجر(د کابلشاهانو مرستيال) ته په بست کي ماته ورکړه- هرات اوپوشنګ يې له طاهريانو څخه ونيول- پر شمال مخ يې ټول خراسان ونيو او پرپارس يې ورلښته کړه- په کال ۸۶۷ کي يې کرمان ونيو، په کال ۸۶۸ کي يې شيراز ونيو او پارس يې هم ترلاسه کړ-



عکس نمبر42 یعقوب صفار

په کال ۸۷۱ کي یې د کابلشاه زوی په جنګ کي ونیو او بندي یې کړ- په کال ۸۷۲ کي یې نیشاپورفتح کړ او آخري طاهري حکمران محمد (چي د بغداد په نمائندګي ناست ؤ) یې فارغ کړ، خپله تُوره یې راوکښه او ویې وئېل "زه باچا یم، خلیفه هم د تُوري په زور ناست دے او زما هم دغه تُوره حکم او فرمان دے" ۲، ۵ -

یعقوب په لږ موده کي افغانستان ته ملي سیاسي وحدت ورکړ او یو اسلامي صفاري دولت یې ترې جوړ کړ چي لومړے ځل یې کابل هم په اسلامي نړۍ پوري پیوند کړ- دا رنګه یې په دریېمه هجري پېړۍ کي دغه نوے سلطنت د یوۀ لوی قوت په توګه په نړۍ

وپېژندو- د غزني ښار هم يعقوب صفار آباد کړے ؤ چي وروسته په افغانستان کي د علم، ادب او تهذيب مرکز شو-

په کال ۸۷۴ کي يعقوب صفار د ايران عباسي حکمران (والي) محمد بن واصل ته ماته ورکړه او ايران يې هم له بغداد څخه را بېل کړ- د بغداد سره يعقوب صفاري ځکه اختلاف درلود چي د افغانستان د اسقلال بار يې پر وږو ؤ- که څه هم ناروغه ؤ خو بيا يې هم خپل فوج د بغداد پر لوري وخوځاوۀ- له دغي فېصلې څخه خليفه وارخطا شو او د يعقوب په نامۀ يې يو ليك ولېږۀ چي پکي ليکلي ؤ" جهان مو تاته سپارلے دے ، ته يې واکمن اوسه ځکه چي ته د هند، چين، ايران، ترکستان او سرانديب مالك يې- تۀ دواړوسمندرونو ته رسېدلے يې نو ستا احترام پر ټول اسلام واجب دے- موږ فرمان ورکوو چي په حرمېن کي ستا د نامۀ خطبه هم وَوئيله شي- موږ د مصطفیٰؐ له اهل بېت څخه يو او تۀ د دين قوت يې- موږلره يوه خطبه هم بس ده- کوم عدل چي د ابوبکر رضي الله تعالي عنه او عمر رضي الله تعالي عنه په دور کي ؤ ستا په دربار کي ښکاري، ته کوَلای شې چي مسلمانان سره يوځای کړې" يعقوب پر دغه ليك شکي ؤ ځکه يې يقين ونه کړ او د خليفه سفير ته يې يوه کوزه، څو پياز، يوه سره ډوډۍ او يوه توره ورښکاره کړه[۶]- ورته يې وَوئېل چي خليفه ته دا پېغام وروړه چي که روغ شوم نو زما اوستا فېصله به دا تُوره کوي او که مغلوب شوم نو زما عادي خوراك دا پياز او سره ډوډۍ دي چي هر چيري شته اومالره بس دي- په کال ۸۷۵ کي يې پر بغداد حمله وکړه خو قسمت يې مرسته ونه کړه او د دجله پر غاړه يې ماته وخوړه-

يعقوب صفار تر دغي ماتي وروسته ډېر خوا شنے شو او مرض

يې هم زيات شو- په کال ۸۷۸ کي له همدغه مرضه وفات شو- نيشاپور ته نزدې ددغه ستر وطنپالونکي مزار (عکس نمبر43) اوس هم د دهٔ يادګار دے-



عکس نمبر43 ديعقوب صفارمزار

يعقوب يوازينے افغان حکمران ؤ چي نوم يې د بغداد د خليفه سره سم په خطبه کي شامل ؤ[۷]- يعقوب يو غښتلے باچا ؤ چي د سلطنت سرحدونه يې تر ملتان، سيند اومکران پوري رسېدلي وو- دهٔ وړې وړې سيمه واکۍ سره يو ځای کړې، افغانستان ته يې سياسي وحدت ورکړ او ملي ادب وفرهنګ هم د دهٔ په دور کي وده وکړه-

د يعقوب له مرګه وروسته په کال ۸۷۸ کي د هغهٔ ورور **عمرولئيث** د صفاري سلطنت مشر شو- عمرولَئيث صفاري د يعقوب غوندي يو ځوانمرد او غښتلے سړے ؤ - افعانستان د دهٔ په

وخت کي يو ډېر لوی قوت ؤ- زرنج د حکومت پايتخت ؤ او د بُست ښار د هغه وخت تجارتي مر کز ؤ- ګاس او ققفاز هم د دغه دولت برخي وې- د بغداد خليفه د پښتنو د ځوانمردی او د دوی د ټولنيز نِظام ډېر قدرکاوۀ او هيله مند ؤ چي دا قام د اسلام په پرمختګ کي د عربومل پاته کېدای شي- خليفه د هند او ايران واك په رسمي توګه عمرولئيث صفاري ته وسپارے او د احترام په توګه يې د "ولايت حرمين" واك هم عمرو ته ورکړ- عمرولئيث صفاري د اسلامي خلافت ملا مضبوطه کړه او شل مليونه درهمه يې د کاله اسلامي خزانې ته د "حق المقاطعه" په توګه ورکوَل[5] -

له کال ۸۷۹ څخه تر۸۸۴ عيسوي پوري د بغداد له خوا احمد خجستاني بادغېسي، رافع بن مرثمه او ابو طلحه ملي استقلال لره لوی خطر شول څکه عمرو ليث صفاري "حق المقاطعه" بند کړ- په کال ۸۸۹ کي بغداد پر ايران حمله وکړه صفاري باچا په نره بغداد ته ماته ورکړه او له بغداده يې ځان خلاص کړ- عمرولئيث صفاري د افغانستان مغربي برخه کنټرول کړه او د کابلستان په خوا روان شو چي هماغه مهال د برهمن باچا کلمو په قبضه کي ؤ- د برهمنو پايتخت اوسني اټك ته نژدې ؤ خو د عمروليث صفاري او برهمنو جنګ په لوګر کي وشو- برهمنو شکست وَخوړ او دهغوی لوی مندر سګاوند هم په دغه جنګ کي ړنګ شو[5، 7] -

په کال ۸۹۴ کي رافع هم د محمد الخوارزمي له لاسه په خوارزم کي قتل شو- عمروليث صفاري د ماوَراء النهر واك تر لاسه کولو په غرض د جيحون په لور روان شو- هغه وخت اسماعيل ساماني د امو تر رود را وا ؤښت او د صفاريانو پر فوج يې حمله وکړه- که څه هم د عمرو صفاري لښکرکمزورے شو خو هغۀ بياهم

دماوراء النهر په خوا هڅه وکړه او حمله يې وربانديې وکړه- صفاريان بريالي نه شول، ماته يې وخوړه او په کال ۸۹۹ کي عمرو بندي شو- صفاريان او سامانيان يوله بل سره اخته وو- عمروليث صفاري د اسماعيل ساماني په لاس ورَغے او هغهٔ په کال ۹۰۰ کي د بغداد دربارته ولېږهٔ- خليفه عمرولئيث په بغداد کي بندي کړ چي وروسته په محبس کي وَوژل شو[۵، ۸]-

دا صفاري دولت ؤ چي د افغانانو خپلواکي يې د عمروليث صفاري تر مشرى لاندي ساتلې وه- د هغهٔ تر وژني وروسته صفاري دولت کمزورے شو او په افغاني هېواد کي ملي يووالے هم پاته نه شو- طاهر بن محمد صفاري له عمروليث صفاري څخه وروسته باچا شو خو اهليت يې نه درلود ځکه خلګو په کال ۹۰۸ کي ايران ته وتښتاوهٔ- طاهر بن محمد صفاري او د دهٔ ورور يعقوب دواړه د ايران والي اوّل بنديان کړل او بيا يې بغداد ته ولېږل-

په کال ۹۰۹ کي د زرنج خلګو د سلطنت واګي د لئيث بن علي بن لئيث په لاس ورکړې- هغهٔ پر ايران حمله وکړه خو د بغداد په مداخلت لئيث بندي شو او بغداد ته وسپارل شو- په زرنج کي محمد بن علي بن لئيث تش په نامهٔ باچا پاته شو-

صفاريانو افغانان د يوهٔ ستر قام په حېث په دنيا وپېژندل- دوى د عباسي سلطنت سره سيالي کوله او د هغوى د ساري په توګه پېژندل کېدل- دوى کابلشاهانو ته ماته ورکړه او افغنستان ته يې ملي وحدت ورکړ- دغزني ښار يې آبادکړ او غلجي قبايل يې هم ايل کړل[۶]- لوى شمېر پښتانهٔ ځوانان يې په خپل فوج کي واخستل- سره د دې چي د عباسيانو مخالف وو، د دوى په دورکي لوى شمېر پښتنو اسلام د خپل يوازيني دين په توګه قبول کړ-

تر صفاریانو وروسته دعباسي خلیفه له خوا د افغانستان واك د ماوراء النهر ساماني حکمران ته وسپارل شو- په کال ۹۱۰ کي سامانیانو د بغداد په مرسته سیستان قبضه کړ او دولت یې بیا هم د بلخ په نامه مسوا ؤ- امیر اسماعیل ساماني د بغداد د خلیفه له خوا حکمران وټاکل شو- سامانیان ترڅه وخته پر افغانستان د بغداد د خلیفه له خوا حکمرانان وو خو افغانانو خپلي آزادي ټبرواکۍ لرلې- د اوسني جوزجان سیمه واکي د فریغونیانو په لاس کي وه چي د سامانیانو سره یې ښې اړیکي درلودې- د دغه ټبر یو واکمن ابوالحارث د محمود غزنوي خسر ؤ- فریغونیان علم دوسته خلګ وو چي په خپل دربار کي یې د جغرافیا "حدودالعالم" کتاب د لیکلو انتظام کړے ؤ- د دوی واك له آمو څخه تر غور پوري ؤ چي هیلمند او تالقان هم پکي شامل وو[۷] -

هغه مهال د سامانیانو په دربار کي یو تُرکي غلام ؤ چي الپتګین نومېدۀ- دے په ۹۵۹ زېږده کي د شمالي افغانستان کومندان شو او بیا یې په کال ۹۶۰ کي د ساماني امیر عبدلمالك ترمړګ وروسته پر زرنج حمله وکړه او په ۹۶۲ کي یې په غزني کي یو ووړ حکومت جوړ کړ- الپتګین په کال ۹۴۶ کي مړ شو او حکومت یې خپل زوی ابراهیم ته ورپرېښوو- بیا بلکاتګین او پریتګین د غزني حکمرانان شول خو په ۱۳ کلونو کي یې څه خاص پر مختګ ونه کړ- وروسته د دغي کورنۍ سترحکمران محمود غزنوي بیا د یعقوب صفار پرکرښو روان شو، افغانستان ته یې سیاسي وحدت ورکړ او افغانان یې دیوۀ سترقوت په توګه په نړۍ وپېژندل-

# اخځليك


۱- ډاکټر رياض احمد ، مغربي يلغر ، لاهور ، ۲۰۰۳

۲ - حداد قدرت الله ، افغان ملي تاريخ ، ساپي پېښور ، ۲۰۰۵ -

۳ - اولف کېرو ، پښتانه (The Pathan) ، مېکميلن لندن، ۱۹۶۵ -

۴ - زيار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱ -

۵ - غبارغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷

۶ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۴ -

۷- حبيبي عبدالحئي، افغانستان بعداز اسلام ، کابل، ۱۳۵۷ هجري

۸ - فاروق عمادالحسن آزاد ، د مغربي ايشيا مسلمانان ، لاهور، ۱۹۹۳


Pukhto.Net پښتو

# ۱۴

# غزنوي او غوري دولتونه

## (له لسمي تر دیارلسمي عیسوي پېړۍ)

په لسمه عیسوي پېړۍ کي د خلیفه هارون الرشید له مرګه وروسته، اسلامي خلافت ډېر کمزورے شو- ورو ورو ډېر واړه واړه خپلواکي حکومتونه جوړ شول- د سامانیانو واك هم پر ختمېدو شو- لکه مخکي چي بیان شو، الپتګین په دغه وخت کي د سامانیانو په دربار کي یو غلام ؤ، د ساماني امیر عبدلمالك له درباره امیر حاجب الپتګین په کال ۹۶۰ زېږده کي د خراسان سپه سالار وټاکل شو[1]- د عبدلمالك ساماني تر مرګ وروسته دهٔ په کال ۹۶۱ کي په غزني کي حکومت جوړ کړ- غلام محمد غبار د الپتګین د حکومت جوړولو کال ۹۶۲ ښولے د ے[2]- کله چي دے په کال ۹۶۶ کي مړ شو نو یې زوی ابراهیم د مشر په توګه وټاکل شو- بیا بلکاتګین او پریتګین هم د غزني واکمنان شول- دوی تردیارلسو کلونو پورې دا وَړه حکمراني را وَچلوَله-

د پښتنو دا نېکمرغي ده چي خپله خپلواکي ساتي- په ۹۷۵ عیسوي کال کي د غزني په خواوشا کي دوی خپل غزنوي ملي

غورځنګ جوړ کړ- په خپلو کي نه سره جوړېدل نو يې سبکتګين ، چي د الپتګين زوم ؤ، د خپل مشر په توګه وټاکۀ-

په کال **۹۷۷** کي سبکتګين د يوۀ نوي اسلامي دولت مشر شو او د" اميرِخُراسان" لقب يې خپل کړ- سبکتګين دېوې پښتنې مېرمني سره واده وکړ- خدای دۀ ته د هماغي پښتنې مېرمني څخه يو ننګيالے زوی محمود ورکړ- سبکتګين په کال ۹۸۶ کي، د پښتنو په مرسته اوّل پرکابلستان او بيا پر هندوستان حمله وکړه- د لاهور راجه جې پال ته يې شکست ورکړ- دۀ تر کال **۹۹۳** پورې هرات، نيشاپور او بلوچستان هم په خپل دولت کي شامل کړل او افغانستان ته يې سياسي وحدت ورکړ- په دغو فتوحاتو کي د سبکتګين ټول عسکري قوت پښتانه وو- په کال **۹۹۸** کي اميرِخراسان سبکتګين او امير بخارا نوح ساماني دواړه د خدای پکار شول-

هماغه وخت د اوسني افغانستان په ختيځه څنډه کي تر ملتانه پوري د لوديانو واکمني وه چي خپلواك حکومت يې درلود- د دغه سيمه واکی لومړے مشر عبدالحميد لودي ؤ- د حميد زوی نصر لودي د پښتو ښه شاعر ؤ ځکه د دۀ دربار د پښتو ادب يو مرکز هم ؤ- **د ملتان لوديانو** د عيسوي کال ۱۰۰۰ په خواؤشا کي لا خپلواکي ساتلې وه، له لاهور څخه تر خېبره د کابلشاه حکومت ؤ او د افغانستان نوري سيمي په غزنوي سلطنت پوري تړلي وې-

په ۹۹۸ عيسوي کال کي غزنويانو د محمود غزنوي په مشری کي، له خزر يا کاسپين سمندګي نه تر ګنګا پوري لوی افغانستان جوړ کړ چي د تاريخ په پاڼو کي د غزنوي دولت په نامه بلل شوے دے- د محمود عمر هغه وخت ۲۸ کلونه ؤ- پښتانه د ملي وحدت او خپلواکی دپاره دمحمود سره مله وو- محمود پر مسلمانانو

پښتنو دومره بروسه کوله چي کله يې هم د بغداد تر فشار لاندي کار نه کاوهٔ- هغهٔ د افغانستان خپلواکي ټينګه ساتلې وه او پښتانه يې له هر قِسم خراج څخه خلاص کړي وو- محمود غزنوي يو علم دوست سړے ؤ- هغهٔ د حضرت علي هجويري، بو علي ابن سينا او البيروني غوندي پوهانو سرپرست ؤ- غزني هغه مهال په نړۍ کي دعلم او ادب لوی مرکز ؤ[۳]-

ناچاکي د افغانو الميه ده- د محمود غزنوي خپل ورور اسماعيل په بلخ کي د جلا حکومت اعلان وکړ- محمود د ورور خلاف جنګ وکړ او شکست يې ورکړ- هغهٔ يې په غزني کي بندي کړ، بيا يې جوزجان ته ولېږهٔ او آخر هلته مړ شو- په کال ۹۹۹ کي بغداد هم غزنوي دولت په رسمي توګه وپېژاندهٔ-

محمود له کال۱۰۰۰ څخه تر۱۰۱۰ پوري د افغانستان داخلي شخړي اوارولې، په کوموکي چي د ډېرو افغانانو لوی لوی نقصانونه وشول- په کال ۱۰۱۱ کي بلوچستان، چي مرکز يې "قصدار" ؤ، هم د محمود غزنوي ترواك لاندي شو- محمود وروستنے يرغل د ملتان پر جټانو وکړ- دهٔ په خپل ژوند کي غزنوي سلطنت له اصفهان څخه تر ګنګا پوري وغزاوهٔ- د دهٔ خپل زوی مسعود په اصفهان کي کښېنوست، د باچهی لوېديځه څنډه يې کنټرول کړه- خپله محمود د غزني له مرکزه د ګنګا څخه تر فراته پوري دا لوی سلطنت تر خپل واك لاندي ساتلے ؤ- د محمود په امپراتوري کي لاهور، بلخ، جوزجان، ولوالج (تخارستان)، کابل، غزني، پروان، قصدار، هرات، نيشاپور، همدان او طبرستان ټول شامل وو-

د محمود غزنوي په وخت کي لاهم د کوشانيانو او يپتاليانو د وخت کورواکۍ، ټبرواکۍ او سيمه واکۍ پاته وې- غرستان

(غرجستان) د " شارانو" تر واك لاندي يو خپلواك رياست ؤ- "شار" د شاه په معنا باچا ته وئېل کېدۀ- د غرستان پايتخت "بشين" (پشين؟) ؤ چي "بغشور" او"شورميان" ورته نزدې ځايونه ياد شوي دي[1]- د محمود غزنوي په دورکي "شار رشيد" د هغۀ سياسي مشرى او د هېواد يووالي ته غاړه اېښې وه- "شار نصر محمد "محمود بندي کړے ؤ او "شارشاه " د محمود او ابو علي سيمجور سره جنګونه کړي وو-

محمود پرهندوستان ۱۷ حملې وکړې- د هغۀ سياسي مجبوري دا وه چي په داخل کي قبائل په اتفاق نه وو- اسلام يوازينے ټکے ؤ پرکوم چي افغانان سره يو کېدای شول- ځکه محمود دا حملې د اسلام پر نامه کولې[۴]- د محمود ۱۶ حملې کاميابه حملې وې خو په ۱۰۱۵ کي پرکشمير د هغۀ حمله ناکامه شوه- محمود په هندوستان کي د سومنات مندر هم وران کړ او هلته پراته بُتان يې مات کړل، ځکه هغۀ ته "بت شکن" هم وئېل کيږي- په ۱۰۲۴ کي د هغۀ سره خورا ډېر دولت ؤ او د لوى قوت مالك بلل کېدۀ- محمود په ۱۰۳۰کي د ۵۹ کلونو په عمر وفات وکړ- له دۀ څخه وروسته سلطنت مخ پرځوړه روان شو- چونکي د محمود دَځائناستو ترمنځ اتفاق نه ؤ ځکه په خپلوکي سره جنګېدل او د اقتدار دغه هلي ځلي آخر د غزنوي سلطنت د زوال سوَب شوې-

په غزنوي دور کي اسلامي تهذيب ډېره وده وکړه- اسلام په ټول افغانستان کي خپور شو او کابلشاهان له واکه وَوتل- مُسلمانانو په هندوستان کي هم اسلام خپور کړ چي بيا تر ډېره وخته هند په روښان ؤ- په غزنوي دورکي علم او ادب پر مخ ولاړل- فردوسي، فرخي، سنايي، خسرو بلخي، عنصري، او حسن غزنوي غوندي د لوړ

قامت شاعران پېدا شول- په دغه دور کي هېواد ابن سينا، البيروني، ابوالفتح بستي، ابو نصر مشکان، ابوالفضل بيهقي، عبدالحی ګردېزي او نور ډېر نامتو ليکوالان وَموندل- مدنيت وده وکړه او ډيري ښې ودانۍ وشوې- په هېواد کي تجارت او صنعت هم پرمخ ولاړل-

د محمود په آخري دور کي د يوهٔ تُرکمان دقاق زوی **سلجوق** ،د سامانيانو له زواله وروسته د قراخانيانو خدمت شروع کړ- دسلجوق څلور زامن وو چي اسرائيل، ميکائيل، يونس او موسیٰ نومېدل- سلطان محمود غزنوي هغوی ته د افغانستان په شمال مغرب کي د رمه پيائني او ورشو اجازت ورکړے ؤ خو وروسته پرې پښېمانه ؤ- محمود اسرائيل ونيو چي بيا په بند کي مړشو، تر دې منځ نور سلجوقيان ايران ته وتښتېدل-

د محمود له مرګه وروسته د هغهٔ زوی سلطان مسعود بېرته سلجوقيان را وغوښتل او په خپل فوج کي يې د عسکرو په توګه واخستل- د سلجوقيانو او مسعود تر منځ په کال ۱۰۳۸ کي جنګ وشو- نيشاپور سلجوقيانو ترې ونيو او خطبه د باچا **طغرل** په نامه اوّل ځل وَوئيل شوه[۲] -

سلجوقيانو په کال ۱۰۴۳ کي خوارزم هم فتح کړ، ورو ورو يې ايران ونيو او په کال ۱۰۶۲ کي تر بغداده ورسېدل- طغرل تر سامانيانو وروسته اوّل باچا ؤ چي د ايران سياسي وحدت يې وساتهٔ- د بغداد خليفه خپله لور دهٔ ته ورکړه او په کال ۱۰۶۳ کي مړشو- دارنګه سلجوقيانو د عباسي خاندان څخه وروسته داسلامي خلافت واك په خپل لاس کي واخست[۵] - سلجوقيان کوچيان وو ځکه دوی غزنوي او ساماني ودانۍ ټولي تباه کړې- يو بل کار يې دا وکړ چي

ټول دفتري کار يې له عربي ژبې څخه **فارسي** ته راواړاوۀ او فارسي يې دفتري ژبه کړه-

همدغه مهال په نيشاپور(چي د احمد شاه بابا د لمسيانو تر وخته لا د افغانستان په جُغرافيايي حدونوکي ؤ) کي د امام موفق الدين په مدرسه کي د دۀ درې شاګردان وو چي خواجه بوعلي حسن، عمرخيام او حسن بن صباح نومېدل- دوی درې سره دوستان وو چي په تاريخ کي هر يوځان لره بېل بېل مقام لري- خواجه بوعلي حسن د نظام الملك طوسي په نامه د ملك شاه بن الپ ارسلان سلجوقي په دربار کي وزير اعظم شو- دۀ خپل دواړه دوستان د ځان سره په شاهي دربار کي ځای کړل-

عمرخيام ورو ورو په علم، شاعري او فلسفه کي لوړ مقام وَموند خو حسن بن صباح په تاريخ کي د يوۀ عالمي دهشتګر په توګه وپېژندل شو- دے د ايران له ښار قُم څخه د تعليم او تحصيل په نيت نيشاپورته راغلے ؤ- کله چي د سلجوقيانو په دربار کي د خپل دوست وزير اعظم خواجه بوعلي حسن خلاف دسازش په تور ونيول شو نو د مرګ سزا ورکړل شوه خو د عمرخيام په سفارش وبخښل شو او مصر ته يې جلا وطن کړ- په مصر کي دۀ د فاطمي حکمرانانو تر درباره ځان ورَساوۀ- په پنځه کاله کي دننه يې فاطمي حکمران خاندان پر"متصلي" او "نزاري" ځله تقسيم کړ- پخپله د نزاري ګروپ د داعي الدعویٰ په توګه ايران ته را ستون شو- "دمرګ کلا" يې د خپل تخريب مرکز کړ او د شېخ الجبال په نامه وپېژندل شو- دۀ چي د کومي عقيدې (اسماعيلي) تبليغ کاوۀ پخپله يې هم يقين ورباندي نه ؤ بلکي مذهب يې د دهشتګردی دپاره استعمال کړ- دۀ ځانمرګي (خودکش) زلميان ساتل او د خپلو مخالفانو وَژنه يې په همدغو زلميانو کوله- آخر تر دې حدۀ ولاړ چي د معمولي اختلاف

له کبله یې خپل دوه زامن هم قتل کړل-

دهٔ له کلا څخه پرڅو میله واټن خپل جنت جوړکړے ؤ چي پکې زلمیانو ته هرڅه رسېدل- په کال ۱۰۹۱ زېږده کي د دهٔ یوهٔ ځانمرګي زلمي خواجه بوعلي حسن (نظام الملك طوسي) د حج په سفر کي په خنجر وَواژه اوځان یې هم په دې عقیده مړکړ چي حسن بن صباح به یې جنت ته لېږي- د حسن بن صباح یوهٔ بل ځانمرګي زلمي د ملك شاه سلجوق په کور کي د اشپز په توګه کار پېل کړ او دهغهٔ په خوراك کي یې زهرګډ کړل- له ملك شاه څخه وروسته سُلطان سنجر سلجوقي باچا شو- دهٔ "دمرګ کلا" محاصره کړه خو کله چي یې تربالښت لاندي یو خنجر او یو لیك وَموندل نو یې وېره وشوه- په لیك کي دا لیکلي وو چي "که دا خنجر ستا تر پالنګه رسېدای شي نوسینه به دي څنګه ترې خوندي وي؟"

تردغو پېښو وروسته سُلطان سنجرسلجوقي یوه مرکه شېخ الجبال ته ولېږله چي د روغې خبرې ورسره وکړي- شېخ الجبال حسن بن صباح دغو مرکبانو ته یوه عجوبه وړاندي کړه- خپل یوهٔ ځلمي ته یې حکم ورکړ چي "تر غرهٔ راټوپ وهه"- دحُکم سره سم زلمي هماغه شان په خوښه وکړل او ځان یې ورکړ- دویم ځلمي ته یې ووئېل چي "توره راواخله او خپله غاړه په پرې کړه"- دا زلمي وَمَسل او همداسي یې وکړل- له دغه وخته دآسیا او اوروپا (یورپ) خلګود حسن بن صباح له دهشتګردۍ څخه پناه غوښته- لوی شمېر حاکمان، سائنسدانان، عُلما او دانشوران د دهٔ د ځانمرګو زلمیانو په خنجرونو ووژل شول- مکافاتِ عمل ګوره چي د هلاکو پوجونه د بغداد په خوا روان، د مرګ پر کلا پرېوَتل او داسي یې برباد کړه چي هیڅ هم ترې پاته نه شو- هلاکو آخري شېخ الجبال رکن الدین خورشاه په قفس کي بندکړ او له ځان سره یې یووړ- د هلاکو له لاسه

اسلامي حکومتونه له منځه ولاړل او مسلمانان لا تر اوسه دربدره دي- د تشويش خبره داده چي اسلامي نړۍ اوس بيا هماغه رنګه د ځانمرګو حملو سره مخامخ ده ځکه يې حکومتونه ځان نه شي نيوای او د نورو قوتونو تر اثر لاندي دي-

په کال ۱۰۹۵ کي، د نومبر پر پنځويشتمه نېټه "پوپ اربن دويم" د "کليرمونټ" په کونسل کي د اوّل صليبي جنګ اعلان کړے ؤ[۶]- پوپ اربن وئېلي وو چي سلجوقيان د يوې وحشي قبيلې څخه دي او نوي نوي مسلمانان شوي دي- دوی اناطوليه او د شرقي بازنطيني سلطنت څو څنډې قبضه کړي دي ځکه د دوی قتل واجب دے او بربادي يې عيسائي مذهبي فريضه ده- د اوّل صليبي جنګ د دغه اعلان اصل سوَب د مسلمانانو نا اتفاقي او د مرکز کمزوري وه چي عيسايانو لره ښه موقعه ښکارېده- په يوولسمه عيسوي پېړۍ کي د يورپ حالات ښه نه وو ځکه خلګ د پوپ پر مذهبي رِغ راپاڅېدل- سلجوقيانو، زنګيانو او اَيوبيانو تقريباً تر۱۲۵۰ زېږدي پوري په اؤو(۷) صليبي جنګونوکي د عيسايانو مقابله وکړه- آخر مسلمان باچا توران شاه دفرانس عيسايي باچا لوئي ګرفتار کړ اوعيسايان يې په دغو صليبي جنګونو کي مات کړل- که څه هم دا مذهبي جنګونه وو خو د يورپ تجارتي مقاصد هم پکې ډېر وو-

په دغه وخت کي د افغانستان څلور څنډې يادي شوي دي- شمالي څنډه د سلجوقيانو تر واک لاندي وه- کابل، غزنے، ذابل، هېلمند، ننګرهار، پېښور او لاهور د غزنويانو په لاس کي وو- سيستان چي بست، زرنج، زميندا‌ور او فرح پکي شامل وو، د صفاري خاندان د ملکانو تر واك لاندي ؤ- پر غور، باميان، ګوزګان

او هرات د غوريانو حکومت ؤ- غوريان په خټه سوريان وو چي د غور او خراسان يو غښتلے افغان ټبر ؤ- تر اسلام له مخه هم د دغه ټبر مشرانو د غرشاهانو په نومو حکومتونه کول- دوی زړو تاريخ پوهانو "ضحاك" او "سهاك" بللي دي- لکه چي مخکي يې د ساکانو په حواله ذکر وشو ساك يا سهاك يو زوړ آريايي ټبر ؤ چي پښتانۀ يې پايخوړدي، څکه دغه سوريان فردوسي، طبري، البېروني، ابن بلخي او نورو ډېرو ليکوالو په خپل زاړه نامه ياد کړي دي- دا شان ساکزيان، اسك زيان (اڅکزيان) اوکاسيان ټول تر اوسه په خپلو نومونو کي د زړو ساکانو سره نوماند تړون لري-

د سوريانو کهول ډېر اوږد تاريخ لري- فردوسي دوی "ماهوري سوري تُخم" بللي دي- دغور د دغه کهاله حکمرانان شنسب، امير پولاد، اميرکروړ، اميرناصر، اميربنجي، اميرسوري، اميرمحمد سوري، اميربوعلي، اميرعباس ، اميرمحمد دويم، قطب الدين حسن، عزالدين حسين ، قطب الدين محمد(ملك الجبال)، بهاؤالدين سام، شهاب الدين، شجاع الدين ، علاء الدين (جهانسوز)، سلطان سيف الدين ، فخرالدين، سيف الدين محمد، غياث الدين محمد سام، شهاب الدين (معزالدين) محمد سام، غياث الدين محمود، بهاء الدين، علاء الدين اتسز، علاء الدين، ناصرالدين ګزيو او شمس الدين محمد وو[1] -

د حضرت علي کرم الله وجهه په خلافت کي د غوري کهول مشر شنسب اسلام قبول کړے ؤ څکه د خلافت له خوا د غور پر واکمني پاته شوے ؤ- له دۀ څخه وروسته يې زوی امير پولاد غوري د اُميه خاندان خلاف د ابو مسلم خراساني(۷۴۱ ز) مرستيال ؤ او د هغۀ ملا تړ ته يې د غور لښکر وَر ووست- د امير پولاد زوی **امير کروړ**

په کال ۷۵۶ زېږده کي د غور امیر ؤ- اُستاد عبدالحی حبیبي د پټې خزانې له مخي دے یو غښتلے پښتون او د ښې وینا خاوند ګڼي[1] - امیرکروړ په کال ۸۰۰ زېږده کي هرات ته نژدې د پوشینګ په جنګ کي د خدای په کار شو- تر دۀ وروسته یې زوی ناصر د غور امیر شو- پر غور، زمینداور، بست، والشان، مرو، هرات، جروم، تخار او زرنج د دغه کهول حکومت ؤ چي نور واکمنان یې امیر بنجي، امیر سوري، امیرمحمد سوري، امیر بوعلي، امیرعباس ، امیرمحمد دویم، قطب الدین حسن او عزالدین حسېن تېر شوي دي-

د ملك عزالدین اووه زامن وو- دۀ د سنجري دولت سره ښې اړیکي لرلې- د هېواد ولایتونه غور، خراسان، زابل، غزني، تخارستان او بامیان یې په خپلو اوو زامنو قطب الدین محمد، بهاؤالدین سام، شهاب الدین، شجاع الدین، علاء الدین (جهانسوز)، سلطان سېف الدین سوري، فخرالدین او سېف الدین محمد کنټرول کړي ؤ[1] - لکه چي د پښتنو المیه ده، د دغو وروڼو تر منځ هم اتفاق نه ؤ ځکه په خپلو کي سره جنګېدل-

قطب الدین محمد چاچي خپل زوړ افغاني لقب غرشاه په عربي اصطلاح ملك الجبال بدل کړے ؤ غزني ته ولاړ او له بهرام شاه غزنوي له لاسه ووژل شو- دغه پېښه دغوري او غزنوي خاندان تر منځ د شخړي بُنیاد شوه- بهاؤالدین سام خپل تخت علاء الدین ته ورپرېښو او پخپله یې د ورور د غچ اخستلوپه غرض پر غزني یرغل وکړ خوپه ګیلان کي ووژل شو- دۀ پرمېنه دوه زامن شمس الدین (غیاث الدین) محمد سام او شهاب الدین (معزالدین) محمد سام پرېښوول-

په دغو اوو ورونو کې **علاؤالدین غوري** (جهانسوز) د غور په وجیرستان کې واکمن ؤ- دے محمود غزنوي غوندي یو ډېر غښتلي واکمن ؤ- د خپل ورور بهاوالدین سام ترمړینې وروسته یې د غور او غرجستان جنګیالیان سره یو ځای کړل او د سلطان بهرام شاه غزنوي خلاف یې جنګ پېل کړ- دۀ غزنویان مات کړل او د غزنوي سلطنت پایتخت یې هم ونیو-

د محمود غزنوي تر مړینې وروسته غزنویانو او غوریانو په خپلو کې دنښتو او بیا د کورنیو شخړو له کبله افغانستان ته ډېر تاوان ورَساوۀ- کله چې په کال ۱۱۴۸کې علاوالدین غوري پر غزنې حمله وکړه نو یې ښار وسواځۀ او د غزنې تخت یې ړنګ کړ- د غزنې ښار د سوځنې او تباهۍ ننداره خلګو تر اوو ورځو کوله[۷]-
کله چې غوریانو واك ترلاسه کړ نو بیا افغانان د دې سیمې ستر قوت جوړشول او پر ټول هندوستان یې باچهي کوله چې اوس یې هم نړۍ په ښه خوله یادوي- خپله سِکه یې رایجه کړه او ورو ورو یې لوی **غوري دولت** (۱۱۴۸- ۱۲۱۴) جوړکړ- علاؤالدین غوري یوښه سیاستدان او غښتلے سړے ؤ- یو اړخ یې دا ؤ چې په تاریخ پوهـ او د علم قدردان ؤ، د شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو قدر یې کاوۀ خو بلې خوا ته غوړ ژبے اوجنګیالے هم ؤ[۲]-

له غزنې څخه وروسته علاؤالدین د زمینداور(کندهار) په خوا هڅه وکړه او تر بُست پورې ولاړ- په بُست کې چې هغه وخت څومره عمارتونه وو ټول یې وران کړل او بېرته غور ته را ستون شو- علاؤالدین ځان لره د سلطان لقب خپل کړ خو د غزنې خلګو دے د "جهان سوز" په نامه بللے دے- دۀ د سکندر اعظم غوندې ټوله دنیا فتح کول غوښت-

هغه وخت دخُراسان واك د سلطان سنجر سلجوقي په لاس کي ؤ- علاوالدين غوري د سنجر سلجوقي سره جنګ وکړ او د خوارزم دقراخانيانو سره يې هم نښتي کېدلې- وروسته علاؤالدين باميان، تخارستان، بدخشان، ګرم سېر، زميناداور، بُست، مرغاب او غرجستان په خپل سلطنت را ګډ کړل- هغهٔ باميان، تخارستان او بدخشان خپل ورور ملك فخرالدين ته ورکړل- له هغه وخته باميان يو ولايت دے- له ملك فخرالدين څخه وروسته يې زوی شمس الدين محمد د باميان امير شو- بيا ملك غياث الدين غوري او ترهغهٔ وروسته ملك بهاؤالدين غوري دباميان اميران شول- بهاؤالدين غوري يو ښه انسان ؤ او د دانشورانو قدر يې کاوهٔ- امام فخرالدين رازي د خپلي رسالې نوم"بهائيه" د دهٔ پرنامه ايښے ؤ- شيخ الاسلام جلال الدين وراسل د هغهٔ د وخت قاضي ؤ- کشمير، کاشغر، ترمذ او غور د بهاؤالدين غوري د حکومت برخي وې- دهٔ تر څوارلس (۱۴) کلونو پوري حکومت وکړ- زوی جلال الدين علي غوري يې اُوه کاله پرباميان حکومت وکړ- سلطان محمد خوارزم شاه د دهٔ تر وژني وروسته د باميان خزانه لوټ کړه-

علاؤالدين غوري په کال ۱۱۵۵ کي د خدای په کار شو- دے د غور اولنے ستر واکمن ؤ چا چي ټول افغان هېواد په سياسي توګه سره راغونډ کړ او له يوه مرکز(فېروز کوه) سره يې وتاړهٔ- له دهٔ څخه وروسته يې زوی سېف الدين غوري د افغانستان سلطان شو-

سلطان سېف الدين غوري د اسماعيليانو د وژلو امر ورکړ او د خراسان سلجوقي دولت يې هم وران کړ- دهٔ په کال ۱۱۶۲ کي پر مرغاب او غرجستان ور ودانګل- دے خپل سپه سالار ابوعباس د شا له خوا په نيزه وواههٔ او دومره يې ژوبل کړ چي وروسته له هماغه زخمه مړشو- وجه يې دا وه چي سېف الدين غوري مخکي د ابو

عباس ورور وَژلے ؤ- سیف الدین غوري هوشیارسړے ؤ، ترمرګ له مخه یې د خپل کاکا بهاؤالدین سام زامن شمس الدین (غیاث الدین) محمد سام او شهاب الدین (معزالدین) محمد سام د خپل پلار علاؤ الدین غوري له بندي خاني څخه را خوشي کړل- ابوعباس د غیاث الدین پر لاس بعیت وکړ خو غیاث الدین ورته بخښنه وَنه کړه بلکي قتل یې کړ-

**غیاث الدین غوري** چي تر باچهۍ لمخه د شمس الدین محمد په نامه مسوا ؤ او معزالدین چي تر تخت نشینني له مخه د شهاب الدین محمد په نامه بلل کېدۀ، دوه سَکه ورونه وو چي تر اُوو(۷) کلونو د علاؤالدین په بند کي بندیان وو- کله چي سیف الدین تر خپل مرګ له مخه دوی له بنده خلاص کړل نو په ۱۱۶۲ کي غیاث الدین د افغانستان باچا شو او شهاب الدین الدین یې دمحافظانو افسرکړ- وروسته د کندهار او غزني د فوج کمان هم سلطان غیاث الدین غوري شهاب الدین محمد ته په لاس ورکړ- دا دوو غوریانو ورونو په ګډه له منځنۍ آسیا څخه ترهندوستان پوري یو لوی غوري سلطنت جوړ کړ- مشر ورور غیاث الدین د منځنۍ آسیا په خوا خپل فتوحات پېل کړل او د دۀ کشر ورور شهاب الدین محمد غوري ورو ورو د محمود غزنوي په شان د هندوستان په خوا هڅه وکړه- بیا تر۴۲ کلونو پوري د دغو دوو غوري ورونو حکومت ؤ چي د غوري سلسلې نوم لا تر اوسه په تاریخ کي په روښان دے- دوی افغاني هېواد ته یو ځل بیا سیاسي وحدت ورکړ- غیاث الدین (عکس نمبر44) دخراسان ستر او یوازینے باچا ؤ چي ناصرالدین له بغداد څخه خپل سفیران ورته را لېږل او د دۀ سفیران هم بغداد ته استول کېدل- په نړۍ کي هغه وخت دوه ستر مسلمانان باچهان ووچي تر خپل منځ یې ښې اړیکي لرلې-



عکس نمبر44 سلطان غياث الدين غوري او شهاب الدين(معزالدين) محمد غوري

د دوولسمي پېړۍ په آخر کي يعني په کال ۱۱۶۸ کي شهاب الدين محمد غوري پر هندوستان حمله وکړه- هغهٔ لومړے لاهور فتح کړ او بيا د ډهلي پخوا ور وغزېد- پر تهوي راج چوهان راجه يې راوپرزاوهٔ او آخر يې قتل کړ- له دغه وخته غوريانو ته د خپل قوت اندازه وشوه او په ډېره هوشياري يې د خپل سلطنت په پراخېدو لاس پوري کړ- په کال ۱۱۷۳ کي غزني، په ۱۱۷۵ کي هرات او بلخ، په ۱۱۷۸ کي ملتان ، په ۱۱۷۹ کي پېښور، په ۱۱۸۱ کي لاهور، او په ۱۱۸۹ کي ډيلے فتح شو- داټول ښارونه وروسته د غوري سلطنت برخي شوې-

په ۱۱۹۲ کي شهاب الدين محمد غوري پر هندوستان هغه لويه تاريخي فتح حاصله کړه کومي چي وروسته په هندوستان کي د ډېري مودې دپاره د اسلامي حکومت بنيادکښېښؤ چي بيا تر کال ۱۸۵۷ پوري قايم ؤ[۴]- شهاب الدين محمد غوري په ۱۱۹۳ زېږده کي ټول قطبي هندوستان فتح کړ او تر بنګال پوري ولاړ- دهٔ ډيلے دخپل غوري سلطنت پايتخت کړ- تر يونيم سلو کلونو پوري بيا هندوستان

ټول د افغانو تر واك لاندي ؤ- د غوري سلطنت نقشه په عکس نمبر45 کي ښکاره ده-

بلي خواته غوريانو په کال ۱۱۹۹ زېږده کي نيشاپور او په ۱۲۰۰ کي مرو هم فتح کړ چي وروسته د غوري سلطنت برخي وګرځېدې- غياث الدين د ۶۳ کالو په عمر کي په ۱۲۰۲ زېږده




عکس نمبر45 د غوري سلطنت نقشه

کي د هرات په ښار کي د خدای په کارشو او په همدغه ښار کي ښخ دے- د هرات جامع جمات او د غور د جام څلے د غوري مدنيت پاته نخښي دي- دغوريانو په وخت کي ډېر پښتانه هندوستان ته َشوه شول چي نسلونه يې لا تر اوسه په هندوستان کي آباد دي-

شهاب الدين **محمد غوري** هم د خپل ورور تر مړيني وروسته په آسيا کي ډېر لوی سلطنت ساتلے ؤ- تر ۱۲۰۵ زېږدي پوري

محمد غوري تر خلیجِ بنګال پورې ورسېدے- دۀ د خپل سلطنت وېش د ګنګا تر غاړې ورساؤ- دۀ هندوستان د اسلام په نور روښان کړ- همدارنګه کابلستان، سیستان، غرجستان، مکران، تخارستان، ګردېز او ګرګان ټول په غوري سلطنت را ګډ کړل شول- دا وخت د غوري سلطنت سرحدونه له "جمنا" څخه تر "حزر" سمندرګې پورې او بله خوا له "جیحون" څخه تر "بلوچیستان" پورې غزېدلي وو- دے په کال ۱۲۰۶ زېږده کې هغه وخت شهید کړل شو کله چې یې په پنجاب کې پورته شوے شورش ختم کړ او د خپل کور (غور) په خوا را ستون شو- د شهاب الدین له شهادته څخه وروسته د دۀ لوی سلطنت پر وړو وړو سیمه واکیو ووېشل شو-

په غوري دور کې د غزنویانو د دورمدنیت بشپړ شو- د فارسي ژبې ادبیات له افغانستان څخه ډیلي ته مُنتقِل شول- د عربي ژبې دیني علوم هم هندوستان ته ورداخل شول- غوریانو هندوستان ته ډېرتهذیبي قدرونه ورکړل خو له هندوستانه یې څه یونه وړل- همدغه د غوریانو او غزنویانو فرق ؤ- د پښتو ژبې ادبیاتوهم په دغه دور کې پرمختګ وکړ- د پښتو زوړ شاعر ښکاریندوی هم په دغه دور کې تېر شوے دے- امام فخرالدین رازي، نظامي، قاضي منهاج السراج جوزجاني، علي باخرزي، احمد مېداني او نور ډېر لیکوال په دغه وخت کې روزل شوي ؤ-

قطب الدین ایبك لومړے د شهاب الدین محمد غوري مرَئیے (غلام) ؤ، ورو ورو د دۀ په حکمدارانو کې شامل شو- دے د دوولسمي عیسوي پېړۍ په آخر کې د غور والي ؤ- د شهاب الدین غوري د شهادت په وخت دے د لاهور حاکم ؤ- دۀ پر خپل خُسر تاج الدین یلدوز چې له غزني څخه تر سیند پورې حاکم ؤ حمله وکړه-

غزنے يې ترې ونيو او ترڅلوېښتو ورځو يې ورباندي حکومت وکړ- وروسته يې غزنے بېرته پرېښوو او په ۱۲۰۶ عيسوي کال کي **د ډيلي پر سلطنت** کښېنوست- هغۀ دعمارتونو شوق هم درلود ځکه يې ډيلي ته نژدې قطب مينار جوړ کړ چي اوس هم د يوۀ يادګار په توګه ولاړ دے- دا مينار د قطب الدين ځايناست **التمش** (۱۲۱۱-۱۲۳۶) مکمل کړ- د التمش يوه لور رضيه سلطانه وه چي په غلام خاندان کي ډېره غښتلې اوقابله ښځه وه- کله چي پر پنجاب مغلو حملې شروع کړې نو د غلام خاندان دغه آخري مېرمن رضيه سلطانه يې هم له منځه يووړه- له دې څخه وروسته تر پنځو کلونو د اقتدار جګړو دوام درلود- مغلو لاس وهنه نوره هم زياته کړه خو "بلبن" آخر دوی بېرته له پنجانه وشړل- که څه هم په کال ۱۲۴۶ کي خلګو د التمش زوی نصرالدين پر تخت کښېناو، خو اصل واك بيا هم د بلبن په لاس کي ؤ- په کال ۱۲۶۶ کي بلبن په رسمي توګه باچا شو او ترکال ۱۲۸۶ زېږدي پوري يې واك وَسات- له بلبن څخه وروسته کېقباد تر څلورو کلونو پوري سلطان ؤ-

د هندوستان په تاريخ کي د غلجيانو اهميت هم د محمد غوري په دور کي ډېر زيات شو- پښتنو د تُرکي نسل د غلامانو په مقابله کي د هند د حکمرانۍ حق د ځان ګاڼۀ- بختيارغلجے چي د محمد غوري له خوا د غلجيانو په ټبرني مرکز غزني کي د عسکرو د برتۍ افسر ؤ، يو غښتلے سړے منل شوے ؤ- ددۀ اصل نوم اختيارالدين ښوول شوے دے- دۀ وروسته له ځان سره ډېر غلجيان هندوستان ته بوتلل او په اودهـ کي يې جاګيرجوړکړ- بختيار غلجي په لږ وخت کي د بِهار او **بنګال** ټوله علاقه فتح کړه او په ۱۲۰۲ کي يې هلته د يوۀ نوي سلطنت بنسټ کښېښو چي د ډيلي له سلطنته بېل ؤ- درې کاله وروسته بختيار غلجے د خپل اميرعلي

مردان غلجي له لاسه ووژل شو خو د غدارۍ له کبله امير عِوض غلجي علي مردان هم له منځه يووړ- عِوض په بنګال کې د غياث الدين په نامه د دغه اسلامي حکومت مشر شو- په کال ۱۲۲۶ کې د ډيلي سُلطان التمش پر بنګال يرغل وکړ او د غلجيانو دغه لومړی باچهي يې ورړنګه کړه- د ډيلي د حکمرانانو فوجي قوت هم پښتانه وو- د بلبن په دور کې جلال الدين غلجے د فوج نايب سالار ؤ او نور ډېر پښتانه هم پر ښو فوجي عهدو وو- د کېقباد په وخت کې د تُرکي نسل حکمرانانو د پښتنو فوجي افسرانو يو فهرست تيارکړ چې دوی حکومت لره امکاني خطره ګڼل- په دغه فهرست کې لومړے نوم د جلال الدين غلجي ؤ-

د ترکي نسل د غلام خاندان او پښتنو تر منځ جګړې پېل شوې چې نتيجه يې د پښتنو په حق کې شوه- جلال الدين غلجے د فېروز شاه په لقب د ډيلي باچا شو- ددۀ په وخت کې مغلو پر هندوستان ډيري حملې وکړې خو څه يې حاصل نه کړل بلکې له ماتو سره مخامخ شول-

له۱۲۹۰ عيسوي کال څخه تر۱۳۲۰ پوري پر ډيلي د **غلجيانو** حکومت ؤ- جلال الدين غلجے په ۱۲۹۰ کې سلطان شو چې په هره توګه يو معقول سړے ؤ- دے رحم دل انسان ؤ او د خپل وراره علاؤالدين غلجي سره يې ډېره مينه لرله- دغه نرمي په هغه وخت کې د باچهانو کمزوري ګڼله کېده ځکه د اوِيا کالو په عمر د علاوالدين له لاسه ووژل شو-

علاوالدين غلجی(عکس نمبر 46) د سلطان جلال الدين غلجي وراړۀ او د دۀ زوم هم ؤ- دے په ډيلي کې د غلجي خاندان دويم سلطان ؤ چې په کال ۱۲۹۶ کې يې د خپل خسر تر وژلو وروسته واك ترلاسه کړ- په هغه وخت کې مغل او پښتانه دوه لوی قوتونه



عکس نمبر46 سلطان علاءالدین غلجے

Pukhto.Net

وو- علاؤالدین غلجے دمغلو دښمن ؤ څکه یې تقریباً دېرش زره مغل ووژل- د علاؤالدین او د دۀ د زوی په دور کې د ملك انتظام ښه ؤ- خلګو په ورین تندي ټېکسونه ورکول او دښارونو سړکونه په ښه حالت کې وو- علاوالدین که څه هم پخپله اُمي سړے ؤ خو د ډیلي د کوتوال علاوالملك مشورو ته یې ډېر اهمِیَت ورکاوۀ، څکه یې د سکندر په شان د ټولي نړۍ د نیولو خواهش پرېښوو-

علاؤالدین غلجي خپل فوج ډېر مضبوط کړ- دۀ جنوبي هند، ګجرات او د هند نوري علاقې فتح کړې- د دۀ سپه سالار ملك کافور دکن هم فتح کړ- چتوړ په عسکري توګه د هندوستان ترټولو مضبوطه علاقه وه خو سلطان علاؤالدین غلجي په کال ۱۳۰۳ کې

په آساني فتح کړه- د بېټنو د يوې پښې په توګه د غلجيانو ټبرنۍ ډلبندي لاندي په اتم لښتليك کي څرګنده ده-




اتم لښتليك

علاؤالدين غلجی يو ښه مُنتظم ؤ- د هغۀ په وخت کي په هېواد کي د ټېکسونو خورا غوره نظام ؤ- دے د پخې ارادے مالك او يو ډېر غښتلے حکمران ؤ ځکه يې ورو ورو ترکال۱۳۱۱ پوري تقريباً ټول هند فتح کړ- په هندوستان کي تر ټولو لوی سلطنت هم د دۀ ؤ- دۀ چي څومره ځمکه تر خپل حکومتي کنټرول لاندي ساتلې وه هيڅکله د بل باچا تر واك لاندي نه وه راغلې- د دۀ د سلطنت دغه نقشه (عکس نمبر 47) په هندوستان کي د پښتنو د اِقتدار او تېر مهال د شان او عظمت ثبوت دے-

کومي علاقې چي د دۀ تر واك لاندي نه وې هغو هم ټېکس ته




عکس نمبر47 د سلطان علاءالدين غلجي د سلطنت نقشه

غاړه اېښې وه- علاؤالدين غلجي د اِستعمال د ټولو شيانو قيمتونه کنټرول او په هېواد کي يې د ګرانۍ مخنيوے وکړ- دۀ ډېره غله د هېواد په ګودامونو کي خوندي ساتله چي د ضرورت په وختونو کي د خلګو په کار ورشي- علاؤالدين غلجے په کال ۱۳۱۶ زيږده کي له دې جهانه رُخصت شو- له بده مرغه د دۀ ترمړيني وروسته د غلجيانوکورنۍ جګړې اوږدې شوۍ څکه واك د غياث الدين تغلق په لاس ورغے-

په کال۱۳۲۱ کي **تغلق خاندان** د ډيلي تخت تر لاسه کړ او واك يې

تر کال ۱۳۹۸ پوري دوام درلود- د دغه خاندان د دويم حکمران سلطان محمد بن تغلق (۱۳۲۵-۱۳۵۱) ذکر لازم دے چي د خپل وخت يو عجوبه غونډي سړے ؤ- خپل پلار يې وواژۀ او د ډيلي پر تخت کښېنوست- دے يو بهادر او جابر باچا ؤ- د پلار په باچهۍ کي يې فلسفه، منطق، رياضي، مجسيمه سازي، سائنس او طب زده کړي وو- په عربي او فارسي ژبو پوهـ ؤ ځکه يې مطالعه هم لرله- ښائي چي په مغزو کي يې څه خلل ؤ- ايران او چين يې فتح کول غوښت خو ممکن نه ؤ، ځکه يې خروښ تر خپلو خلګو وايست- د خپل پايتخت ډيلي د ړنګولو حکم يې ورکړ- کورونه يې ټول له خلګو څخه په بيه واخستل او دوی ته يې وَ دېونګري ته د کوچ کولو حکم ورکړ- وجه يې دا ښووله شوې ده چي د دۀ پر پاليسۍ د ډيلي ښاروالو په پټه په اشتهارونو کي تنقيد کاوۀ- کله چي ښار خالي شو نو د دۀ عسکرو د ښار په ړنګولو لاس پوري کړ خو دوه نفره چي يو ګوډ ؤ او بل ړوند، لا تر دغه وخته په ښار کي وو چي کوچ شوي نه وو- عسکرو دوی محمد تغلق ته وروَستل چي دغه کسان لا دلې دي- د تغلق په حکم ګوډ په منجنيق والوزول شو او ړوند يې د آس په شا په پښه تَړلے تر دېونګري کشاوۀ، چي مزل ته يې يوازي يوه پښه ورَسول شوه، نور ټول پر لار نوکے نوکے په خاشو کي پاته شو- ډيلے يې وران کړ او خپل پايتخت يې دېونګري (چي اوس په رياست حېدرآباد کي دولت آباد بلل کيږي) ته يووړ- کله يې چي خښم وخوت نو پښېمانه ؤ، بېرته يې د ډيلي د جوړولو اِراده وکړه، مګر اوبه تر ورخ اوښتي وې ځکه هيڅ ګونه هم نه شو کېدای چي ښار دي جوړ کړي- ابن بطوطه په خپله سفرنامه کي ليکي[۸] چي دا ښار(ډيلے) حقيقتاً يوه ويرانه ښکارېده- سلطان محمد بن تغلق تر

پنځوويشتو کلونو پوري د هند حکمران ؤ- د دۀ د ناوړه فېصلو نتيجه داشوه چي په کال۱۳۴۰ کي يې زوال شروع شو- د سلطنت لويي لويي صوبې ترې جلاکېدې لګيا وې خوسلطان محمد بن تغلق بيا هم تر ۱۳۵۱ پوري حکمران پاته شو- له دۀ څخه وروسته فېروز تر ۱۳۸۸ پوري د هندوستان حکمران ؤ- په ۱۴۱۴ کي **سيدخاندان** د ډيلي تخت سنبال کړ او تر کال ۱۴۵۱ پوري يې وساتۀ-

په کال ۱۴۵۱ زېږده کي **لوديان** دهندوستان د تخت مالکان شول- دوی له سيد خاندان څخه واك په خپل لاس کي واخست او تر ۱۵۲۶ پوري يې حکومت کاوۀ- د لوديانو دا دويم دور ؤ چي واکمني يې تر لاسه کړه- لکه وړاندي چي يې ذکر وشو د لوديانو اوّل حکومت د افغانستان پر ختيځو څنډو تر ملتان پوري ؤ- د ملتان لوديانو د عيسوي کال ۱۰۰۰ په خواوشا کي خپلواکي ساتلې وه- د غوريانو له سلطنت څخه ورو ورو واړه واړه رياستونه بېلېدل خو تر دوو سوو کلونو پوري نور هم د افغانانو حکومت پرهندوستان باندي دوام درلود-

پنډت جواهرلال نهرو[٩] په خپل کتاب" پرعالمي تاريخ يو نظر" کي ليکي چي پرهند ټولي حملې افغاني مسلمانانو وکړې په کومو کي چي د عربو، ايرانيانو او دمغربي آ سيا د خلګو هيڅ لاس نه ؤ- که څه هم افغانان په تهذيبي توګه تر هِنديانو شاته او په تعداد تر هنديانو بېخي لږ وو خو دوی ډېر غښتلي او د ايرادې کلك خلګ وو ځکه يې هندوستان غوندي يولوی هېواد هم ونيو- افغانان هغه وخت دومره منظم وو چي هندوستان يې تر ډېره وخته تر خپل واك لاندي ساتلے ؤ- د ډيلي دسلطنت افغاني مسلمانان اوّل اوّل خو ډېر سخت او جبر کوونکي وو ولي چي دوی يوۀ نوي ملك ته را نَنَوتي وو اوهره

خوا ته يې دښمنان پراته وو- له بغاوت څخه هم د دوی وېره کېده- افغانانو شپږ سوه کاله پر هندوستان باچهي وکړه- غوريان، لوديان، او سوريان ټوله د يوۀ غوري ملي غورځنګ کړئ دي او د هندوستان په تاريخ کي "د ډيلي سلاطين" بلل کيږي-

پنډت جواهر لال نهرو مخته ليکي چي کله کله د هنديانو خونرېزي هم افغانانو کوله خو د هغوی غرض مفتوح قام تر خپل فشار لاندي ساتل ؤ، نه چي د مذهبي تعصب په وجه- ورو ورو د افغانانو رَويه نرمه شوه او د هغوی لوی تعداد د هندوستانيانو په توګه ژوند پېل کړ- د ډيلي قطب مينار او د جام څلي د هغه وخت نخښي دي- د خوارزم شاه دا خواهش چي له عراق څخه تر افغانستان پوري يو اسلامي حکومت جوړ کړي، د غوري دولت خرابولو پيلامه وګرځېده او بيا دچنګېز د راتګ سره د غوريانو دور ښخي پای ته ورسېد- د اروانښاد عبدالشکوررشاد لکلے کتاب "لودي پښتانۀ"[10] په دی لړ کي، د ستاينې وړ دے-

غور د نړی په تاريخ کي د پښتنو لومړے ټاټوبے دے چيري چي پښتانۀ ډېر په خوا اوسېدلي دي او يو اوږد مهال يې د غور په غرونو کي استوګه کړېده- هماغه مهال دوی د سلېمان په غرونوکي هم اوسېدل خو دا په اصل کي د پښتنو دوَيم ټاټوبے دے[11]- غوري حُکمرانان د غور اوسېدونکي وو چي د افغانستان په تاريخ کي يې غوره مقام درلود، ورسره ورسره يې پر هندوستان هم تر اوږدې مودې حکومت کاوۀ- په ديارلسمه عيسوي پېړی کي د چنګېز د راتګ سره د دوی دور ختم شو او افغاني تاريخ تر ټولو لوی زيان وليد ځکه دغه دور د توري پېړی په نامه هم بلل شوے دے -

# اخځليك


۱ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۲ - غبارغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷ -

۳ - فېرئير جې پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنګ ميل، لاهور ، ۲۰۰۲ -

۴ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور ، ۱۹۶۳ -

۵ - ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، ( Five epochs of civilizatin) حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵-

۶ - آرم سترانګ کيرن ، مقدس جنګونه (Holy wars) ترجمه محمد احسن بټ ، لاهور ، ۲۰۰۳-

۷ - زيار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱-

۸ - ابن بطو طه ، سفرنامه ، ترجمه ډاکټر محمد علي ، تهران، ۱۳۳۸ هجري-

۹ - نهرو جواهر لعل ، پر عالمي تاريخ يو نظر ( Glimpses of the world history) تخليقات لاهور ، ۱۹۹۲ -

۱۰ - رشاد عبدالشکور، لودي پښتانه ، کابل ، ۱۱۵۶ هجري

۱۱ - الفنسټن مونټ سټوارټ، د کابل سلطنت بيان، لندن ، ۱۸۱۴ -

# ۱۵

# پښتانه او چنګېزي يرغل

## ( له ديارلسمي تر شپاړسمي پېړۍ)

ديارلسمه عيسوي پېړۍ د افغانانو بلکي د ټولو مسلمانانو په تاريخ کي د يوې توري پېړۍ په توګه بلل کيږي- چنګېز په نړۍ کي دومره بربادۍ وکړې چي تاريخ تر دې لمخه نه وې ليدلي- چنګېز، هلاکو او تر دوی وروسته ګورګانيانو چي پر افغاني اولس کوم ظلمونه وکړل هغه يو زوړ تور او تېر داستان دے خو يادونه يې دومره ترخه دي چي پښتانه نن هم"مغل" دښمن او"دښمن" مغل بولي- د جرمني باچا فريډرك دوَيم د انګلستان باچا ته ليکلي ؤ چي "مُغل د خدای يو لوی عذاب دے چي پر نصراني دُنيا د عيسايانو د ګناهونو له کبله نازل شوے دے"- هغه وخت خلګو داهم وئيل چي دغه جدال دے او قيامت همدغه دے چي پيل شو[1] -

مُغل په مُغلستان(منګوليا)کي اوسېدل- د دوی ژوند هم قبائلي ژوند ؤ- تاتار، ارلاد، قنقرات، جلائر، اويرات، نايمن او

کرائيت د مغلو غټي قبيلې وې- بورجيقين د مغلو يوه وړه قبيله وه خو د چنګېز تر ير غلونو وروسته ډېره مشهوره شوه ولي چي چنګېز له همدغي قبيلې څخه ؤ- مغل کوچيان وو او د تُرکانو په شان ښه غشي ويشتونکي هم وو- د هغوی لويه وسله بارود وو چي اور به يې په لګاوۀ- دا ټېکنالوژي مغلو له چين څخه موندلې وه او همدغه يې د فوجي برترۍ سوَب ؤ-

**چنګېز** په کال ۱۱۵۵ زېږده کي په منګوليا کي پېدا شوے ؤ- د دۀ اصلي نوم تموچين او د بابا نوم يې يسوګا ؤ- په کُچنيوالي يتيم شوے ؤ او د ديارلسو کلونو په عمر کي يې د مغلو د لوی مجلس "کورل تائي" رکنيت حاصل کړے ؤ- کورل تائي چنګېز ته تقريباً د يو پنځوس (۵۱) کالو په عمر د ګګن (خان اعظم) خطاب ور کړے ؤ[۱] -

د چنګېز د را اوچتېدو په وخت افغانستان او ايران د خوارزم تر واك لاندي وو- د سيند په حوزه (سيند او ملتان) کي د ناصرالدين غوري حکومت ؤ اوپه منځني هندکي واك د سلطان شمس الدين التمش په لاس کي ؤ- په وَړه آسيا (تُرکي) کي صليبي جنګونو دوام درلود[۲] ، په کومو کي چي دنړۍغټې غټې قوتونه واړه کمزوري شوي وو- په کال ۱۲۰۴ زېږده کي لاطيني مجاهدينوله يونانيانو څخه قسطنطنيه نيولې وه چي وروسته بيا په۱۲۶۱کي يونانيانو بېرته لاس ته راوړه-

هغه مهال مغلو په آسيا او اوروپا کي ډيري ورانۍ وکړې- اوّل هغوی پر"پيکن" حمله وکړه او"کين" سلطنت يې تباه کړ- بيا يې دغرب په خوا هڅه وکړه او هغه ټول سلطنتونه يې ړنګ کړل کوم چي د دوی په لارکي وو- ورو ورو مغل تر روسيه ورسېدل- روس يې تباه

کړ او د بغداد په خوا راوګرزېدل- د بغداد تر تباهۍ وروسته نور پرمخ ولاړل، پولېنډ او منځنۍ يورپ يې هم بربادکړل- تقريباً پنځوس زره پَوَنده عثماني ترکان د چنګېز له دغه يرغله بچ شول چي وروسته يې عثماني سلطنت جوړ کړ-

کله چي چنګېز په آسيا او يورپ کي تباهي جوړه کړې وه هماغه مهال په ايران عراق او افغانستان کي د خوارزم (خيوه) حکومت ؤ چي پايتخت يې سمرقند ؤ- دچنګېز دا اِراده نه وه چي پرخوارزم شاه حمله وکړي ولي چي د سيد بهادر شاه ظفر[۳] په قول هغه څه موده وړاندي د مسلمان سوداګرانو په ذريعه خوارزم شاه ته دا پېغام رالېږلے ؤ چي " زه تا ته مُبارکي درکوم، ستا په قوت، شان او شوکت پوره پوره خبر يم او ستا د سلطنت وسعت مي هم په نظر کي دے ځکه تا ترخپل عزيز زوی کم نه ګڼم- تا ته دي داهم معلومه وي چي ما چين فتح کړے دے او ډېر تُرکي قبايل مي هم اېل کړي دي- زما ملك د سپايانو يو کېمپ او د سپينو زرو يو درنګ دے- ماته د نورو ملکونو هيڅ ضرورت نشته ځکه دا غوره ګڼم چي زما او ستا د هېوادوالو ترمنځ تجارتي اړيکي زياتي شي- همدغه به د دواړو په ګټه وي"- له بده مرغه پېښه دا وشوه چي د چنګېز د يوې قافلې سره مله وګړي د خوارزم شاه په سلطنت کي ووژل شول- هغهٔ د خپل سفير په مشرۍ کي څو کسان د خواشني څرګندوني په نيت خوارزم شاه ته ولېږل- خوارزم شاه د چنګېز دغه سفير قتل کړ او د ورسره کسانو بِيري يې وسوځلې- دارنګه يې دغه لوی عذاب ته پخپله بلنه ورکړه-

په کال ۱۲۱۹ زېږده کي چنګېز حمله وکړه اوټول ښارونه يې برباد کړل- سمرقند، بخارا، بلخ او هرات واړه تباه شول[۴]- بلخ چي

پر افغاني سيمه د غزنويانو او غوريانو په وخت کي يو لوی تجارتي ښار ؤ، کنډوالې شو- ماشومان ښځي او نرينه يې ټول قتل شول- دابنار په کلونو کنډوالې ؤ خو په کال۱۴۸۱کي تېمور بېرته د جوړَوَلو کوښښ وکړ- چنګېز جوزجان، فارياب، ميمنه او مرغاب هم وران کړل او "مرو" ته ورسېد- هغه تالقان هم په ۱۲۲۲ کي خراب کړ- افغانانو ټينګ مدافعت وکړخو داعذاب د ټينګېدو نه ؤ- دوی په نيشاپور، هرات ، پروان او سيستان کي د مغلو مقابلې وکړې مګر چنګېزي آفت په دې شان پر مخ روان ؤ چي هر څه يې له منځه يووړل- د شاه خوارزم زوی جلال الدين هم د چنګېز ټينګه مقابله وکړه-

تر مغلو وړاندي که څه هم افغانان د خوارزم شاه تر اثر لاندي وو خو د دوی کورواکي او ټبرواکي آزادي وې- دوی خپل واك درلود او ځان لره يې لښکر هم ساتلے ؤ- هېرالډ لېمب[1] په خپل کتاب "چنګېز خان" کي پر ۱۸۰ يمه پاڼه ليکي چي:

"Hirat and other cities rose against the conquerors. Jalalud-Din was mastering an army in the east ....What had happened was that Afghan army joined Jalal ud Din in this crisis, doubling his strength. After that the Turks and Afghans had defeated the Mangol Orkhon,driving his men in to the mountans .....The Kharesmian prince did not prove himself as able in victory as he had been sturdy in defeat. He had his moment of exultation when his men tortured to death the Mongol prisoners and divided up the captured horses and weapons; but the Afghans quarrelled with his officers and left him"...............................................

"هرات او نور ښارونه د فاتح مغلو خلاف را پورته شول- جلال الدين (خوارزم شاه) په ختيځ کي يو لوی فوج ترتيب کاوۀ لګياؤ ۰۰۰ پېښه دا وشوه چي افغان فوج هم په د غه بد وخت کي د جلال الدين

سره مل شو او د هغهٔ قوت یې دغومره نور کړ- ترکانو او افغانانو په ګډه مغل ارخون ته ماتې ورکړه او د هغهٔ جنګیالیان یې غرونو ته وتښتول... خوارزم شاهزاده دفتحي په وخت دومره هوشیار نه وَخوت لکه چي هغهٔ د ماتي په حال کي پېژندل شوے ؤ- هغهٔ لره دغه وخت د فخر ؤ چي د دهٔ جنګیالیانو مغل سپایان ځُکلول بیا یې وژل لګیاؤ اوپه جنګ کي لاس ته راغلي آسان او وسله یې په خپلوکي وېشله- څکه د افغان جنګیالیانو د دهٔ د افسرانو سره ښښته وشوه او تري بېل شول"-

دا یو لوی تاریخي حقیقت دے چي افغاني فوج په خپل همت چنګېز ته هم ماتې ورکړې وه خو دخوارزم شاه له غلطی څخه وروسته د هغهٔ د عسکرو له افغانانو سره د ښښتو له کبله فتح بېرته




<u>عکس نمبر48</u> د چنګېز خان د سلطنت نقشه

په شکست بَدله شوه- آخر جلال الدين (خوارزم شاه) د چنګېز تر فشارلاندي را شاته شو او تر سينده يې ځان را وَرَساؤ- بيا يې په سيند کي را ټوپ وهل اوتر اوبو راواوښت- وروسته يې په ډيلي کي پناه واخسته- عکس نمبر48 په کال ۱۲۲۷ کي د۷۲ کلونو په عمر کي د چنګېزدمړيني په وخت د دهٔ د سلطنت پراختيا څرګندوي-

د چنګېز تر مړيني وروسته د هغهٔ زوی اوغتائي خان اعظم (ګګن) شو- د دهٔ لوی سپه سالار سابوتئي ؤ چا چي پر يورپ دويمه حمله وکړه- په کال ۱۲۴۱ کي هغهٔ د جرمني او پولېنډ ګډ فوج ته شکست ورکړ- په ۱۲۴۲ کي اوغتائي هم مړ شو او د بل ګګن ټاکنه پېچيده شوه- د يورپ خوش قسمتي وه چي دا پېښه وشوه ځکه مغل فوج شاته راغے او دوی غوړونه خلاص کړل-

د غور واکمن که څه هماغه وخت پر ټبرواکيو او سيمه واکيو وېشل شوي وو خو بيا يې هم څه نا څه خپلواکي ساتلې وه- له غوري خاندان څخه چي کوم خلګ د چنګېز تر بري پوري په غور او خيسار کي واکمن پاته وو، په هغوی کي **د ملك کرت کهول**[۵] ډېر مهم دے- په هرات کي تېر شوي د کرت د کهول مشهوره وګړي تاج الدين عثمان مرغني، عزيزالدين عمر مرغني، ابوبکر کرت، رکن الدين خيسار، ملك شمس الدين محمد مهين، ملك رکن الدين محمد (چي د ملك شمس الدين کهين په نامه مسوا ؤ)، ملك فخرالدين، ملك غياث الدين محمد، ملك شمس الدين دويم، ملك حافظ، ملك معزالدين ، ملك باقر او پير علي وو-

د کرت کهول د چنګېز په وخت کي د هغهٔ د آستازو سره د ښه سلوك له کبله بېرته پر خپله خاوره واکمن پاته شو- په دغو خلګوکي ملك شمس الدين محمد بن ابوبکر کرت په کال ۱۲۴۵

زېږده کي افغاني استقلال وَسات او يو حکومت يې جوړ کړ چي د "ملوك کرت" په نامه يې تر ۱۳۸۱ پوري دوام درلود- ملك شمس الدين وروسته د منګو له خوا د ټول اوسني افغانستان حکمران وټاکل شو- د افغان نوم ډېر زوړدے خود **افغانستان** نوم په همدغه وخت کي د تاريخ پر پاڼو ښکاره شوے دے- دغه وخت د هېواد په بېلا بېلو څنډو کي بېلا بېلي ټبرواکۍ او سيمه واکۍ وې چي ځيني دکرت کهول ته تسليم شوې او ځينو ورته انکار وکړ خو وروسته بيا په زور د دوی تر واك لاندي راوستل شوې- په دغو سيمه واکيو کي د ملك شهنشاه پايتخت مستنګ ؤ چي د مغلو ماليه يې منلې وه- د دۀ زوی ملك بهرام شاه ؤ او زوم يې ملك ميرانشاه ياد شوے دے- کندهار ته نژدې په "تيري" کي واك د ملك تاج الدين هرموز په لاس کي ؤ- د تيري د حصار اميرالمار افغان ؤ چي يو ډېر کلك سړے تېر شوے دے او د چنګېز اطاعت ته يې غاړه نه وه اېښې- د مستنګ تر نيولو وروسته شمس الدين مهين د تيري پر حصار هم حمله وکړه او دغه غښتلے اميرالمار افغان په همدغه حمله کي ووژل شو- په زاول کي حسام الدين جاول واکمن ؤ چي شمس الدين ته تسليم شوے ؤ ځکه د تيري حصار هم ور وسپارل شو- په دغو کورنيو جګړو کي د شمس الدين مهين له لاسه شُعېب په کهيرا کي او سيندان افغان په دوکۍ کي ووژل شول- پهلوان جلم، احمد تورے، مهتر کيورا، مهتر سيورا، رانا کنجر اوجمال الدين هماغه مهال د افغاني سيمه واکيو واکمن ياد شوي دي-

ملك شمس الدين محمد بن ابوبکر په کال ۱۲۷۷ کي مړشو او د دۀ زوی ملك رکن الدين (چي د ملك شمس الدين کهين په نامه يادشوے دے) باچا شو- هغۀ هرات او کندهار هم په خپل دولت را ګډ کړل او ورو ورو د سيند تر غاړي يو خپلواك باچا وګڼل شو- بيا

د کهين زوی ملك فخرالدين د هغهٔ په ژوند کي د دولت مشر شو- دا شان غياث الدين ، معزالدين او پيرعلي (غياث الدين دويم) د ملوك کرت وروستني مشران وو- د کرت کهول پايتخت (پلازمينه) هرات ؤ- دغو خلګو له مغلو سره ډېر ښه مراسم درلودل- د چنګېز په فتوحاتو کي هم د پښتنو مېړنو لوی لاس ؤ- دوی د هغهٔ په عسکري قوّت کي لويه برخه لرله- د چنګېز سره د سولي لاره خپلَول د کرت کهول سياسي مجبوري او د هغه وخت تقاضا وه- کرت کورنۍ په چنګېزي تاړاك کي هم د وران وطن سيمه واکۍ سره يوځای کړې او سياسي يو والے يې تر لاسه کړ- په دغه کورنۍ کي ډېر عِلم دوسته کسان تېر شوي دي- د سېفي هروي تاريخِ هرات هم په دغه وخت کي ليکل شوے دے- کله چي تېمور هرات ونيو نو د کرت خاندان آخري واکمن غياث الدين او د هغهٔ زوی يې دواړه ماوراء النهر ته وشړل- له دې سره د دغه کهول واك هم پای ته ورسېد-

کله چي څوك په ظلم لاس پوري کړي نو بيا الله تعالیٰ هم يو نه يو عذاب وروباندي نازل کړي- دا عذاب کله د چنګېز په شکل کي وي کله د هلاکو په رنګ کي او کله د تېمور په صورت- کله چي منګوخان په ۱۲۵۲ زېږده کي ګګن وټاکل شو هغه وخت يې ورور هلاکوخان د ايران والي(ګورنر) ؤ- هغهٔ د بغداد د آخري عباسي خليفه معتصم بالله څخه پرځهٔ شي خفه شو ځکه يې په کال ۱۲۵۸ کي پر بغداد حمله وکړه- په دغه وخت کي شيعه سني فساد هم په بغداد کي دوام درلود- وزيراعظم ابن عقليمي دبغداد خليفه په خپلو لاسو کي اخستے ؤ- ابن عقليمي هلاکو ته د حملې اشاره ورکړه او دخليفه مصالحانه پاليسي يې ورناکاره کړه- له حملې څخه وروسته

په څلوېښتو ورځوکي دننه هلاکو بغداد فتح کړ، پنځلس لکه (۱۵۰۰۰۰۰) کسان يې ووژل او د ښار کِتابتونونه يې ټول وسوځل- خليفه يې دسترخوان ته راوغوښت او د دهٔ له محله لوټ شوي سره زر يې ورته کښېښوول چي اوس يې نو خوره- خليفه ورته وئېل چي "دا خو څه د خوړلو شے نه دے"- جواب ورته ورکړل شو چي "بيا دي نو څه له جمع کړي وو؟ چي زما د مخنيوي د پاره دي لاهم په لښکرو خرڅ نه کړل"- تر دې وروسته هلاکو خليفه او دهغهٔ زامن په يوهٔ تلتك کي ونغښتل، و يې ګنډل او بيا يې آسان وربإندي وځغلول ، ولي چي دهٔ ته وئېل شوي وٚ چي د خليفه سپېځلې وينه که پر ځمکه تويه شي نو کېداى شي چي خداى په قهر شي او يو لوى عذاب نازل کړي- له دې سره د عباسي خاندان خلافت هم پاى ته ورسېد- وروسته بيا عرب د سلطنت عثمانيه ترحاکميت لاندي وو، تر څو چي په کال ۱۹۱۴ کي د لومړي جنګ عظيم په وخت انګرېزانو د ترکانو خلاف په عربو کي بغاوت رامخ ته کړ[۶]- وروسته د تُرکي مصطفي کمال پاشا خلافت او سلطنت غبرګ له منځه يووړل-

تر مړيني مخکي منګوخان تبت هم فتح کړ او په کال ۱۲۵۹ کي يې له دې دنيا څخه کوچ وکړ- قبلائي خان چي هغه وخت د چين ګورنر وٚ تر منګو وروسته د ګکن په توګه وټاکل شو- هغهٔ له قراقرمه خپل پايتخت پېکن ته را بدل کړ او پر دا ښار يې د خان بالك نوم کښېښوو- هغه وخت د فرانس باچا لوئي قبلائي خان ته يو ليك را واستاؤ چي مغل او د يورپ عيسايان بايد چي په ګډه مسلمانان وپرزوي، خو قبلائي خان د لوئي دغه ليك خوښ نه کړ[۷] ولي چي هغهٔ په دې پوهـ وٚ چي لوئي د صليبي جنګونو په وخت کي

د مسلمانانو سره بندي پاته شوے ؤ ځکه يې د هغوی خلاف يو ټينګ ملګرے پکارؤ- د قبلائي خان تر وخته سلجوقيانو (تُرکانو) هم د مغلو حکومت قبول کړے ؤ، صرف مصريانو مغلو ته شکست ور کړے ؤ- قبلائي خان هم په ۱۲۹۲ کي مړشو- دا هغه وخت ؤ چي مارکوپولو له چين څخه بېرته اټلي ته ستون شوے ؤ-

کله چي قبلائي خان مړشو او مغل سلطنت پر ټکړو تقسيم شو نو هرخان او حاکم چي پر کومه علاقه کنترول درلود هلته يې خپل دولت جوړ کړ- چغتائي دولت هم له دغو دولتونو څخه يو ؤ- امير قدغن په چغتايانوکي ځای وموند او د خزنان چغتائي سلطان له مرګه وروسته حاکم شو- **ګوډ تيمور** هم د قدغن په دربار کي عسکري "منګباشي" ؤ- دے په کال ۱۳۳۳ کي زوکړے ؤ- د پلار نوم يې "ترغائي" ؤ او مور يې مکنه خاتون نومېده- تعلق يې له برلاس(تُرك) قبيلې څخه ؤ- د اميرقدغن او د خپل پلار تر مړينو وروسته تېمور په ماوراء النهر کي په "شهر سبز" کي ببخي يوازي پاته شو- دے يو غښتلے، سرکښ او راسخ العقيده سړے ؤ چي د شېخ شمس الدين مريد ؤ-

کله چي تېمور په افغانستان کي د سلطنت اعلان وکړ هغه وخت په هېوادکي هيڅ يو مرکزي دولت نه ؤ او نه سياسي وحدت وجود درلود- پښتانهٔ پر وړو وړوخپلواکو ټبرواکيو وېشل شوي وو- تېمور په کال ۱۳۸۰ کي تر جيحون راواووښت او په کال ۱۳۸۱ کي يې پر پوشينګ ښار حمله وکړه- د ښار خلګو خپله دفاع وکړه او تېمور يې پخپله هم زخمي کړ- دويم ځل يې بيا حمله وکړه او ښار يې فتح کړ- په کال ۱۳۸۳ کي ګوډ تېمور پر سيستان هم وحشيانه حمله وکړه، تاريخي "بند رستم" يې مات کړ او د زرنج خلګو ته يې ډېر لوی زيان ورساؤ- دا هغه الميه وه چي يو آباد وطن يې په ويرانه بدل

کړ- ويرانه هم داسي چي اوس يې لا هم پر دوه سوه کلوميتره آثار ځله پراتۀ دي- زرنج، قرنين، طاق، بست، پيښاوريان، ښارستان، درتل، بغنين، ښوران او زوران غوندي قلاوي او ښارونه يې داسي تباه کړل چي کنډوالې يې دا وخت هم په ريګ کي ځله خورې ورې پرَتې دي-

تېمور له سيستان څخه ور تېر شو بُست، ګرمسېر او کندهار يې هم برباد کړل- دۀ خپل تخريب ته دوام ورکړ او تر ۱۳۹۵ پوري يې پر افغانانو جبرکاوۀ لګيا ؤ- په کال ۱۳۹۶ زېږده کي د دۀ زوی شاه رخ مرزا د افغانستان واك په لاس کي واخست-

په کال ۱۳۹۸ زېږده کي تېمور پر هندوستان د قبضې اراده وکړه- کله چي دے هندوستان ته روان ؤ نو پر لار د" موسیٰ افغاني" او د هغۀ د قبيلې" کرکس" سره پر"کلا ايرياب" مخامخ شو- په دغۀ جنګ کي موسیٰ افغاني ووژل شو او د قبيلې سره يې تيمور ډېر بد وکړل- نرينه يې ټول ووژل، ښځي او ماشومان يې د ايرياب په خلګو تقسيم کړل- ګوډ تيمور(لنګ) خپل ځان د چنګېز لمسے بللے دے او په خپل وخت کي يې هماغه چنګېزي انداز خپل کړے ؤ- دۀ په خپل کتاب[۸] "زه تېموريم" کي افغانان (غوريان) په ډېر ښه نامه بللي دي او د ابدالي کلزے د مېراني ډېره ستا ينه يې کړې ده- دۀ د چنګېزخان په لوی سلطنت کي نوره اضافه هم وکړه چي په دې لاندي نقشه (عکس نمبر49)کي چپ لاس ته په جلا ډول ښکاره شوه ده-

تېمور په کال ۱۴۰۴ کي مريض شو، وصيت يې وکړ چي ددۀ د سلطنت مشر به ددۀ لمسے پيرمحمد جهانګير وي کوم چي د کابل او زابل حاکم ؤ خو پيرمحمد په همدغه کال مړ شو- شاه رخ چي د




عکس نمبر49 په مغلي سلطنت کي د تېموري اِضافه

هرات حاکم ؤ او د تېمور زوی ؤ باچا شو- وروسته تر ۱۴۰۵ پوري الغ بېګ، مرزا سلطان ابو سعيد، سلطان حسېن مرزا، بديع الزمان او بيا مظفرحسېن پرلپسې حاکمان وو-

دويم تهذيبي دور که څه هم دمذهب او فلسفې دور يادېږي خو د اوّل دور تر اثرلاندي ؤ ځکه عملاً لومړۍ څپې لا د نړۍ په ځينو برخوکي دوام درلود- مغل په تهذيبي توګه د لومړۍ څپې خلګ وو چي د دويم تهذيبي دور مذهبي اثرات يې لا نه وو قبول کړي- په ديارلسمه پېړۍ کي دنړۍ داحال ؤ چي د مصر، هندوستان او مغربي يورپ سپوا نوره ټوله نړۍ د مغلو په سلطنت کي شامله وه- هندوستان او مغربي يورپ هم ځکه ترې بچ پاته شول چي د مغلو ورته پام نه ؤ- هغه وخت هم د مغلو پر ضد افغاني مبارزو د پښتنو د تاريخ پاڼې زريني کړې[۹] - پښتنو په دغه دور کي ډېر زحمتونه

تېرکړل خو بيا هم مغلو ته ټيټ نه شول- د خپلواکۍ دغي مبارزې په دريم تهذيبي دور کي نوري هم زياتي شوې-

له ديارلسمي څخه تر پنځلسمي عيسوي پېړۍ پوري په يورپ کي هم د جنګونو دور وو- کور په کور بدئي وې او ټول يورپ له ډيري لوئي بدنظمۍ سره مخامخ ؤ- په يورپ کي د بارودو اِستعمال تر مغلو وروسته پېل شو ځکه يې خلګو توپکان جوړول لګيا وو- له توپکو سره انساني وينه نوره هم ارزانه شوه او په آساني تويېده- سوداګرو او تجارانو د باچهانو مرستي پېل کړې- هغه وخت د ورور وژني داسي فضا جوړه شوه چي هيڅ څوك هم ترې بچ نه شو پاته کېدای- د فرانس او انګلېنډ ترمنځ سل کاله جنګ روان ؤ- په کال۱۳۱۴ کي سکاټلېنډ د فرانس په مرسته اِنګلېنډ ته ماته ورکړه- د آئرلېنډ مسئله خو تر دې لاهم مخنۍ وه- له پېړيو څخه انګلېنډ ورباندي د قبضې هلي ځلي کولې-

د کليسا (مقدس رومي سلطنت) خلاف په کال۱۲۹۱ کي په سوئزرلېنډ کي " ابدي اتحاد" نامي يو تنظيم بغاوت وکړ او په ۱۴۹۹ کي يې سوئزرلېنډ آزاد کړ- هماغه مهال بله پېښه دا وشوه چي په کال ۱۳۴۸ کي په يورپ کي د طاعون وبا ولګېده چي ټول يورپ يې ځله واخست- يوازي د انګلېنډ دومره لوی نقصان وشو چي يوه دريمه آبادي يې ختمه شوه-

کله چي په کال ۱۳۳۵ زېږده کي د مغلو قوت مات شو نو عُثماني ترکانو بېرته د جهاد ږغ وکړ او د څورلسمي عيسوي پېړۍ تر نيمي پوري يې عثمانيه سلطنت جوړکړ چي وروسته د اسلامي خلافت وارث شو- د دويم تهذيبي دور د زِوال اسباب د اسلام او عيسائيت تر منځ خونړي جنګونه او مغلي يرغلونه وو-

خدای تعالیٰ پرخپل مخلوق تر هغه وخته عذاب نه رالېږي تر څو چي دوی د خپرلمن نیولې وي مګر چي کله د شر پېروکاري تر حد زیاته شي نو بیا په سورة الانعام کي وایي چي رب العزت پر دې قادر دے چي پر تاسو له بالا څخه عذاب نازل کړي، یا یې ستاسو تر پښو له لاندي څخه راپورته کړي او یا بیا تاسو پخپله پر ډلو ځله ووېشي او یوه ډله د بلي په طاقت له منځه یوسي- داسي برېښي چي دمسلمانانو خلیفه او د اهلِ کتاب حکمرانانو په دغه وخت کي د حق لمن پرې ایښې وه او په ظلمونو بوخت ول ځکه د خدای د وعدې مطابق له دغه لوی عذاب سره مخامخ شول-

## اخځلیك


۱- هرالډ لېمب ، چنګېز خان (Genghis Khan) ، اورینټل پبلیشرز لاهور، ۱۹۷۸ -

۲ - آرم سترانګ کیرن ، مقدس جنګونه (Holy wars) ترجمه محمد احسن بټ ، لاهور ، ۲۰۰۳

۳ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاریخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۴ -

۴ - غبارغلام محمد، افغاستان در مسیر تاریخ ، کابل، ۱۹۶۷

۵- حبیبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دویم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۶ - ا حمد ډاکټر ریاض ، مغربي یلغر (منګول او صلیبي جنګ)، لاهور ، ۲۰۰۳

۷ - سواندر ، د مغل فاتحینو تاریخ (The History of Mongol Conquests) ، ۱۹۷۱ -

۸ - مارسل بیون ، زه تېمور یم ، ترجمه خلیل الرحمان او ډاکټرخالدیزداني ، سیاره ډایجسټ ، لاهور ، ۱۹۹۹ -

۹ - زیار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ۲۰۰۱-

# دريمه ځپه

Pukhto.Net
پښتو

# د تعليم اوتجارت دور

Pukhto.Net
پښتو

# ۱۶

# دریم تهذیبي دوراو پښتانهٔ

دریم تهذیبي دور په نړۍ کي د تعلیم رڼا خوره کړه- خلګو تحقیق او مطالعه مُهمه وګڼله- د بشري حقوقو او فکري آزادۍ د پاره بږغ وشو چي وروسته د فرانس په عظیم انقلاب بدل شو- تجارت هم په دغه دور کي ډېره وده وکړه ځکه دغه دور په عالمي تاریخ کي د تعلیم او تجارت دور بلل شوے دے- دریم بدلون چي په دغه تهذیبي دور کي راغے هغه دا ؤ چي په یورپ کي عیسائي مذهبي اجاره داري ورو ورو پای ته ورسېده - په لوېدیځ (مغرب) کي د عیسائیت مذهبي کلتور پر ختمېدو شو او د اِستدلال پله درنه شوه[۱] - په ټول یورپ کي مذهبي اِصلاحات پېل شول او خلګو ته د عقیدې آزادي ورکړل شوه-

په تاریخي توګه افغانستان له پخوا څخه د عالمي تجارت مرکز ؤ اوله چین څخه تر یورپه "ورېښم لار"(Silk Road) هم ترافغانستان تېرېده(عکس نمبر50)خوله چنګېزي یرغلونو[۲] څخه وروسته، پښتنو




عکس نمبر50 له چين څخه تر يورپه د تجارت تاريخي رېشم لار (Silk Road)

تر دونيم سوو کلونو پوري خپل سياسي وحدت له لاسه ورکړے ؤ- مرکزي دولت وجود نه درلود- اقتصادي او تجارتي آزادي هم نه وه- علم وهنر او مدنيت ټول مخ په ځوړه روان وو- په زرګونو هنر مندانو او عالمانو هغه وخت هندوستان ته کډي وکړې، چيري چي دمغلي حکمرانانو تر واك لاندي د هندوستان خاوري شول- زراعت، کښت او کرونده هرڅه پاته شول- د وطن په هره څنډه کي جنګونو دوام درلود-

په دغو کړکېچنو حالاتو کي هم پښتنو څه ناڅه علمي کارونه وکړل- د ختيځ حاکم شېخ ملي يو ځانګړے اقتصادي نظام جوړ کړ چي "د شېخ ملي دفتر" په نامه، په کتابي شکل کي د پښتو يو زوړ کتاب دے[۳]- پښتو ادب هم په دغه دور کي پر مخ تګ وکړ- په

نثر کي بايزيد روښان او اخوند درويزه غوندي ليکوال ښکاره شول- په نظم کي خوشحال خان خټك ، حميد بابا او رحمان بابا غوندي د لوَړ فکر خاوندان پيداشول- پښتنو تجارت ته هم اهميت ورکړ- دا مهال ميرويس نيکه او د هغهٔ ملګرو په تجارت کي لوَړ مقام درلود- دغه تجارت وروسته د آزادۍ په غورځنګ بدل شو او د ميرويس نيکه دولت د قام په کار ورغے- ميرويس نيکه او احمد شاه بابا په سياسي ميدان کي د پښتنو رهنمايي وکړه او سياسي خپلواکي يې تر لاسه کړه-

عُثمانيان د تُرکانو يوه پَوَنده قبيله وه چي د وګړو تعداد يې تر پنځوس زره زيات نه ؤ- کله چي دوی د روميانو سره د جنګ په حال کي سلجوقي باچا راګير وليد نو پوهـ شول چي دا خو د مسلمانانو باچا دے ځکه يې مرسته ورسره وکړه- د دغي مرستي په وجه باچا ورته ځمکه او ورشو ورکړل- تر دغه پس دوی د خپل پوهـ مشر په برکت مخ په لوَړه روان شول- لکه مخکي چي يې د دوَيم تهذيبي دور په وروستۍ برخه کي ذکر وشو، دغو عُثمانيانو د سلجوقي تُرکانو تر زوال وروسته عثماني سلطنت جوړ کړ- دوی په ۱۳۵۳ کي قسطنطنيه پريښووله او پرنور يورپ يې حمله وکړه- بلغاريه او سويا يې فتح کړل-" اورنه " يې خپل پايتخت کړ- دغو عثماني ترکانو خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ او په ټينګه يې د روميانو مقابله کوَله- ورو ورو يې ټول رومي سلطنت، کوم چي له زرو کلونو څخه قائم ؤ، يوازي تر قسطنطنيه (استنبول) پوري محدود کړ- په کال ۱۴۵۳ کي يې قسطنطنيه هم ونيوه[۴]- دا فتح په تاريخ کي ډېره مهمه ده ولي چي په همدغه ورځ په نړۍ کي منځنے تاريخي دور

ختم شو او يو بل نوی دور پېل شو- په يورپ کي د کليسا زر کليځ تور دور پای ته ورسېد- اوّل اټلي بيافرانس او په آخر کي انګلېنډ آزاد شول- دربېيم تهذيبي دور هم له دغه وخته پېل شو-

د انساني تهذيب دغه تاريخي دور له پنځلسمي پېړۍ څخه تر شلمي پېړۍ پوري دوام درلود- د اسلام او عيسائيت ترمنځ له پېړيو راروان صليبي جنګ د عُثماني سلطنت په ګټه تمام شو او ختيځ رومن سلطنت له منځه ولاړ- د قسطنطنيه تر نيولو وروسته عثمانيانو خپل حکومت مضبوط کړ- د يوناني ژبي پوهانو له قسطنطنيه څخه پر لوېديځ مخه وکړه- دغو خلګو له ځان سره ډېر کتابونه او نوري ليکلي مسودې هم يورپ ته يوړې[1]- د دغو خلګو پوهنه وروسته د يورپ په کار ورغله- د کتابونو پلټنه پېل شوه او له نوې سره علمي کارونو ته اهميت ورکړل شو چي د رنېسانس (Renaissance) په نامه يې له څورلسمي څخه تر شپاړسمي پېړۍ دوام درلود-

که څه هم په چين او کوريا کي چپائي مخکي پېل شوې وه خو کله چي په يورپ کي د کتابونو "**چپايي**" شروع شوه او جان ګټنبرګ چاپه خانه ولګوله نو د يورپ په تاريخ کي ډېر مهم دور شروع شو- روځ په روځ په تعليمي مېدان کي بدلون را روان ؤ- ورو ورو دا خيال هم تقويّت پيدا کړ چي تعليم بايد خلګو ته د عمر په حساب ورکړل شي- سکولونه ، کاليجونه او يونيورسيټياني جوړي شوې- په دغه دور کي چي کوم يو لوی کار وشو او د يورپ د ترقۍ سَوب هم شو، هغه دا ؤ چي زدکړه په مورَنيو ژبو پېل شوه- پخوا لاطيني پر ټول

يورپ تېل شوې وه ځکه نو له پادريانو پرته نور عالمان او پوهان نه وو- د رنېسانس په نتيجه کي چي خلګو خپلو ژبو ته ارزښت ورکړ نو علم ورته اسانه شو-

اوّل په يورپ کي سماجي درجه بندی ته ډېر اهميت حاصل ؤ خو د فرانس له انقلابه وروسته دغه درجه بندي وَغندل شوه او هر سړي ته دا اختيار ورکړل شو چي په آزادي سره خپل مېدان وټاکي، کومه پېشه چي ځان لره غوره ګڼي هماغه دي خپله کړي- دا په حقيقت کي په داسي روايتي معاشره کي يو ډېر لوی بدلون ؤ چيري چي خلګ پر اشرافيه ، پادري او مزدور ځله وېشلي وو -

کله چي جولس دوَيم د "سېنټ پيټرس برګ" بېرته له نوې سره د تعمير په غرض د پيسو ټولَوني مهم پېل کړ اوپه ۱۵۰۹ کي يې فنکاران را جمع کړل نو مارټن لوتر چي يو اصلاح خوښوونکے مذهبي عالم ؤ، د دوی خلاف شو- هغهٔ په ۱۵۱۷ عيسوي کال کي دمسيحي چرچ د اِصلاح د پاره د کليسا پر دروازه ۹۵ خطبې را وځړولې- له دغي ورځي عيسائيت پر دوو فرقو "کېتليك" او "پروټېسټېنټ" ځله ووېشل شو- ورو ورو د سائنسي فکر خاوندان پېداشول- نيوټن په کال ۱۶۸۷ کي "پرنسيپيا مېتمېټيکا" شايع کړه-

ادب او آرټ هم پرمخ ولاړل- ليونارډوجي ونسي په کال۱۵۰۳ کي "مونا ليزا" پېنټنګ پېش کړ- په کال ۱۵۱۳ کي مېکاؤلي "دي پرنس" ليکل پېل کړ- شېکسپېر په کال ۱۶۰۵ کي "مېکبت" او

کنګ لېئر" تصنيف کړل-

په اسلامي معاشره کي له اوّله سره خلګو تجارت ته په ښه سترګه کتل خوپه يورپ کي داسي نه ؤ- تردويم تهذيبي دور پوري سوداګر او تاجر ته هلته خلګو په ښه نظر نه کتل[۵]- په درېيم تهذيبي دور کي تجارتي اداري ډېري پر مخ ولاړې- تعليم دغو ادارو ته ډېره ګټه ورکړه- تعليميافته خلګو تجارت په ښه توګه پرمخ يووړ- په پنځلسمه عيسوي پېړۍ کي د يورپ خلګ د سمندري لارو د ټاکني او د نوي پلټني په سفر روان شول- علاقائي ګټو د يورپي ملکونو تر منځ خوابدئی پېل کړې- پرتګال او سپېن په سمندري پلټنه کي ډېر مخته ولاړل او د نوو علاقو د ملکيت دعوېداران شول- په ۱۴۹۳ کي پوپ الېکزنډر شپږم دا اعلان وکړ چي نړۍ د دوو آزادو قامونو تر منځ تقسيم ده- د خط "طول البلد" ختيځ د پرتګال ملکيت وَمنل شو او د دغه خط لوېديځ د سپېن ملکيت تسليم شو- له دې سره سم له يورپ څخه د باندي هم يورپي ملکونو د نورو قامونو پر وسائلو قبضې کولې- دا رنګه د"نوآبادياتو"جوړولو هلي ځلي هم شروع شوې- په کال ۱۴۸۸ کي پرتګال په جنوبي افريقه کي سمندري لار"کېپ آف ګُډ هوپ" وټاکله- لس کاله وروسته پر دغه لار نامتو سمندر پلټونکے واسکوډې ګاما، په کال ۱۴۹۸ کي د پرتګالي سمندري بېړې سره د هندوستان تر لوېديځ ساحله(کڅي) راغے- دارنګه په شپاړسمه عيسوي پېړۍ کي پرتګاليانو د هندوستان د ګرمو مسالو پر تجارت

قبضه وساتله-

په کال ۱۴۹۲ کي هسپانوي سمندر پلټونکے کرسټوفرکولمبس د وېسټ انډیز تر سان سلواډور جزیرې پوري ولاړ- د هغه خیال ؤ چي دا هم هندوستان دے خو وروسته د هندوستان په تلاش پر امریکه پېښ شو- په ۱۵۳۵ کي د سپېن خلکو په جنوبي امریکه کي پښې ټینګي کړې او له کاله یې په ټنونو طلا (سره زر) او سپین زر له امریکا څخه سپېن ته راوړل، خو د لارې خرڅ یې دومره زیات ؤ چي سپېن ته څه خاص ګټه پکي نه وه- په کال ۱۵۶۷ کي د سپېن او انګلستان ترمنځ پر تجارتي معاملو نښتي پېل شوې- فرانسیسیانو هم وروسته د سپېن تجارتي کافلې لوټلې- ورو ورو دغو تجارتي جګړو نور زور واخست- پرتګال فرانس او انګلستان په هند کي هم په تجارتي رقابتونو سره اخته وو- هر یوۀ دا هلي ځلي کولې چي د ګرمو مسالو پر تجارت قبضه وکړي-

په دغه دورکي احمد شاه بابا لوی افغانستان(AfghanEmpire) جوړ کړ- د افغاني سیمي طبعي سرحدونه یې وټاکل- د مغربي قوتونو د اِمکاني تېري مخنیوے یې وکړ- دا رنګه احمد شاه بابا او زوی تېمورشاه یې تقریباً تر پنځوسو کلونو پوري لوی افغانستان ساتلے ؤ[۶] -

دا مهال نوي کاروباري ادارې جوړي شوې، په کومو کي چي دبرطانیه یا انګلستان ایسټ انډیا کمپنۍ(East India Company) هم شامله وه- دغي کمپنۍ وروسته د هندوستان پر حکومت قبضه

وکړه او د افغانستان ځيني حصې يې هم لاندي کړې- کمپنۍ د هندوستان، افغانستان او ايران په سياست کي تر ډېره وخته لوبي کولې- له اوّل جنګِ عظيم څخه د دغه درېيم دور زوال شروع شو او تر دويم جنګِ عظيم وروسته دا تهذيبي دور هم پای ته ورسېد- افغانانو اصولي فېصله وکړه اوپه دغو دواړو جنګونو کي غېرجانبدار پاته شول-

# اخځليك


۱- ويليم مېك ګاګي، (Five epochs of civilizatin)دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵،

۲- هېرلډليم ، چنګېز خان ، ترجمه عزيز احمد ، فکشن لاهور، ۱۹۹۶ -

۳ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۴ - آرم سټرانګ کيرن، مقدس جنګونه (Holy wars) ترجمه محمدحسن بټ، لاهور ، ۲۰۰۴-

۵ - احمد ډاکټر رياض ، مغربي يلغر (منګول او صليبي جنګ)، لاهور ، ۲۰۰۳

۶ - ګنډا سينګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ۲۰۰۴

# ۱۷

# مغل او افغاني مبارزې

د پنځلسمي پېړۍ په درشل کي که څه هم خواره واره پښتانه د مغلو تر یرغلونو لاندي وو خو د کونړ پښتنو خپلواکي ساتلې وه- د ختیځ پښتانه واکمن چي د تاریخ په پاڼوکي دکونړحکمرانان او یوسفزیان یاد شوي دي، پر افغاني سیمه د تهذیب د درېیمي څپې سرخېل دي- دکونړ هر واکمن د سُلطان په لقب مسوا ؤ- د۱۴۰۱ زېږدي په خواوشا د ختیځ په دَرو کي د پښتنو یوه سیمه واکي وه چي واکمن یې د سلطان کهجامن دوه زامن سلطان پکهل او د هغهٔ ورور سلطان بهرام وو- تردوی وروسته بیا سلطان تومنا د دغي سیمه واکۍ حکمران تېر شوے دے - د ختیځ په نورو نومیالیو پښتنو واکمنو کي ملك احمد یوسفزے، شېخ آدم ملي، کجوخان راڼیزے، شاه منصور، سلطان اوېس سواتے، سلطان علاؤالدین سواتے او طاؤس خان شامل وو-

د سلطان کهجامن زامن سلطان بکهل او سلطان بهرام که څه هم سره وروڼه وو خو د واك حدونه يې سره ټاکلي وو[1] - دسلطان بکهل واکمني له لغمانه ترکشمير پوري غزېدلې وه چي کونړ، قبايلي علاقې (باجوړ)، سوات او کشمير پکي شامل وو- دکونړ په دَرو کي د سلطان بکهل د وخت ډېرليکونه لا تر اوسه پاته دي- لغمان، او ننګرهار د سلطان بکهل په ژوند کي هم د سلطان بهرام تر واك لاندي وو خو د بکهل تر مړيني وروسته د هغهٔ د زامنو ترمنځ د جګړو له کبله بهرام د ورور سيمه هم ونيوه او له کابله تر کشميره يې خپل يوآزاد رياست تشکيل کړ چي پايتخت يې د"سپينغر" په لمن کي "پاپين" ؤ-

تر سلطان بهرام وروسته سلطان تومنا د دغه رياست واکمن شو خو واکمني يې ډېر ژر د مغلو تر فشار لاندي راغله- د تېمور د اولاد په دور کي له يوې خوا د کندهار او ارغسان يوسفزو د کابل په خوا کوچ وکړ او له بلي خوا د ګومل او نورو سيمو پښتانهٔ هم ورسره ګډ شول څکه د سلطان تومنا واکمني تر شينوارو، کونړ، سوات، باجوړ، ضلع هزاره او کشمير پوري محدودهٔ شوه- د کابل ننګرهاراو پېښورپه غرونو کي د کندهار او ارغسان څخه کوچېدلي يوسفزي او د دوی سره تړلي ځيني نوري قبيلې آبادي شوې چي واکمن يې مداد، مدد او شېخ عثمان وو-

کله چي سلطان الغ بېګ مغل د کابل واکمن شو نو يې د ملك سلطان شاه سره د يوسفزو شپږنيم سوه مشران په کابل کي را غونډ کړل او ويې وژل- د سلطان شاه يوسفزي وراره ملك احمد د يوسفزو د مشر په توګه د کرلاڼيانو، ممندو او شلمانيانو سره تر جګړو

وروسته باجوړ، بونېر، سوات او د پېښور خواوشا سيمي ونيوې- دا وخت د يوسفزو بل مشر شېخ آدم چي په "شېخ ملي" مَسَوا ؤ د پښتنو لارښوونکے شو-

**شېخ ملي** د پښتنو يو ستر مشر، د پښتو خاوند، نامتو مُقنن اوخواخوږے واکمن ؤ- دے د تهذيب د درېيمي څپي اولنے پښتون نماينده بلل کېداى شي- په دغه وخت کي پښتنو نه يوازي د تعليم او تجارت اهميت محسوس کړ بلکي دا احساس هم ورته وشو چي قانون د رياست د بقا ضامن دے- شېخ ملي پښتنو لره يو ځانګړے اقتصادي نظام هم جوړ کړ چي "د شېخ ملي دفتر" په نامه، په کتابي شکل کي د پښتو يو زوړ کتاب ؤ- په دغه کتاب کي د يوې قبايلي ټولني د ځمکو د وېش ټولنيزقوانين ليکلي وو- دغه کتاب تر څلورو پېړيو پوري پښتنو په دغه اړه خپل لارښود ګڼلے ؤ- پښتني ملي دودونو ته هم د شېخ ملي په کتاب کي مُهم ځاى ورکول شوے ؤ- د هغه وخت عدالت به د قبايلو تر منځ د ځمکو، استوګي او کرنې د ټولو ځمکو تقسيم د همدغه کتاب د قوانينو په رڼا کي کاوۀ- چونکي د پښتنو اقتصاد د ځمکي له پېداوار سره تړلے ؤ ځکه دا خبره ښېځايه نه ده چي شېخ ملي پښتنو ته يو ځانګړے اقتصادي نظام ورکړے ؤ- له دغه وخته په پښتو ژبه کي علم او ادب پرمخ ولاړل- تر شېخ ملي وروسته کجوخان رانيزي هم يو کتاب ليکلے ؤ چي "د شېخ ملي بشپړدفتر" بلل کېداى شي- په دغه کتاب کي دټولنيزوقوانينو د بشپړتيا سره سره د يوسفزو تاريخ هم څېړل شوے ؤ-

ترکجوخان وروسته ديوسفزو حکمران د ملك سلېمان زوى شاه

منصور تېر شوے دے چا چي خپله لور بي بي مبارکه نوميالي مُغل باچا بابر ته په نکاح ورکړې وه- سلطان اوېس سواتے هم دغه مهال يو سيمه ايځ واکمن ؤ- د بابر په دور کي سلطان علاء الدين سواتے او طاؤس خان د دغه سيمي آخري حکمرانان وو چي بابر يې پخپله هم ذکر کړے دے-

چنګېزيانو افغانستان برباد کړ- دا هېواد تر دوولسمي پېړۍ پوري د علمي لحاظه د نړۍ په لوړو دولتونو کي ولاړ ؤ خو په ديارلسمه پېړۍ کي د چنګېزيانو تر يرغلونو لاندي کنډوالې شو- تعليمي اِدارې يې ټولي وراني شوې او د علم خاوندان يې د نړۍ نورو برخو ته ځله وپېرکېدل- بيا تېمور او د هغهٔ وروستني ګورګاني حکمرانانو دا وطن نورلوټه لوټه کړ- له شپاړسمي پېړۍ څخه دا سيمه د ډېرو نورو سياسي پېښو سره هم مخامخ شوه- د تېمور تر مرګ وروسته سلطان حسېن د افغانانو خپلواکي ترڅه حده وساتله او په علمي توګه هم څه نا څه کار پېل شو خو په ۱۵۰۵ کي د سلطان حسېن تر مړيني وروسته د وطن خپل څه مرکزي حېثيت پاته نه شو- دولت له سره وجود نه درلود او د سياسي وحدت خو هيڅ امکان هم نه ؤ- خواوشا نوي دولتونه جوړ شول چي له هري خوا ورو ورو، پر پښتونخوا را څکېدل لګياؤ- په شمال کي شيباني دولت په کال ۱۵۰۰ کي جوړ شوے ؤ او د افغانستان شمالي برخو ته يې رينګَلي وو- په لوېديځ (مغرب) کي صفوي دولت ؤ او د وطن غربي ښارونه يې نيول لګياؤ- په ختيځ (مشرق) کي د ظهيرالدين بابر مغلي سلطنت جوړ شو او د افغانستان شرقي برخه يې لاندي کړه[۲]- بابر ورو ورو پښتانه د ځان ملګري کړل او د هغوی په

عسکري قوت يې هندوستان هم ونيو او په ۱۵۲۵ کي يې په هند کي لوی سلطنت جوړ کړ- دا ډول افغانستان عملاً پر درو برخو وویشل شو چي واك يې د پردو په لاس کي ؤ- له ۱۵۰۶ څخه تر ۱۸۴۸ پوري، تقريباً دونيمي پېړۍ په دغو حالاتو کي تيري شوې- وَدان ښارونه وران شول اوخارجي قوتونو دهېواد اقتصادي اوعلمي خزانې چُور کړې-

لکه څنګه چي مو د دويمي څپې په پای کي ولوستل، په کال ۱۴۰۴ کي د ګوډ تېمور له مړيني څخه وروسته بيا تر يوې پېړۍ د هغۀ د اولاد حکومتونه وو چي پکې شاه رُخ مرزا، الغ بېګ، عبدالطيف، ابوالقاسم، سلطان ابو سعيد ګورګان، سلطان حسېن مرزا، بديع الزمان، او مظفرحسېن شامل وو-

**ظهيرالدين محمد بابر** د عمر شېخ زوی، د سلطان ابو سعيد ګورګان لمسے او د ګوډ تېمور کوسے ؤ- په دغه وخت کي د مغلو تېموري دولت پر وړو وړو سيمه واکيو وېشل شوے ؤ- بابر د يوولسو کلونو په عمر کي د فرغانه په اندجان کي يو سيمه ايځ حمکران شو- په کال ۱۵۰۳ کي دے له شيباني خان سره د جګړې له کبله افغانستان ته را داخل شو او د بدخشان له خسرو شاه څخه يې قندوز ونيو- دۀ د خسرو پياده او سپارۀ لښکريان د هغۀ د مالونو سره ټول د ځان کړل او کابل ته يې مخه وکړه- په کابل کي يې د الغ بېګ مرزا د زوی عبدالرزاق واك هم د ځان کړ- عبدالرزاق ننګرهارته تېښته وکړه او هلته يې د باچهۍ اعلان وکړ-

ترکابل وروسته ظهيرالدين بابر ورو ورو نوري افغاني سيمي هم تر واك لاندي راوړې[۳]- دۀ په کال ۱۵۰۸ کي د عبدالرزاق تر وژني

وروسته ننګرهار هم ترخپل قدرت لاندي راووست- بابرله کال ۱۵۱۰ څخه تر ۱۵۱۵ پوري، يوې خواته په شمال کي د ماوراء النهر د شيباني دولت سره په جنګ ؤ او بلي خواته د افغانستان په لوېديځ کي صفويان هم ورته لوی خنډ وو- دے په دې پوهـ شو چي شيبانيان کلك دُښمنان دي او د افغانستان په لوېديځو څنډو کي د صفويانو قبضه ختمول هم آسانه کار نه دے ځکه يې تر ډېرو مشکلاتو وروسته د ختيځ پر لور د هندوستان په خوا ډېر زور وکړ- په کال ۱۵۰۸ کي مومندو له بابرڅخه تر دره د تېرېدو "حقِ عبورِ کاروان" وغوښت خو هغهٔ دا غوښتنه بده وګڼله او پر ممندو يې حمله وکړه[۱،۲] - دمُغلو اومومندو ترمنځ جنګونه خورا اوږده شول- ورو ورو نورو پښتنو هم د ممندو په شان د مغُلو لاري بندولې- په کال ۱۵۱۸ کي يوسفزو په باړه کي بابر ته د لاري ورکولو څخه انکار وکړ او بابر پر هغوی هم حمله وکړه- درې زره (۳۰۰۰) کسان يې ووژل او يوشمېر نور يې ونيول- بيا يې د يوسفزو سره روغه وکړه او د دوستۍ په توګه يې د منصورخان يوسفزي لور وغوښته او واده يې کړه[۱] -

بابر اوّل اوّل په افغانستان کي هماغه مغلي او ګورګاني انداز خپل کړ کوم چي تر دهٔ وړاندي نورو مغلو خپل کړے ؤ- وطن يې هماغسي ويران کړ لکه نورو مغلو چي تباه کړے ؤ- د پښتانه سره يې مغلي بُغض درلود خو آخر يې د سبکتګين په شان د پښتنو د زوم په حېث دوی په خپل فوج کي واخستل او تر ۱۵۱۸ پوري يې دومره واك وموند چي د هندوستان د نيولو اراده يې وکړه-

په کال ۱۵۱۹ کي بابر سيند کراس کړ او پر پنجاب يې حمله وکړه-

په ۱۵۲۳ کې یې لاهور، سیالکوټ او دیالپور ونیول او پر ډیلي یې هم حمله وکړه[۴] - سلطان ابراهیم لودي چې د هندوستان پښتون باچا ؤ اوخاندان یې هندوستان له مغلو څخه ژغورلے ؤ، په ټینګه د بابر مقابله وکړه او شکست یې ورکړ- تر دغې ماتې وروسته بابر بېرته سیالکوټ ته را ستون شو[۵] -

په هندوستان کې له ډېره وخته د لودیانو حکومت ؤ خو لودیان په کورنیو شخړو سره اخته وو څکه بابر د دوی له نفاقه فائده واخسته- د ابراهیم لودي (عکس نمبر51) کاکا علاؤالدین عالم خان، د خپل ورارهٔ خلاف د بابر په دربار کې ناست ؤ- دوه کاله وروسته بابر د پنجاب (لاهور) د والي دولت خان لودي په مرسته



عکس نمبر 51 سلطان ابراهیم لودي

په کال **۱۵۲۵** کي بيا د ۱۲۰۰۰ عسکرو سره پر ډيلي حمله وکړه- دغه جنګ د پاني پت پر مېدان ونښت- ابراهيم لودي د جنګ په مېدان کي دخپلو دلېرو دفاع کونکو سره سم ولاړ ؤ خو په آخر کي شهيد شو- الميه دا وه چي دولت خان لودي او علاوالدين عالم خان د خپلي کورنۍ خلاف استعمال شول- بابر په دې جنګ کي له کندهار، کابل او بدخشان څخه راوستې فوج استعمال کړ، پښتون يې په پښتانه وَواهۀ او ځان يې د هند باچا کړ-

دا شان په **۱۵۲۵** کي بابر په هندوستان کي د مغل سلطنت بنياد کېښېښوو- له دې وروسته کابل او هندوستان دواړه د بابر تر باچهۍ لاندي راغلل- هغه وخت په هندوستان کي دوه لوی قوتونه پښتانۀ او مغل وو- بابر د ډيلي پر تخت په آرام نه ؤ- د بنګال او بهار پښتانه حاکمان د دۀ خلاف د ابراهيم لودي حمايتيان وو ځکه هغوی د بابر خلاف په ګورګا کي يو بل محاذ خلاص کړ- دا هغه وخت ؤ چي پېښور ته د يوسفزو مهاجرتونه بشپړ شول- کابل او کندهار هم بابر ونيول او د شهزاده همايون او شهزاده کامران تر واك لاندي وو- تر کامران وروسته د کندهار حکمران شهزاده عسکري ؤ چاچي د "چهل زينې دالان" جوړکړے ؤ- په کال **۱۵۲۹** کي بابر مړشو خو ترمړيني وړاندي يې دا وصيت کړے ؤ چي دے دي په کابل کي ښخ کړشي- د همدغه وصيت په رڼا کي د دۀ مړے هلته يووړشو ځکه يې قبر اوس هم په کابل ښار کي دے -

د بابر مشر زوی **همايون** ؤ چي په کابل کي زوکړے او په افغانستان کي لوی شوے ؤ- دے د۲۴کلونو په عمرکي دبابر ترمړيني وروسته د هندوستان باچا شو- کامران مرزا چي د بابر په

ژوند کي يې دکابل او کندهار واك ترلاس لاندي وو، د همايون په باچهی نه ؤخوښ، ځکه يې پر لاهور حمله وکړه او ويې نيو- کامران په ۱۵۳۵ کي سام صفوي په کندهار کي تر اتو (۸) مياشتو محاصره کړے ؤ خو بيا يې په يوهٔ کال کي دغه فاتح صفوي ته هم شکست ورکړ- دارنګه د کامران مرزا حکومت له کندهاره تر باميانه او بيا تر لاهوره غزېدلے ؤ- بلي خواته د بابر بل زوی هِندال د خپل ورور همايون خلاف په آګره کي بغاوت وکړ او په کال ۱۵۳۸ کي يې پر ډيلي هم را وَدانګل او محاصره يې کړ- دا هغه وخت ؤ چي د سيکانو لومړے ګُرو "نانك" د خدای په کار شو-

چونکي د هندوستان حکومت مغُلو له لودي پښتنو څخه نيولے ؤ ځکه د دوی خلاف د غوري سلسلې يو غښتلے ځوان **شيرشاه سوري** په هندوستان کي د افغاني دولت د وارث په توګه، په کال ۱۵۳۹ کي د مغلو خلاف راپورته شو[۶]- شير شاه سوري په کال ۱۵۴۰ کي د ګنګا پر غاړه همايون ته شکست ورکړ او بېرته يې د افغاني دولت اعلان وکړ- همايون له هندوستان څخه ايران ته پناه يووړه-

د شېر شاه سوري ( چي اصل نوم يې فريد خان ؤ) پنځه کاله دور د هندوستان په تاريخ کي د هندي مسلمانانو د ټول تاريخ ښه دور يادېږي، چي په راتلونکي څپرکي کي به تفصيلي بحث ورباندي وشي- له پېښورڅخه تر بنګاله "جرنېلي سړك" د شېرشاه سوري د دور يو عظيم يادګار دے چي اوس هم د دهٔ د عظمت يولوی ثبوت دے- شېرشاه يوټينګ پښتون او په هندوستان کي د ملي وحدت يو لوی علامت ؤ[۷]- دے يو ښه منتظم او غښتلے سپايي ؤ- دهٔ دا

حساب درلود چي د حکومت د پاره په کال کي څو رقم په کار دے او دا به څنګه ترلاسه کېدای شي- په بېخي لږ موده کي دهٔ د بابر د وخت په باچهۍ کي يو خاص بدلون راووست چي وروسته د اکبر په دور کي نور هم بشپړ شو- دهٔ په هند کي عدالتونه جوړ کړل او د انصاف اصولونه يې خپل کړل- دے په ټول هند کي د "هندو مسلم اتحاد" لوی مخکښ ؤ او په هېواد کي يې د امن د پاره هلي ځلي رواني کړې-

د بد قسمتۍ خبره دا شوه چي په کال **۱۵۴۵** کي شېر شاه سوري د خدای په کار شو او پر مېنه يې څه غښتلے سړے پاته نه شو- په همدغه کال همايون کابل له کامران څخه ونيو- تر ماتي وروسته کامران سيند ته وتښتېد- همايون پرمخ ولاړ، تخارستان او بدخشان يې ونيول او سلېمان مرزا يې وتښتاوهٔ- په بدخشان کي همايون خپل ورور ناصرمرزا هم وواژهٔ- کامران د ناصرمرزا په قتل وخښمېد او پر کابل يې حمله وکړه خو شکست يې وخوړ ځکه يې تالقان ته تېښته وکړه- همايون ورپسې ولاړ او محاصره يې کړ- کامران د بخښني خواست وکړ او په ۱۵۴۶ کي تسليم شو- همايون خو وباخښهٔ مګر دهٔ بيا هم د پيرمحمد په ملګرتيا په بلخ کي بغاوت وکړ[۴]-

د همايون او دهغهٔ د وروڼو ترمنځ له کال ۱۵۴۷ څخه تر**۱۵۵۲** پوري جګړي رواني وې- په کال **۱۵۵۰** کي همايون خپل دوه نور وروڼه مرزا هِندال او مرزا عسکر هم ووژل- په کال **۱۵۵۳** کي يې کامران ړوند کړ او کابل ته يې واستاو- ترجګړو وروسته همايون افغاني ولايتونه ځايي خلګو ته په لاس ورکړل او د پښتنو په مرسته

يې له ۱۵ زرو سپايانو سره، سيند کراس کړ او پر هندوستان يې حمله وکړه- همايون د افغانانو په نفاق خبر ؤ ځکه يې سکندر د شېرشاه سوري مخي ته وَدَراوهٔ- دا رنګه په هند کي خُطبه بيا د همايون دنامه ووئيل شوه، خو قسمت ورسره وفا ونه کړه ځکه يوکال وروسته تربام را ولوېد او مړشو-

**جلال الدين اکبر** د همايون زوی او د هغهٔ ځايناست ؤ- دغه ديارلس کلن اکبر په کال ۱۵۵۵ کي په لاهور کي د مغلي سلطنت تاج پر سر کښېښوو- دبابر په وخت کي دمغلو سره دافغانانو جګړي د خپلو قبيلو د وګړو د سرومال د ژغورني په خاطر وې خو د اکبر تر وخته مغلي جبر او صفوي تېري افغانان ويښ کړل ځکه دوی له هغهٔ څخه د خپلواکۍ غوښتنه وکړه- ورو ورو د هېواد په بېلا بېلو څنډو کي جنګونه پېل شول- له دغي ناقرارۍ څخه د ايران صفويانو ګټه واخسته او په کال ۱۵۵۶ کي يې کندهار له مغلو بېل کړ- په کال ۱۵۶۳ کي شاه ابوالمعالي د اکبر سره په هند کي تر نښتو وروسته کابل ته راغے او د مغلو خلاف يې خپلي هلي ځلي رواني کړے خو مقصد ته ونه رسېد، بندي شو او ځان يې قُربان کړ-

د اکبر په وخت کي هم د پښتنو خلاف مغلي ظلمونو دوام درلود- پښتنو دا محسوسه کړه چي اکبر هم د تېر او تورمغلي دور تازه کولو په هلو ځلو کي دے کوم چي له تېرو څلورو پېړيو څخه د پښتنو پر هېواد خپور دے- دوی پوهېدل چي دا به د پښتنو يوه بله بدقسمتي وي چي نور به دمغلو تر واك لاندي ژوند کوي- ځکه **بايزيد روښان**[۲] په افغانستان کي د مغلو خلاف هغه تحريك پېل کړ چي بيا يې تر اولسمي پېړۍ پوري دوام درلود-

بايزيد روښان د شيخ عبدالله زوی او د"خېرالبيان" مُصنِّف ؤ- دۀ د طريقت لار خپله کړې وه څکه پير روښان هم بلل شوے دے- بايزيد روښان ګښته سړے ؤ- دے تر هندوستان، ماوراء النهر او سمرقند پوري تللے ؤ- پير روښان کندهار ته هم تللے ؤ چيري چي يې د څپلو افغانانو حال په خپلو سترګو ليدلے ؤ- دے د روښان فکر خاوند ؤ څکه يې غوښت چي د پښتنو سيمه سياسي يووالی ومومي- د دۀ په وخت کي خلګ له جنګونو او ظلمونو ډېر تنګ وو څکه يې د روحانيت لمن ټينګه نيولې وه- په نوره نړۍ کي هم دغه وخت د لويو لويو کسانو روحاني روزنه کېدله-

اخوند درويزه ننګرهارے چي د" تذکره الابرار والاشرار" موّلف هم دے، د بايزيد روښان د وخت يو زيرك سړے ؤ او د دۀ مخالف هم ؤ څکه يې پر دۀ د کفر فتوي ورکړې وه- اخوند درويزه په خپل بل کتاب "مخزن الاسلام" کي بايزيد روښان ته ډېر بد وئيلي ؤ خو پير روښان يوازي نه ؤ بلکي د آزادۍ په مبارزه کي يې نور هم ډېر ملګري لرل- د ختيځ پښتانۀ قبايل ټول د مغلو خلاف د پير روښان سره دآزادۍ په هلوځلو کي ولاړ وو- حبيبي صاحب د اخوند درويزه له خولې نقل کوي چي روښانيانو وئيل چي" لښکري راغونډوو هندوستان په نيسو، افغان سپاره دي پر موږ راټول شي د اکبر باچا خزانې زموږ دي"-

بايزيد روښان په خپل وخت کي د پښتو، دري او عربي ژبو ښه ليکوال ؤ- هغه يو حساس سړے ؤ او په کندهار کي يې د مغلي دولت د حاکم بېرام خان له خوا د کرېکښو سره د ظلمونو منظر په خپلوسترګو کتلے ؤ- د بايزيد روښان د پرَدو له تېري څخه زړه شين ؤ

ځکه يې د پښتنو د خپلواکۍ دخوځښت بُنياد کښېښو-

بايزيد د مغلو خلاف جهاد جاري ساتلے ؤ او له کابله تر پېښوره يې ډېر خلګ د ځان ملګري کړي وو- د کابل مغلي حاکم غوښت چي بايزيد بندي کړي خو دے نور پر مشرق ولاړ او په "تيراه" کي يې خپل مر کز جوړ کړ- هلته يې څو زره عسکر تيارکړل او د جلال آباد پر مغلي حاکمانو يې ورلښته کړه- بايزيد په دې ښه پوهـ ؤ چي په دومره لږ قوت هغۀ د مغلو مقابله نشي کولای خو د آزادۍ په لار کي د ځان ورکولو خواهش يې درلود او خلګو ته يې دا ښوونه هم کوله چي آزادي قربانۍ غواړي-

لنډه دا چي په شپاړسمه پېړۍکي **بايزيد روښان** د وزيرستان له دنګو غرونو څخه راپورته شو او خپله توره يې د دښمن په ضد اوچته کړه[۸]- هغۀ دمغلوخلاف مبارزو ته دوام ورکړ ترڅو چي په کال ۱۵۷۹ کي د کابل مغلي حکمران محسن علي خان دے شهيد کړ او له دې دُنيا څخه په مېړانه رخصت شو- دا مجاهد نن هم پېښور ته نژدې په "اشتنغر" کي پروت دے-

د پير روښان زوی شېخ عمر د پلار تر مړيني وروسته د پښتنو پر ځينو سيمو مذهبي حکومت قايم کړ- وروسته يې د حمزه خان يوسفزي سره اِختلاف راغلے او په جنګونه سره بوخت شول- دوه جنګه يې وګټل خو په درېيم کي يې ماته وخوړه- په دغه جنګ کي شېخ عمر او دده وروڼه تېښتي ته اړ شول او له تښتېدو پس دلته هلته ووژل شول- له پنځو وروڼو څخه يوازي څوارلس کلن **جلال الدين (جلاله)** چي په زخمي حالت کي د درياب له اوبو څخه د مندڼ قبيلې خلګو را وکيښ بچ پاته شو- دۀ وروسته د مغلو خلاف د

آزادۍ تحريك ته وړه ورکړه[۹]- د بايزيد د تحريك مخاليفانو له خپلي خوا د دغي کورنۍ وجود ور ختم کړ خو د خُدای شان ؤ چي جلاله يې وساتهٔ او روښاني تحريك ته يې بيا دوام ورکړ-

کابل چي اوّل د شهزاده محمد حکيم تر واك لاندي ؤ بيا په رسمي توګه د اکبري دولت برخه شو- په کال ۱۵۸۶ کي د اکبر لښکر پر پښتنو د باجوړ او سوات په سيمو کي حملې وکړې- تر دغو نښتو وروسته اکبر په خپله هم په کال ۱۵۸۸ کي اوّل پېښورته او بيا کابل ته ولاړ- تر يوې مياشتي په کابل کي ؤ خو بيا يې واك ځايي حکمران قاسم خان ته ورکړ او پخپله پېښور ته راستون شو-

کله چي اکبر باچا د مرزا حکيم تر کشالې خلاصولو پس له کابله را روان ؤ نو پر اټك دېره شو- دا مهال يې جلال الدين روښان د يوسفزو له بنده را خلاص کړ او له ځان سره يې بوت- "ولي د اکبر په دربار کي خپله حاضري جلال الدين د نظربندۍ نه کمه ونه ګڼله[۲]" ځکه ډېر ژر له درباره وتښتېد او په تيراه کي يې بيا خپل تحريك ژوندے کړ- د خپل پلار په شان د"تيراه" غرونو ته وخوت او پښتانه ټبرونه يې پر ځان سره راغونډ کړل- جلاله په لږو ورځو کي دومر قوت جوړ کړ او داسي کارنامې يې وکړې چي د اکبرِ اعظم مغلي لښکرو هم مات نه کړ-

روښانيان او يوسفزيان که څه هم په خپلو کي سره جوړ نه وو خو دواړو د بهرني دُښمن (مُغل) مقابله په مېړانه کړې وه- يوسفزو خو د اکبر يوهٔ لوی مُغلي فوج ته چي درې جرنېلان راجه بېربل، ابوالفتح او زين خان پکې شامل وو ماته ور کړه- د اکبر د دربار مهم غړے راجه بيربل په همدغه جنګ کي وژل شوے وو-

د مُغل باچا جلال الدين اکبر عقيده هم سمه نه وه- دۀ خپل مذهب "دينِ اکبري" جوړکړے ؤ په کوم کي چي د هندو ښځو سره ودونه هم جائز ؤ- که څه هم د اکبر سره په هغه وخت کي د دين په حواله د ډېرو پښتنو اِختلاف ؤ خو **اکوړخان خټک** د دۀ له خوا په لره پښتونخوا کي د محلي واکمن په توګه پېژندل شوے ؤ- آخر په کال ۱۶۰۶ زېږده کي اکبر باچا هم مړ شو-

هماغه وخت حسن خان ترين د پښين په خواؤشا سيموکي خپلواك اوسېد- بيا يې زوی شېرخان هم د صفويانو او مغلو تر منځ د دغي سيمي خپلواك حېثيت ساتلے ؤ- کله چي وروسته شېرخان په کال ۱۶۳۱ کي د سېوستان د نيولو هڅه وکړه نو صفوي حکمران علي مردان پر پښين يرغل وکړ او دے يې دوکی ته په پناه وړلو مجبور کړ[۹]-

شهزاده سليم چي وروسته د جهانګير په نامه بلل شوے دے، د اکبر ځايناست ټاکل شوے ؤ- دے په کال ۱۶۰۶کي کابل ته ولاړ او شاه بېګ يې د افغانستان د شمالي سيمو حکمران کړخو کله چي په کال ۱۶۱۱ کي "احداد" روښاني پر کابل حمله وکړه نو جهانګير قليج خان ته د کابل حکراني ورکړه- په کال ۱٦۲۲ زېږده کي د ايران باچا عباس اوّل کندهار له مغلو څخه بېرته ونيو- وروسته جهانګير هم په کال ۱۶۲۸ کي په لاهور کي مړ شو- دا هغه وخت ؤ چي پښتانه له يوې خوا د مغلو تر فشار لاندي وو او له بلي خوا د صفويانو تېرے ؤ- د کندهار سيمه د ډېرو شخړو سره مخامخ وه خو بيا يې هم څه ناڅه خپلواکي ساتلې وه(عکس نمبر52)

د کندهار پښتنو د هندي مُغلو او ايراني صفويانو تېرے نور نه




عکس نمبر 52 کندهار د مغلو او صفویانو تر منځ

شو ځغملای ځکه یې په خپلو کې صلاح سره وکړه چې یو کس د مشر په توګه مخته کړي- د ابدالیانو یومشر اسدالله خان د هغه وخت یو ډېر زیرک سړے ؤ ځکه دوی د مشر په توګه رامخته کړ- اسدالله چې په پښتنو کې د "سدو" په نامه هم بلل شوے دے، د ایراني باچا دربار ته ولاړ- دهٔ د پښتنو دا ګیله باچا ته په ډېره غوره توګه وړاندې کړه چې د کندهار ایراني حاکم چې پر پښتنو قبایلو کوم جبرکوي هغه د حکمرانۍ د آدابو سره هیڅ سمون نه لري[۱۰] - د سدو خبره معقوله وه ځکه باچا خپل حاکم لرې کړ او دهٔ ته یې د کندهار واک په لاس ورکړ- دا دهېواد په لوېدیځه څنډه کې د دغه وخت د پښتنو لومړۍکامیابي وه چې تفصیل به یې وروسته راشي-

کله چې مُغل شهزاده خرم د شاه جهان په نامه د هِند باچا شو

نو د دهٔ سره هم افغانانو د خپلواکۍ مبارزو ته دوام ورکړ- په کابل او کندهارکي جګړي رواني وې خو په هند کي امن ؤ- افغاني سيمه هماغه شان د هندي مُغلو او ايراني صفويانو تر منځ د جنګ مېدان وه- صفويانو د عباس دويم په وخت کي کندهار بېرته په کال ۱۶۴۸ کي قبضه کړ- شاه عباس لږ موده وروسته په کال ۱۶۴۹ کي مړشو[11]- تر۳۱ کاله حکمرانۍ وروسته شاه جهان هم په کال ۱۶۵۷ کي خپل زوی اورنګ زېب عالمګير له تخته لري کېدو پس بندي کړ او په کال ۱۶۶۵ کي په هماغه حالت کي مړشو- بيا اورنګ زېب ترکال ۱۷۰۶ پوري د هندوستان باچا ؤ چي په تاريخ کي د يوهٔ مذهبي سړي په توګه پېژندل شوے دے- مشهوره کتاب"فتاوایِ عالمګيري" هم د دهٔ په دربار کي ليکل شوے ؤ[12]- د ختيځي څنډي ښاغلو يوسفزو د اورنګ زېب خلاف هم د خپلواکۍ تحريك ژوندے ساتلے ؤ-

وروسته پښتنو د **ايمل خان** او **خوشحال خان** خټك تر مشرۍ لاندي دهېواد په ختيځه څنډه کي خپل سياسي او عسکري جنګ ته دوام ورکړ- دا مهال ستر مبارز خوشحال خان خټك چي داکوړخان خټك کړوسے ؤ د مغلو پر ضد د پښتني خاوري حق ادا کړ چي نن هم د هر پښتون دبګړۍ شمله په شکه ده-

کله چي اورنګ زېب په کال ۱۷۰۶ کي مړشو نو مُغلي سلطنت هم مخ په ځوړه روان شو- خاريجيانو په هندوستان کي لاس وَهنه زياته کړه- کلکته مدراس او ممبۍ د انګليسي کمپنۍ په لاس ورَغلل- بلي خواته نادر افشار هم پر هندوستان حمله وکړه- بهادر شاه ظفردَ هندوستان آخري مغل حکمران ؤ- له دهٔ څخه وروسته

انګرېزانو د هند واك ترلاسه کړ خو د آزادۍ تحريکونه ختم نه شول بلکي په دغه وخت کي نور خلګ هم را پورته شول-

# اخځليك


١ - حبيبي عبدالحئي ، افغانستان بعد از اسلام ، کابل ، ١٣٥٧ هجري

٢ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور ، ١٩٦٣ -

٣ - بابر ظهير الدين ، بابر نامه ، ترجمه اينتهې سوسانا ، دهلي، ١٩٧٠ -

٣ - غبارغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ١٩٦٧

٥ - رشاد عبدالشکور، لودي پښتانه ، کابل ، ١١٥٦ هجري

٦ - رنجن کالکا ، شېر شاه او د هغه عهد ، لاهور، ٢٠٠٣ -

٧ - سروري عباس خان ، شېر شاهي تاريخ ، ترجمه امام الدين، دهاکه ، ١٩٦٣ -

٨ - زيار مجاور احمد ، پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکي، ساپي مرکز پېښور، ٢٠٠١-

٩- حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ٢٠٠٣-

١٠- ګنډا سينګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ٢٠٠٤ -

١١ - کريمر کرسټوفر، د غاليو جنګ (The Carpet Wars) هرپر کولنز پبليشر ، لندن ، ٢٠٠٢ -

١٢ - قاضي عطا الله ، د پښتنو تاريخ ، يونيورسټي بك ايجنسي، پېښور، ٢٠٠٣

# ۱۸

# د تهذیب ستوري

## (شېر شاه سوري)

شېر شاه سوري (۱۴۸۲ - ۱۵۴۵) چي اصل نوم يې فريدخان ؤ د شمالي هندوستان يو غښتلی پښتون حکمران تېر شوی دی- د دهٔ تعلق د افغانستان د سوري قبيلې څخه ؤ[1] - لکه مخکي چي يې بيان وشو، سوريان تر اسلام له مخه هم په غور کي يوه خانواده کورنۍ وه- دوی له کال۳۰۰ زېږدي څخه د تېمور لنګ (۱۳۷۹) ترحملې پوري، تقريباً نهه سوه کاله پر منځني افغانستان په څه ناڅه توګه حکومت کاو- د لرغوني مهال سوريان د ساکانو يوه غښتلې پښنه ګڼل کېده- تاريخِ فرشته دوی د ضحاك (سهاك) هغه پښنه ګڼلې ده کومي چي د ساسانيانو په وخت کي له ايران څخه غور ته کوچ کړی ؤ-

په اومه پېړۍ کي ماهويه سوري د "مرو" زمامدار تېر شوی دی چاچي يزدګر ساسانی وژلی ؤ- امير سوري په اسلامي دور کي د

اُمويانو خلاف د ابومسلم خراساني ملګرتيا کړې وه- د سبکتګين په دور کي امير محمد سوري بندي شوے هم ؤ- د محمد سوري زوی بوعلي د سبکتګين په آخري وخت کي د وسلو انچارج ؤ- عباس سوري د بوعلي وراره ؤ- سلطان بهرام شاه غزنوي له سوريانو سره ډېر بد ؤ- قطب الدين سوري او سيف الدين سوري هم د غزنويانو په دور کي نوميالي کسان وو[۲]-

شېرشاه سوري د سوري قبيلې د شېر خېل ښاخه څخه ؤ- د دهٔ نيکه ابراهيم سوري د آسانو تجارت کاوهٔ او له خپله وطنه يې د بهلول لودي په آخري دور(۱۴۸۲) کي هندوستان ته هجرت کړے ؤ- د دهٔ د زوکړي ځای ملتان ياد شوے دے خو د پلار حسن خان جاګير يې په بهار صوبه کي ؤ- کله چي حسن خان د هندوستان د دويم لودي باچا سکندرلودي په فوج کي ملازمت اختيارکړ او په نره يې د دغه افغان باچا ملاتړ وکړ نو هغهٔ ورته د بهار صوبې په سهسورام کي جاګير ورکړ[۳]- د خپلي مئيرې سره د خواشنۍ له کبله دے له کوره مرورشو او جونپور ته ولاړ- شېر شاه سوري په جونپور کي تعليم وکړ- په عربي او فارسي ژبو کي يې هم مهارت حاصل کړ او بيا د خپل پلار سره بېرته بهار ته را ستون شو- شېر شاه يو تېنګ پښتون او غښتلے سپايي ؤ- يو ځل بابر خپلو سردارانو ته ووئېل چي "پر دغه ځوان نظر ږدئی ولي چي زه د دهٔ پر تندي د باچهۍ نخښي وينم"-

په کال ۱۵۲۲ کي شېرخان د بِهار د والي بهارخان سره ملازمت شروع کړ- بهارخان دومره اعتماد ورباندي وکړ چي خپل وکيل (نايب والي) يې کړ او دخپل زوی د تربيت زمه واري يې هم دهٔ ته

ورکړه- د بهارخان د درباريانو په شېرخان قصد کېدۀ ځکه يې د دۀ خلاف سازشونه پيل کړل- ورو ورو يې شېرخان د خپل پلار له جاګيره هم محروم کړ-

په کال ۱۵۲۷ کي د اپرېل په مياشت کي شېرخان د بابر په کېمپ کي ملازمت اختيارکړ چي ترجون ۱۵۲۸ پوري يې دوام درلود- شېرخان (عکس نمبر53) ډېر ژر دا ملازمت هم پرېښو او بېرته بِهارته را ستون شو- دا وخت په بِهار کي حالات ښه وو- بهارخان ته د خپلي غلطۍ احساس ؤ ځکه هغۀ شېرخان پرخپل زاړه منسب بحال کړ او د خپل زوی سر پرست يې هم کړ- جلال خان



عکس نمبر 53 شېر شاه سوري

چونکي کُچني ؤ ځکه د بِهار اصل حکمران شېرخان شو- شېرخان دخپل سلطنت په پراختیا لاس پوري کړ چي وروسته له سیند څخه تر بنګاله پوري خپور ؤ-

لکه چي په تېر څپرکي کي یې ذکر وشو، د هندوستان حکومت مغُلو له لودي پښتنو څخه نیولے ؤ ځکه شېرشاه سوري د دوی خلاف په هندوستان کي د افغاني دولت د وارث په توګه په کال ۱۵۳۹ کي راپاڅېد- دهٔ په کال۱۵۴۰ کي د ګنګا پر غاړه همایون ته شکست ور کړ او بېرته یې د افغاني دولت اعلان وکړ- همایون له هندوستان څخه ایران ته په تېښته ولاړ[1]-

شېرخان د راتلونکو پنځو کالو د پاره د هندوستان باچا شو خو پر پایتخت دناستي وخت ورسره نه ؤ- کله به د بنګال پر محاذ، کله پر ملتان، کله پر سیند، کله پر اجمېر، او کله به پر راجپوتانه پېوسته په جنګ ؤ- په همدغه وخت کي د مارواړ راټور خاندان ډېر قوت موندلے ؤ- راټور باچا راؤمالدېو څو سوه کیلومیتره د ډیلي په خوا راوغزېد- په کال ۱۵۴۴ کي شېرخان پر مالدېو حمله وکړه- د سامل په دغه جنګ کي شېرخان فاتح شو خو نقصان یې هم ډېر زیات وشو-

لکه وړاندي چي بیان شو، پر هرات هغه مهال د صفویانو قبضه وه- همایون د صفویانو څخه د خپلو وروڼو خلاف مدد وغوښت- صفویانو همایون ته په کال ۱۵۴۴ کي په "قزوین" کي پایتخت جوړ کړ او لس زره (۱۰۰۰۰) سپایان یې ورکړل چي له خپلو وروڼو سره وجنګیږي او د افغانستان واك له هغوی څخه واخلي، خو شرط یې دا ؤ چي کندهار به صفویانو ته بېرته ورکوي کوم چي کامران مرزا له

هغوی څخه نيولے ؤ- همايون په هماغه کال د صفويانو په مرسته کندهار ونيو او نور پرمخ ولاړ- د بد قسمتۍ خبره دا شوه چي په کال ۱۵۴۵ کي شېر شاه سوري د خدای په کار شو(عکس نمبر54) او پرمېنه يې څه غښتلے سړے پاته نه شو- ددۀ مشر زوی



عکس نمبر 54 د هند په صوبه بهار (سهسرام) کي د شېر شاه سوري مزار

عادل خان چي د وليعهد په توګه ټاکل شوے ؤ، دغه وخت موجود نه ؤ ځکه يې بل زوی جلال خان اميرانو په عارضي توګه پر تخت کښېناؤ- دۀ تر شېرشاه سوري وروسته د اسلام شاه سوري په نامه په هندوستان کي د افغاني سلطنت د مشر په توګه خپل اقتدار ته دوام

ورکړ- تر دغي پېښي پس په خاندان کي د اِختلاف له کبله دوی د سلطنت بشپړه دفاع نه شوه کولای ځکه ورو ورو پر ځوړه روان شو-

د اسلام شاه تر مړيني وروسته چي ددهٔ زوی فېروز په هلکوالي پر تخت کښېنوست نو د اسلام شاه تربور او اخښي (چي ددغه هلك ماما ؤ) ورباندي را وَپاځېد او په شاهي محل د خپلو خلګو سره ورننووت- خور يې ډېري زارئی ورته وکړې خو دهٔ د اقتدار په لالچ کي خپل دغه خوريئے وواژهٔ او د عادل شاه په نامه باچا شو- د پښتنو ورباندي اعتماد نه ؤ ځکه يې باچهي تر ډېره نصيب نه شوه- له دهٔ څخه بيا تخت بېرته مغلو واخست[۴]-

د شېرشاه سوري د جنګونو او يرغلونو ډك داپنځه کاله دور د هندوستان د تاريخ يو ځلاند دور دے- شېرشاه يو ښه منتظم او په هند کي د ملي وحدت يو لوی علامت ؤ- دهٔ د ماليې يو ښه نظام جوړ کړ چي پکې دا حساب هم ؤ چي د حکومت د پاره په کال کي څو رقم په کار دے او دا به څنګه ترلاسه کېدای شي- دهٔ هغه ټول ټېکسونه ختم کړل کوم چي د آزاد تجارت مخي ته خنډ وو- د ډاك نظام هم شېرشاه سوري په خپل وخت کي شروع کړ- شېرشاه په خپل پنځه کاله دور کي روپي پر ۱۶ آنې تقسيم کړه، اټانۍ او پاولے هم د دهٔ د دور سکې وې[۵]-

شېرشاه په لږ موده کي ډېر عسکري او انتظامي اِصلاحات وکړل- د فوج دپاره لومړے ځل د تنخواه نظام (پې سکېل) هم د شېرشاه په وخت کي شروع شو- دهٔ لومړے ځل دا تصور ورکړ چي فوجي افسر د صوبې ګورنر نه شي جوړېدای، ګورنر به عوامي نماينده وي- د ډپټي کمشنر عهده هم د شېرشاه له دوره وجود لري-

دۀ خپل سلطنت پر ۴۷ صوبو تقسيم کړ چي د "سرکار" په نامه لا تر اوسه هم په هند کي دوام لري- هره صوبه يې پر ضلعو تقسيم کړې وه چي "پرګانا" ورته وئېل کېدل- د دۀ په وخت کي د سوداګرو د مال زمه واري پر ضلعي حکومتونو وه- که به چيري يو کاروان لوټ شو يا به د سوداګر غلا وشوه نو دضلعي حکومت څخه يې پوښتنه کېده- د ضلعې افسران شقدارِشقداران اومنصفِ منصفيان وو- تحصيلونه د دۀ په دور کي جوړشول- پټواريان، نمبرداران او چوکيداران هم د دۀ د وخت جوړ شوي حکومتي نمايندګان وو- نن څلورنيم سوه کاله وروسته هم دا عهدې وجود لري- شېرشاه سوري ځمکه پر بيګو ووېشله او هره بيګه ته يې خپل خسره نمبر ورکړ-

شېرشاه په نړې کي اوّل ځل د خزانې، دفاع، او خاريجه وزارتونه جوړکړل[۶]- دۀ لومړے ځل دا تصور ورکړچي معيشت د سلطنت بنياد دے چي اوس په يويشتمه پېړۍ کي په بشپړه توګه حقيقت ومنل شو- دۀ په پنځه کاله کي څلور لوی سړکونه جوړ کړل- اوّل سړک يې د بنګال له سُنارکلي څخه تر آګره، ډيلي، لاهور او وروسته تر پېښوره پوري وغزاوۀ، چي يونيم سل کوسه اوږد دے او د جرنېلي سړک په نامه تر اوسه يو يادګار دے- دويم سړک يې له آګرې څخه تر بنارس پوري وغزاوۀ- درېيم سړک له آګرې څخه تر جودپوره پوري غزېدلے ؤ او څلورم سړک له لاهورڅخه تر ملتانه پوري- د دۀ په دور کي د سړکونو پر کِنارو درختي ولګېدې او د سفر کوونکو د اوبو ضرورت لره څاهان وو- پر هر دوه کوسه فاصله باندي د مسافرو د آرامځای په توګه سرای جوړ کړل شو[۷]- د زاړه ډيلي کلا او د جهلم روهتاس کلا د تهذيب د ستوري په توګه د شېرشاه سوري د عظمت

ژوندي ثبوتونه دي- روهيله هغه وخت په هند کي پښتنو ته وئېل کېدل څکه د دغي کلا نوم هم روهتاس ايښوول شوے ؤ-

په پاکستان کي له جهلم ښارڅخه ۱۸ کلوميتره پرجنوب لوېديځ د شپاړسمي عيسوي پېړۍ د روهيله پښتنو دغه تهذيبي شاهکار د "روهتاس کلا" په نامه نن هم وجود لري چي اوس د عالمي ورثې يوه مُهمه برخه ده- دا کلا د خپلو لوَړو برجونو، ښکلومحرابونو او بېل افغاني جوړښت له کبله د پاکستان په هغو اوو عمارتونو کي ده چي په "زړه عالمي ورثه" کي ځای لري- د دغي کلا خښته شېرشاه سوري په خپل لاس په۱۵۴۱ عيسوي کال کي ايښې وه- دا کلا پر۱۷۵ ايکړ ځمکه جوړه ده او جوړښت يې پوره پنځه کاله اخستي وو- د دغي کلا ۱۲ دروازې او ۶۸ برجونه دي-

اوس هم په ډېرو پښتنو افسرانو او حاکمانو کي هماغه خويونه شته کوم چي په شېرشاه سوري کي وو- پښتانه ذمه واري قبلوي، کار ترخپل نظر لاندي ساتي، د څيزونو په ژغورنه پوهيږي او تر ډېره حده په لېن دېن (کاروبار) کي صفادي- اولف کېرو[3]په خپل کتاب The Pathans کي کاږي چي يوځل ما له خپل وزيرِاعلیٰ ډاکټرخان صاحب څخه پوښتنه وکړه چي د هندوستان په تاريخ کي ستا هيرو څوك دے؟ زماله توقع خِلاف د ډاکټرخان صاحب جواب ؤ چي " شېر شاه سوري"- ما ترې وضاحت وغوښت چي ولي؟ جواب يې راکړ چي "شېر شاه يو سپين پښتون ؤ، خبره يې سپينه کوله او چيري چي به د عمل ضرورت ؤ نو به پرموقعه پخپله حاضر ؤ"-

شېرشاه په بېخي لږ موده کي د بابر د وخت په باچهۍ کي يو خاص بدلون راووست چي وروسته د اکبر په دور کي نور هم بشپړ

شو- دۀ په هند کي عدالتونه جوړ کړل او د انصاف اصولونه يې خپل کړل- د چيف جسټس، سېشن جج او سول جج عهدې هم د شېرشاه په وخت کي جوړي شوې- دے په ټول هند کي د "هندو مسلم اتحاد" لوی مخکښ ؤ او په هېواد کي يې د امن د پاره هلي ځلي رواني کړې- د دۀ اصلاحات مغلو او انګرېزانو هم په خپل وخت کي قبول کړي وو- دے د تهذيب د درېيمي څپې يو ځلاند ستورے دے چي تر اوسه لا د انسانيت پرآسمان ځرکيږي- دۀ نړيوالو ته ورثابته کړه چي پښتانه تش په جنګ غښتلي نه دي بلکي د تهذيب پيلامګر هم دي-

## اخځليك


١ - رنجن كالكا ، شېر شاه او د هغه عهد ، تصحيح محمد بابر جاوېد، لاهور، ٢٠٠٣

٢- حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش كتابتون ، پېښور، ٢٠٠٣-

٣ - اولف كېرو، پښتانه (The Pathans) مېكميلن كمپني لندن، نيويارك اېسټي مارټن پريس ،١٩٦٥

۴ - كاكا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا كي ، پېښور ، ١٩٦۴ -

۵ - سروري عباس خان ، شېر شاهي تاريخ ، ترجمه امام الدين، دهاكه، ١٩٦۴ -

۶ - ډاكټر شاهد مسعود، شېر شاه سوري، ويوز آن نيوز اا ماورا، لاهور، ٢٠٠۵

٧ - وديا با سكر، شېر شاه سوري، اردو ترجمه ممتاز مرزا، فېكټ پبليكېشنز، علي پلازا، ټېمپل روډ لاهور، ٢٠٠٣ -

# ١٩

# د آزادۍ هلي ځلي

دا ذکر خو وشو چي تر اتلسمي پېړۍ وړاندي پر افغانستان له يوې خوا مغلي يرغلونه وو او له بلي خوا صفوي- کله به د يوۀ لاسونه د پښتنو په وينو رنګ ؤ او کله دبل- د پښتنو د تاريخ بدي ورځي او شپې وې- يوې خوا ته خارجي يرغلونه وو، بلي خوا ته داخلي سازشونه او بد نيتۍ دومره زياتي وې چي وطن يې د ځمکي پر سر يو دوزخ جوړکړے ؤ- تر دوَنيم سوو کلونو پوري افغانستان د يرغلګرو تر منځ تقسيم ؤ خو افغانانو بيا هم د خپلواکۍ هلوځلوته دوام ورکړ-

دا خو په تېر څپرکي کي څرګندۀ شوه چي په شپاړسمه پېړۍ کي بايزيد روښان د ملت په **ختيځه څنډه** کي له وزيرستان څخه د آزادۍ پر لار لومړے ګام پورته کړ- بيا نورو پښتنو هم د دۀ په حق کي خپلي توري د مغلي دښمن پر ضد را اوچتي کړې- د مغلو

خلاف روښانيانو، مومندو، خټکو او يوسفزو پښتني مبارزو ته دوام ورکړ- بيا د اکوړخان خټك لمسي خوشحال خان خټك په خپله توره د پښتنو د خپلواکۍ هلي ځلي تر ډېره جاري ساتلي وې- حقيقت خو دادے چي په دغه وخت کي د آزادی تحريك د ختيځ سړبني اوکرلاڼ قبايلو په ګډه ژوندے ساتلے ؤ- د دغو ټبرونو قبايلي ډلبندي په نهم او لسم لښتليکونو کي څرګنده ده-




نهم لښتليك

کله چي د کابل مُغل والي محسن خان بايزيد روښان شهيد کړ نو پښتنو ډېره بده وګڼله- دوی شل زره پياده فوج جوړ کړ او پنځه زره سپارۀ يې هم تيار کړل- د بايزيد روښان تر شهادت وروسته يې د هغه زوی **جلال الدين** خپل مشر کړ او د پېښور مُغل والي حامد خان بخاري يې په بدل کي وواژۀ[1] -




لسم لښتليك

جلال الدين روښاني د آزادۍ جنګ ته دوام ورکړ او په ۱۵۸۵ کي يې د اکبر باچا د فوجونو سره د خيبر په دنګو غرونو کي ډيري مقابلې وکړې- مومند او يوسفزي دجلال الدين له خوا تردوو کلونو پوري د مغلو سره جنګېدل- په کال۱۵۹۱ کي مغلو لويه حمله وکړه- مقصد يې دا وو چي جلال الدين روښاني او د هغهٔ ورونه کمال الدين او واحد علي به دواړه ونسي- ملك حمزه او اخوند درويزه ننګرهارے هم د جلال الدين روښاني خلاف وو- د هندي مغلو او آزادي غوښتونکو پښتنو ترمنځ لوی جنګ په کال۱۵۹۲ کي په باجوړ کي وشو، په کوم کي چي څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) فوجيان ووژل شول او د هندوستان او کابل ترمنځ لار بنده شوه- په کال ۱۵۹۸ کي د مغلي فوج او آزادۍ غوښتونکو ترمنځ په غزني کي

یو بل جنګ هم وشو په کوم کي چي جلال الدين روښاني زخمي شوخو غزنے يې فتح کړ او بيا د لوی خدای په کار شو-

وروسته دجلال الدين وراره احداد روښاني د آزادۍ د مجاهدينو د مشر په توګه وټاکل شو- هغهٔ د "عم" څخه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ- دهٔ په ۱۶۱۰ کي د لوګر په غرونو کي خلک منظم کړل او په ۱۶۱۴ کي يې پر مغلي فوج حمله وکړه - له جنګه وروسته کندهار ته ولاړ او په ۱۶۱۸ کي يې بيا پر مغلي فوج حمله وکړه خو نقصان يې وشو- دهٔ په ۱۶۲۵ کي له "تيراه" څخه آخري حمله وکړه او شهيد شو[۲]- د احداد روښاني يوه لور وه، کله چي هغې د پښتنو د ماتي خبر واورېد نو يې ځان وواژهٔ خو د دښمن په لاس يې ورنه کړ- د احداد روښاني تر شهادت وروسته د هغهٔ ورور عبدالقادر روښاني د مبارِزانو مشر شو او د آزادۍ تحريك ته يې وړه ورکړه - بيا کمال الدين اوکريم داد د شاه جهان په دور کي مبارزو ته نور هم دوام ورکړ- چالاك خټك او باکوخان د روښاني تحريك آخري مجاهدين ؤ چي د اورنګزېب خلاف يې تر ۱۶۶۸ پوري جهاد کاوهٔ- وروسته ايمل خان مومند او افريديانو پښتني مبارزې جاري ساتلي وې ترڅو چي ستر مُبارز خوشحال خان خټك هم پښتني بېرغ راپورته کړ-

**خوشحال خان خټك** آخري پښتون مبارز ؤ چا چي د مغلو سره له ۱۶۶۸ څخه تر ۱۶۷۰ پوري د اورنګزېب په دورکي درنې نښتي وکړې او وئېل به يې چي:

د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګيالے د زمانې خوشحال خټك يم

خوشحال خان (عکس نمبر55) د شهبازخان زوی، ديحيیٰ خان لمسے او د ملك اکوړي کړوسے ؤ- ملك اکوړي د اکبرمغل په زمانه کي سيمه ايځ اقتدار موندلے ؤ- مغلو دهٔ ته له خېرآباد څخه تر نوښار پوري ټوله علاقه په جاګيرکي ورکړې وه - د لار ساتني زمه واري هم د اکوړ خان په غاړه وه -



عکس نمبر 55 خوشحال خان خټك

لوی جاګير خوشحال خان خټك ته له پلار او نيکه نه ورپاته ؤ خو شاه جهان باچا په رسمي توګه هم د اسلافو ځای خوشحال ته ورکړ- خټك صاحب پخپله هم اوّل د مغلو مرستيال ؤ- هماغه مهال يوه پېښه دا وشوه چي د مغلو په سرکاري فوج کي چا په کونړ کي د يوې ساپۍ پېغلي عزت لوټ کړ- دَ دغي پېښي خلاف ساپيان، مومند، شينواري، افريدي او خوګيانۍ ټول را وپارېدل- ايمل خان مومند د دغو خلګو مشر ؤ او يو لښکر يې هم د مغلو پر ضد جوړ کړے ؤ[۳] -

مغلو له پېښورڅخه يو لوی لښکر د محمد امين صوبدار تر مشرۍ لاندي د ننګرهاريانو د ماتولو په غرض جوړ کړ- خوشحال خان هم په دغه لښکر کي شامل ؤ- د دواړو لښکرو تر منځ په لنډي خانه کي جنګ وشو- مغلي لښکر شکست وخوړ او مات شو- د محمد امين صوبدار تر مشرۍ لاندي د لښکر يوه ډله پېښور ته راغله او بله ډله يې د خوشحال خان ترمشرۍ لاندي بېرته د تاترې پر لار ولاړه- پښتنو يو ځل بيا د خوشحال پر دغه مغلي لښکر حمله وکړه او مات يې کړ-

د"تاتره" په جنګ کي د دښمن خواوشا څلوېښت زره(۴۰۰۰۰) فوجيان مات شول- مغلو محمد امين لري کړ او د هغهٔ پر ځای يې مهبت خان د کابل صوبايي مشرکړ- خوشحال خان له دغي فېصلې څخه خوښ نه ؤ- مهبت خان غوښت چي د خوشحال سره روغه وکړي او د ځان سره يې مل کړي خو د هغهٔ د محمد امين په لري کېدو او د پښتنو سره په جنګ زړه شين ؤ ځکه يې د مهبت خان ملګري قبوله نه کړه-

د ستر خوشحال زوی بهرام خان د پلار فېصله ونه منله او د مغلو ملګرتيا يې وکړه[۴]- مغلو د پلار رتبه بهرام ته ورکړه او د خوشحال سره يې په جنګ کړ- د مغلو او خوشحال ترمنځ بيا د دۀ تر مرګه جنګونه روان وو- يو جنګ په "دوابه" کي وشو چي د مغلو لوی قومندان پکې ووژل شو- دارنګه په ګنداب ، نوښار او خانج کي هم د خوشحال بابا او مغلو تر منځ جنګونه وشول- په دغو مبارزو کي د خوشحال بابا زامنو او لمسيانوهم ځانونه قربان کړل- په کال ۱۶۹۱ کي خوشحال بابا د ۷۸ کلونو په عمر کي د خدای په کارشو او له ختيځي سيمي څخه د افغانانو د آزادۍ ارمان يې خاورو ته يووړ-

د افغانستان په **جنوبي څنډه** کي د ابداليانو او غلجيانو ترمنځ د ځمکي پر ملکيت تنازعه وه- د دغه دوو لويو قبيلو تر منځ نفاق د قبايلي جګړو شکل اخستے ۇ ځکه په ۱۶۰۹ کي د ايران باچا عباس اوّل کندهار ترې ونيو خو بيا له هغۀ څخه هم مغل باچا جهانګير د لږ مودې د پاره قبضه کړ- په ۱۶۲۰ زېږدۀ کي بيا شاه عباس صفوي دا مهم تجارتي ښار له مغلوڅخه بېرته واخست- اورنګزېب ډېر وس وکړ چي کندهار ونيسي خو برے يې په نصيب نه ۇ- د ايرانيانو او افغانانو تر منځ د کندهار پر ښار نښتي رواني وې، کله چي د ابداليانو او غلجيانو تر منځ نفاق نور هم ډېر ژَوَر شو- ايراني باچا د پښتنو قبيلو په خپلو کي له دغو نښتو څخه فائده واخسته- پنځوس زره عسکر يې کندهار ته راولېږل او دا ښار يې تر دونيمو مياشتو محاصره کړ- آخر ايرانيانو کندهار په بشپړه توګه تر خپل واك لاندي راووست- لس زره فوج يې د مهبت خان تر

مشرۍ لاندي په ښار کي پرېښوو چي کنترول يې وساتي-

په دغه وخت کي مُغل باچهانو هم په وارو وارو پر کندهار حملې وکړې خوکاميابي يې نصيب نه شوه- دايران دباچا له خوا دکندهار حاکم د ابداليانو او غلجيانو تر منځ نفاق ته نوره هم هوا ورکړه- که څه هم ايراني حاکم وروسته ډېرظلمونه وکړل چي پښتانهٔ تر فشار لاندي تابع کړي خو غلامي د پښتنو قبائلو په فطرت کي نه وه ځکه ايران کولای نه شو چي دوی د ځان کړي-

لکه مخکي چي يې ذکر وشو د ابدالي ټبر څخه اسدالله چي په "سدو" مسوا ؤ، د پښتنو دمشر په توګه را اوچت شو- دهٔ د بارکزو يو خان، "محمد" هم د ځان مل کړ او په پټه د ايراني باچا در بار ته ورغلل- دوی په ايراني دربار کي د پښتنومسئله په ډېره غوره توګه وړاندي کړه[5]- په آخرکي يې دا په واز کومي ووئېل چي د کندهار ايراني حاکم پر پښتنو دومره ظلم کوی چي د يوه حکمران سره نه ښايي- ايراني باچا چي دسدو دلائل په غور واورېدل نو يې خپل هغه حاکم له کندهار څخه لري کړ او د ښار واك يې **سدو** ته ور وسپارهٔ- دے چونکي له همدغو خلګو څخه ؤ او د دوی په ښه او بد ورګډ ؤ ځکه د ښار اوسېدونکي ترې خوښ وو- ترڅو چي شاه عباس اوّل د ايران باچا ؤ کندهار او هرات د سدو تر مشرۍ لاندي په امن وو- که څه هم په کال ۱۶۲۸ کي سدو د خدای په کار شو خو د ښار پښتنو د حکمراني حق د دهٔ اولاد ته ورکړ-

وروسته چي کله د صفوي خاندان رَويه بدله شوه نو پښتانه هم ترې خواشِيني شول- دوی په کال ۱۶۳۴ کي د مُغلو خوا ته هڅه وکړه- د مُغلو او ايرانيانو تر منځ پر پښتني سيمه د قبضې جګړو

تر اتو(۸) کالو دوام درلود، تر څو چي په کال ۱۶۴۲ کي د ایران باچا شاه عباس دویم کندهار بېرته له مغلو څخه ونیو-

په کال ۱۶۹۴ کي شاه حسېن صفوي د ایران باچا شو- هغهٔ په ۱۶۹۸ کي د جارجیا والي ګورګین ګرجستاني(شاه نواز خان) د کندهار حاکم کړ- ګورګین د خپلو ګرجستانیانو یو پلټن درلود چي د دهٔ حفاظت به یې کاوهٔ- شل زره ایراني فوجیان هم ورسره وو چي د دهٔ تر حکم لاندي وو- په ۱۷۰۲ زېږده کي ګورګین کندهار ته داخل شو او په ډېره سختي سره یې افغانان تر خپل فشار لاندي راوستل- ډېر افغانان یې ووژل او لوی شمېر یې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کړل- د ابدالیانو او غلجیانو تر منځ یې پخواني نفاق ته بیا هوا ورکړه-

دغه وخت د احمد شاه بابا نیکه **دولتخان ابدالي** خپل حریف حیات سلطان ابدالي له کندهار څخه ملتان ته په هجرت کولو مجبور کړ او د یوهٔ واکمن خان په توګه یې د خپلي قبیلې د داخلي خود مختارۍ ساتنه کوله- دولت خان ابدالي په خپله قبیله کي د صفوي حاکم لاس وهنه نه ځغمله ځکه ګورګین د دهٔ کلا محاصره کړه او دے یې د خپل مشر زوی نذرمحمدخان سره ووژهٔ- د دولت خان پاته دوه زامن رستم خان او زمان خان وو- دوی په ارغسان کي خپله قبیله پرځان راټوله کړه او تر هغه وختهٔ یې خپله دِفاع کوله ترڅو چي ګورګین په روغه راضي شو[۶]- ګورګین په دې شرط رستم خان ته د خپل پلار مرتبه بېرته ورکول غوښت چي هغهٔ خپل کشر ورور زمان خان د یرغمل په توګه دهٔ ته ورکړي- د رستم خان مجبوري وه ځکه یې دا ناوړه شرط هم ومانهٔ- ګورګین زمان خان

خو د يرغمل په توګه کرمان ته ولېږۀ مګر د روغې احترام يې ونه کړ ځکه يې وروسته نور هم ډېرظلمونه وکړل- رستم خان يې هم وواژۀ او د دۀ سره تړلي ابداليان يې له خپلو ځمکوڅخه د فراه، هرات او نورو سيمو په خوا وشړل- د دوې ځمکې يې په نورو قبايلو ووېشلې-

کندهار چونکې په تاريخ کې يو ډېر مهم ښار پاته شوے دے ځکه مغلو او ايرانيانو دا ښار تر خپل واك لاندې ساتل غوښت- دا د تجارت يو ډېر لوی مرکز ؤ او له هندوستان څخه د منځنی آسيا په لار کې ؤ ځکه مغلو لره ډېر مهم ؤ- کندهار اوس هم د کابل، هرات او کوټې په منځ کې دے- د پښتنو ټول تجارت دا وخت هم د هرات له لارې د عرب، ايران، يورپ او مرکزي آسيا سره د کندهار له خوا کيږي- د تجارتي او عسکري اهميت له کبله د دې ښار تاريخ د مبارزو ډك دے[۷]-

د کندهار خلګ د ګورګين په نيت خبر وو چې دے د غلجيانو مرسته د ابداليانو د ختمولو د پاره کوي خو وروسته به د غلجيانو نوبت هم راځي ځکه د ښار ابداليانو او غلجيانو په ګډه د کندهار يو لوی تجار **ميروېس خان** خپل مشرکړ- ميروېس خان چې وروسته پښتنو اِحتراماً ورته ميروېس نيکه وئېل، پخپله هوتك ؤ خو يوې خواته د غلجو د مشر سلطان ملخي توخي د لور له خوا لمسے ؤ او بلې خواته د ابداليانو د مشرتابه د کورنۍ سدوزو زوم ؤ، ځکه دواړو لويو قبايلو د نماينده په توګه قبول کړ- دوی د ايران باچا ته په پټه يو ليك ور واستاؤ چې ګورګين پښتنو لره د ځغملو سړے نه دے- تر دغه وروسته ګورګين دا وکړل چې ميروېس نيکه يې ونيو او د

ايران د دښمن په توګه يې صفوي دربار ته ولېږهٔ- په ۱۷۰۶ کي ميرويس نيکه د ايران د باچا په دربار کي د ګورګين خلاف د افغانانو خواشيني شاه حسېن صفوي ته په ښه توګه څرګنده کړه او ځان يې هم دربار ته سپين کړ- ميرويس نيکه ته له ايراني درباره دا اندازه وشوه چي صفوي باچا دومره قوي نه دے چي پښتانه ترخپل واك لاندي وساتي- هماغه وخت يې د کندهار واك په خپل لاس کي د اخستو فېصله وکړه-

## اخځليك


۱ - كاكا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور ، ۱۹۶۳ -

۲ - معظم شاه پير ، تواريخ حافظ رحمت خاني ، ديباچه محمد نواز طاهر ، پېښور ، ۱۹۸۷ -

۳ - غبار غلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، كابل، ۱۹۶۷-

۴ - شېدا كاظم خان ، ديوان ، ترجمه سيد انوار الحق ، پېښور ، ۱۹۶۶ -

۵ - يزدي محمودافشار ، افغان نامه ، تهران ، ۱۹۸۰ -

۶ - فېرئير جې پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنګ ميل لاهور ، ۲۰۰۲ -

۷ - اولف کېرو، پښتانه (The Pathans) مېکميلن کمپني لندن، نيويارك ابسټي مارټن پريس ،۱۹۶۵

# ۲۰

# میرویس نیکه او ایران

میرویس خان د ببېړ نیکه د لور متو انا له پښته، د هوتکو په ټبر کي، د ښالم خان او نازو انا پر غولي زوکړے، یو ستر پښتون ؤ- که څه هم دے د کندهار ښار یو تجارت پېشه سړے ؤ خو د دغه ښار واك د پښتنو لاس ته راوړونکے اولنے مبارز ؤ- دے په عیسوي کال ۱۶۷۳ کي کندهار ته نژدې د سلطان ملخي د پتمني لور نازو له بطنه زېږېدلے ؤ- د میرویس نیکه ښځه له ابدالي ټبره څخه وه-

ګورګین د کندهار پر ښاري خلګو ورو ورو جبر زیات کړ- د خلګو د ننګ او ناموس خیال یې هم نه ساتۀ- د ابدالیانو او غلجیانو تر منځ یې خاشې ماتولې- د ښار خلګ ډېر مجبوره او تنګ ښکاریدل- میرویس نیکه د دغو ټولو ناوړو پخپله شاهد ؤ او د پښتنو قبایلو په فطرت هم پوهـ ؤ چي پښتانه د لویو حوصلو څښتن دي، اوّل پر خدای بیا پر خپل ځان اعتماد کوي[1] - دکندهار خلګ په پښتني تاریخ کي یو ډېر مهم مقام لري- کندهارد تجارت سره سره عسکري اهمیت هم درلود- د دغه ښار تاریخ له پخوا څخه د مبارزو ډك ؤ- ځکه دمیرویس دا پوخ یقین ؤ چي د ګورګین

کلانتري ختمول د پښتنو د بقا د پاره لازمي ده- لکه مخکي چي يې ذکر وشو دے په ختهٖ هوتك او د ابداليانو زوم ؤځکه د پښتنو د دواړو لويو قبيلو ورباندي بشپړ اعتماد ؤ-

ميروېس نيکه (عکس نمبر56) يو پوهہ او غښتلے سړے ؤ- لکه وړاندي چي بيان شو، دۀ د ايران باچا ته يوليك واستاؤ چي



عکس نمبر 56 ميروېس نيکه

ګورګين د ځغملو سړے نه دے او پښتانه کولای شي چي دے د حکمران په توګه ونه مني- تر دغي کړَکي وروسته چي کله په کال ۱۷۰۶ کي ګورګين ميرويس نيکه ونيو او د ايران د دښمنۍ په تور يې د ايراني باچا دربار ته د سزا ورکولو په غرض ولېږهٔ نو ميرويس نيکه په دربار کي دګورګين خلاف د افغانانو خواشيني شاه حسېن صفوي ته په ډېره غوره توګه څرګنده کړه او خپل ځان يې دربار ته سپين کړ- دهٔ چي د اصفهان دربار ته وکتل نو يې سرخلاص شو چي ايراني حاکم دومره قوي نه دے چي پښتانه نور هم تر خپل واك لاندي وساتي- ولي چي په دربار کي ببخي بد نظمي وه او افسران د هيڅ يوهٔ قانون پابنده نه ښکاريدل- ميرويس نيکه هماغه وخت د کندهار د ازادۍ فېصله وکړه- هغهٔ په ايراني دربار کي ځان په خلګو وپېژاندهٔ او نور ملګري يې هم وموندل-

ميرويس د خپلي فېصلې د عملي کولو څخه مخکي د حج اراده وکړه او مکې ته ولاړ- عُلما يې په اعتماد کي واخستل او له مکې څخه يې د ګورګين خلاف فتوئ هم راوړه[۲] - دهٔ له اوسني کندهار څخه شپږ ميله لري د ارغسان په "کوکران" کي يوه جرګه جوړه کړه، د عربو عالمانو فتوئ او د آزادۍ پلان يې ترخپلو ملګرو وَرساوهٔ-

ميرويس نيکه په کندهار کي هرخان او ملا وَليد او صلاح يې ورسره وکړه- خلګ يې ټول په اعتماد کي واخستل- په کال ۱۷۰۹ کي هغهٔ په پټه په **مانجه** کي يوه بله جرګه وکړه، په کومه کي چي په رسمي توګه د آزادۍ اخستلو فيصله وشوه- په دغهٔ جرګه کي ميرويس نيکه، يحيٰ خان، محمد خان، يونس خان کاکړ، نور خان

بړېڅے، ګل خان بابړ، عزيزخان نورزے ، سپدال خان ناصر، بابوخان بابے، بهادرخان، يوسف خان او ملا پير محمد (مِياجي) ګډون درلود[۳]-

په جرګه کي دا فېصله هم وشوه چي ګورګين به په څه نا څه بهانه له ښاره بهر را ايستل کيږي، ولي چي هغهٔ په ښارکي لوی قوت لري څکه په ښار کي د دهٔ مقابله ګرانه ده او د افغانانو په ډېر نقصان هم تمامېدای شي- له ښار د باندي د ګورګين سره په جنګ کي د ښار د خلګو زيان کم کيږي او د جنګ ګټلو قوي امکان هم شته- په داسي حال کي چي ګورګين خپل فوج زياتره د ترينانو د ګوشمالۍ دپاره لېږلے ؤ، چا چي د نېستۍ (غربت) له کبله ماليه نه وه ادا کړې، ميروېس نيکه ګورګين ته په دې غرض مېلمستيا وکړه چي دے له ښارڅخه بهر راشي[۴]-

ميروېس نيکه د يوې دومره لويي مېلمستيا اِنتظام وکړ چي د ګورګين د شان سره يې سمون درلود- تر ډوډۍ خوړلو وروسته يې په ګورګين او د هغهٔ په سپايانو ډېر شراب وڅښل- کله چي دوی نشه شول نو د ميروېس نيکه ملګرو توري او چړې ورباندي راواخستې او ټول يې حلال کړل- ميروېس نيکه پخپله د ګورګين لِباس واغوست او په ډېرو ملګرو يې د هغهٔ د محافظانو جامې واغوستې- دوی په شپه شپه د ګورګين په کلا ورننوتل- هلته يې د ګورګين پر سپايانو حمله وکړه او د کلا واك يې تر لاسه کړ- ميروېس نيکه له درو زرو ملګرو سره کندهار ښار ته ننوت او د ښار واك يې په لاس کي واخست- سمدستي يې دا اعلان هم وکړ چي هر هغه کس به په امان وَساتل شي څوك چي د جارجيا سپايي ته امان ورنه کړي-

دارنګه عامو خلګو هم د ګورګين سپايانو ته لاس واچاو او ټول ښار يې په همدغه شپه د جارجيا له سپايانو څخه پاك کړ[۴] - د ګورګين وراره الکسندل ميرزا د هغۀ مړی، ښځي او کچنيان له کندهارڅخه هرات ته منتقل کړل- سهار ميرويس نيکه د پښتنو مشران ټول سره راغونډ کړل او په اعتماد کي يې واخستل چي د آزادی حفاظت د ټولو پښتنو فرض دے- په همدغه موقعه دۀ هغه فتویٰ خلګو ته ښکاره کړه چي په مکه مُکرمه کي يې د ګورګين خلاف له علماوو څخه ترلاسه کړې وه- دارنګه يې په مذهبي توګه هم د آزادی اخستلو جواز قام ته وړاندي کړ-

د ګورګين خان د وژلو په څلورمه ورځ چي کله د تريـنانو له خوا د دۀ لوی لښکر بېرته کندهار ته را ستون شو نو شل زره پښتانه يې مخي ته ودرېدل- که څه هم پښتانه په عسکري توګه منظم نه وو خو بيا يې هم دغه لښکريان د ګريشك (ګورشك[۲]) په خوا وتښتول، شاته ورپسې وو او تر هغه وخته يې وژل چي په شمېر ۱۸ فوجيان پاته شول- دوی يې په دې غرض ژوندي پرېښول چي د ايران باچا ته دا حال ورکړي چي پښتانه کولای شي چي خپله خاوره وساتي -

د کندهار په خواوشا کي چي کوم ايالتونه وو په هغو ټولو کي د ايرانيانوحکومتونه وو- په هرات، مرو او نشاپورکي دا مهال ايراني فوجونه هم وو- ميرويس نيکه په سياسي پوهنه خلګ د ځان مله کړل او يو قامي سوچ يې را منځ ته کړ- هندوستان ته يې د دوستۍ لاس ورکړ او له يوې خوايې ځان وساتۀ- خپل قوت يې د صفويانو خلاف منظم کړ-

ميرويس نيکه صفويان په خبرو مشغوله ساتل غوښت چي د ملي جوړښت په هلو ځلو خبر نه شي، نو يې يو ليك ايراني دربار ته ولېږهٔ چي د ګورګين پرځای که د کندهار واك دهٔ ته په لاس ورکړل شي نو دا غورځنګ به ژرختم کړل شي- صفويانو جاني خان د نماينده په توګه کندهار ته راولېږهٔ او پيغام يې ورکړ چي که ميرويس نيکه او د هغهٔ نور ملګري په ګډه پر کندهارښار د ايراني فوج کنټرول قبول کړي نو به صفوي باچا د ګورګين وژنه وبخښي- ميرويس نيکه له جاني خان سره خبري څکه اوږدولې چي د ښار انتظام په لاس کي واخلي او د حکومت جوړښت تر سره کړي- جاني خان هم آخر پوهـ شو چي پښتانه خپلواکي غواړي ځکه بېرته اصفهان ته ولاړ-

په کال۱۷۱۰ کي صفويانو د هرات د والي محمد خان تر مشرۍ لاندي لس زره فوج کندهارته روان کړ- ميرويس نيکه پنځه زره آزادي غوښتونکي سرتېره پښتانه د ايرانيانو مقابلې ته تيارکړل- د دواړو لښکرو تر منځ جنګ تود شو- د ايراني فوج زر کسان ، چي پکې سرلښکر(سپه سالار) هم شامل ؤ وَوَژل شول او د پښتنو له لښکرڅخه يې شکست وخوړ- له دغه شکسته پس ايران محسوسه کړه چي پښتنو ته ماتې ورکولو لره غټ لښکر په کار دے- په کال ۱۷۱۱ زېږده کي د خسرو خان (چي د ګورګين وراره ؤ) تر مشرۍ لاندي، ايران دېرش(۳۰) زره فوجيان په جنګ کي د برخي اخستو د پاره را ولېږل- خسرو له کرمان څخه د دولت خان ابدالي زوی او د احمد شاه بابا پلار زمان خان (چي په دغه ښار کي يرغمل او بندي ؤ) هم له ځان سره د دې د پاره راروان کړ چي د قبيلې د مشر په

توګه د کندهار ابداليان د ايرانيانو مرستي ته وهڅوي- خو دغه مهال د سلطان حيات خان (څوك چي دولت خان ملتان ته شړلے ۇ) زوى عبدالله خان کندهارته د خپلي قبيلې د مشر په توګه را بلل شوے ۇ- هغۀ دلته د ميروېس نيکه سره په مصالحت او موافقت ژوند کاوۀ- خو زمان خان هم د خسروخواهش پوره نه کړ- د ځاني ګټي پرځاى يې ملي ګټي ته ارزښت ورکړ او د خپل قبيلوي رقيب عبدالله خان ابدالي سره يوځاى شو- دا ډول چي د خسروخان له ابداليانو هيله وَخته نو پرخپلو لښکرو يې تکيه وکړه او ښار يې محاصره کړ- ميروېس نيکه د خپلي پوهې او زړَورتيا په برکت خپل خلګ داسي له دغو يرغلګرو سره وجنګول چي له ۳۰ زره کثير لښکر څخه يې تش يو څو سوه عسکر په تېښته بريالي شول، نورتول ووژل شول-

کله چي دا لوى لښکر هم د پښتنو له لاسه مات شو نو په کال ۱۷۱۲ کي ميروېس نيکه د افغاني اِستقلال بېرغ پورته کړ خو عمر ورسره وفا وَنه کړه او په کال ۱۷۱۵ کي د ۴۱ کلونو په عمر د خداى په کار شو[۳]- ميروېس نيکه چي د سياسي وحدت، ملي اسقلال او آزادۍ دپاره کومي هلي ځلي وکړې هغه په افغاني تاريخ کي يو ځلاند باب دے- ځکه پښتنو دا ښاغلے ځوان د قام "نيکه" بللے دے-

د ميروېس نيکه ترمړيني وروسته يې پرمېنه دوه زامن پاته شول، يو ۱۸ کلن محمود ۇ او بل حُسېن چي عمر يې هغه وخت ۱۴ کاله ۇ- د دۀ ورور عبدالعزيز چي جان ملکم او جمال الدين افغاني عبدالله هم بللے دے، د ميروېس ترمړيني وروسته د کندهار د

رياست مشر شو- عبدالعزيز که څه هم د ميرويس ورور ؤ خو کمزورے سړے ؤ- دۀ د ايران سره په خبرو پېل وکړ چي که چيري ايران خپل لښکر کندهار ته ونه لېږي، له کندهار څخه ماليه ونه غواړي او د کندهار حکومت د عبدالعزيز د اولاد موروثي حکومت ومني نو کندهار کولای شي چي تر ايراني سلطنت لاندي کار وکړي-

د عبدالعزيز په دغه ناوړه فېصله د ښار خلګ خواشيني شول ولي چي دا د افغانانو د مرضۍ خلاف کار ؤ- په دغو ناراضو خلګو کي د ميرويس نيکه زوی ميرمحمود هم شامل ؤ چي د پلار په ژوند کي يې هم د آزادۍ په جنګونو کي لويه برخه لرله- د دۀ په مشرۍ کي ځينو ناراضو خانانو د عبدالعزيز خلاف په پټه يوه جرګه را وغوښته- ميرمحمود د پښتنو مشرانو په مشوره د خپل ترۀ د وژلو فېصله وکړه- دارنګه عبدلعزيزخان وروسته د ميرمحمود له لاسه ووژل شو[۴]-

په ۱۷۱۶ کي **محمود افغان** ، چي د ميرويس نيکه زوی ؤ د کندهار واک تر لاسه کړ- تر تخت نشينۍ وروسته هغه کسان هم ټول د ميرمحمود په حکم ووژل شول کوم چي د عبدالعزيزخان ملګري وو- دا مهال په هرات کي عبدالله خان ابدالي د استقلال اعلان کړے ؤ- د عبدالله خان ابدالي زوی اسدالله د ايران څخه صوفيه هم قبضه کړې وه- ورو ورو تر۱۷۱۹ پوري شاه محمود ډېر داخلي شورشونه ختم کړل-

په کال۱۷۲۰کي محمود د فراه او سيستان له لاري پر کرمان حمله وکړه او ښار يې محاصره کړ- سردار لطف علي خان د ښار

دفاع کوله- د جنګ په منځ کي شاه محمود ته خبر راغے چي په کندهار کي سلطان بيجن او جعفر سيستاني په ګډه بغاوت وکړ- شاه محمود د لطف علي سره روغه وکړه، کرمان يې پرېښوو او بېرته کندهار ته راستون شو- د ښار خلګو سلطان بيجن او جعفر سيستاني دواړه وژلي وو او د محمود له راتګه مخکي يې بغاوت ختم کړے ؤ- دمحمود زړه په قرار شو او دا يې يقين شو چي خلګ په دهٔ پسې دي -

بيا په کال ۱۷۲۱ کي شاه محمود ۲۸ زره افغاني فوجيان تر خپل کمان لاندي را غونډ کړل مخته ولاړ او د ايران پايتخت اصفهان يې محاصره کړ- د اتو (۸) مياشتو وږدې محاصرې د ايرانيانو حوصلې ماتي کړې او د اکتوبر په دوويشتمه نېټه، په کال ۱۷۲۲ کي افغانانو اصفهان ونيو- همدغه نېکمرغه کال ؤ چي پکي د زرغونې انا پر لمن يو ماشوم" **احمد**" وزېږېد کوم چي وروسته د آزاد افغانستان لومړے ايمپراتور شو- د اصفهان تر فتحي وروسته شاه حسېن صفوي د شاه محمود په مخکي حاضرشو- شاه محمود هغهٔ ته ولاړ شو او احترام يې ورکړ- شاه حسېن چي له۳۰ کلونو څخه باچا ؤ د ۲۵ کلن ځوان شاه محمود افغان سره پر څنګ کښېنوست- خپل تاج يې د شاه محمود پر سر ورکښېښوو او په واز کومي يې ووئېل:

"شان وشوکت و جاه و جلالِ دُنيا اين چنين بېوفا است، خداوندِ کريم به هر کسي که خواهد دهد و از کسي که خواهد ستاند" [۲]-

يعني د دنيا شان وشوکت او لوَړه مرتبه وفا نه لري- دا تش دومره

ده چي لوی خدای يې له چا اخلي او چا ته يې ورکوي-

تر دغي لويي فتحي وروسته په هزار جريب کي انګرېزانو، هالېنډيانو او نورو اروپايي نمايندګانو د شاه محمود تعظيم وکړ- دا واقعه په عالمي تاريخ کي ډېر لوړ مقام لري چي په نتيجه کي يې د ايران د صفوي خاندان اِقتدار ختم شو او افغانانو د ايران واك تر لاسه کړ[۴]-

په ۱۷۲۴ کي شاه محمود ناروغه شو- ناروغي يې وړده شوه، اعصاب يې ورو ورو کمزوري شول تر دې آن چي آخر ګوزڼ وواهۀ- اشرف خان چي د ميرويس نيکه وراره او د عبدالعزيز خان زوی ؤ د شاه محمود په ناروغي ډېر فکرمند شو- دے د افغاني فوج مشر ؤ او دا خطره يې په سترګو ليده چي په ايران کي افغاني حکومت خوندي نه دے- يوې خواته عثماني تُرکان ؤ، بلي خواته روسيان او درېيم طرف ته د شاه حسېن صفوي زوی طهماسب ؤ چي د پلار تر تسليمېدو وروسته له اصفهانه وتلے ؤ او د ايران په نورو برخو کي يې د باچهي جوړولو هلي ځلي کولې- ايرانيانو پر شاه طهماسب اعتماد نه درلود او له صفوي خاندان څخه خوشحاله هم نه وو، ځکه خو طهماسب له روس او عثماني ترکانو څخه دمرستي خواست کړے ؤ- دۀ د هغوی سرحدونوته ورڅرمه ايراني علاقې د امداد په عوض د ورکولو وعده هم کړې وه[۵]-

شاه محمود په کال۱۷۲۵کي، په همدغه دماغي ناروغي کي، د ۲۸ کلونو په عمر ووژل شو- د شاه محمود وژني په کندهار کي د ميرويس نيکه په خاندان کي کورنۍ جګړې راپورته کړې- ميرحسېن چي د کندهار والے او د شاه محمود ورور ؤ، پخپله ځان باچاکړ-

افغاني مشرانو په اصفهان کې اشرف خان د باچا په توګه وټاکه او سپدال خان يې د فوج مشرکړ-

**اشرف خان** (۱۷۲۵- ۱۷۲۹) یو ټینګ پښتون ؤ- نوموړے یو زبردست فاتح او په پښتونوالي پوهـ سړے ؤ- که څه هم د پښتنو له خوا **باچا** ټاکل شوے ؤ خو د دهٔ مرام باچهي نه وه- دهٔ غوښت چې د سرلښکر په توګه د قام شمله شکه وساتي خو آخر پښتنو مشرانو دې منصب ته وَتاړهٔ- په کال **۱۷۲۵** کې، د اپرېل د میاشتې په شپورویشتمه (۲۶) نېټه، دهٔ د باچهۍ تاج پرسر کښېښوو- دهٔ



عکس نمبر 57 شاه محمود او شاه اشرف

سپدال خان ناصر، امان الله سلطان او احمد خان بلوڅ غوندې زړَور جرنېلان لرل خو دښمنان يې هم ډېر وو- شاه طهماسب د روس او عثماني ترکانو په مرسته افغاني حکومت ړنګول غوښت- شاه حسېن په کندهار کې جلا حکومت جوړ کړے ؤ او په هرات کې ابدالیان هم خفه وو[۶]-

شاه اشرف په دغو حالاتو کي عثماني سلطنت ته عبدالعزيز د سفير په توګه ولېږۀ او يو ليك يې ورکړ چي تاسو زموږ مسلمانان وروڼه ياست، موږ ستاسو پَلويان او خېر خواهان يو- عثماني ترکانو د سفارتکارۍ احترام وَنه کړ بلکي شاه اشرف ته يې پېغام راواستاو چي اصفهان پرېږده او تخت شاه حسين صفوي ته بېرته وسپاره- دوی يو لښکر چي پکې د پياده فوج سره سره زر (۱۰۰۰) د آس سپارۀ او اويا (۷۰) توپونه هم وو د شاه اشرف خلاف جنګ ته راولېږل- د عثماني فوج مشران د بغداد والي احمد پاشا، د موصل والي حسېن پاشا او جرنېل عبدالرحمان وو-

شاه اشرف ته چي دا خبر ورکړل شو نو يې امام محکم افغاني مخته کړ او د جنګ تياري يې پېل کړه- د کال ۱۷۲۶ د نومبر دمياشتي په اتمه نېټه، په تاريخ کي اوّل ځل افغاني فوج د اصفهان او يزد په منځ کي، دعثماني فوج سره مخامخ شو- د جنګ اعلان وشو او افغاني سر بازانو دغېرت په چغو مېدان ګرم کړ- پښتني وينه په جوش شوه او مېړنو ځوانانو توري په څرخ کړې- چا يقين هم نه شوکولای چي دومره لوی لښکر ته به ماتې ورکړه شي خو هرچا د مرګ فېصله کړې وه- د خدای په فضل افغانانو د عثماني سلطنت دغه لوی لښکر هم مات کړ- تُرکانو پنځوس (۵۰) توپونه پر مېدان پرېښول او تېښته يې وکړه- تر دوولس (۱۲) زره هم زيات په جنګ کي ووژل شول- دا جنګ دومره شديد ؤ چي له ترکانو هر څه پر مېدان پاته شول- د نومبر په اتلسمه نېټه شاه اشرف بېرته اصفهان ته راستون شو- ټول افغانان، ايرانيان او پارتيان مشران يې هرکلي ته راغلل[۲] -

تر فتحي وروسته هم اشرف خان له ترکانوڅخه پاته شوے مال بېرته هغوی ته ور واستاؤ- اسماعیل خان يې د سفیر په توګه په کال ۱۷۲۷ کي عثماني سلطنت ته ولېږۀ او دا پیغام يې ورکړ چي موږ مسلمانان یو او د خلافت احترام کوو- د مسلمان مال پر ځان حرام ګڼو او له ترکانو ورونو سره جنګ نه بلکي سوله غواړو-

تُرکانو د شاه اشرف تر مشرۍ لاندي د افغانانو د پښتونوالي څخه ښه اثر واخست او یو سفیر راشد پاشا يې اصفهان ته د سولي او لوظنامې د پاره راواستاؤ- عثماني سلطنت په ایران کي افغاني حکومت په رسمیت وپېژاندۀ او د حج د پاره يې د دوستۍ په توګه د افغانانو څخه د سفیر ټاکلو خواست هم وکړ- دارنګه محمد خان بلوڅ د ترکیه دپاره د افغان سفیر په توګه وټاکل شو- په دغه وخت کي د میروېس نیکه د کورنۍ امر د دجله له روده تر ملتان پوري منل کېدۀ- یوې خواته له فراه، هرات او شین ډنډ څخه تر غزني اوګومل پوري د دوی حکومت ؤ بلي خواته له ډېره اسماعیل خان څخه د پښین او شال (کوټې) په شمول تر کندهارۀ د دوی باچهي وه[۳] (عکس نمبر58)-

اشرف خان د عثمانیانو سره تر روغي وروسته له لوېدیځه مطمئن شوخو نادر افشار او روسیان هم د هغۀ لوی دښمنان وو- دۀ فتح علي خان خُراسان ته په دې نیت واستاؤ چي د نادر افشار لاس وهنه هلته پرې نه ږدي- دنادر افشار اصل نوم نادر قلي ؤ چي د امام قلي پوستین دوز زوی ؤ- دے په خُراسان کي په کال ۱۶۸۸ کي زوکړے ؤ- قبیله يې افشار وه چي له ترکي نسل څخه بلل کیږي نادرافشار دخراسان دحاکم "ابیورد" خدمتګار ؤ- دے یو دلېر




عکس نمبر 58 د میرویس نیکه افغاني دولت

سرے ؤ، د خراسان او ازبکستان (ماورالنهر) په جنګ کي يې د خراسان دفاع کړې وه- د "ابیورد" تر مړيني وروسته ملك محمود د خراسان حکومت نادر افشار ته ورکړ خو ژر يې سر په دې خلاص شو چي نادر د بل په دام کي ډېر ژر راځي نو يې د دهٔ د لري کولو فېصله وکړه- کله چي نادر په دغه فېصله خبر شو نو يې د خانِ قلات سره پناه واخسته-

هماغه مهال شاه طهماسب صفوي د افغانانو خلاف د لښکر په تیاري کي ؤ- نادر افشار ته يې په لښکر کي د نظامي خدمت د پاره بلنه ورکړه- نادرافشار خانِ قلات وواژهٔ، د خان ښځه يې ځان سره بوتله او د هغهٔ فوج يې هم ورسره روان کړ- شاه طهماسب صفوي ته يې د افغانانو خلاف خپل خدمت پیش کړ-

نادرافشار د طهماسب د سرلښکر په توګه په ۱۷۲۶ کې د ملك محمود سیستاني څخه خراسان واخست- بیا یې پر نیشاپور حمله وکړه، درې زره افغاني محافظان یې ووژل او ښار یې ونیو- وروسته یې مشهد او سیستان هم ونیول- آخر یې ملك محمود سیستاني هم وواژۀ- دا رنګه نادر افشار په خُراسان او ایران کې وپیژندل شو- نادر په ۱۷۲۷ کې هرات له ابدالیانو څخه واخست-

شاه اشرف له روس څخه هم خطره لرله کوم چې د شاه طهماسب سره دلوظنامې له کبله د ایران پرشمالي څنډو قابض ؤ- شاه اشرف سېدال خان ناصر د روسیانو خلاف د قومندان په توګه وټاکۀ- سېدال خان ناصر په کال ۱۷۲۷کې روسي مارشل لواشېف ته په "رود سر" کې ماته ورکړه- روسانو د حزر جنوبي غاړه خوشي کړه- په کال ۱۷۲۹ کې شاه اشرف له روسانو سره د "رشت" په ښار کې معاهده وکړه او ځان یې له هغې خوا هم مطمئن کړ[۵]-

د عثمانیانو او روسیانو له شکسته نورو خارجي قوتونو ته هم دا احساس وشو چې شاه اشرف یو ټینګ پښتون او زبردست فاتح دے ځکه یې په ګډه لارنیوے په کاردے- هالېنډ یان، انګلیستانیان، ترکیان او روسیان ټول ترې وېرېدل ځکه خو یې د نادر افشار مرسته وکړه چې شاه اشرف له منځه لرې کړي-

نادر په چسپاندي له هراته راوګرځېد- په "مهماندوست" کې د نادر او اشرف خان ترمنځ مقابله وشوه- المیه دا وه چې خپلواك هرات او کندهار چې هغه وخت د پښتنو تر واك لاندې وو د شاه اشرف مرستې ته نه راغلل ځکه د پښتنو قوت مات شو- ننګیالے اشرف خان له دښمنانوسره یوازې جنګېدۀ ترڅوچې دنادر فوجونو

محاصره کړ- نادر د توپخانې په زور د مېړنو افغانانو لوی نقصان وکړ- چونکي د اشرف خان زیات شمېر فوجیان ایرانیان وو او هغوی تېښته وکړه نو په مېدان کي یوازي افغانان پاته شول- د اشرف خان دوولس(۱۲) زره نفره په دغه جنګ کي ووژل شول څکه هغهٔ شاته کېدو ته اړ شو- وروسته د تهران والي سلام خان د دهٔ مدد ته را وَرَسېد او سپدال خان ناصر هم پر نادر حمله وکړه خو اوبه تر ورخ اوښتي وې- د نادرافشار توپخانې بیا د افغانانو لوی نقصان وکړ- له دغه لوی تاوان څخه وروسته اشرف خان اوّل اصفهان او بیا شیراز ته ولاړ خو نادر لکه سایه ورپسې ؤ- په اصفهان کي نادر تر څلوېښتو ورځوافغانان لټَوَل او وژل یې- بیا شیراز ته هم ورپسې ولاړ خو اشرف خان له شیرازه هم وتلے ؤ- په کال ۱۷۲۹ کي، د نومبر دمیاشتي په پنځویشتمه نېټه، ښوراوك ته نژدې، دا ستر پښتون د شهادت جام نوش کړ[۲]- د پښتنو له دغه لوی زیان نه پس هم نادر افشار د کندهار ښار ونه نیو-

له ۱۷۳۲ څخه تر ۱۷۳۷ پوري، نادر افشار د عثمانیانو سره په جنګ ؤ- په ۱۷۳۸ کي یې بیا مخ پر افغانستان راواړاوهٔ- کندهار ښار یې تر یوه کاله محاصره کړ- کله چي په ښار کي د خوراك څیزونه ختم شول او د ښار خلګ تسلیمېدو ته اړ شول نو په کال ۱۷۳۸کي نادر افشار ښار ته نَنَووت- دَمیرویس نیکه زوی میرحسېن یې بندي کړ او د شاه اشرف د زمري ملګری **سپدال خان ناصر** سترګي یې په ډېره ناترسي وَایستلې- د زندان دروازې یې خلاصي کړې او قېدیان یې خوشي کړل- په دغو قېدیانو کي دوولس کلن هلك احمد خان او د هغهٔ ورور ذوالفقارخان هم خوشي کړل

شول- څه موده پس همدغه احمد خان د احمد شاه ابدالي په نامهٔ افغانستان ته دائمي آزادي ورکړه[۷، ۸] - کله چي نادر افشار د پښتنو پاته خپلواکي سيمي (هرات او کندهار) هم ونيولې نو يې بيا د ظلم هغه مثالونه پرېښوول چي په بشري تاريخ کي تر چنګېز او ګوډ تېمور وروسته چا نه دي پرې ايښي-

لنډه دا چي له شپاړسمي پېړۍ څخه تر نادر افشاره پوري د افغانستان د تقسيم او سياسي نا آرامۍ دور ؤ- له يوې خوا د هندوستاني مغلو يرغلونه وو او له بلي خوا ايرانيانو د پښتنو تر منځ خاشي ماتولې او د ځان طابع يې ساتل- له درېمي خوا د ماورالنهر ازبکانو حملې کولې- پښتنو په ختيځ کي د مغلو سره د آزادۍ جنګ ته دوام ورکړ او په سوهېل(جنوب) کي د ايراني جبرخلاف د انقلاب تَيارِياني رواني وې- نتيجه يې داشوه چي صفوي حکومت له منځه ولاړ او په سوهېلي افغانستان کي د ميروېس نيکه ترمشرۍ لاندي يو غورځنګ راوپارېد چي تر دېرشو (۳۰) کلونو يې دوام درلود- په دغه پېر کي د ملي حکومت هغه بُنياد کښېښوول شو چي وروسته احمد شاه بابا ورباندي لوی افغانستان جوړکړ- که څه هم نادرافشاردا وړوکے افغاني دولت برباد کړخوپه دغو دېرشو کلونو کي پښتنو خپل کلتور او زړورتيا په نړۍ وپېژندل- د پښتونوالي قوت خلګو په عملي توګه وَليد او د نفاق نتيجه يې هم مخته راغله- ددې تاثيرد پښتنو په ټولنيز او سياسي ژوند کي جذب شو ځکه خو تر نادرافشار وروسته افغاني ملي جوړښت د نړۍ پر مخ د يوهٔ ستر افغانستان په بڼه ښکاره شو-

# اخځليك


۱ - فرگوسن جېمز، کندهار کوکني (kandahar Cockney) هرپر کولينز پبليشرز، لندن ، ۲۰۰۳ -

۲ - غبار غلام محمد، افغا نستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷-

۳ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۴ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۳-

۵- فېرئير جې پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنگ ميل لاهور ، ۲۰۰۲ -

۶ - يزدي محمودافشار ، افغان نامه ، تهران ، ۱۹۸۰ -

۷ - معظم شاه پير ، تواريخ حافظ رحمت خاني ، ديباچه محمد نواز طاهر ، پېښور ، ۱۹۸۷ -

۸ - گنډا سينگ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ۲۰۰۴ -

# ۲۱

# احمدشاه بابا او لوی افغانستان

**(Afghan Empire)**

احمد شاه بابا په کال ۱۷۲۲ کي په هرات کي زوکړے ؤ[۱]- په يوه بله حواله د احمد شاه بابا د زېږېدو ځای ملتان دے[۲] چيري چي يوه وړوکې مناره هم د دۀ په ياد کي ولاړه ده- دا مناره که څه هم په تاريخي توګه د احمد خان د زوکړي ځای نه ښکاري خو د زرغونې انا د استوګي مکان ضرور دے- د دۀ نوم "**احمد**" او د پلار نوم يې زمان خان ؤ چي هغه وخت له ۱۷۲۰ څخه د هرات والي ؤ- د احمد له زېږېدو څخه څو مياشتي وروسته په کال۱۷۲۳ کي زمان خان د خدای په کار شو[۳]- خو هغۀ تر مړيني مخکي زرغونې انا ته د هرات (چيري چي حالات ښه نه وو) پرېښوولو حکم ورکړے ؤ چي ماشوم له خطرې سره مخامخ نه شي-

دهرات حکومت د محمد خان ابدالي په برخه ورغے کوم چي د زمان خان سخت مخالف ؤ ځکه زرغونې انا له هرات څخه سبز

وار(شينهنډ) ته مخه وکړه[۴] - ددهٔ پرورښ د زرغونې انا په غېږ کي او د هغې تر تربيت لاندي وشو- کله کله به احمد له خپلي مور سره فراه ته هم تلهٔ- دهٔ تر لسو کالو پوري د خپل کُچنيوالي ژوند د زرغونې انا سره تېر کړ- کله چي په کال ۱۷۳۲ کي نادر افشار پر فراه حمله وکړه نو د احمد ورور ذوالفقارخان ماته وخوړ- تر شکست وروسته دوی دواړو له فراه څخه دکندهار والي ميرحسېن ته پناه يووړه[۵] - ميرحسېن دا دواړه وروڼه هماغه وخت په جېل کي واچول- **احمد** له لسو څخه تر شپاړسو کلونو پوري خپل هلکتوب د ميرحسېن په زندان کي تېر کړ- کله چي په کال ۱۷۳۸ زېږده کي نادر افشار کندهار هم ونيو نو يې د زندان دروازې خلاصي کړې او بنديان يې ټول خوشي کړل- په دغو بنديانو کي احمد او د هغهٔ ورور ذوالفقارخان هم وو-

نادر افشار احمدخان او ذوالفقارخان د ميرحسېن سره د جنګي قيديانو په توګه ماژندران ته ولېږل- نادر د ابداليانو په قبايلي حېثيت او د هغوی په عسکري قوت خبر ؤ ځکه يې وروسته احمد خان د شلو کلونوپه عمرکي په خپل فوج کي واخست- کله چي نادر د احمدخان دليري وليده او دا يې يقين هم شو چي دے د بروسې سړے دے نو يې د "بسوال" يعني د شاه د ساتندوی مرتبه ورکړه- دهٔ له دغه فوجي منصبه هم ډېرخه زده کړل- کله چي نادرشاه د ډيلي مغل باچا محمد شاه ته ماته ورکړه او شاهي کلا يې ترې ونيوه نو هغه وخت نظام الملك احمدخان د ديوانِ عام پر دروازه وليد او ويې وئېل چي "د دغه ځوان پر تندي د باچهۍ نخښې دي، دے به يوه نه يوه ورځ باچا کيږي"- وايي چي مخبرانو دا خبره نادر ته

وَرَسوله، هغهٔ خنجر را وکیښ د احمدخان غوږ یې په سورے کړ او ویې وئېل چي کله ته باچا شې نوما به پرې یادوې- دا د اعتماد یو لوړ مثال دے چي احمد خان قایم کړ-

په کال ۱۷۴۷کي چي کله نادر قتل شو نو احمد خان د ایرانیانو خلاف د نادر د حرم دفاع وکړه- د دې لوی احسان په بدل کي د نادر افشارمېرمني د"کوه نورالماس" احمد خان ته ورکړ- دا هماغه غمے ؤ چي د ډيلي د مغل باچا محمد شاه ګورګاني له خوا نادر افشار ته ورکول شوے ؤ-

کله چي دنادر تر وَژني وروسته د هغهٔ ورارهٔ علي قلي خان د باچهۍ اعلان وکړ نو بیا احمد شاه بابا د خپلي افغاني دستې سره چي پکې تقریباً شپږ زره نفره وو کندهار ته راغے- کندهار هغه وخت د افغانستان بېن المللي مرکز ؤ- په کندهار کي نور محمد علیزي د ټولو قبیلو له مشرا نو سره صلاح وکړه او د جرګې جوړولو هلي ځلي یې پېل کړې- د اکتوبر په میاشت کي په کال ۱۷۴۷کي د "شېرسرخ" په مزار کي د پښتنو د جرګې له خوا د نو(۹) ورځو تر غونډو وروسته، احمد خان د پښتنو د باچا په توګه وټاکل شو- پر پښتني خاوره د نېکمرغی لمر را وخوت- د پیرروښان، خوشحال خان، ایمل خان، میرویس نیکه، او شاه اشرف شملې را جګي شوې-

احمد شاه بابا د افغانانو په وضع پوهـ ؤ- افغانان یې پر ځان سره راټول کړل او په هره مُهمه فېصله کي یې له مشرانوصلاح اخسته- د احمد شاه بابا په ذهن کي له لومړۍ ورځي د یوهٔ مستقل افغاني دولت خاکه موجوده وه- دهٔ په افغاني سیمه کي د آزادۍ مبارزان ټول پېژندل او د هغوی احترام یې لازم ګڼلے ؤ- احمد شاه

بابا د عالمانو او بزرګانوهم ډېر احترام کاوۀ- ورو ورو دۀ يو مرکزي دولت جوړ کړ او افغاني ملت ته يې سياسي وحدت ورکړ[۶]-

داحمدشاه بابا ترټولولوی کاردا ۀ چي ددولت نظامي جوړښت يې وکړاو د هېوادنوم يې په رسمي توګه"افغانستان" کښېښوو-خدای مهربان شو چي له هنده د تقي خان او نواب نصيرخان تر مشرۍ لاندي يو کاروان چي درې سوه اوښان پکې شامل وو، کندهار ته راورسېد- داخزانه وه چي له هنده ايران ته دکابل اوپېښور دحاکمانو ترمشرۍ لاندي د نادرافشار په حکم تله- نادرخو وژل شوے ۀ ځکه احمد شاه بابا دا خزانه افغانستان لره راوګرځوله- دۀ د افغانستان د ټولو مشرانو جرګه راوغوښته او حکومتي اصلاحات يې پېل کړل-

احمد شاه بابا (عکس نمبر59) په لږ موده کي له څلوېښتو نه تر پنځوسو زرو نفرو پوري فوج جوړکړ- په څلورو کلونو کي دننه يې نيشاپور، مشهد، بلخ، بدخشان، ډېره اسماعيل خان، کشمير، پنجاب، سيند او بلوچستان د افغانستان په مرکزي نظام پوري وتړل- ايرانيان د نادرافشار تر وژني وروسته په کورنيو جګړو سره اخته وو- ماوراء النهر(ازبکستان) هم له نادره وروسته پر ټبرواکيو تقسيم ۀ ځکه د افغانانو خپلواکۍ لره څه لويه خطره نه وه- په هند کي د اورنګ زېب تر مړيني وروسته "مرهټه" د سېواجي په مشرۍ د سهېلي هندوستان لوی قوت ۀ- سيکان په شمال کي راپورته شوي وو- محمد شاه ګورګاني خو د هند يو تش په نامه باچا پاته ۀ-

په هند کي د افغانانو څه نا څه پخوانے قوت موجود ۀ- نجيب خان يوسفزے د نجيب الدوله په نامه د هند په دربار کي لوی افسر ۀ- سعدالله خان روهيله، احمد خان بنګش او زاهد خان ابدالے په



عکس نمبر 59 احمد شاه بابا

فرخ آباد او ملتان کې د افغاني قوت پایځوړ ؤ- احمد شاه بابا بیا هم مطمئن ؤ چې هند افغانستان لره خطره نه ده۷- دهٔ د خپل حکومت په لړ موده یعني پنځه ویشت کلونوکې یو مستقل افغانستان جوړ کړ چې د خلګو اعتماد وربانديِ ؤ- د لوی افغانستان په جوړښت کې د احمد شاه بابا د فتوحاتو لنډیز په دې ډول دے:

### ۱ - د غزني، کابل او پېښور نيول

د کابل حاکم نواب نصيرخان ډېر نمك حرام سړے ؤ- احمد شاه بابا د نادر افشار تر وژني وروسته دے له زندانه خلاص کړے ؤ او بېرته يې دکابل د والي منصب ور سپارلے ؤ، خو هغهٔ هرڅه هېر کړل اوجنګ ته تيار شو- اوّل احمد شاه بابا په ۱۷۴۸ کي د کابل پر لوري حرکت وکړ او د کابل له خلګو سره يې يوه لنډه ليدنه کتنه وکړه- په ډيره هوشياري يې خلګ د يوهٔ" افغان ملت" د پاره د ځان ملګري کړل- بيا يې خپل فوج له غزني څخه کابل ته روان کړ- نواب نصيرخان چي لومړے پخپله جنګ ته تيار ؤ، له وېري پېښور ته ولاړ- احمدشاه بابا دنصيرخان فوج ته په کابل کي شکست ورکړ خو دهٔ په پېښورکي د مقابلې په غرض يو بل فوج هم جوړ کړ- احمد شاه بابا له کابله پېښور ته پسې ولاړ او د پښتنو قبايلو په مرسته يې تر يوې لنډې جګړې وروسته پېښور هم فتح کړ- نصير خان وتښتېد او په ضِلع هزاره کي يې پناه واخسته-

احمد شاه بابا په پېښورکي جانخان ته حُکم ورکړ چي په نصير خان پسې هزاره ته ورشي- په همدغه وخت جانخان ته پته ولګېده چي نصيرخان لاهور ته تښتېدلے دے- د لاهور ګورنر شاهنواز خان پخپله هم د احمد شاه بابا سره په پټه تعلق ساتلے ؤ ځکه هغهٔ د نصيرخان استقبال ونه کړ- نصيرخان له لاهوره ډيلي ته تېښته وکړه چيري چي محمد شاه ګورګاني د دهٔ استقبال وکړ او د مغلو د وفادار په توګه يې سرکاري انعام هم ورکړ-

**۲ - دلاهورفتح**

په دغه کال ۱۷۴۸ زېږده کي د لاهور ګورنر شاهنواز خان احمد شاه بابا ته پرلاهور دحملې بلنه ورکړه- خو د آدینه بېګ دمخبرۍ له کبله هغهٔ بېرته د احمد شاه خلاف جنګ ته تیار شو او د "چناب" پر غاړه یې د احمد شاه بابا د فوج لار ونیوه- احمد شاه بابا د شاهنواز د توپخانې جواب نه درلود ځکه یې له محاذه څو میله لرې اته زره سپارهٔ واستول او حُکم یې ورکړ چي تر"چناب" واوړي او پر لاهور حمله وکړي- دا ترکیب ګټه وکړه- د شاه نواز فوج مات شو او دهٔ پخپله هم د ډیلي په خوا تېښته وکړه- دارنګه احمد شاه بابا لاهور فتح کړ-

**۳ - د ډیلي فتح**

د لاهور تر نیولو وروسته احمد شاه بابا د ډیلي په خوا روان شو- د هندوستان شهنشاه ناصرالدین محمد شاه سل زره فوج د احمد شاه بابا سره د جنګ په غرض جمع کړ- هغهٔ خپل زوی شهزاده احمد شاه او صدراعظم قمرالدین ته د فوج قیادت په لاس ورکړ- دا لښکر د "ستلج" رود پر غاړه د افغاني لښکر په انتظار کښېنوست- د احمد شاه بابا سره دېرش زره تنه وو- دهٔ لار بدله کړه، د لودیانه له خوا تر دریاب واووښت او د دښمن په صفونو ورګډ شو- درې ورځي جنګ وشو- په دغه جنګ کي د هند صدر اعظم هم ټپي شو چي وروسته بیامړ شو-

احمد شاه بابا ته اطلاع ورسېده چي مخالِفانو د دهٔ وراره لقمان خان ابدالي په کندهار کي راپورته کړے دے- تر دې اطلاع وروسته احمدشاه بابا له محمدشاه سره یوه لوظنامه وکړه په کومه کي چي د

هند د مغلي سلطنت او افغاني سلطنت حدونه سره معلوم شول- سيند د هندوستان او افغانستان ترمنځ دسرحد په توګه وټاکل شو-

د ډيلي تر فتحې وروسته دا هم ومنل شوه چي مغلي حکومت به افغانستان ته ماليه ور کوي- چونکي په دغه جنګ کي د مغلو وزيرالممالك قمرالدين هم ووژل شو ځکه د لاهور ولايت د هغهٔ خلف ميرمينو ته وسپارل شو[۸] چي په ماليه ورکولو راضي ؤ- تر دغي روغي وروسته احمد شاه بابا بېرته کندهارته راستون شو او لومړے کار يې دا وکړ چي محبت خان پوپلزے، نورمحمد خان عليزے، ميرافغان غلجے او ګدوخان يې ووژل او لقمان خان ابدالي يې ونيو چي وروسته بياپه جېل کي مړشو[۲]-

**۴ - د هرات نيول**

د احمد شاه بابا سره پنځه ويشت زره تنه فوج ؤ- دهٔ په ۱۷۴۹ زېږدهٔ کي پرلوېديځ هځه وکړه او هرات يې تر لنډې جګړې وروسته ونيو- درويش علي هزاره يې د هرات والي کړ- له هراته احمد شاه بابا خپل صدراعظم شاه ولي خان باميزے ازبکستان ته ولېږهٔ چا چي ورو ورو ټولي قطبي علاقې (شمال) په افغانستان پوري وتړلې او په کال۱۷۵۰ کي بېرته کندهارته را ستون شو-

**۵ - د مشهد او نيشاپور فتوحات**

احمد شاه بابا پخپله له هرات څخه پرمشهد مخ په وړاندي تګ وکړ او په "تربتِ شېخ جام" کي يې د شاه رخ نايب ميرعلي ته شکست ورکړ- کله چي شاه رخ تسليم شو نو احمدشاه بابا احتراماً د مشهد ځايي حکومت هغهٔ ته بېرته ورکړ او محمد خان افغان يې ور سره نايب کړ-

په کال ۱۷۵۰ زېږده کي احمدشاه بابا نیشاپور ته ولاړ- عباس قُلي خان يې مُقابلې ته را و ووت ځکه افغان لښکر ورباندي حمله کړه- هغهٔ يې تر څلورو میاشتو کلا بند کړ خو نیشاپور بیا هم فتح نه شو- د ژمي یخ موسم نور جنګ لره ښه نه ؤ ځکه احمد شاه بابا بېرته کندهار ته را ستون شو-

وروسته چي موسم لږ غوندي سم شو نو احمد شاه بابا بېرته د نیشاپور د نیولو اِراده وکړه- افغاني لښکر د نیشاپور کلا په لويو توپونو وَويشته او تر سختي مقابلې وروسته يې فتح کړه- عباس قُلي خان يې ګرفتار کړ- چونکي دے یو غېرتمند سړے ؤ ځکه احمدشاه بابا تر لوی افغانستان لاندي د نیشاپور ځايي حکومت بېرته په لاس ورکړ او د شاه عباس حکومتي عمله يې غزني ته بدله کړه- افغاني لښکر بېرته مشهد ته راوګرځېد چيري چي میرعالم د شاه رُخ پرحکومت لاس تېنګ کړي وو- احمد شاه بابا میرعالم ته هم شکست ورکړ او د افغانستان سیاسي او جغرافيايي وحدت يې ترلاسه کړ- په کال ۱۷۵۱ کي بېرته کندهار ته راستون شو-

**۶- د بلوچستان سفر**

د نادر افشار له خوا د بلوچستان حاکم د میر عبدالله زوی میر محبت خان ټاکل شوے ؤ چي تر دغه وخته لا حکمران ؤ- د بلوچستان خلګ له محبت خان څخه تنګ وو ځکه يې غوښت چي د هغهٔ کشر ورور نصیرخان ته ځايي واك ورکړل شي- میر نصیر خان د سند خدا آباد ته له میانورمحمد کلهوړه څخه د مرستي په طمع تللے ؤ او مور بي بي مریمه يې په کندهار کي د شاهي مرستي د پاره ناسته وه- د بلوچستان مشرانو په دې لړکي احمد شاه بابا ته

عرض هم کړے ؤ چي نصير خان ته واك ورکړ شي- ځکه د خراسان تر نيولو وروسته احمد شاه بابا د بلوڅانو مسئله تر پام لاندي راوسته او له کندهاره د مستنګ په خوا روان شو- کله چي مير محبت خان مستنګ ته د احمد شاه بابا په رسېدو خبر شو او داهم ورته معلومه شوه چي د باچا قلات ته مخه ده نو يې حاجي رحيم خان بابي ته قرآن د شفيع په توګه ورکړ چي د دۀ حضور ته يې ور وړي- احمد شاه بابا چي قرآن د شفيع په توګه وليد نو يې اِراده بدله کړه او د قلات خاني يې ميرمحبت خان ته بېرته ور پرېښووه او کندهار ته روان شو- محبت خان خپله خور وروسته غزني ته د محمد حيات اخوند سره ورپسې ولېږله چي ددوستۍ په توګه يې واده کړي[8]- احمد شاه بابا هماغه سي وکړل خو د بلوڅو ستونزه هوارول دۀ لره د ميرمحبت خان تر دوستۍ مهم کار ؤ ځکه يې ټول بلوڅ سرداران راوغوښتل چي نصيرخان هم له خپلي مورسره پکې ګډون درلود- د سردارانو سره تر غونډي وروسته يې ميرمحبت خان د طهماسپ په لاس بندي کړ او نصير خان يې د قلات خان کړ-

وروسته چي کله په پنجاب کي حالات ډېر خراب شول نو د بلوچيستان والي نصيرخان هم د آزادۍ اعلان وکړ- احمد شاه بابا اوّل صدر اعظم شاه ولي خان ور ولېږۀ چي پوهـ يې کړي خو وروسته پخپله مقابلې ته اړ شو- نصيرخان له مستونګ څخه قلات ته وتښتېد خو احمد شاه بابا هلته هم ورپسې ولاړ او په قلات کي يې د دۀ کلا محاصره کړه- آخر نصيرخان د يوۀ اَستازي په ذريعه دا پېغام ورواستاؤ چي "زه پخوا غوندي د افغانستان تابع يم او له تاسو سره روغه کول غواړم- زه شپږ زره بلوڅ عسکرد افغانستان سره مل

د جنګ دپاره ورکولو ته هم تيار يم"- احمد شاه بابا د نصيرخان د روغي دغه خواست قبول کړ او سوله يې ورسره وکړه[۳]-

**۷ - د سند سره اړيکي**

تر ۱۷۴۷ زېږدي لمخه په سند کي ميا نورمحمد کلهوړه د نادر افشار تر حکم لاندي بندي ؤ- کله چي احمد شاه بابا د نادر تر وژني وروسته د افغانستان باچا وټاکل شو نو دهٔ په کال ۱۷۴۸ زېږده کي د هند د سفر په وخت ميانورمحمد ته د شاهنواز خطاب ورکړ او د هغهٔ امارت يې هم په رسميت و پېژاندهٔ- ميانور محمد تر ډېره افغانستان ته باج ورکاوهٔ خو کله چي په دې لړکي سُستي ښکاره شوه نو احمدشاه بابا هم د سند په خوا مخه وکړه- ګدومل د سند د سفير په توګه مخي ته ور وَ ووت او د سند د اولياوو د قبرونو خاوره يې ورته شفېع کړه- د يوهٔ ټينګ مُسلمان په حېث يې احمد شاه بابا قدر وکړ او د سند د خلګو سره يې نرمه رويه خپله کړه-

د ميا نور محمد کلهوړه تر مړيني وروسته د هغهٔ زوی محمد مرادياب خان په سند کي د پلار پر ځای کښېنوست- هغهٔ خپل يو وکيل د احمد شاه بابا دربار ته واستاوهٔ چي سند افغانستان ته په باج ورکولو تيار دے- احمد شاه بابا هم دے د سند د حکمران په توګه قبول کړ او د سربلند خان لقب يې ورکړ- د محمد مرادياب خان کشر ورور محمد عطرخان يې تر څه مودې په شاهي دربار کي د مېلمه په توګه وساتهٔ- په دغه روغه کي محمد مرادياب خان نه يوازي احمد شاهي دربار ته د ماليې په ادا کولو راضي ؤ بلکي دسند ماليه يې زياته هم کړه- د کلهوړه خاندان سره د بلوڅانو د ځينو ټبرونو اختلافات هم وو او د ښکارپور ښار د دغو ټبرونو تر

منځ د ښخړو اصل مرکز ؤ- احمد شاه بابا د دغو ښخړو د هوارولو د پاره ښکارپور د سيوۍ په ولايت پوري وتاړۀ چې حکمران يې يو افغان ؤ- له دغه وخته ښکار پور يو لوی کاروباري مرکز شو- د ايران هندوستان او ماوراء النهر سره د افغانستان تجارت او کاروبار زيات شو-

احمد شاه بابا اسماعيل خان پنړے سند ته د شاهي استازي په توګه په دې نيت ولېږۀ چې ماليه ټوله کړي- هغۀ د سيد شاه محمد په صلا څو تنه عاملان د سند بېلا بېلو ښارونو ته ولېږل چې پکې صالح خان هم ؤ- د ټټې حاکم هغه وخت ګل محمد خان خراسانے ؤ چې وروسته يې ځای صالح خان ونيو- دغه مهال احمد شاهي سفير محمد بېګ شاملو هم ټټه ته راغے او آغا محمد صالح يې د ټټې حاکم کړ- د دغي ښخړي هوارولو د پاره قاضي محمد محفوظ د ټټې حاکم وټاکل شو چې هلته انتظامي وضعَ سمه کړي- تر درو کالو په سند کې حالات ښه وو او محمد مرادياب سينديانو د حکمران په توګه منلے ؤ خو وروسته د ځينو مشرانو ورسره ژوند تريخ شو- په کال **۱۷۵۷** کې دغو سيندي مشرانو دے بندي کړ او د دۀ ورور ميا غلام شاه يې حکمران کړ- د محمد مراد ياب خان کشر ورور محمد عطرخان چې په شاهي دربار کې ؤ احمد شاه بابا ته عرض وکړ چې د دۀ ټاکنه د سند د امير په توګه وکړي- ددۀ عرض ومنل شو او د امير په توګه سند ته ولاړ-

د کلهوړه خاندان کورنۍ ښخړي اوږدې شوې- ميا غلام شاه او محمد يار خان د عطر خان خلاف شول- په احمد شاهي دربار کې د سند د سفيرګدومل په زيار د غلام شاه په حق کې شاهي فرمان

صادر شو- غلام شاه ته اوّل د شاه وردي خان او بيا د صمصام الدوله لقب ورکړل شو- غلام شاه په کال ۱۷۷۲ کې د ګوزڼ په ناروغي مړشو- د احمد شاه بابا تر مړيني وروسته د غلام شاه زوی سرفراز خان او بهرام خان تالپور هم د تېمور شاه اطاعت کاو-

## ۸ - بېرته د پنجاب سفر او د کشمير نيول

د کال۱۷۵۱ زېږدي په آخري برخه کې احمد شاه بابا له کندهاره مخ پر ختيځ روان شو- هارون خان يې د نماينده په توګه پنجاب ته ولېږهٔ چې د پنجاب والي ميرمينو ته د وعدې مطابق د ماليې اداکولو د پاره د احمد شاه بابا پيغام ورکړي- پخپله د پېښور پر لار د کشمير د الحاق په اراده تر اټك او اوسني حسن ابدال ور تېر شو- خواجه عبدالله کوچك يې د فوجي دستې مشر کړ- عبدالله د کشمير د مغلي واکمنو سره فيصله وکړه او پخپله د افغان دولت د نماينده په توګه د کشمير پرحکومت کښېنوست-

احمد شاه بابا د لاهور په خوا روان شو- په شاه دره کې يې قومندان ګورامل ته شکست ورکړ- کله چې ميرمينو د ګورامل له ماتي او د هغهٔ له وژني خبر شو نو سم دستي تسليم شو او د احمد شاه بابا څخه يې بخښنه وغوښته- دوه ميليونه روپۍ يې افغاني فوج ته د ماليې په توګه اداکړې او يوه لوظنامه يې هم لاسليك کړه چې د "ستلج" لوېديځه خوا (کشمير، پنجاب ، ملتان او سيند) به له دغه وخته د افغانستان برخه وي- احمد شاه بابا دا لوظنامه د خپل استازي قلندرخان په لاس ډيلي ته واستوله چې د مغلي باچا مهر پر ولګوي او پخپله کابل ته راستون شو- سردار جانخان پوپلزي ته يې په کابل کې د ښار د دِفاعي دېوال جوړولو امر ورکړ[1] -

**۹ - د ډيلي بېرته نيونه**

په کال ۱۷۵۳ کې ميرمينو مړشو او د هغهٔ هلك زوی محمد امين د احمد شاه بابا له خوا د پنجاب والي وټاکل شو- د هند صدراعظم غازي الدين په کال ۱۷۵۶ کې د مارچ په مياشت کې پر لاهور حمله وکړه او قبضه يې کړ- له لاهوره پر مخ کشمير ته ولاړ، خواجه عبدالله يې قتل کړ او کشمير يې هم ونيو- احمد شاه بابا د غازي الدين خلاف د بلوچيستان پر لار سيند ته او بيا پنجاب ته ورسېد- پر لاهور يې حمله وکړه او بېرته يې ترې ونيو- د نورالدين خان تر مشري لاندي يې يو لښکر کشمير ته ولېږهٔ- دا رنګه يې کشمير هم بېرته تر لاسه کړ-

احمد شاه بابا وروسته تر ستلج ور واووښت- د ډيلي باچا د سهارنپور والي نجيب الدوله افغان مخي ته ورولېږهٔ خو هغهٔ افغاني مينه درلوده ځکه په کرنال محل کي د افغاني لښکر سره پېوست شو- احمد شاه بابا تر دې وروسته ډيلي ته تېر شو چيري چي په جنوري ۱۷۵۸ کي عالمګير ثاني د دهٔ استقبال وکړ او خپله لور يې د دوستی په توګه د احمدشاه بابا زوی تېمور ته په نکاح ورکړه- احمد شاه بابا هم د ډيلي تخت بېرته عالمګيرثاني ته ورپرېښوو-

تر دغي روغي وروسته يې جانخان د سورج مل جاټ مقابلې ته چمتوکړ، د هِند وزارت يې نجيب الدوله يوسفزي ته ورکړ، دسرهند حکومت يې عبدالصمدخان مومند ته، د کشمير حکومت يې سردار بلند خان سدوزي ته، دملتان حکومت يې د ذاهدخان زوی شجاع خان ته، د سيند او پنجاب حکومت يې د جانخان پوپلزي تر مشاورت لاندي شهزاده تېمور ته ورکړل او خپله وطن ته راوګرځېد-

## ۱۰ - د پنجاب بلوا او د پاني پت غزا

تر دې وروسته په پنجاب کي بدامني شوه- معزول وزير غازي خان باغي شو- سيکان او مرہټيان يې هم د ځان ملګري کړل- شهزاده تيمور او جانخان د هغوی ټولو مقابله نه شوه کولای- د کال ۱۷۵۸ دمارچ په مياشت کي افغاني فوج ماته وخوړه او عبدالصمد خان مومند بندي شو- آدينه بېګ د افغانستان پر نامه خپله ماليه ټوله کړه- تر دا منځ آدينه بېګ چي د پنجاب د بلوا اصل سَوب ؤ، مړشو- سيکان، جاټ، راجپوت او مرہټيان ټول چي د مسلمانو خلاف راپورته شوي وو، د مسلمانانو د وينو تږي وو- د مسلمانانو عزت او آبرو هم خوندي نه ؤ- ځکه شاه ولي الله احمد شاه بابا ته ليك راواستاؤ چي د مسلمانانو مدد وکړي-

احمد شاه بابا مرہټيانو، جاټو، راجپوتو او سيکانو ته د ماتي ورکولو اِراده وکړه- ميرنصيرخان نوري او مير عبدالکريم د لس زره بلوڅي لښکر سره د احمدشاه بابا په دېرش زره لښکر ګډ شول د افغانانو او بلوڅانو دا لښکر په ۱۷۶۰ کي د بولان تر دره ورننووت او د پېښور په خوا روان شو- تېمور او جانخان د اټك پر غاړه د افغاني فوج سره مله شول- مرہټيانو ته د احمد شاه بابا د راتګ اطلاع وه ځکه يې د افغاني فوج لار ونيوه- احمد شاه بابا د چناب پر غاړه د نورالدين دَ واړهٔ لښکر سره يوځای شو- دا افغاني لښکر تر چناب ور واووښت او د ډيلي پخوا يې هڅه وکړه- کله چي مرہټيانو ته حال ورغے چي احمد شاه بابا ډيلي ته راروان دے نو يې عالمګير ثاني او د هغهٔ وزير نظام الدوله ووژل او عملاً يې د ډيلي واك تر لاسه کړ- دوی ډېر لوی شمېر هنديان جنګ ته تيار کړل او

درې جلا جلا قوتونه يې تشکيل کړل- د احمد شاه بابا د فوج سره لس زره تنه د نجيب الدوله د لښکر هم مله شول- د مرہټيانو او افغانانو تر منځ سخت جنګ وشو په کوم کې چې مرہټيان او د هغوی مرستيالان مات شول-

د احمد شاه بابا په هند کې اته واره له مرہټيانو، سيکانو او جاټ قام سره نښتې وشوې- تر درو مياشتو پورې د افغانانو او مرہټيانو تر منځ وړې وړې جګړې رواني وې- خو لويه مقابله يې په ۱۷۶۱ کې د **پاني پت** پرميدان وشوه- د مرہټيانو په فوج کې يونيم لك پياده او پنځوس زره سپارۀ شامل وو- د افغانانو فوج ډېرکم ۀ چې پکې اته دېرش زره پياده او يوڅلوېښت زره سپارۀ وو- دغه جنګ د مهابهارت ترجنګ وروسته د هندوستان د تاريخ دويم لوی جنګ بلل کيږي-

په دغه جنګ کې د مرہټيانو د فوج مشر ويسواس راو ۀ- تر دۀ لاندې اوسې راشې راو (بهو) يو بل جنرال ۀ- د دوی فوج په لويه دبدبه له دکن څخه ډيلي ته را وخوت او ډيلے يې محاصره کړ- په ډيلي کې افغاني عسکر بېخي لږ وو ځکه خو په لږو ورځو کې ډيلې مرہټيانو ونيو- افغاني فوج د ګنګا پر غاړه پروت ۀ او په ګنګا کې د سېلاب له کبله پورې وتل ممکن نه ۀ ځکه د ډيلي فوج ته امداد ورنه کړل شو- په کال۱۷۶۰ زېږده کې د جولايي د مياشتې په دوويشتمه نېټه مرہټيانو په بشپړه توګه ډيلے تر لاسه کړ- مرہټيانو له موقعې څخه فايده واخسته او پر کنجپوره يې هم حمله وکړه چيرې چې لږ پښتانه فوجيان موجود وو- په جمنا کې هم د سېلاب اوبه دومره ډېرې وې چې لار يې نه کېده ځکه مرہټيانوکنجپوره هم د

اکتوبر د مياشتي په اوولسمه نېټه ونيوه[۹]-

احمد شاه بابا څو ورځي انتظار وکړ، چي اوبه لږ کمي شوې نو يې پر مرهټيانو د حملې فېصله وکړه- سردار صمد خان يوسفزي ته يې حکم ورکړ چي د پنځو زرو سپرو سره په اوبو ور ګډ شي- مرهټيانو د صمدخان پر سپرو زبردسته ګوله باري وکړه- احمد شاه بابا خپلو نورو سپرو ته د دوی د مرستي حکم ورکړ خو برے يې حاصل نه کړ- آخر پخپله په اوبو ورګډ شو او حکم يې ورکړ چي ټول پسې راځئ- افغاني فوج چي داحمد شاه بابا دا دلېري وليده نو ټول په يوه صلا په اوبو ورګډ شول- مرهټيانو په جمنا کي پر پښتنو دومره ګولې تسي کړې چي رود له مړو ډك شو خو احمد شاه بابا او د دهٔ ملګرو بله لار نه ليده ځکه يې په مېړانه مخ په وړاندي حرکت کاوو او تر رود ور پوري وتل- افغانانو د مرګ پروا ونه کړه او پر مرهټيانو يې داسي حمله وکړه چي ټول يې د پاني پت مېدان ته وتښتول-

په پاني پت کي مرهټيانو لوی لوی خندقونه کيندلي وو چي ځان د پښتنو له حملې وژغوري خو احمد شاه بابا په خپله عسکري پوهنه د دوی د خوراك څښاك د رسېدو لاري ونيوې- افغاني فوج د مرهټيانو د لوی فوج او توپخانې جواب نه درلود ځکه يې مخامخ حمله ونه کړه- احمد شاه بابا يوه وړه سره خېمه له خپل فوجي کېمپ څخه يونيم ميل لري په مخکي ولګوله- له دغې خېمې څخه به دهٔ هر سهار تر لمانځه وروسته او تر لمرخاته له مخه د خپل زوی شهزاده تېمور سره د آس پرشا دخپل کېمپ ګښت کاوهٔ او د دښمن د کېمپ جاج به يې هم اخيست- د شپې به پنځه زره سپارهٔ د دښمن

کېمپ ته نزدې تر سهاره په څار وو- دا شان دواړه فوجونه تر درو مياشتو يوبل ته مخامخ پراته وو- د مرېټې فوج د خوراك راوړونكو سره كله كله ډزې كېدې- احمد شاه بابا غوښت چې مرېټيان له خندقونو را بره شي او پخپله حمله وكړي نو به د پښتنو نور ډېر زيان نه كېږي-

څومره چې دا جنګ اوږدېدۀ نو له يوې خوا مرېټيان بې صبره شول او له بلې خوا د احمد شاه بابا هندوستاني ملګري هم تنګ شول- احمد شاه بابا به خپلو دغو هندوستاني ملګرو ته تسل وركاوۀ چې "تاسو ويدۀ شئ ولې چې ستا سو ژغورنه زما ذمه ده- زه تاسو ته ډاډ در كوم چې ستاسو به هيڅ نقصان نه كيږي- د جنګ معامله تاسو ماته را وسپارئ ولې چې زۀ دغه هنر لرم- په جنګ كې پېل مناسب نه دے"-

چونكې پر احمد شاه بابا د ټول فوج اعتماد ؤ او د هندوستاني ملګرو سره يې هم ډېر ښه سلوك ؤ ځكه د دۀ په كېمپ كې هيڅ ناوړه پېښه ونه شوه- د مرېټيانو په كېمپ كې ورو ورو خلګ تنګ شول- هغوی خپل قومندانان د دغو ستونزو زمه وار بلل- يوه ورځ احمد شاه بابا عطايي خان پوپلزي ته حكم وركړ چې د ډيلي او ميرټهـ ترمنځ دمرېټيانودخوراك څښاك پر رسېدو مامور د لس زره سپرو لار ونيسي چې د پنډت ګوبند تر مشرۍ لاندې وو- عطايي خان پوپلزي هماغسې وكړل او له پنډت ګوبند څخه يې هرڅه واخستل- بيا په يوه پېښه كې پښتنو له مرېټيانو څخه هغۀ خزانه هم واخسته كومه چې له ډيلي څخه مرېټي فوجي دستې راوړله- تر دغو پېښو وروسته د مرېټيانو لوی جرنېل "بهو" د څو شرطونو سره

د سولې پېغام راواستاؤ- احمد شاه بابا د مرہټيانو دغه پېغام ځکه رد کړ چې دوی له خندقونو څخه راوتلو ته اړ شي- آخر په کال ۱۷۶۱ کې د جنورې د مياشتې په اوومه نېټه مرہټيان دلوی جنګ په خاطر له خندقونو راووتل-

نواب شجاع الدوله ته خبر ورکړل شو چې مرہټيان په جنګ راووتل، وړاندې يې توپخانه ده او نور فوج ورپسې دے- نواب دغه خبر تر احمد شاه بابا پورې ور ورساؤ- هغهٔ يې له خوبه راويښ کړ او د جنګ د حکم خواست يې ترې وکړ- احمد شاه پرخپل آس پښه واړوله او په هماغو جامو کې يې پخپله فوج ته حکم ورکړ چې تر رڼاکېدو له مخه تيارشئ ولې چې مرہټيان حملې ته را وپاڅېدل- په همدغه وخت د مرہټيانو د توپخانې آواز اورېدل کېدای شو-

د مرہټيانو توپخانې د افغاني فوج پرمنځ حمله وکړه او لوی زيان يې ورساوهٔ- کله چې جنګ ونښت نو داسې ښکارېدهٔ چې افغان فوج مات شو خو احمد شاه بابا د خپلې ساتندوی دستې سره پر آس سپور دا منظر ونه څغامهٔ ځکه پخپله په جنګ ورګډ شو- پښتنو چې دا منظر وليد نوېې د ايمان تانګونه را ټينګ کړل، د مرګ فېصله وکړه او د زمرو په شان يې بېرته پر مرہټيانو حمله وکړه- مرہټيان يې مات کړل او په تېښته تېښته يې وژل تر څو چې جرنېل بهو او د مرہټه سلطنت ځايناست وسواس راؤ دواړه ووژل شول- بيا يې د غنيمت مالونه په انصاف ووېشل-

دا جنګ احمد شاه بابا په افغاني مېړانه وَګاټهٔ او راتلونکي وخت لره يې په هندوستان کې د مرہټيانو قوت په بشپړه توګه مات کړ- د پاني پت په جنګ کې د احمد شاه بابا تر برې وروسته په

هندوستان کي د پښتنو سارے پاته نه ؤ- که دۀ غوښتي وای چي په هند کي بيا تر مغلو وروسته يو پښتني سلطنت جوړکړي نو دا کار په ډېره آساني تر سره کېدای شو خو احمد شاه بابا داسي ونه کړل بلکي افغانستان ته واپسي يې غوره وګڼله- د دغي تاريخي فېصلې ذکر احمدشاه بابا پخپله داسي کړے دے-

د ډيلي تخت هېرومه چي رایاد کړم
دخپل ښکلي پښتونخوا دغروسرونه

تر دغي کاميابۍ وروسته احمد شاه بابا هندوستان ښېرته و هندي مسلمانانو ته په لاس ورکړ او د دويم عالمګير زوی شاه عالم يې د ډيلي پر تخت کښېناوۀ- نواب شجاع الدوله يې د وزير اعظم په توګه وټاکۀ او نجيب الدوله افغان يې سپه سالار کړ- د پنجاب حکومت يې زين خان مومند ته ور کړ او پخپله کندهار ته را ستون شو- داسي ښکاري چي احمد شاه بابا د افغانستان خپلواکي تر جهانګيري مُهمه ګڼله او هند ته تګ د مرېټيانو خلاف د مظلومانو مسلمانانو مرسته وه نه چي د ډيلي تخت- احمد شاه بابا يو ښه مسلمان او غښتلے پښتون ؤ- خان عبدالولي خان د خپل کتاب "باچاخان او خدايي خدمتګاري" په شپږمه پاڼه ليکي چي" که پرون د پاني پت په مېدان پښتنو د خپل درونډ مشر احمد شاه بابا سره د مرهټو ملا نه وای ماته کړې نو ډېره ممکنه وه چي نن به د هندوستان تاريخ يوه بله مخه نيولې وای"- ۱۰

## ۱۱ - د سيکانو مقابله

په کال ۱۷۶۲ کي سيکان بيا را پورته شول- په پنجاب کي جيسا سينګ بغاوت وکړ او د رنجيت سينګ نيکه چړت سينګ په

ګوجرانواله کي کلاګاني جوړولې- سيکانوو پر پښتنو حملې پېل کړې، تر دې حده چي د سر هند پر ګورنر يې هم حمله وکړه خو پښتنو ناکامه کړه- کله چي به د پښتنو فوجونه پنجاب ته راغلل نو به دوی دلته هلته غرونو ته ځله وتښتېدل خو وروسته به بيا سره راغونډ شول او لوټماربه يې شروع کړ- ځکه په همدغه کال احمد شاه بابا د هغوی د مقابلې د پاره پنجاب ته ولاړ او ددوی سرکښي يې بېرته ختمه کړه- د لوديانه څخه شل ميله لري احمد شاه بابا سيکانو ته سخته ماته ورکړه- پنځويشت زره سيکان يې د جنګ په مېدان کي ووژل او نور يې غرونو ته وَتښتول- دے لاهور ته بريالے راوګرځېد- له لاهورښار څخه دۀ نورالدين خان باميزے کشمير ته واستاو چاچي کشمير بېرته ونيو او هلته يې ياغي مستوفي سکجيون بندي کړ- د پنجاب د چارو تر سمَولو وروسته احمد شاه بابا په ګرمي کي د ملتان، ډېره اسماعيل خان، ګومل او غزني له لاري کندهار ته ناروغه راورسېد- په دغو ورځو کي د کندهار او هرات په خواوشاه هم واړه واړه بغاوتونه وو چي احمد شاه بابا لره د پاملرني وړ وو-

### ۱۲ - د شمال سفر

د کندهار او هرات په بغاوت کوونکو کي د ايماکو سردار دروېش علي هم شامل ؤ چاچي د هرات په خواوشا کي سرکښي کړې وه- دغه بغاوتونه په کال ۱۷۶۳ کي ټول ختم کړل شول- د بخارا حاکم شاه مراد هم په شمال کي ياغيان پارول ځکه اوّل د شپږو زرو سپرو سره وزير شاه ولي خان بدخشان اوبلخ ته ولېږل شو او بيا احمد شاه بابا پخپله هم د هرات له لاري مېمنه ته روان شو- په بلخ

او شبرغان کي تر فېصلې وروسته بخارا ته ولاړ- د بخارا باچا جنګ ته تيار ؤ او امو ته نزدې يې لښکر راغونډ کړے ؤ- احمد شاه بابا له مسلمانانو سره د جنګ په حق کي نه ؤ ځکه يې د روغي په خبرو پېل وکړ- د دغي روغي له رويه امو سيند د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحد په توګه وټاکل شو-

**۱۳- د خراسان سفر**

په کال ۱۷۶۴ کي احمد شاه بابا ناروغه شو- تاريخ ليکونکي د دۀ ناروغي جزام (Laprosy) ليکي خو علامات يې د کېنسر يو قسم (Basal Cell Carcenoma) ته ورته دي- په دغه ناروغي کي هم دے د سيکانو خلاف يو ځل بيا پنجاب ته ولاړ- ترکال ۱۷۶۸ پوري د سيکانو سره د افغانانو جګړو دوام درلود کله چي په خراسان کي هم بغاوت وشو- د احمد شاه بابا له خوا څه موده وړاندي د نادرافشار ړوند لمسے شاه رخ د خراسان د حاکم په توګه ټاکل شوي ؤ خو له بده مرغه د هغۀ ځوان زوی نصرالله مرزا د دغو ياغيانو مشرشو- علي مردان شاه چي د تون اوطبس حاکم ؤ هم د ياغيانو مل ؤ- دوی د پارس په دربار کي له کريم خان زند څخه د مرستي خواست کړے ؤ- شهزاده تېمور د دغو ياغيانو خلاف د يوۀ لوی لښکر سره چي پکي نصيرخان نوري پخپله خوښه ګډون درلود، خراسان ته ولېږل شو- د پارس د باچا کريم خان د مرستي له خبره وروسته احمد شاه بابا پخپله هم خراسان ته ولاړ- نصيرخان د ترتېز په کلا کي علي مردان مات کړ ځکه احمد شاه بابا ورته د درندتيا په توګه ډېره غازي خان ورکړ- د پښتنو او ايرانيانو تر منځ د ښار په خواوشا ډېرخونړے جنګ وشو- ايرانيانو شکست وخوړ او مشهد

ښار ته وتښتېدل- احمد شاه بابا پر مشهد ځکه حمله ونه کړه چې د امام رضا مزار پکې ؤ خوکلابند يې کړ- تر دغه کلابندۍ وروسته نصرالله مرزا تسليم شو او سوله يې وکړه- د شاه رخ لور ګوهر شاده يې شهزاده تېمور ته په نکاح ورکړه او نصرالله مرزا ته يې د فرزند خاني لقب ورکړ- احمد شاه بابا بېرته کندهار ته را ستون شو- د خراسان تر دغه سفر وروسته د دهٔ ناروغي نوره هم زياته شوه۸- دا يې يقين شو چې د افغانستان انتظامي امور به تر نوره چلول ورته ګران شي ځکه يې شهزاده تېمور د خپل ځايناست په توګه د خپلو مشرانو او وزيرانو مخته وړاندې کړ- احمد شاه بابا تر۲۶ کلونو پوري حکومت وکړ اولوی افغانستان(عکس نمبر60)




عکس نمبر 60 په کال ۱۷۶۲ کې د لوی افغانستان نقشه ۱۱

يې مُکمل کړ- دهېواد داخلي وضعَ يې هم تر ډېره حده سمه کړه- احمد شاه بابا پر خپله مېنه اته زامن درلود خو په قول د غبار دهٔ خپله کورنۍ او عزيزان نه پرېښوول چي په سياسي چارو کي مداخله او ګډون وکړي- يوازي شهزاده تېمور چي ولي عهد ؤ هغه د جانخان پوپلزي په نګراني کي د سياسي او نظامي اُمورو د زدکړي په خاطر د هېواد په شرقي اوغربي برخو کي پرې اېښې ؤ- د کورنۍ دغه تجريد تر دې حده ؤ چي خلګ او تاريخ د سلېمان او تېمور په چپه د احمد شاه بابا نور زامن لکه شهاب، سنجر، يزدان بخش، سکندر، دُراب او پروېز نه پېژني[1] -

که څه هم د احمد شاه بابا مشر زوی سلېمان ؤ او تېمور يې دويم زوی ؤ، خو په خپل ژوند کي هغهٔ د پښتنو مشرانو په صلا دوَيم زوی شهزاده تېمور د خپل "ځايناست" په توګه ټاکلی ؤ[12] - دا پښتني روايت نه ؤ بلکي احمد شاه بابا د اهليت پر بنياد تېمور تر سلېمان پوهـ، غښتلی او د افغاني دولت په ګټه ګڼلی ؤ- احمد شاه بابا په خپل لوی فهم، محنت او پښتني مينه افغانستان خپلو طبعي سرحدونو ته ورساو او د دولت کورنۍ شخړي يې هم اواري کړې- د سلطنت مرکز يې دومره ټينګ کړ چي خپلواکي پکي خوندي وه- هېواد يې پر بېلابېلو ولايتونو تقسيم کړ چي په انتظامي توګه اسانتياوي پکې راغلې- ځمکي يې په انصاف د قبايلو تر منځ وَ وېشلې- خلګ يې په دې راضي کړل چي د ملت د جوړښت او ساتني د پاره ماليه او ټېکس ورکول لازمي او د قام په ګټه دي- خزانه يې ډکه کړه اوفوج يې مضبوطه کړ- داحمد شاه بابا تعلق دسړبنيانو دختيځ ښاخ شرخبون څخه ؤ(يوولسم لنبتليك)




یوولسم لښتلیك

دے یو ښه شاعر او پر قام مئن مُدبِر ؤ- پښتانۀ یې د مُهذبه قامونو سره سم او دهغوی په ګام روان کړل- دے یو ستر سیاسي رهبر ؤ چي تر جنګ یې روغه خوښوله- دۀ په افغانستان کي د وړو وړو قامونو د حقوقو بشپړ خیال ساتۀ[۱۳] - تاجك، وزبك، هزاره، بلوڅ، تورکمن، چهارایماق، نورستانیان، پشیان، پامیران، قزلباش، او نور واړه واړه قامونه یې ټول مطمئن ساتلي وو- د احمد شاه بابا د سلطنت لومړے اصول د قامونو ترمنځ اِنصاف ؤ او د دۀ دا عقیده وه چي انصاف خدایي خاصیت دے چي خدای یې د باچا په لاس تر خلګو رسوي- دۀ ټولي فېصلې په همدغه عقیده کولې ځکه ټول پښتانۀ ورته د بابا په نظرګوري- احمد شاه بابا په کال ۱۷۷۳ کي په "توبه" کي د پنځوسو(۵۰) کالو په عمر له دنیا څخه رخصت شو- دے له توبې څخه وزیر شاه ولي خان او یاقوت خان



عکس نمبر 61 د احمد شاه بابا مزار

کندهار ته راوړ او په کندهاربښارکي په خپل مزار(عکس نمبر61) کي په دايمي خوب ويدۀ دے- د ډېرو افغانانو په نېز دے يوازي باچا نه ؤ بلکي يو ولي الله هم ؤ[٦] چي روح يې د خپل نړېدلي هېواد پر کنډوالو ګرځي او د روغي جوړي او امنيت غوښتنه کوي- د پښتونخوا خواخوږي اوس هم دے پيرِکامل ګڼي او تر اسلامي اصولونو لاندي د پښتونوالي او ورور والي فلسفه د دۀ د مرشد په واسطه تر پښتنو رارسېدلې نسخه مني- ښايي چي همدغه نسخه د افغانانو په هېواد کي د هر ناورين علاج وي-

# خځليك


۱- ګنډا سينګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ۲۰۰۴ -

۲- غبار غلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷-

۳ - منګل علي محمد، توريالے او فرهنګيالے احمد شاه بابا، ۱۳۸۳ ش

۴ - غبار غلام محمد، احمد شاه بابا، کابل، ۱۳۲۲ شمسي-

۵ - الفنسټن مونټ سټوارټ، د کابل سلطنت بيان، لندن ، ۱۸۱۴ -

۶ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۴ -

۷- فېرئير جي پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنګ ميل لاهور ، ۲۰۰۲ -

۸ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۹- قاضي عطاالله خان- د پښتنو تاريخ، يونيورسټي بُك ابجنسي ، پېښور، ۲۰۰۳

۱۰ - خان عبدالولي خان، باچاخان او خدايي خدمتګاري، ورومے ټوك پېښور، ۱۹۹۳ -

۱۱ - لو ئز ډوفري، ( Afghanistan:East and wesrnt meet and mingle )، افغانستان، پرنسټن يونيورسټي پرېس ، ۲۰۰۴ -

۱۲- رسانېګم انجيلو، د افغانستان جديد تاريخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۱۳-امين سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، يعني " نوے افغانستان د بقا په هلوځلو" ، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۴

# ۲۲

# تېمورشاه او پایتخت کابل

تېمور شاه چې په کال ۱۷۴۲ کې په مشهد کې زوکړے ؤ ، په کال ۱۷۷۳ کې د لوی افغانستان مشر وټاکل شو- دے د احمد شاه بابا زوی او د هغهٔ ځایناست ؤ- دهٔ تر شلو کلونو پوري د احمدشاه بابا د نصیحت او وصیت په رڼا خپله باچهي وساتله- تېمور شاه په خپل دور کي د افغانستان پایتخت له کندهاره کابل ته بدل کړ[1]- سَوب یې دا ښوول کیږي چې تېمور شاه د شرقي ولایتونو او د هغو د مشرانو سره ټینګي اړیکي غوښتې، خو یو اړخ یې داهم ؤ چې دهٔ د خپل مشر ورور سلېمان سره د نښتو وېره لرله کوم چې احمد شاه بابا د ځایناست په توګه نه ؤ قبول کړے- د شهزاده سلېمان خُسر وزیرشاه ولي خان مخکي هم دا کوښښ کړے ؤ چې سلېمان باچا کړي خو د دغي خطا د سزا په توګه وژل شوے ؤ-

تیمورشاه (عکس نمبر62) سردار عبدالرحیم خان بارکزے د قبیلې د مشر او سردار په توګه وټاکهٔ مګر لږ موده پس هغهٔ د



عکس نمبر 62 تېمور شاه

خپلي کمزورۍ په وجه له مشرۍ څخه بېرته لري کړل شو او ورور پايندخان يې د سردار په توګه وټاکل شو- محترم امين سېکل دغه خانداني رقابت (Inter-Dynastic Power Struggle) د مستقل لوی افغانستان په لار کي يولوی خنډ ګڼلے دے او دويمه وجه يې د لويو طاقتونولاسوهنه هم ښولې ده[۲]- تېمور شاه د خپل دور په لومړيو کلونو کي دپښتنو د اولسي فوج وضع سمه کړه- اوّل افغاني لښکر

منظم نه ؤ بلکي د قبایلي سردارانو تر لاس لاندي ؤ چي اعتماد وربا‌ندي کېدای نه شو- تېمور شاه مُنظم عسکري تشکیلات غوښت- خپله ساتندویه (محافظه) فوجي دسته یې له ساکزو (اسحاق زو) څخه جوړه کړه چي په ابدالیانوکي تر ټولو وړه پښه وه- لس زره قزلباشان یې هم ورسره ملګري کړل- له سردارانو سره یې ورو ورو اړیکي پرې کړې- زوړ بېقاعده فوج یې ورو ورو لري کړ او په تړلې تنخواه یې یو باقاعده فوج تیارکړ- ځکه پښتنو تېمورشاه ته وروسته د پرَدي په سترګه کتل- تاریخ لیکونکي دا د تېمور شاه لویه غلطي ګڼي ولي چي په قبایلي سوسایټي کي د سردارانو اوخانانو بد اعتمادي د قام په ګټه نه وي- د احمد شاه بابا زاړه ملګري هم ورو ورو ترې خفه شول- په خراسان کي د نادر افشار لمسے شاه رُخ د تېمور شاه وفادار ؤ خو د هغه ځای خلګو د پښتنو حکومت په زړه نه شو منلای، ځکه یې په وارو وارو د بغاوت هلي ځلي وکړې او تېمور شاه یې درې ځله دې ته اړ کړ چي خراسان ته فوج ولېږي- د تېمور شاه نرم طبیعت د لري لري علاقو سرکښو خلګو ته له مرکزه د بېلېدو موقعه په لاس ورکړه- سند تقریباً له افغانستان څخه بېل شو ځکه په کال ۱۷۷۹ کي تېمور شاه پخپله د تالپور سردارانو پر ضد وجنګېد او بیا په ۱۷۸۶ کي د افغاني فوج مشر دلاور خان هم سند ته ولاړ- په آخر کي د میر فتح علي خان تالپور سره یوه لوظنامه لاسلیك شوه دکومي په ترڅ کي چي سند د تېمور بالادستي قبوله کړه او یو خاص رقم یې هم د باج په توګه ورکولو ته غاړه کښېښووه- دا معاهده هم په درو کلونوکي دننه ماته کړل شوه او سند ځان په بشپړه توګه له افغانستان څخه بېل

کړ[۳]-

هماغه مهال په بخارا کي شاه مراد بغاوت وکړ او تېمورشاه يې د ځان خلاف کاروايي ته اړ کړه- شاه مراد هم وروسته د افغانستان بالادستي ومنله او يوه لوظنامه ورسره لاسليك شوه چي بخارا به په ورين تندي افغانستان ته باج ورکوي- کله چي افغان فوج واپس شو نوشاه مراد بېرته نټه وکړه او پرمعاهده يې عمل ونه کړ- د تېمور شاه د نورو مجبوريو له کبله وروسته شاه مراد هم تر ډېره حده خود مختار شو[۴]-

د تېمور شاه په وخت کي کشمير، سيستان او بهاولپور هم بغاوتونه وکړل خو دا بغاوتونه افغانانو دباؤ کړل- په افغانستان کي کورني حالات هم هغه وخت ښه نه وو- تېمور ته ډېر مشکلات وو او ډېرو سازيشونو ته يې مخه وه خو بيا يې هم دغه کورنۍ شخړي په مېړانه پر وخت ختم کړې- کله چي افغانان په خپلو کي سره ښکر په ښکر وو نو پرملتان هم سيکانو بېرته قبضه وکړه[۵] -

که څه هم پايتخت کابل ؤ خو تېمور شاه هر کال د يخ موسم په پېښور کي تېراوۀ- ارسلاخان مومند(فيض الله) او دهغۀ ملګرو له دغي موقعې ګټه اخستل غوښت څکه يې په پېښور کي پر تېمور شاه حمله وکړه- دا حمله شاهي محافظانو ناکامه کړه خو ارسلاخان له منځه وتښتېد- وروسته په کال۱۷۹۱ کي په دغه تور ونيول شو او د مرګ سزا ورکړل شوه [۶]-

د تېمور شاه په دور کي يوه لويه تاريخي واقعه دا وشوه چي په کال ۱۷۸۹ کي په يورپ کي د فرانس لوی انقلاب راغے چي کاخ

سلطنت يې له منځه يوړ او زَړه دُنيا يې وَښورَوله[۷]- فرانسويانو د جمهوريت بيرغ راپورته کړ او د بشري حقوقو د ساتني ضمانت يې هم ورکړ- د فرانس او افغانستان تر منځ فرق دا ؤ چي په افغانستان کي خلګو تعليم نه درلود ، د جمهوريت اومطلقُ العنان حکمرانۍ تر منځ يې فرق نه ليد او د بشري حقوقو غوښتنه يې هم نه کوله- که څه هم تېمور شاه د سردارانو خوښ نه ؤ خو په هېواد کي هيچيري هم د جمهوريت غوښتنه وَنه شوه-

تېمور شاه د خپل بهرني سياست په حواله ډېر محتاط ، درُوند اومُدبِّر سړے ؤ- هغۀ د ايران، هندوستان او ماورالنهر پخوا هڅه ونه کړه ځکه يې ترشلوکالو د پلار سلطنت سلامت وساتۀ[۸]- ددۀ په وخت کي په هېواد کي زراعت، تجارت او علم وهنر څه ناڅه پرمختګ وکړ- په هېواد کي سياسي مرکزيت ؤ خو اقتصادي وضع يې ښه وه[۹]-

تېمور شاه په ژمي په پېښور کي ناروغه شو او په همدغه ناروغي کي کابل ته راغے چيري چي دکال ۱۷۹۳ په پسرلي کي د خداى په کار شو[۱۰]- قبر يې د کابل ښار په منځ کي په باغِ عمومي کي دے[۱۱]-

تېمور شاه د نرم طبيعت مالك ؤ- ددۀ په دور کي تر ډېره حده په افغانستان کي عدل او انصاف وو- دۀ ورو ورو د احمد شاه بابا د حکومت پښتني طرز بدل کړ- پښتو يې ترشا کړه او د کابل په دربار کي د پښتوځاى فارسي ژبي ونيو- که څه هم يوې خواته دغه بدلون ډېر واړۀ واړۀ غېر پښتون قامونه په افغانستان پوري په بشپړه

توګه وتړل او هېواد ته يې سياسي او جغرافيايي وحدت ورکړ خو بلي خواته د پښتو د ترقۍ لار وتړل شوه- که چيري هغه وخت پښتو د افغانستان دفتري ژبه پاته شوې وای نو ښايي چي اوس به د نړۍ دلويو علمي ژبو ترڅنګ ولاړه وای-

د تېمور شاه ۳۳ زامن او ۱۳ لوڼي وې- څوك له پښتنو مندوڅخه وو، څوك له هندي او څوك د کشميري مندو او لاد وو- په خپلو کي نه سره جوړېدل ځکه د سلطنت په نقصان تمام شول- د دهٔ تر مړيني وروسته يې زامن تر ۲۵ کلونو يو له بله سره د اقتدار په جنګ اخته وو- کله به يو پر تخت ناست ؤ کله بل- د انګرېزانو، روسانو، او ايرانيانو لاسونه ورته جوړ شول- آخر د احمد شاه بابا لوی افغانستان پر ځوړه روان شو او شهزادګان د راتلونکي وخت دپاره د ګاونډيانو مېلمانه شول-

## اخځليك


۱- ګنډا سينګ، احمد شاه ابدالي، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور، ۲۰۰۴

۲- امين سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، يعني "نوے افغانستان د بقا په هلوځلو"، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۴

۳ - غبار غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ، کابل، ۱۹۶۷-

۴ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي، پېښور، ۱۹۶۴ -

۵ - فېرئير جې پي، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans)، سنګ ميل لاهور، ۲۰۰۲ -

۶ - سلطان محمد خان، تاریخ سلطاني ، لومړی برخه، ۱۲۹۸ ق

۷ - ویلیم مېك ګاګي، Five epochs of civilizatin دبشري تهذیب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵

۸- رسانېګم انجیلو، د افغانستان جدید تاریخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آیي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۹ - حبیبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دویم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳-

۱۰ - اولف کېرو، پښتانه (The Pathans) مېکمیلن کمپني لندن، نیویارك اېسټي مارټن پریس ، ۱۹۶۵

۱۱ - لو ئز ډوفري ، افغانستان ( Afghanistan ) ، پرنسټن یونیورسټي پرېس ۲۰۰۳

Pukhto.Net پښتو

# ۲۳

# دانګريزانوخلاف افغاني مبارزی

کله چي د تېمور شاه تر مړيني وروسته د هغهٔ زامن د اقتدار په جګړو سره اخته شول او د پښتنو تر منځ نفاق ښکاره شو نو انګرېزانو لاس وهنه پيل کړه[۱] - دا مهال انګرېزانو په هندوستان کي د فرانس سره تجارتي مقابله کوله او ايسټ انډيا کمپنۍ (East India Company) هغوی ته په هند کي د پښو نيولو ځای ورکړے ؤ[۲] - دا کمپنۍ وروسته په برطانوي حکومت بدله شوه او د هندوستان واړه واړه دولتونه يې ټول قبضه کړل- خوله يې شخوند شوه او د افغانانو وطن ته يې هم پام شو- انګرېزانو تاريخ هېرکړ، افغانستان ته يې هڅه وکړه- **زمان شاه** (زمان خان) د تېمور شاه په زامنوکي پنځم ؤ خو د پوهني په لحاظ اوّل بلل کېدهٔ[۳] - د تېمور شاه تر مړيني وروسته افغاني جرګې دے د باچا په توګه وټاکهٔ خو

مشر ورور همايون يې تصديق ونه کړ- په کال ۱۷۹۳ کي زمان شاه د ۲۴ کالو په عمر د افغانستان تخت تر لاسه کړ-

هغه وخت نړی په يوه عجبه کشمکش اخته وه- په يورپ کي د فرانس عظيم انقلاب راغلے ؤ او د افغانستان پر ختيځ سرحد د هند واك انګرېزانو ترلاسه کړے ؤ- که څه هم د احمد شاه بابا په دور کي د انګرېزانو کمپنی (ايسټ انډيا کمپنی) په هند کي کار کاوۀ خو د افغانستان په مسّلو يې کار نه درلود- سرجان شور د ګورنر جنرل په توګه په هند کي ناست ؤ- دوه کاله وروسته انګرېزانو مرېټه رياست، نظام دکن او نوري هندي علاقې لاندي کړې-

درې کاله وروسته مارکوېس ولسلې د برطانوي حکومت له خوا د هند د ګورنر جنرل په توګه وټاکل شو- هغۀ يو لوی فوج جوړکړ او تقريباً نيم هندوستان يې ورو ورو تر خپل واك لاندي راووست- مرېټيانو شکست وخوړ، نظام دکن تسليم شو، راجپوت شهزادګانو ماته وخوړه او ټيپو سلطان په نره د شهادت جام نوش کړ[۴]-

د افغانستان په لوېديځ کي، په کال۱۷۹۵ کي د ايران واك قاچاريانوترلاسه کړ- آقامحمدخان قاچار د افغانستان خُراسان ولايت ته رينګلي ؤ- هغۀ پر دغه ولايت حمله وکړه، ډېرڅۀ يې تري لوټ کړل او بېرته ايران ته وتښتېد- کله چي دے په کال ۱۷۹۷ کي قتل شو نو فتېح علي شاه د ايران باچا شو- هغۀ يو عياش سړے ؤ او پخپل ۳۶ کلن حکومت کي يې ايران هم برباد کړ- دے به کله د انګرېزانو په لاس کي ؤ، کله د فرانسويانو او کله د روسيانو- لومړے انګرېز کپتان مالکم ته تسليم شو بيا فرانسوي جنرل ګارډن ته او وروسته سرهارفورډ جان ته[۵]-

په کال ۱۷۹۷ کي د میسور استازي د مرستي په طمع کابل ته راغلل- په همدغه کال کي د ډیلي باچا د شاه زمان څخه د خپل زوی د ولي عهد په توګه د ټاکني تصدیق واخست- زمان شاه (عکس نمبر63) یو ښه انسان او لوړ همته افغان ؤ ځکه یې د انګرېزانو خلاف د هند د خلګو مرسته کول غوښت- دهٔ پخپله دا ولیدل چي انګرېزانو په تېره نیمه پېړۍ کي په هندوستان کي څه ونه کړل؟ د هندوستان نوابانو ته هم دا احساس وشو چي انګرېزان د هِند خواخوږي نه دي، ځکه یې د مرستي په هیله د افغانستان په خوا کتل-



عکس نمبر 63 زمان شاه او شاه شجاع

د احمد شاه بابا د لمسیانو تر منځ کورنۍ شخړي روځ په روځ پر زیاتېدو وې- زمان شاه د سختو کورنیو جګړو سره مخامخ ؤ ځکه بهرَنیو دښمنانو د وروڼو تر منځ له دغو جګړو څخه پوره پوره

ګټه واخسته- د لوېديځ له خوا آقا محمد قاچار، له شمالي پلوه د بخارا باچهانو، له ختيځ څخه سيکانو او د سند ميرانو هېواد ماتاوۀ لګياوو- کله چي زمان شاه د سيکانو مخنوي لره روان شو نو همايون ورور يې د سند د اميرانو په مرسته د بولان له خوا کندهار ونيو- د زمان شاه څخه پنجاب پاته شو، بېرته کندهار ته راغے او همايون يې ګيرکړ-

چونکي د انګرېزانو له افغانانو څخه وېره کېده ځکه په کال ۱۸۰۰ زېږده کي د قاچاري ايراني حکمرانانو سره يو ځای شول- ايران غوښت چي نيشاپور او مشهد له افغانستان څخه بېل کړي ځکه يې د انګرېزانو سره يو تړون لاسليک کړ چي که چيري افغانستان پر ايران حمله وکړه نو انګرېزان به پر ختيځ (شرقي) افغانستان حمله کوي او که يې پر هند حمله وکړه نو ايران به پرلوېديځو (غربي) افغاني ولايتونو حمله کوي- دپښتنو د دوو لويو دُښمنانو(انګرېزانو او قاچاريانو) تر يوځای کېدو وروسته زمان شاه خپل پاته دور ټول د آس پرځين تېرکړ- کله به ختيځ ته ځغاست او کله لوېديځ ته[۵]-

هغه وخت په قام کي ملي شعور نه ؤ- پښتانه په خپلو کي هم سره نښتي وو- له يوې خوا د زمان شاه خپل ورور **محمود** ورته بلا شو، د خاريجيانو په سازش د هرات څخه کندهار ته راغے او د باچهۍ اعلان يې وکړ- محمود له ايران څخه د نيشاپور او مشهد په سودا، مدد وغوښت- بيا له کندهار څخه د کابل په خوا روان شو- زمان شاه هغه وخت د انګرېزانو سره په لاهور کي د جنګ په حال کي ؤ چي د محمود د بغاوت خبر ورته ورکړل شو- دۀ هماغه مهال

انګرېزان پرېښوول او کندهار ته راستون شو- محمود تېښته وکړه، بېرته هرات ته ولاړ او د خپلي مور په ذريعه يې د بخښي خواست وکړچي له بده مرغه زمان شاه قبول کړ- د محمود بخښنه د تاريخ ليکونکو په نېز د افغاني تاريخ تر ټولو لويه غلطي ده ولي چي غدار بخښل په تاريخي توګه د قام سره نا انصافي ګڼل کيږي- دمحمود د باچهۍ خواهش ختم نه شو ځکه يې وروسته بيا د قاچاريانو په مرسته کابل ته هڅه وکړه[۶]- له بلي خوا انګرېزانو د روحانينو په جاموکي دميا غلام محمد غوندي مخبران افغانستان ته را وليږل چي ورو ورو يې نور افغانان هم ورسره ملګري کړل او سازيشونه يې کول- د زمان شاه بل ورور همايون هم بياباغي شو او د وزير فتح خان (چي د پاينده خان بارکزي زوی ؤ) په مرسته يې د ورور په ملا ماتولو پېل وکړ[۷]-

په همدغو حالاتو کي زمان شاه د لږو کسانو سره د پيښور په خوا روان شو- له دهٔ سره رحمت الله وزير هم په دغه سفر کي ملګرے ؤ- کله چي دوی پر لار د شنوارو مېلمانه شول نو يې له بده مرغه د ملا عاشق په کلا کي د آرام کولو ست ومانهٔ- د خاين ملا له خوا په کلا کي د باچا د نيولو سازش تيار ؤ ځکه چي کله زمان شاه له خپلو پنځلسو سپرو سره ګډ کلا ته ورننووت او په کلا کي يې شاوخوا وکتل نو پوهـ شو چي ملا به يې د دښمن په لاس ورکوي- په کلا کي هغه وخت موجود دَشنوارو۲۰۰ وسلوالو زمان شاه اسير کړ- ملا عاشق چونکي د انګرېزانو ايجنټ ؤ ځکه يې تر هغه وخته زمان شاه له ځانه سره محصور ساتلے ؤ، تر څو چي محمود او د پاينده خان زوی فتح خان بارکزي د کابل تخت په بشپړه

توګه ونيو[۵]-

ملا عاشق خپل زوی محمود ته ولېږهٔ او د زمان شاه په باره کې يې هدايت ترې طلب کړ- محمود له کابله قوت را واستاؤ او فتح خان بارکزي خپل ورور اسدالله خان هم ورسره کړ چې زمان خان کابل ته را ولي- کله چې کابل ته د زمان شاه ده لېږلو اِنتظام کېدهٔ لګياؤ نو هغهٔ د کوهِ نور الماس (هيره) د کلا د دېوال په يوه چاؤده کې وَغورځاو- اسدالله او د دهٔ سپايانو لومړے د زمان شاه سترګې ړندې کړې او بيا يې کابل ته روان کړ- هلته يې بيا د بالا حصار په زندان کې واچاو- دا شان د پښتنو پر پت او ننګ مئن دغه سترمبارز له لارې لرې کړل شو- زمان شاه په حقيقت کې يو د قوي ارادې سړے ؤ چې په جنګ غښتلے، په پښتو پوهه ، په پښتونوالي ولاړ او د هېواد ساتندوی ؤ- ټولو افغانانو ورته په ښه سترګه کتل- محمود خو په کابل کې باچا شو مګر خاين ملا عاشق د خپلو کړو له کبله په سزا ورسېد-

نولسمي پېړۍ افغانستان لره ډېرې ستونزې راوړې- کال ۱۸۰۱ د پښتنو په تاريخ کې يو ډېر بدمرغه کال ؤ- کله چې د زمان شاه سترګې ړندې کړل شوې نو لوی افغانستان هم پر نړېدو شو- د هغهٔ د سترګو روڼا څه ولاړه ، پر افغانستان **توره تياره** شوه - د محمود د اقتدار هوس، د سردارنوجهالت، د ايرانيانو بُغض او د انګرېزانو لاس وهنې د احمد شاه بابا لوی افغانستان ټکړې ټکړې کړ- لکه چې په عکس نمبر64 کې ښکاري، په دوه کاله کې د ننه محمودمشهد، نيشاپور او د خراسان نوري څنډې له لاسه ورکړې[۸]-

لړموده وروسته پنجاب هم د رنجيت سينګ په مشرۍ کې د




عکس نمبر 64 افغانستان تر ا نګرېزانو له مخه

اِستقلال اعلان وکړ- د احمد شاه بابا لوی افغانستان له هري خوا سره را وسکښت شو خو بيا يې هم خپل طبعي سرحدونه ساتلي وو- درې کاله وروسته يعني په کال ۱۸۰۴ کي **شاه شجاع** محمود له تخته کښته کړ، په خپله باچا شو- په کال ۱۸۰۹ کي شاه شجاع هم د شاه محمود له خوا د باچهۍ ولوېد- شاه محمود سردارفتح خان د "شاه دوست" په لقب خپل وزير کړ- ټول هېواد يې عملاً د هغهٔ عزيزانو ته په لاس ور کړ-

د شاه محمود خلاف عبدالرحيم خان غلجے راپورته شو او په لږ موده کي يې غزنے ترې ونيو- له بلي خوا د زمان شاه سَکه ورور شاه

شجاع هم دمحمود باچهي ونه منله- دکابل لوګر، غزني او قلات، غلجو قبايلو په ګډه شاه شجاع ته بلنه ورکړه او کابل ته يې را وغوښت- په درې کاله (١٨١٨) کي ياغي محمود خلع شو او شجاع د افغانستان باچا شو- د شاه شجاع لويه غلطي په لاهور کي د انګريز او رنجيت سينګ سره درې اړخيځه تړون ؤ چي د پښتنو په ډېرنُقصان تمام شو- په دغه دورکي د پښتنو لوی دُښمنان انګرېزان او ايراني حکمرانان په افغانستان کي په لاس وهنه نه مړېدل او د اِقتدار يو عجبه غوندي کشمکش يې جوړ کړ- دوه واره شاه محمود باچا شو او دوه واره شاه شجاع- د دې شخړي دوه لوی غداران وزير فتح خان او ملا عاشق دواړه هلاك شول- وزيرفتح خان خو اوّل ړوند کړشو او بيا ووژل شو- د احمد شاه بابا د کورنۍ واك په عملي توګه، په ١٨١٨ کي پای ته ورسېد[۴] -

د وزير فتح خان د وينو په بدل محمد زي سرداران رامخته شول- د سردار پاينده خان زامن له همدغه وخته د افغانستان حکمرانان شول- امير دوست محمد او د هغهٔ زوی امير شېر علي خان هم دوه دوه واره باچهان شول- رنجيت سِينګ، چي زمان شاه په خپل وخت کي د پنجاب والي ټاکلے ؤ، له دې موقعې ګټه واخسته او په ١٨١٨عيسوي کال کي يې پر ملتان ور لښته کړه- مظفرخان (چي هغه وخت د ملتان والي ؤ او ډېر غېرتمند سړے ؤ) د خپلو دوو زرو سپايانو په مرسته د رنجيت سينګ د ۱۵ زرو سپايانو مقابله په ډېره نره، تر شپږو مياشتو پوري وکړه- آخر چي ددهٔ زامن، لور او دے پخپله شهيدان شول نو رنجيت سينګ ملتان ته ورننووت- رنجيت سينګ د ١٨١٨ زېږدي په آخرکي پر پېښور هم

حمله وکړه- سردار يار محمد ماته وخوړه او د يوسفزو غرونو ته وخوت- بيا يې پېښور بېرته واخست خو کنټرول يې نه کړ-

له نولسمي پېړۍ څخه له يوې خوا په افغانستان کي د مغربي ايمپرېليسټانو (European Imperialism) [9] لاس وهنه زياته شوه او له بلي خوا په ۱۸۱۹ کي سِيکانو پر ډېره غازي خان حمله وکړه او بيا يې کشمير هم ونيو- دوه کاله وروسته سيکانو په ۱۸۲۱ کي پر ډېره اسماعيل خان حمله وکړه او ورو ورو يې د پېښور په خوا هڅه وکړه- آخر پېښور هم د افغانانو له لاسه و ووت- رنجيت سِينګ انګرېزانو ته لار خلاصه کړه خو افغانستان يې داسي برباد کړ چي تر اوسه لا هم په خپلو پښو درېدلے نه دے- د ۱۸۱۸ زېږدي څخه تر ۱۸۲۶ پوري د افغانستان په بېلابېلو څنډوکي واك د بېلا بېلو سردارانو په لاس کي ؤ-

لکه مخکي چي يې ذکر وشو، د کورنيو شخړو او بهرَنيو سازشونو له کبله د افغانستان په بېلابېلو برخوکي واك د بېلا بېلو سردارانو په لاس کي ؤ او په عملي توګه يو ملي وحدت له لاسه تللے ؤ ځکه پښتانهٔ مشران د خپل نفاق له سوَبه په قامي زيان ډېر خواشيني وو- سردارانو يو او بل ته بېرته وړه سره ورکړه او د انګرېزانو له منافقته يې د ځان ژغورني هلي ځلي پېل کړې- نتيجه يې دا شوه چي په کال ۱۸۲۶ کي امير دوست محمد خان د افغانستان واك تر لاسه کړ او د افغانستان وجود ته يې دنړۍ پر مخ دوام ورکړ-

د انګرېزانو او روسانو ترمنځ په دې سيمه کي د بالا دستۍ جنګ زور واخست- په کال ۱۸۳۰ کي افغانستان يو سفارتي وفد

روس ته واستاو، همدغه د اوّل انګلوافغان جنګ اصل سوَب شو- انګرېزانو د اميردوست محمد خان پرځای شاه شجاع بېرته راوستل غوښت ولي چي اميردوست محمدخان د روس سره سفارتي اړيکي زياتي کړې چي انګرېزانو ځغملای نه شوې-

د اميردوست محمدخان په دور کي اليکزاندربرنس د موهن داس هندي سره د جاسوسۍ په غرض افغانستان ته ننووت- پېښور، کابل، باميان او هزاره جات يې ټول وکتل- اليکزاندر برنس په ۱۸۳۲ کي خپل کتاب "دکابل احوال" ليکلی ؤ په کوم کي چي هغهٔ د کابل د ګلونو او باغونو ډېر تعريف کړے ؤ او دا ښار يې د جنت د ټکړې په نامه ياد کړے ؤ- د کابل د بلبلانو هم هغهٔ ډېره خوښي کړې وه ځکه يوهٔ افغان دوست ورته يوخاص بلبل د نخښي په توګه هم ورکړے ؤ-

په کال ۱۸۳۸ کي يو روسے استازے ويکويچ کابل ته راغے او د افغانستان د حاکمانو سره يې ليدنه کتنه وکړه- په همدغه کال د جون د مياشتي په شپږ ويشتمه نېټه د جلاوطن باچا شاه شجاع، مهاراجه رنجيت سينګ او برطانوي ګورنر جنرل ترمنځ د لاهور تړون[۸] وشو چي د جولايي د مياشتي پر پنځويشتمه په شِمله کي په بشپړه توګه وتړل شو- دلاهور دغه تړون چي د ميکناټن په وسيله په اتلس توکونو کي لاسليك شو د پښتنو په ګټه نه ؤ ځکه دوی قبول نه کړ-

په کال ۱۸۳۸ کي لارډ آکلېنډ چي په هند کي د انګليستان ګورنرجنرل ؤ، خپلو فوجونو ته حکم ورکړ چي پر افغانستان حمله وکړي- دا شان **لومړے انګلو افغان جنګ** په کال ۱۸۳۸ زېږده کي

ونښت او تر کال ۱۸۴۲ پوري يې دوام درلود- په دغه جنګ کي که څه هم انګرېزان او سيکان د پښتنو خلاف سره ملګري وو خو برے يې په نصيب نه شو-

انګرېزانو د سرجان کين تر مشرۍ لاندي د خپل لښکر سره شاه شجاع د کال ۱۸۳۹ د فروري په مياشت کي د سند او بولان له لاري کندهار ته راووست- پر کندهار ښار يې يرغل وکړ او د اپرېل د مياشتي پر شلمه نېټه يې ښار ونيو- د اميردوست محمد خان ورونه له کندهاره ايران ته وتښتېدل- له بلي خوا د شاه شجاع زوی د کپتان وېډ په مرسته دخېبراوجلال آباد له لاري پر کابل حمله وکړه- اميردوست محمدخان او دهغهٔ زامن بخارا ته وتښتېدل چيري چي دوی د هغهٔ ځای باچا بنديان کړل- دا رنګه په کال ۱۸۳۹ کي د اګست د مياشتي پر اوولسمه نېټه انګرېزانو شاه شجاع د کابل پر تخت کښېناو- انګرېزان د پښتنو په رواياتو خبرنه وو ځکه خلګو د دوی له کبله شاه شجاع هم قبول نه کړ-

لکه چي په تاريخ ثابته ده، پښتانه د بهرَنيو يرغلګرو مخنيوے کوي اوخپلواکي په هره توګه ساتي ځکه افغان اولس د انګرېزانو خلاف د غزا اعلان وکړ- په افغانستان کي له هري خوا پر انګرېزانو بريدونه پېل شول- د انګرېزانو پر ضد د افغان ملت د غزا کولو فېصلې دوست محمد خان ته هم زړه ورکړ، ځکه دے له خپل زوی محمد افضل خان سره يو کال وروسته له بخاراڅخه تر امو راواووښت او په ايبک کي د انګرېز فوج سره مخامخ شو، خو تر ماتي وروسته په کال۱۸۴۰ کي د ستمبر په اتويشتمه نېټه شقرغان ته وتښتېد[۷]- هلته انګرېزانو ګرفتار کړ او کلکته ته يې ولېږهٔ- انګرېزانو دوست

محمد خان په رېل ګاډی کي په دارنګه مکاري واستاو چي ګاډی يې د مېږي په ګام روانه کړي وه او دا تاثُر يې ورکاوهٔ چي د انګرېزانو باچهي دومره لويه ده چي افغانستان خو ورته هيڅ هم نه دے-

د افغانستان ملي مجاهدينو د انګرېزانو خلاف خپل جهاد ته دوام ورکړ- سلطان محمد نجرابي، عبدالله خان اڅکزي امين الله خان لوګري او نورو غازيانو خپلي هلي ځلي جاري وساتلې- د امير دوست محمد خان زوی محمداکبرخان هم د غازيانو سره مل شو- دخلګو دا يقين شو چي انګرېزان د شاه شجاع د باچهی په غم کي نه دي بلکي افغانستان نيول غواړي ځکه پښتنو بېرته ورباندي حمله وکړ- سر مېکناټن په کال ١٨۴١ کي د ستمبر د مياشتي په درويشتمه نېټه د محمداکبرخان له لاسه په کابل کي ووژل شو او د دغه کال د نومبر په دويمه نېټه اليکزاندر برنس هم ووژل شو- په کال ١٨۴٢ کي د اپرېل د مياشتي په درېيمه نېټه شاه شجاع د خپل محل د دېوال سره د غازيانو له خوا قتل شو- د نومبر په دويمه، په کال ١٨۴٢کي د انګرېزانو او افغانانو ترمنځ لومړے جنګ فېصله شو- انګرېزي فوجونه له کابله ووتل او د جلال آباد پر لوري روان شول- غازيان ور پسې ولاړل او په دغه لارکي يې ور باندي يرغل (Retreat) وکړ، په کوم کي چي د انګرزانو شپاړسنيم زره عسکر ټول ووژل شول، چي تقريباً ۴۵٠٠ انګليسي فوجيان او ١٢٠٠٠ پکي دهغوی پلويان وو- په دغه جنګ کي د انګرېزانو د تېښتي لار پخپله نوميالي انګرېز تاريخ ليکونکي لوئيزډوپري[٩] په خپل کتاب "افغانستان" کي ښولې وه چي په لاندي عکس نمبر 65




عکس نمبر 65 په لومړي انګلو افغان جنګ کي له کابل څخه تر جلال آباده دانګرېزانو د تېښتي لار[۹]

کي بېرته د کرښو په توګه څرګنده شوې ده- په تېښته تېښته ټول انګرېزي فوج ووژل شو پرته له يوۀ ډاکټر ويليم برايډن نه چي ژوندے جلال آباد ته ورسېد- ښايي چي برايډ هم انګرېزحکمرانانو ته د دغي غمجني قصے د اورولو دپاره ژوندے پرېښوول شوے ؤ چي په اورېدو يې په انګلستان کي د ماتي وير نور هم زيات شو-

په دغه جنګ کي **وزيرمحمد اکبرخان** چي د امير دوست محمد خان زوی ؤ، د پښتنو د قامي هيرو په توګه په نره د وطن دفاع وکړه- انګرېزان يې له هېواده وتښتول او په ځغاسته ځغاسته يې د نورو غازيانو په مرسته ټول انګليسي فوجيان ووژل- په دغه جنګ کي داليکزاندربرنس او شاه شجاع په قتل انګرېزان ډېر خوړ شول- هغوی بيا پر کابل د بدل اخستلو په غرض حمله وکړه او په کابل کي يې د اولسمي پېړۍ لوی تجارتي مرکز"مسقف بازار"، چي څلور منزله ؤ، ټول وسواځۀ- دا بازار په هغه وخت کي د منځنۍ آسيا، چين، هندوستان، ايران، ترکي او يورپ لويه منډۍ وه-

د وزيراکبرخان (عکس نمبر 66) او نورو غازيانو له لاسه تردغي ماتي وروسته انګرېزان دې ته اړ شول چي دوست محمد خان يې بېرته له هندوستان څخه راووست او په کابل کي يې پر تخت کښېناو- دا رنګه اميردوست محمد خان بېرته د افغانستان واك تر لاسه کړ- ايران ته تښتېدلي نور سرداران هم افغانستان ته راغلل او د هېواد پر نورو ځنهو حکمرانان شول- کندهار او هرات بيا هم د سردارانو په امارت کي شامل نه وو- امير دوست محمد خان تر



عکس نمبر 66 وزير اکبر خان

راتلونکو شلو کلونو پوري د افغانستان وړې وړې ټبرواکۍ په دې نیت سره را یوځای کړې چي بېرته یوخپلواک هېواد ترې جوړکړي او قام سره یو ځای شي- دوست محمد خان وروسته په ښکاره د انګرېزانو خلاف له روس څخه مرسته وغوښته[7]- په افغانستان کي دانګرېزانو او روسانو تر منځ له دغه وخته د لوئي جګړې پېل وشو چي بیا یې بېخي تر ډېره دوام ودرلود- دمحمد زیانو مرسته روسانو وکړه او انګرېزانو دسدوزیانو دآخري باچا شاه شجاع پر وړو توپك کښېښوو- کله چي رنجیت سِینګ مړشو نو له عادته مجبوره انګرېزانو د رنجیت د زامنو ترمنځ هم تناؤ راووست او د هغوی له اختلافه یې فایده واخسته- په کال ۱۸۴۸ کي دغو انګرېزانو سیکانو ته هم لاس واچاو- سِیکانو امیردوست محمدخان ته د مرستي خواست وکړ او دا وعده یې هم وکړه چي د انګرېزانوتر شَړلو وروسته به د افغانانو ختیځي (شرقي) علاقې بېرته پښتنو ته وسپاري- امیر دوست محمدخان د سیکانو د مرستي خواست قبول کړ او په فروري ۱۸۴۹ کي یې دانګرېزانو خلاف د سِیکانو مرسته وکړه خودګجرات په جنګ کي برے د سیکانو او پښتنو په نصیب نه ؤ- سِیکانو شکست وخوړ او د پښتني سیمي یوه څنډه هم د انګرېزانو په لاس ورَغله چي تر اوسه لا د افغانانو له لاسه وَتلې ده- څوکاله وروسته امیر دوست محمد خان سردار غلام حېدرخان جمرود ته په دې غرض ولېږهٔ چي د برطانوي هند د حکمرانانو سره تر لیدني کتني وروسته یو تړون وکړي- دا رنګه د افغانستان او برطانوي هند تر منځ په کال ۱۸۵۵ کي **د پېښور تړون** وشو چي افغانستان او برطانوي هند به یو د بل په چارو کي له لاس وهني

ځان ژغوري- د دوستۍ او مرستي پر بنياد به يو د بل ملګرے ملګرے او دښمن دښمن ګڼي- د انګرېزانو او افغانانو تر منځ د پېښور په تړون کي انګرېزانو عملاً په افغانستان کي د امير دوست محمد خان (عکس نمبر 67) واك تسليم کړ-



عکس نمبر 67 امير دوست محمد، امير شېرعلي خان او امير عبدالرحمان

د پېښور دغه تړون هم ښايي چي د انګرېزانو مجبوري وه ولي چي په دغه وخت کي پر تُرکي د روس د قبضې خواهش د"کريميئن جنګ" پېښ کړ په کوم کي چي يورپ ورته يو مُټ شو او زار نيکولس وروسته په کال ۱۸۵۶ کي په"پېرس تړون" راضي شو- امير دوست محمد خان د انګرېزانو سره په ۱۸۵۷ کي سوله وکړه- دا هغه وخت ؤ چي په يورپ کي په کال ۱۸۵۹ کي د ارتقاء په لړ کي د چارلس ډارون تحقيق (Origin of species) چاپ شو- تر پېښور تړون وروسته امير دوست محمد په ختيځ کي له انګرېزانو څخه لږ په اطمنان شو ځکه يې لومړے کندهار او بيا هرات ونيو- انګرېزانو هم د امير سره د هرات په بېرته اخستلو کي نظامي

مرسته وکړه- د هرات خلگو هم د سيد جمال الدين افغاني په لارښوونه د ايراني قبضې څخه د هرات د آزادولو کوښښ وکړ- په ۱۸۶۳ کي امير دوست محمد خان د خدای په کار شو- په کريمين جنګ کي تر ماتي وروسته روس له کاسپين سمندرګي څخه د اړال سمندرګي په خوا هڅه وکړه او تر کال ۱۸۶۴ پوري د اړال غاړي ته ورسېد- روسيانو ورو ورو د امو سيند په خوا پرمختګ کاو لګيا وو- تر دغه وروسته په افغانستان کي د انګرېزانو لاس وهنه نوره هم زياته شوه- په منځنۍ آسيا کي د روس پرمختګ د برطانوي هند د تشويش اصل سوَب ؤ-

که څه هم د خېبر دره (عکس نمبر 68) له پېړيو د فاتحانولاره وه خو له ۱۸۴۲ څخه وروسته نوره هم مهمه شوه- انګرېزانو لومړے پکې سړك جوړکړ بيا يې رېلوايي هم پکې تېره کړه- دوی په عسکري توګه دخېبر دره ډېره مهمه ګڼله ولي چي يوې خوا ته دغه



عکس نمبر 68 د خېبر دره

دره افغانستان ته د ننوتو دروازه وه او بلي خواته د روس مخنيوي لره خزه هم وه- د اميردوست محمد خان تر مړينې وروسته د دۀ په کورنۍ کي هم خانداني جګړي پېل شوې- هر سردار باچهي غوښته خو شېر علي خان چي د دوست محمد خان درېيم زوی ؤ د اميرۍ په جګړو کي برے وموند [8]- سيد جمال الدين افغاني دغه وخت په هرات کي ؤ- هغۀ د هېواد خواخوږے ؤ ځکه يې امير شېر علي خان ته د نوي مدنيت اصولونه ور ښوول او په کورنيو چاروکي يې هم د دۀ لارښونه کوله خو په پنځه کاله کي دننه د امير شېر علي خان مشر ورور افضل خان د دۀ خلاف بغاوت وکړ- امير شېر علي خان په دا منځ کي له تختۀ لري کړل شو او ورور افضل خان يې باچاشو- جمال الدين افغاني هم له هېوادۀ هجرت وکړ- د افضل خان تر مړيني وروسته يې بل ورور محمد اعظم خان باچا شو- خو په درې کاله کي د ننه يعني په کال ۱۸۶۸ کي امير شېر علي خان له اعظم خان څخه تخت بېرته واخست او د دويم ځل د پاره باچا شو- د افغانستان لومړے اخبار "شمس النهار" يې چاپ کړ- کشر زوی عبدالله يې خپل ځايناست کړ چي د مشر زوی يعقوب خان په خوابدي تمام شو- يعقوب خان له کابله تېښته وکړه او په هرات کي يې د پلار خلاف کار پېل کړ- کله چي امير دے د هرات حاکم کړنو بيا کښېنوست-

تر کال ۱۸۷۲ پوري روس تقريباً د افغانستان تر پولي راورسېد- روس خپل پرمختګ ته دوام ورکړ او په کال ۱۸۷۶ کي د چين د سينکيانګ تر پولي هم ورسېد- که څه هم امير شېر علي

خان د انګرېزانو سره ښه تعلق ساتلے ؤ خو په دغو سیاسي او جغرافیایي حالاتو کې انګرېزان ډېر شکیان وو- کله چې یو روسي سفارتکار جنرال ستولیتوف کابل ته د خبرو اترو د پاره راغے نو انګرېزان نور هم په تشویش شول او د امیر شېر علي خان سره یې خوابدي څرګنده کړه- کله چې مسټر ډیزرایلي د برطانیه وزیرِ اعظم شو نو انګرېزان په افغانستان کې د "نه مداخلې" پرپالیسي پښېمانه شول او د"پرمختګ پالیسي" (Forward Policy) یې خپله کړه چې خالق یې له ۱۸۶۹ څخه سرهنري راولینسن ؤ- دا رنګه د لویې لوبې (Great Game) پېل وشو او ورو ورو د انګرېزانو او افغانانو تر منځ بیا د جنګ نخښې ښکاره شوې-

د "پرمختګ پالیسي" مطلب دا ؤ چې لومړے دې کوټه ونیول شي او بیا دې هغه نوري افغاني سیمې هم تر کنټرول لاندې راوړل شي چې تر کومو د انګرېزانو لاس رسېږي- منتقي نتیجه به یې داوي چې د افغانستان امیر به په کابل کې د انګرېز نماینده په ناسته راضي شي نو به د روس د نور مخته راتګ لار ونیوه شي- په کال ۱۸۷۶ کې د برطانیه وزیرِ اعظم ډیزرایلي په هندوستان کې لارډ لایټن وایسرای کړ چې د"پرمختګ پالیسي" عملي کړي- په همدغه کال انګرېزانو کوټه ونیوله او یوه لویه فوجي چاونۍ یې ترې جوړه کړه- انګرېزانو د خپلي پالیسۍ په رڼا کې کابل ته هم خپل یو مسلمان نماینده ورولېږۀ خو کله چې دوی په کابل کې د یورپي مِشن د کښېنولو غوښتنه وکړه نو امیر شېر علي ونه منله-

د **دویم افغان جنګ** مهمه وجه د انګلستان د وِکټوریه او د روس د **زار** تر منځ دا اختلاف هم ؤ چې روس په خپلو پوجي نقشو کې د

خپل ملك سوهېلي سرحدونه نه ښکاره کول- انګرېزانو د افغانانو څخه د روسانو خلاف د مرستي غوښتنه وکړه خو افغانان د روس خلاف د انګلستان حمایت ته تیار نه شول- کله چي په کال ۱۸۷۸ کي د جولایي پر دوویشتمه نېټه یعني د برلن له تړون څخه یوه روځ وروسته د روس استازي د جنرل سټولیټو په مشرۍ کي کابل ته راغلل او د امیر شېر علي خان سره یې په خبرو اترو پېل وکړ نو وایسرای په کابل کي د برطانوي مِشن پر ساتلو ټینګار وکړ- یو نماینده مېجر لویز کواګنري یې امیر شېرعلي خان ته ولېږۀ چي د نویلي چمبرلېن تر مشري لاندي د برطانوي مِشن د راتګ خبر ورکړي- امیر د انګلیستان نماینده جواب کړ او برطانوي مِشن ته یې اِجازت ورنه کړ- له دغي پېښي وروسته انګرېزانو د افغانانو خلاف د جنګ فېصله وکړه- برطانوي حکومت امیر شېر علي ته یو سخت خط واستاو او د نومبر ترشلمي نېټي پوري یې جواب تري وغوښت- د امیر جواب د اکتوبر دمیاشتي په نولسمه نېټه برطانوي حکومت ته ورسېد- برطانیه دغه جواب د خپل شان خلاف وګاڼۀ او د نومبر په یویشتمه نېټه یې پر افغانستان ور ودانګل- انګرېزان له ۳۵۰۰۰ فوجیانو سره د خېبر، کورمي(کُرم) او کوټي له لارو افغانستان ته ورننَوتل او دویم انګلو افغان جنګ یې پېل کړ چي له کال ۱۸۷۸ زېږدي څخه یې تر۱۸۸۰ پوري دوام درلود- د خېبرله لاري د انګرېزي فوج مشرجنرل چېمبرلېن ؤ، د کورمي له لاري د جنرل رابرټس تر مشرۍ لاندي حمله وشوه او د کوټي له لاري جنرل رابرټ د پرنګیانو د فوجي ځواك په مشرتابه وټاکل شو[7]- امیر شېر علي خان له کابل څخه د روس د مرستي په هیله مزار شریف ته

ولاړ چيري چي ناروغه شو- دارنګه امير شېر علي خان په ژوند تخت پرېښو-

چونکي کابل ښار بې مشره پاته شو ځکه ځينو مشرانو د امير زوی يعقوب خان چي دۀ په جېل کي اچولے ؤ او ناروغه هم ؤ د جېله خلاص کړ- امير شېر علي خان هم دغه قېدي او ناروغه زوی ته کابل ور پرېښوو او پخپله له روسه د کومك تر لاسه کولو په نيت د ترکستان خوا ته روان شو- روس وفاداري ورسره ونه کړه او دے د مايوسی په حال کي په مزارشريف کي په همدغه کال **١٨٧٩** د خدای په کار شو- د هېواد واك دا مهال د يعقوب خان په لاس کي ؤ چي يو بېزړه سړے ؤ ځکه انګرېزانو د کال **١٨٧٩** د مې په مياشت کي خپلي فوجي اډې ګندمك ته وروغوښت- دا اډه دکابل او جلال آباد ترمنځ وه چيري چي پښتنو د تاريخ ترټولو لويه غلطي د" **ګندمك لوظنامه**"(عکس نمبر69) وشوه-دغي لوظنامې دسيند په لوېديځه خوا دخېبر دره، مچني دره، کُرم، سيوی، پښين



عکس نمبر 69 ٢۶مې ١٨٧٩ د ګندمك کرغېړن تړون

او ځيني نوري ختيځي سيمي انګرېزانو ته ور پرېښووې او د پښتنوملي بشپړتيا يې دړي وړي کړه- خو افغانان بيا هم انګرېزانو لره د نورو وړو قامونو په شان نه ؤ- افغانستان د دوو لويو طاقتونو ترمنځ نه يوازي خپل جغرافياي وجود ساتلے ؤ بلکي يومهم سياسي حثيت يې هم درلود-

کله چي يو انګرېز سفارتکار په افغانستان کي ووژل شو نو انګرېزانو ديعقوب خان له کمزورۍ څخه فائده واخسته او پر کابل يې هم قبضه وکړه- په کال **۱۸۷۹** کي د جولايي په مياشت کي سرلوئي کيواګناري د پيل پر شا سپور کابل ته ور ننَووت او د بالا حصار په کلا کي استوګن شو- پرکابل دغي قبضې د ګندمك تړون عملاً مات کړ- يوې خواته برطانيه افغانستان هم د هندوستان په شان نيول غوښت خو بلي خوا ته انګرېزانو له روس څخه دا وېره لرله چي چيري هغۀ د افغانستان له لاري تر ګرمو اوبو (بحرِعرب) پوري د رسېدو په لړ کي نور ختيځ ته هڅه ونه کړي، ځکه يې افغانستان تر فشارلاندي ساتلے ؤ-

د انګرېزانو له دغه فشار څخه په هېواد کي " افغان نېشنلزم" وزېږېد- څو مياشتي وروسته په افغانستان کي خلګ د انګرېزانو خلاف راپورته شول او يو سترملي غورځنګ پېل شو- افغاني غازيانو بيا انګرېزانو ته لاس واچاو او د کابل په بالا حصار کي دويم اينګلوافغان جنګ **تود** شو- په کلا کي موجود افغان سپايانو هم د انګرېزانو په وژنه لاس پوري کړ- په يوه نيمه مياشت کي دننه سرلوئي کيواګنار هم الېکزنډر برنس غوندي ووژل شو[۹]- د کابل مېئر د عبرت په توګه د هغۀ سر په ښار وَګرزاوۀ چي پر افغانستان

د قبضې خیالکوونکو به هم دغه انجام وي-

انګرېزانو د خېبر، کورمي او کوټې له لارو پر افغانستان خپلو یرغلونو ته دوام ورکړ خو محمد جان خان وردګ، صاحب جان تَرکي، سردار ایوب خان محمد زي، محمد عثمان ساپي، ملا مشکعالم اندړ، تاج محمد سلېمانخېل، ملا عبدالرحیم کندهاري او نورو ډېرو غازیانو د دوی لاري ونیوې- دوی ډېر ژر په دې پوهـ شول چي د هند غوندي پر افغانستان حکومت کول ګران کار او تاریخي غلطي ده- افغانان کولای شي چي د خپلي خاوري او خپلواکۍ ساتنه وکړي- ځکه انګرېزانو د افضل خان زوی عبدالرحمان (چي هغه وخت په تاشکند کي ؤ) ته بلنه ورکړه چي موږ به د افغانستان واك تاته په لاس در کړو، خو ته به د نوري نړۍ سره (خارجه) فیصلې زموږ په مشوره کوې-

عبدالرحمان له یوولس کاله جلاوطنۍ وروسته ډېر په چسپاندي تر امو سیند را واووښت، چارېکار ته را ورسېد- له انګرېزي استازي سرلېپل هنري ګریفن (Lepel Henry Griffin) سره له خبرو اترو وروسته یې په چارېکار کي د جولایي د میاشتي په شلمه نېټه خپل امارت اعلان کړ- دارنګه په کال ۱۸۸۰ کي د جولایي د میاشتي په دوویشتمه نېټه انګرېزانو هم په کابل کي په ډاګه عبدالرحمان خان د افغانستان د امیر په توګه تسلیم کړ، خو د هغه د کاکا امیر شېر علي خان زوی ایوب خان چي هغه وخت د هرات والي ؤ د انګرېزانو سخت خلاف ؤ ځکه یې کندهار ته هڅه وکړه- په کندهار کي یې د انګرېزانو خلاف د جهاد اعلان وکړ- سردار ایوب خان یو ټینګ غازي ؤ ځکه د خلګو هم ورباندي اعتماد ؤ- هغۀ د انګرېزانو

چوکيانې ونيولې او د هغوی فوجي چاوڼۍ يې هم د ځان کړه- دۀ د کندهار په لوېديځه خوا د **مېوند** په مېدان کي (عکس نمبر70) انګرېزانو ته په آسيا کي تر ټولو لوی شکست ورکړ[۹]-




عکس نمبر 70 ۲۷ جولايي ۱۸۸۰ کي د مېوند د جنګ نقشه

په کال ۱۸۸۰ کي دجولايي دمياشتي په اوويشتمه نېټه پښتنو غازيانو تر ماځيګره د برطانيه په زرګونو فوجيان ووژل- دمېوند په جنګ کي د انګرېزي فوج مشر برګېډيئر بروس ؤ چي د مېوند په مېدان کي تر ماتي وروسته کندهار ته وتښتېد او په حصار کي پټ شو- وروسته بياعبدالرحمان د انګرېزانو په مرسته ايوب خان ته ماته ورکړه او د افغانستان کورني حالات يې په ډېره سختي سره کنټرول کړل- د مېوند دغه مشهوره جګړه هم د دويم اِنګلو افغان

جنګ برخه وه- نوميالي انګرېز ليکوال لوئيز ډوفري په خپل کتاب "افغانستان" کي د"شپون ۱۹۶۸" په حواله د **ملالۍ** دهغي تاريخي لنډۍ ترجمه (ژباړه) هم په انګرېزي ژبه کړې ده کومه چي د مېوند په جنګ کي پښتنو غازيانو ته د ننګ اوپت ساتلو د پاره د همت ورکولو په نيت وئيله شوې وه:

که په مېوند کي شهيد نه شوې
ګرانه لاليه ! بېننګۍ له دي ساتينه

Young love , if you do not fall in the battle of Maiwand,
By God, someone is saving you as a token of shame

دا جنګ هم د لومړي اېنګلو افغان جنګ په شان د انګرېزي فوج په تباهۍ تمام شو- په مېوند کي تر ماتې وروسته انګرېزانو ته يقين شو چي پر پښتنو حکومت کول د دوی د وس کار نه دے ځکه يې د جولايي له دېرشمي نېټي څخه د اګست تر لومړي تاريخ پوري د عبدالرحمان خان سره له افغانستانه د وتلو په حقله خبري اتري وکړې چي په ترڅ کي يې د انګلستان آخري سپايي هم د کال ۱۸۸۱ د اپرېل په مياشت کي له افغانستان څخه وَ ووت او د هېواد واک يې په بشپړه توګه عبدالرحمان خان ته ور پرېښوو چاچي وروسته بېرته سياسي وحدت ورته ورکړ- که څه هم له افغانستان څخه د انګرېزانو وتنه يوه لويه کاميابي وه خو د عبدالرحمان سياسي مجبوری دے ودې ته اړکړ چي د پښتنو د تقسيم ناوړه شرط يې د انګلستان سره ومانهٔ -



عکس نمبر 71 د مېوند د غښتلې پېغلې ملالې خيالي شبيهه

د امير عبدالرحمان خان په وخت کي د انګرېزانو او روسانو تر منځ د وېش خبري پر مخ ولاړې او د سرحدونو کرښي يې په ښکاره سره وکښې- عبدالرحمان که څه هم ډېر سخت سړے ؤ خو هغهٔ له روس څخه هم خطره ليدله چي افغانستان ته هڅه وَنه کړي، ځکه يې دپښتنو تقسيم قبول کړ[۱۰] - اوسنے افغانستان (عکس نمبر72) چي د عبدالرحمان خان په وخت کي د روس او انګرېزانو تر منځ د آزاد او غېر جانبدار هېواد (Buffer State) په توګه ټاکل شوے ؤ، د نړۍ




عکس نمبر 72 د افغانستان اوسنی نقشه چې امیر عبدالرحمان منلې وه

پر مخ لا تر اوسه د افغانانو ټاټوبے دے- عبدالرحمان یو کلك سړے ؤ چاچې یویشت (۲۱) کاله پر افغانستان حکومت وکړ او د خپل وخت حالات یې د یوۀ کتاب په توګه محفوظ کړل- دۀ څلوېښت (۴۰) بغاوتونه په خپله مېړانه کنټرول کړل ځکه "امیرِآهن" یعنې فولادي امیر بلل شوے دے-

په کال ۱۸۸۳کې د ایران حالات هم بېخي خراب شول- ایرانیانو دا مهال خپله خپلواکي له لاسه ورکړې وه اوخاریجیانو ته یې خراج ورکاوۀ- یوۀ انګرېز بوران جولس ته یې دومره اختیار ورکړے ؤ چې ټول ایران یې په لاس کې ؤ- د رېل ګاډۍ ټولې لارې یې د اوِیا (۷۰) کالو د پاره، د بوران جولس په لاس کې ور کړې وې- په دغو کړکېچنوحالاتو کې د ایران باچا ناصرالدین قاچار د انګرېزانو خلاف د **جمال الدین افغاني** د مشاورت ضرورت محسوس کړ-



عکس نمبر 73 جمال الدين افغاني

افغاني صاحب يو پوهـ او اِصلاح غوښتونکے انسان ؤ- هغهٔ اسلامي پېوستون د حالاتو د سمون يوازينى لار ګڼله- که څه هم جمال الدين افغاني بُنيادي تعليم په کابل کي کړے ؤ خو هندوستان، ترکي، مصر او نور عرب ملکونه يې هم کتلي وو- دے يو ګڼبته سړے ؤ چي روس، يورپ او امريکا ته هم تللے ؤ- کله چي په کال ١٨٧٩ کي انګرېزانو جمال الدين افغاني له مصر څخه وَ ايست نو هغهٔ په ايران کي هم د خلکو د اعتماد وړ وګڼل شو- د ايران باچا

ناصرالدين قاچار ورته بلنه ورکړه چي په ايران کي دهغهٔ مشاورت وکړي- افغاني صاحب د ايراني باچا بلنه قبوله کړه او ايران ته ولاړ- دے په ايراني دربار کي يو ډېر فعاله سړے ثابت شو ځکه يې ورو ورو نورخلګ هم دځان ملګري کړل- جمال الدين افغاني به هلته د وزيرانو او مشرانو غونډي هم کولې ځکه خو وروسته د صدر اعظم په توګه پېژندل کېدهٔ- چونکي افغاني صاحب د انګرېزانو خوښ نه ؤ نو يې له ايران څخه هم د هغهٔ د اِستلو غوښتنه وکړه[5]- د ايران باچا ناصرالدين قاچار د انګرېزانو جواب نه شو کولای ځکه يې جمال الدين افغاني ته له ايران څخه د وَتلو خواست وکړ- افغاني صاحب سمدستي د وتلو فېصله وکړه خو هماغه وخت د دهٔ يوهٔ عقيدتمند ناصرالدين قاچار قتل کړ- د دغي واقعې له کبله ايرانيان اوس هم جمال الدين افغاني د ناصرالدين قاچار د قتل زمه وار ګڼي- کله چي افغاني صاحب له ايران څخه عُثماني سلطنت ته ولاړ نو هلته په کال ۱۸۹۶کي د ناصرالدين قاچار د قتل په تور بندي شو-

لکه مخکي چي يې بيان وشو، دهند انګرېزانو او روسيانو د وېش په خبرو د امير عبدالرحمان خان په وخت کي پېل کړے ؤ- په کال ۱۸۹۳ کي د **"ډيورېنډ تړون"** د انګرېزانو او افغانانو ترمنځ د روسيانو په ثالثي وشو- له کال ۱۸۸۵ زېږدي څخه تر ۱۸۹۵ پوري د روس او ايرانيانو تر منځ د وېش لوظنامې لاسليک شوې- په کال ۱۸۹۵ کي د انګرېزانو او ايرانيانو تر منځ هم لوظنامه لاسلك شوه- امير عبدالرحمان خان په ۱۹۰۱کي د دې دنيا څخه رخصت شو او زوی حبيب الله خان يې امير شو-

په ۱۹۰۷ کي د انګرېزانو او روسانو ترمنځ دا لوظنامه هم وشوه چي افغانستان به **يو آزاد هېواد** وي او دوی به د دې آزادۍ ضامِنان وي خو په خارجه چارو کي به د انګرېزانو (British India) په خوله کوي- د اميرحبيب الله خان ډېر ژر په دې سر خلاص شو چي دغه لوظنامه د پښتنو په ګټه نه ده ځکه يې د پَرنګيانو له خوا مالي مرسته هم وانه خسته- دهٔ د دغي لوظنامې پروا ونه کړه او د نورومِلکونو سره يې خپلي سفارتي اړيکي په خپله مرضي وساتلې- کله چي د برطانوي هند وايسرای له کوټي څخه د کندهارله لاري ترکابله د رېلوايي لاين او د ټېليګراف نظام د غزولو خواهش وکړ نو حبيب الله خان ترې د نوي تړون غوښتنه وکړه او په ډاګهٔ يې د افغانستان د آزادۍ خبره پېل کړه- حبيب الله خان د ډيورېنډ د کرښي له منلو څخه هم انکار وکړ[۱۰]- انګرېزانوڅه نرمي وکړه او په کال ۱۹۰۵ کي په نوې لوظنامه راضي شول، کومه چي وروسته وايسرای کرزين لاسليك کړه- په کال ۱۹۰۷ کي اميرحبيب الله خان د نوي لِبرل وايسرای لارډ مِنټو په بلنه هند ته په مېلمستيا ولاړ- انګرېزانو په هند کي په درنه سترګه ورته وکتل-

حقيقت دا دے چي نولسمه پېړۍ ټوله پښتنو د انګرېزانو او د هغوی د پلويانو خلاف په مبارزو تېره کړه خو د هېواد پر خپلواکۍ يې کله هم سودا ونه کړه- انګرېزان خو دلته د ولي خان په قول[۱۱] قامي لوټ ته راغلي وو- د پښتون طاقت ختمولو دپاره پېرنګي ته څهٔ دَ ډېر کړاؤ ضرورت نه ؤ، ولي چي پښتون له دغه جانِبه په خپل کورکي پوره ؤ- حکمرانان که سدوزي وو او که بارکزي، په خپلو کورنيو شخړو سره اخته وو خو د افغانستان عامو خلګو د بهرَنيو

دښمنانو ټينګه مقابله وکړه، د يوۀ ژوندي ملت په حېث يې د ډېرو ستنزومخنيوے وکړ[١٢]-

افغانستان د امير حبيب الله خان په دور کي تر ډېر فشار لاندي هم په اوّل جنګِ عظيم کي ببخي غېر جانبدار پاته شو- افغانانو د انګرېزانو د ډېرفشار هيڅ خيال ونه ساتۀ او خپله غېرجانبداري يې څرګنده کړه- اميرحبيب الله خان په کال١٩١٩ کي د فروري د مياشتي په شلمه نېټه په جلال آباد کي قتل شو او امان الله خان چي هغۀ وخت د کابل والي ؤ امير شو- اميرامان الله خان د انګرېزانو( British india ) څخه ځان خلاصول غوښت ځکه په ١٩١٩ کي د انګرېزانو او افغانانو ترمنځ **درېيم جنګ** وشو کوم چي د افغانانو په ګټه تمام شو او د اګست د مياشتي نولسمه نېټه د افغانستان د اِستقلال ورځ شوه -

د درېيم تهذيبي دور په وروستۍ برخه کي انګرېزانو که څه هم د افغانستان وجود د وېش په چاړۀ پردوو برخو داسي تقسيم کړ چي په خلاصه سينه کي يې قام دزخمي زړۀ په شان تراوسه لا په درَزا دے، خو اميرشېرعلي خان بيا هم اوسني افغانستان ته د نړۍ پر نقشه د يوۀ آزاد دولت په توګه دوام ورکړ- پښتو وَيَني، ليکني او لوستني لره يې ډېرکار وکړ- هغۀ د فوجي اِدارو ډېر نومونه په پښتو کړل او په نورو ملي ادارو کي يې هم پښتو اصطلاحات مخته راوړل- پښتو د دۀ په وخت کي د افغانستان رسمي ژبه شوه چي مخته يې د يوۀ غورځنګ شکل اختيار کړ او د لوېديځو علمي غورځنګونو سره يې سمون وَموند[٧]- ددۀ لمسي امان الله خان وروسته په بشپړه توګه هېوادله انګرېزانو څخه په خارېجه امورو کي هم آزادکړ-

# اخځليك


۱- ويليم مېك ګاګي، Five epochs of civilizatin دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، حسن عابدي ، مشعل لاهور، ۲۰۰۵

۲ - امين سېکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، يعني " نوے افغانستان د بقا په هلوځلو" ، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۴

۳ - فېرئير جې پي ، د افغانانو تاريخ (History of the Afghans) ، سنګ ميل لاهور ، ۲۰۰۲ -

۳ - ګنډا سينګ ، احمد شاه ابدالي ، تصحيح محمد بابرجاوېد، لاهور ، ۲۰۰۴

۵ - غبار غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷-

۶ - کاکا خېل بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاريخ په رڼا کي ، پېښور، ۱۹۶۴ -

۷ - حبيبي عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالرؤف بېنوا، دويم چاپ، دانش کتابتون ، پېښور، ۲۰۰۳

۸- قاضي عطاالله خان- د پښتنو تاريخ، يونيورسټي بُك ايجنسي ، پېښور، ۲۰۰۳

۹ - لو ئز ډوپري ، افغانستان ( Afghanistan ) ، پرنسټن يونيورسټي پرېس -۲۰۰۳

۱۰- رسانېګم انجيلو، د افغانستان جديد تاريخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۱۱ - خان عبدالولي خان، باچاخان او خدايي خدمتګاري، وروموے ټوك، پېښور، ۱۹۹۳ -

۱۲ - اولف کېرو ، پښتانه (The Pathans) مېکميلن کمپني لندن، نيويارك اېسټي مارټن پريس ، ۱۹۶۵

# څلورمه څپه

# د خبرونو،لوبواو تفریح دور

Pukhto.Net
پښتو

Pukhto.Net
پښتو

# ۲۴

# شلمه پيړۍ

شلمه پيړۍ د انساني تهذيب څلورمه تاريخي څپه بلل کيږي- دغه پيړۍ په اصل کي دخبرونو، خپړونو، لوبو او تفريحاتو دور يادېږي- خو دا لوبي او خبرونه د جنګ عظيم د غمونو هېرولو يو شعوري کوښښ ؤ چي وروسته يې د يوې عالمي تهذيبي څپې شکل اختيار کړ[1]- تر دوو عالمي جنګونو وروسته په نړۍ کي ډېر بدلون ښکاره شو- افغانستان د خپلواکۍ اعلان وکړ او بېرته يې د نړۍ پر مخ د يوۀ آزاد دولت په توګه خپل وجود بحال کړ- ځکه دغه څپه افغانانو لره د آزادۍ څپه هم ده-

د دغي تهذيبي څپې په اوّل سر(۱۹۰۱) کي اميرعبدالرحمان خان له دې دنيا څخه رخصت شو او زوی حبيب الله خان يې د افغانستان امير شو- حبيب الله خان په شلمه پيړۍ کي د نورو قامونو په ګام تګ غوښت- دۀ د پښتونوالی او اسلامي روايايَتونو

په حدونو کي دننه دنوي افغانستان په جوړښت پيل وکړ خو هغه مهال د افغانستان سياسي وضع ښه نه وه- له نيمي پيړۍ څخه يورپي قوتونه په آسيا کي په تجارتي رقابتونو سره اخته وو- د انګرېزانو سره افغانانو تر حبيب الله خان مخکي دوه جنګونه کړي وو ځکه له هغوی څخه هېواد ته هر وخت خطره وه- په کال۱۹۰۷ کي د انګرېزانو او افغانانانو تر منځ د روسانو په ثالثي دا لوظنامه وشوه چي افغانستان به يو آزاد دولت وي خو په خارجه چارو کي به د انګرېزانو (British india) په خوله کوي[۲] -

د يورپي قوتونو تجارتي رقابتونه ورو ورو دومره ژَور شول چي د اوّل عالمي جنګ سوَب وګرځېدل- په ۱۹۱۳ کي د فرانس، انګليستان، جرمني، ايټلي او روس تجارتي شخړي دومره زياتي شوې چي ټول جهان يې د جنګ په اور کي واچاوهٔ- په کال ۱۹۱۴ زېږده کي د جولايي د مياشتي پر اتويشتمه نېټه لومړے عالمي جنګ ونښت او تر ۱۱ نومبر ۱۹۱۸ پوري يې دوام درلود- له يوې خوا فرانس، روس، انګلستان، جاپان او امريکا وو او له بلي خوا جرمني، هنګري، آسټريا او عثماني سلطنت- فرانس روس او برطانيه خوله اوّله سره د جرمني سره په جنګ وو- جاپان هم په دغه جنګ کي د اِتحاديانو مل شو- د کال ۱۹۱۴ د اګست پر درويشتمه نېټه يې د جرمني خلاف د جنګ اعلان وکړ- هغه وخت دامريکا صدر وُوډرو ويلسن د کال ۱۹۱۷ د اپرېل د مياشتي په دويمه نېټه د امريکايي کانګرېس څخه د جرمني خلاف د جنګ اعلان کولو غوښتنه وکړه او څلور ورځي وروسته يعني د اپرېل دمياشتي په شپږمه نېټه يې د جرمني خلاف په جنګ کي ګډون وکړ- دا جنګ

ترڅلورو کلونو هم اوږد شو او د نړۍ لويه برخه د جنګ په لمبو وسوځله- په دغه جنګ کي لس ميليونه خلګ ووژل شول او زياتوکم يويشت ميليونه ژوبل شول[٣]-

افغانستان په اوّل جنګ عظيم کي بېخي غېر جانبدار پاته شو- پښتنو د انګرېزانو د ډېر سياسي او عسکري فشار هم هيڅ پروا وَنه کړه اوخپله غېرجانبداري يې په ډاګه څرګنده کړه- يوشمېردانشورانو جنګ عظيم په اصل کي د يوې نوي او غوره دُنيا د جوړولو کشمکش بللے دے[۴]-

اوّل عالمي جنګ پر نړۍ ډېر اثرات پرېښوول- په کال ۱۹۱۷ کي د افغانستان په ګاونډ کي، د روس (شوروي) سوشليسټ انقلاب راغے- لېنن د شوروي اتحاد (سويت يونين) اوّل کمونيسټ لیډر ؤ- هغهٔ په کال۱۸۷۰ کي د اپرېل د مياشتي په دوويشتمه نېټه په سيمبرك کي زوکړے ؤ- په ۱۹۱۷کي د اکتوبر د سوشليسټ انقلاب اصل لارښوونکے هم لېنن ؤ- له ۱۹۱۸ څخه تر۱۹۲۴ پوري يې د روس قيادت وکړ- د روس سوشليسټ انقلاب د سرمايه دارانه نظام پر ضد يو لوی بدلون ؤ- د نړۍ ډېرو قامونو د دغه بدلون هرکلے وکړ- داسي ښکارېده چي د سوشليسټانو او کمونيسټانو مرام د نړۍ پر مخ يو بشر دوست نظام خپرول ؤ خو له بده مرغه هغوی د مذهب سره ښکر په ښکر شول، چي وروسته د دغه نظام د زِوال اصل سوَب شو[٥]- په افغانستان کي د امان الله خان پلار اميرحبيب الله خان په کال۱۹۱۹ کي دفروري دمياشتي په شلمه نېټه د شپې قتل شو او امان الله خان د فروري په درويشتمه نېټه د افغانستان امير شو- هغهٔ ډېر ژر د افغانستان د سياسي خپلواکۍ اعلان وکړ- ايران

هم د خپلي آزادي هلي ځلي رواني کړې- عربو له سلطنت عثمانيه څخه ځان خلاصول غوښت ځکه د انګرېز مخبر لارنس د سازشونو ښکار شول- ورو ورو سلطنت عثمانيه ختم شو او عرب دنيا پر وړو وړو آزادو رياستونو تقسيم شوه- په کال١٩٢٠ کي موهن داس ګاندهي د هندوستان د آزادۍ تحريك پيل کړ- په هماغه کال "عالمي عدالت انصاف" (International Court of Justice) په هېګ کي جوړ شو-

له لومړي عالمي جنګ سره د خبرونو اهميت هم ډېر شو ځکه له جنګه وروسته په کال١٩٢٠ کي لومړي رېډيو سټېشن کار پيل کړ- په کال ١٩٢٢ کي "بي بي سي" رېډيو هم لايسنس واخست- دا شان د خبرونو او خپَرونو سلسله روانه شوه چي وروسته ډېره پر مخ ولاړه او په کال ١٩٣٠ کي لومړے پبلك ټېليويژن پروګرام هم په امريکا کي نشر شو- جرمنيان په لومړي جنګِ عظيم کي تر ماتي وروسته ډېر خوړ وو ځکه هټلرخپل قام له مايوسۍ څخه د ژغورني هلي ځلي پيل کړې- دهٔ جرمن نېښنليسټ سوشليسټ (نازي) ګوند جوړ کړ او د خپلي سياسي ايجنډې د پاره يې رېډيو په ډېره غوره توګه په کار راوسته- دهٔ به يو لوی هال په کرايه واخست، په هغه کي به يې تقرير وکړ او بيا به يې د هوا پرڅپو د رېډو له لاري خپله سياسي ايجنډه تر خلګو وَرَسوله- جاپان که څه هم په اوّل جنګِ عظيم کي په فاتح هېوادونو کي ؤ خو جاپانيان د جنګ له نتيجې څخه خوښ نه وو، ولي چي دوی د چين کنټرول نه ؤ تر لاسه کړے کوم چي په دغه جنګ کي د جاپان اصل مرام ؤ-

دويم عالمي جنګ په ١٩٣٩ کي د جرمن فوجونو په پولېنډ د

ننوتلو سره سم پېل شو- په دغه جنګ کي شپږ مليونه خلګ ووژل شول چي پکي لوی شمېر يهوديان، کمونيستان او نور خلګ شامل وو- دا خلګ ټول د جرمني نازيانو په قيدخانو کي په ګېس ووژل- د دغه جنګ لوی کردار د جرمني نېشنليسټ رهبر رونالډ هټلر ؤ، چا چي په کال ۱۹۳۳ کي د جرمني واك په لاس کي اخستے ؤ- هټلر د اِټلي ډِکټېټر بنيټومسوليني هم په کال ۱۹۳۶ کي د ځان سره مل کړ- په کال ۱۹۴۰ کي د امريکا او جاپان ترمنځ اړيکي هغه وخت وشلېدې کله چي جاپان د"شمالي هندوچين" غوښتنه وکړه او امريکا پرجاپان تجارتي بنديځونه ولګول- د کال ۱۹۴۱ د اپرېل په مياشت کي جاپان له شوروي سره يو تړون وکړ او بيا يې د جولايي په درويشتمه پر"جنوبي هندوچين" قبضه وکړه- دوې ورځي وروسته امريکا، برطانيه او نېدرلېنډ د جاپان اساسې ضبطي کړې- دارنګه جاپان په دويم جنګِ عظيم کي د امريکا خلاف شو- د دسمبر په اوومه نېټه جاپان په **هوايي** کي د امريکا د تيلو پر **پرل هاربر** حمله وکړه چي د امريکا په دويم جنګِ عظيم کي د برخي اخستو سَوب شوه- جاپانيانو په ډېره تېزي سره خواوشا علاقې قبضه کړې او په ډېره مېړانه يې تر کال ۱۹۴۵ پوري د اتحادي فوجونو مقابله وکړه- په دغه دويم جنګِ عظيم کي د بشريت تر ټولو لوی نقصان وشو- په کال ۱۹۴۵ کي د اګست د مياشتي په اتمه نېټه امريکا د جاپان پرښار"هيروشيما" او بيا پر "ناګاساکي" ايټم بمونه تس کړل (عکس نمبر74) څکه يې بائللے جنګ بېرته په ګټه تمام شو[٣]- دويم عالمي جنګ په ۱۹۴۵ کي پای ته ورسېد- نتيجه يې دا شوه چي که څه هم جرمني او جاپان شکست وخوړ خو



عکس نمبر 74 ۸ اګست ۱۹۳۵ پر هيروشيما د امريکا له خوا اټمي حمله

Pukhto.Net

د نړۍ نورو قامونو ته يې دآزادۍ لاري خلاصي کړې- هندوستان، پاکستان او چين هم د شلمي پېړۍ په اولني پنځوسو کلونو کي آزاد شول- افغانستان په دويم جنګِ عظيم کي بيا غېر جانبدار پاته شو- تر جنګ وروسته په کال ۱۹۴۵کي د ملل متحده ( United Nations) تشکيل وشو او په کال ۱۹۴۶ کي افغانستان هم د ملل

متحده د يوۀ آزاد غړي په توګه وپېژندل شو-

دغي څلورمي تهذيبي څپې په آخر کي خپله بالا دستي ثابته کړه- دا څپه يوازي د لوبو او خبرونو څپه نه وه بلکي صنعتي دور هم بلل شوے دے ولي چي په دغه دور کي کارخانې په ډېر لوی شمېر جوړي شوې-

د کمونيزم او سوشلزم نظريې، کومي چي له اوّل جنګِ عظيم څخه وروسته په همدغه څلورم تهذيبي دور کي مخته راغلي وې، وروسته د روس په افغانستان کي د مداخلت له کبله ختم شوې- افغانانو په مېړانه د روسيانو مقابله وکړه- د کمونيزم او سوشلزم نظريې يې د همېشه د پاره له منځه يووړې- که څه هم امريکا اومغربي مُلکونو په افغانستان کي د روس د مداخلت غندنه وکړه او د روسيانو خلاف يې د افغان مجاهدينو مرسته هم وکړه خو د مغرب سياسي پوهان وروسته د مجاهدينو له مېړاني څخه پخپله هم پرېشانه شول[۶]-

کله چي روس ماته وخوړله او **سوړجنګ** عملاًسوړ شو نومغربي پوهانو دا پېش ګويي وکړه چي په راتلونکي وخت کي به د مغرب مقابله له همدغو اسلامي قوتونو سره وي چا چي روس ته شکست ورکړ- امريکا او مغرب دغو قوتونو ته اوّل د اسلامي بُنياد پرستانو نوم ورکړ او وروسته يې د دهشتګردانو په نامه مسوا کړل- ځينو مغربي سياست پوهانو خو دا وېره هم څرګنده کړه چي له دغو خلګو نه به د تهذيبونو د ټکراؤ امکاني خطره نوره هم زياته شي،

خو افغانانو لره داڅه ډېره نوې خبره نه وه- افغانستان خو له ډېر پخوانه د بهرَنيو طاقتونو سره اخته دے- هر لوی قوت دا کوښښ کړے دے چي پخوانے تهذيب مخ لره ختم کړي او نوی تهذيب په زوره په خلګو خپل کړي-

د زَړو باچهانو، حکمرانانو او پوهانو دا يقين ؤ چي افغانستان د نړي مرکز دے- د دې سيمي ستر فلسفي شاعر علامه اقبال افغان هېواد د آسيا زړه بللے ؤ- د هندوستان انګرېز وائسرای لارډ کرزن هم افغانستان دآسيا مرکز بللے ؤ- دا ځکه چي افغانستان له جغرافيايي لحاظه د هندوستان، ايران، مرکزي آسيا، جنوبي آسيا او عربستان ترمنځ دے- د زمان په اوږدو کي د دې سيمي جغرافياي حالاتو د افغانستان پرخلګو، د دوی پر تاريخ، ثقافت او سياست ډېر اثرات پرېښي دي ځکه دغي خاوري ډېر ننګيالي او تريالي زېږَولي دي-

د مغربي سياست پوهانو دا وهم چي په افغانستان کي د روس تر ماتي وروسته به اسلامي نړی د مغربي تهذيب سره ښکرپه ښکر شي او نړی به له يوۀ بل ساړه جنګ سره مخامخ شي په حقيقت کي د روس له شکسته وروسته په منځنی آسيا کي د نورو پېښو د مخنيوي پلان ؤ- افغانستان په رشتيا هم د اور پکو ځاله ګرځېدلي وه- پخپله نواز شريف او شاه فهد چي طالبان يې په رسميت منلي وو، وروسته پر خپلو کړو پښېمانه شول- ولي چي د دوی د هېوادونو اوړپکي هم په افغانستان کي د طالبانو سره ناست وو- بله دا چي د طالبانو د حکومت کولو طريقه او د افغانستان د ګاونډيانو عزايم داسي خبري وې چي کاريې نور هم سره ګډ وډ کړ-

مغرب د روس له ماتي څخه فائده هم اخستل غوښت- د امریکا دا خواهش ؤ چي له ترکمانستان څخه تر خلیج پوري د تیلو پائپ لائنونه را وغزوي٧- د دغه مقصد د پاره امریکي کمپنیانو د طالبانو د حکومت سره په وارو وارو لیدنه کتنه وکړه- خو کله چي ملاعمر اخوند د پائپ لائن ټېکه د امریکي کمپنۍ **یونوکال** پر ځای د بلجئېم کمپنۍ ته ورکړه نو امریکایان له طالبانو څخه نور هم خفه شول- کله چي په نیویارك کي غبرګولي مینارونه په جهازونو وویشتل شول نو د دهشتګردۍ د مخنیوي په نامه امریکا دې سیمي ته خپل فوجونه راوستل ضروري وګڼل- دا رنګه یې د طالبانو حکومت ختم کړ او خپل فوجونه یې افغانستان ته راولېږل-

ددې څلورمي څپې تر ټولو لوی کمال "برقي مواصلاتي ټېکنالوژي" وه- امریکا دغه ټېکنالوژي اول په جنګ کي په کار راوسته، بیایې د تجارتي ګټو د پاره هم په استعمال کي راوړه- ورو ورو نوي نوي الېکترانك ترکیبونه مخته راغلل- اول رېډیو بیا ټېپ او بیا ټیلیویژن ایجاد شو- سټېج، ډش، او کېبل یو نوی کلتور منځ ته راووست- یوې خواته داکلتور له مذهبه سره په غاړه کي ولوېد او بلي خوا ته د عالمګیریت تصوّر د نړۍ سیاسي نظام هم ډېربدل کړ-

د څلورم تهذیبي دور یو خاص خاصیت دا هم ؤ چي عالمي طاقتونو جنګ په برقي ذریعو د ګټلو تجربه وکړه چي تر ډېره حده کامیابه تجربه ثابته شوه- په دغه تهذیبي څپه کي پښتانه د انګرېزانو او روسیانو سره د بقا په جنګ اخته وو- دوی خپله جغرافیایي آزادي وساتله خو په تعلمي، صنعتي، تجارتي اوسیاسي مېدانونو کي شاته پاته شول- د افغانانو اصل مرام هم سیاسي

خپلواکي ده چې په ډېره لويه بيه يې ساتلې ده -

# اخځليك


۱ - ویلیم مېك ګاګي، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه ، حسن عابدي ، مشعل لاهور،۲۰۰۵

۲ - غبار ميرغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ۱۹۶۷

۳ - برنکلې ډي جي، دَ نړۍ عکسي تاريخ (Visual History of the World) نېشنل جيوګرافك ، واشينګټن ډي سي، ۲۰۰۵ -

۴ - هېنډرن وان لون ، د انسان نقل ،اردو ترجمه ( انسان کي کهاني) لياقت علي او محيط اسماعيل، تخليقات لاهور، ۲۰۰۲ -

۵ - مېګنم رالف ايچ او نبي ابډن ، افغانستان: ملا ، مارکس او مجاهدين ، هارپر کولن پبلکېشنز انډيا ۱۹۹۸

۶ - اوليور راے اسلام او د افغانستان د فاع ( Islam and the resistance in Afghanistan) کېمرج يونيورسيټي پريس کېمرج ۱۹۸۶،

۷ - احمد رشيد ، طالبان، اسلام ، تېل اوپه منځنى آسيا کي نوې لويه لوبه (Taliban, Islam, Oil and th New Great Game in Central Asia) آئي بي ټارس، ۲۰۰۰-

# ۲۵

# اميرامان الله خان

## او د افغانستان سياسي خپلواکي

ځلورمه تهذيبي څپه له دې نېکمرغۍ سره ښکاره شوه چي امان الله خان د افغانستان اميرشو- دے په کال ۱۸۹۲ کي زوکړے ؤ او په ۱۹۱۹ کي چي کله يې پلار اميرحبيب الله خان په جلال آباد کي ووژل شو د کابل والي ؤ- د هېواد مشرانو تر حبيب الله خان وروسته د افغانستان واك دهٔ ته په لاس ورکړ- د يوهٔ وينښ ځوان په حېث اميرامان الله خان د کال ۱۹۱۹ د فروري په اتويشتمه نېټه دا تاريخي اعلاميه خپره کړه:

"له اوسه زه خپل هېواد افغانستان په داخلي (کورنۍ) او خاريجي (بهرنۍ) توګه آزاد او خپلواك اعلانوم- زموږ هېواد به له ننه د نورو آزادو هېوادونو په شان مُستقل او خپلواك وي- هيڅ يو قوت ته به دا اجازه ورنه کړل شي چي زموږ په کورنيو چاروکي به لاس وهنه کوي"-

د امان الله خان دغه اعلان ته د نړۍ ځيلي خلګ د حېرت ګوته په غاښ شول- په هندوستان کي دغي تاريخي اعلاميې خلګو ته د

انګرېزانو خلاف د پاڅونونو موقعه په لاس ورکړه څکه د دوی تر پښو لاندي ځمکه ولړزېده- انګرېزانو د آزادۍ غوښتونکو د لارنوي په توګه په هند کي يو سخت قانون رامخ ته کړ- ډېر خلګ يې د دغه قانون په ترڅ کي ووژل او لوی شمېر يې بنديان کړل- يوازي په امرتسر کي۳۸۰ کسان قتل کړل شول او تر لسو زرو زيات ژوبل شول- امان الله خان په ډاګه د انګرېزانو دغه ظلم وغاندۀ او د انګرېزانو خلاف يې د جهاد حکم ورکړ- په کال ۱۹۱۹ کي د اپرېل د مياشتي پر پنځلسمه نېټه د انګلستان ټولواکمني **وِکټوريه** امان الله خان ته يوليك واستاو چي د پخوانيو ټرونونو ماتول او خپلواکي اعلانَول د جنګ اعلان ګڼرل کېداى شي-

د ډيورنډ له دواړو خواوو پښتنو د امان الله خان سره ملا تړ وکړ- کله چي زرشاه شينواري د انګرېزانو محلي پلويان ووژل نو روز کيپل چي هغه وخت د صوبه سرحد کمشنر ؤ له امان الله خان څخه د زرشاه شينواري د وژني غوښتنه وکړه- امان الله خان په جواب کي ورته وليکل چي "انګليستان ته ښايي چي افغانستان د يوۀ خپلواك او مُستقل هېواد په توګه وپېژني او د افغانستان د سياسي او جغرافيايي حېثيت احترام وکړي- مګر ستاسو ليك دا څرګنده وي چي تاسو دا حقيقت نه دے منلے- موږ تيار يو چي له تاسو سره کښينو او د دوستۍ لاس سره ورکړو خو د برابرۍ په اساس- خپلواکي يو حق دے او حق ښايي چي وغوښتل شي- موږ له تاسو څخه دا هيله لرو چي د ژَور فکر په ترڅ کي د حالاتو په نازکتيا پوهـ شئ"-

انګرېزانو امان الله خان (عکس نمبر75) ته د دغه ليك جواب

ورنه کړ ځکه د مې په دريمه نېټه په کال ۱۹۱۹ کي ددوی سره د**"دريیم انګلوافغان جنګ"** اعلان وشو- د کابل په عيدګاه جُمات کي د هېواد خلګو د امان الله خان پر بړغ د"يامرګ يا اِستقلال" په نعره جواب ورکړ[١]- د هند آزادي غوښتونکو هم دانګرېزانو خلاف



عکس نمبر 75 غازي امان الله خان

د افغانستان د مرستي لوړه وکړه- ملاپ سينګ، ډاکټرکوش او عبدالجليل انګرېزانو ونيول او ډيلي ته يې واستول- په همدغه کال ۱۹۱۹ کي د قامونو اِتحاد (Leag of nations) خپل لومړے ميټنګ وکړ-

د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ په دغه دريیم جنګ کي ټولو پښتنو په ډېره مېړانه او قامي جزبه برخه واخسته- د آزادو قبايلو

ننګيالو او مېړنو خلګو په خپل همت افغانستان ته د خپلواکۍ د ساتلو موقعه په لاس ورکړه او په نره د انګرېزانو خلاف وجنګېدل- امان الله خان د هند له انګرېزانو (British india) څخه ځان خلاصول غوښت، ځکه هغهٔ خلګ دانګرېزانو خلاف جنګ ته تيار کړل- په جلال آباد کي صالح محمدخان د سپه سالار په توګه وَټاکل شو، په پکتيا کي محمد نادرخان او په کندهار کي عبدالقدوس- غازي امان الله خان د يوهٔ سپاهي په جامو کي د انګرېزانو خلاف په درېيم اِنګلو افغان جنګ کي ګډون درلود- افغاني قواوو ډېر پر مختګ وکړ- د دغه جنګ په آغاز کي لا پښتنو برے وموند- د جنرل نادرخان لښکر په پاړه چنارکي تر "ټل" پوري پرنګيان وځغلول- انګرېزانو دلومړي جنګِ عظيم ټېکنالوژي يعني د رايل اېرفورس جهازونه د افغانستان خلاف په کار راوستل او پرکابل اوجلال آباد يې د بمونو باران وکړ خو بيا يې هم پښې ټينګي نه شوې- پښتنو د جنګ پر مېدان انګرېزانو ته يو ځل بيا د پخوا په شان ماته ورکړه- دغه درېيم اِنګلو افغان جنګ وروسته د افغانانو په ګټه تمام شو- ارواښاد مير غلام محمد غبار د دغه جنګ حال په ډېر تفصيل او انصاف ليکلے دے[۲] -

د انګرېزانو سره د جنګ ترڅنګ غازي امان الله خان سياسي هلوځلو ته هم دوام ورکړ- دنړۍ ټولو آزادو هېوادونو ته يې د افغانستان د خپلواکۍ په لړ کي سياسي هېئتونه ولېږل- په روس کي چي د کمونسټانو کوم حکومت دوه کاله وړاندي جوړشوے ؤ هغه افغانستان په رسميت وپېژاندهٔ- ورو ورو د نړۍ نورو ډېرو آزادو هېوادونو هم د افغانستان خپلواك حکومت په رسميت د پېژندني

اعلانونه وکړل-

تر دغه جنګ وروسته انګرېزان دې ته اړ شول چي د راولپنډۍ لوظنامه (Treaty of Rawalpindi) لاسليك کړي، په کومه کي چي افغانستان يو بشپړ آزاد او خپلواك هېواد تسليم شو او په بهرَنيو چارو کي هم له انګرېزانو( British india ) څخه خلاص شو- دا لوظنامه د افغانستان او انګلستان تر منځ له ۲۵ جولايي څخه تر ۸ اګست پوري بشپړه شوه- د افغانستان د کورنيو چارو وزير (وزيرِداخله) علي احمدخان او د انګلستان خارجه سېکرټري هملټن ګرانټ د ډاکټر عبدالغني هندي په ترجماني دا تاريخي لوظنامه لاسليك کړه- تر دغي لوظنامې وروسته ټولي سابقه لوظنامې منسوخي شوې او افغانستان په مُکمله توګه آزاد هېواد شو- ځکه افغانان د اګست نولسمه نېټه د خپلواکۍ د خوشحالۍ په توګه "**جشنِ اِستقلال**" لمانځي- غازي امان الله خان چي له ۱۹۱۹ څخه د افغانستان امير ؤ په کال ۱۹۲۶ کي د آزاد هېواد د"**باچا**" په توګه وپېژندل شو او نړۍ له دغه وخته د افغانستان بشپړه سياسي خپلواکي (Liberation of Afghanistan) ومنله[۳]-

غازي امان الله خان يو نوے افغانستان جوړَول غوښت په کوم کي چي د انساني حقوقو خيال ساتل شوے واى- د ښځو د آزادۍ او د هغوى د حقوقو ضمانت ورکړل شوے واى- د هېواد واك د خان او ملا پر ځاى د خلګو او پوهانو په لاس کي واى- د دهٔ دښېګړي دغه پروګرام د تُرکي د اتاتُرك اِصلاحاتو ته ډېر ورته وو[۴]-

امان الله خان د افغانستان د آبادۍ په کارونو لاس پوري کړ- لويه جرګه يې راوغوښته او د هېواد کابينه يې جوړه کړه- دهٔ د نړۍ

سره د آزاد افغانستان وضعَ سمولو لره پرله پسې اقدامات وکړل- د هېواد ملکي تشکيلات يې په ډېره غوره توګه وکړل او اساسي قانون يې هم جوړ کړ- په افغانستان کي يې د هلکانو او اِنجونو سکولونه او ښوونځي تاسيس کړل- په هېواد کي د بيوروکرېسي بنياد که څه هم اميرعبدالرحمان ايښے ؤ، د صوبو واليان او نور افسران هم د هغهٔ په وخت کي جوړشوي وو خو امان الله خان د افغانستان نظامي ساخت له نوې سره تشکيل کړ- دهٔ پوهان او تعليميافته خلګ د هېواد په بيوروکرېسي کي واخستل- په مرکز او وِلايتونو کي يې اخبارونه جاري کړل او د مطبوعاتو آزادي يې اعلان کړه- د غوره زدکړو دپاره يې د هېواد ځوانان خارج ته ولېږل- د امان الله خان خُسر او د دهٔ مشيرمحمودخان طرزے (۱۸۶۵ - ۱۹۳۳) په هغه وخت کي د آسيا يو ستر نېشنليسټ پوهاند منل شوے ؤ- دے د افغانستان لومړے خاريجه وزير ؤ چي د ۱۹۲۳ د دستور(آئين) خالق هم بلل کيږي- د شپاړسو کالو په عمر کي د خپل پلار سره جلا وطن شوے ؤ ولي چي د دهٔ پلار د امير عبدالرحمان د سختي پاليسي مخالف ؤ- د محمود طرزي تعليم هم دشام په پايتخت دمشق کي شوے ؤ- دے د مغربي او مشرقي دواړو تهذيبونو په ساخت پوهـ ؤ ځکه يې امان الله ته د اِصلاحاتو په لړکي په احتياط قدم اخستلو او تلواره نه کولو مشوره ورکړه خو امان الله خان ځوان ؤ او د بدلون په دغه پروګرام کي يې تُندي وه چي د پښتنو له مزاج سره يې سمون نه درلود-[۵]

انګرېزانو د امان الله خان د اوَښتون له دغه پروګرام څخه دا ګټه ومونده چي په جنګ کي د ماتي خوړلو بدل يې ترې واخست- په

افغانستان کي يې د مخابراتو له لاري د خلګو په زړونو کي د غازي امان الله خان خلاف وسوسې واچولې- دوی غوښت چي په هېواد کي حالات خراب کړي- د سپېڅلو پښتنو له عقيدې څخه يې په خپلو شېطاني لوبو ګټه واخسته او خلګ د امان الله خان خلاف را ووَتل- تر دې حده چي د افغانستان دمذهبي او روحاني مُجدّدي خاندان ملا شوربازار، چاچي د غازي په توګه دامان الله خان ټينګه مرسته کړې وه هم د دهٔ خلاف شو- امان الله خان د خلګو بده نه غوښته- هغهٔ په ۱۹۲۹ کې د افغانستان تخت ځکه پرېښوو چي ورور وَژنه او خونرېزي يې د هېواد په ګټه نه ګڼل- له خپله هېواده يورپ ته روان شو او تر مرګه (۱۹۶۰) يې د جلاوطن په توګه ژوند کاوهٔ-

له امان الله خان څخه وروسته ترڅو مياشتو **بچه سقه** (حبيب الله) د افغانستان واك ترلاسه کړ- د افغانستان وسله وال فوج د بچه سقه خلاف په دوو مشرانو پسې راغونډ شو- يو په ماسکو کي د افغانستان سفير غلام نبي چرخي ؤ او بل د درېيم اِنګلو افغان جنګ هيرو جنرل نادر خان ؤ- نادرخان د بچه سقه واك ژر ور ختم کړ او پخپله باچا شو- نادرشاه هم د امان الله خان اصلاحاتو ته دوام ورکړ او هېواد يې د ترقۍ خوا ته روان کړ-

**نادرخان** د محمدزيو د يوې بلي کورنۍ څخه ؤ- د دهٔ پلار سردار محمد يوسف خان نومېدهٔ چي د يحیٰ خان زوی ؤ ځکه يې کورنې هم "يحیٰ خېل" (مصاحبان) بلل شوې ده- د دهٔ نيکه يحیٰ خان د سلطان محمد خان طلايي له پنځوسو زامنو څخه يو ؤ- سُلطان محمد خان بيا د اميردوست محمد خان مېرَنۍ ورور او د

پاينده خان زوی ؤ- دغه کورنۍ "د پېښور سرداران" هم بلل کېږي- نادرخان په افغان آرمي کي د کرنل په حېث د اميرحبيب الله خان په وخت کي کار پېل کړ- په کال ۱۹۰۶ کي د برګېډيئر پر عهده باندي ؤ چي په ۱۹۱۲ کي لېفټينېنټ جنرل شو او په ۱۹۱۴ کي دسپه سالار تر منصبه ورسېد- په کال ۱۹۱۹ کي امير امان الله دے د جنګ وزير (وزيرِدفاع) کړ او تر ۱۹۲۴ پوري يې په همدغه منصب کار کاوۀ- تر دې وروسته نادرخان په پېرس کي د سفير په توګه کار پېل کړ خو دوه کاله وروسته يې دا منصب پخپله پرېښوو- دے بيا هم په فرانس کي له هاشم خان او شاه ولي خان سره استوګن ؤ-

د امان الله خان تر جلا وطنۍ وروسته نادرخان له پېرس څخه وزيرستان ته راغے چيري چي دۀ د قبايلو مرسته تر لاسه کړه- که څه هم د محمدزيو له خوا د باچهۍ د پاره ددۀ نوم مخته راغلے ؤ خو د پښتنو د لويي جرګې منظوري په ستمبر۱۹۳۰ کي ورته ورکړل شوه- دۀ په سختي سره حالات تر کنټرول لاندي راوستل او د هېواد وضعَ يې سمه کړه- ژر تر ژره يې د څلوېښتت زره نفرو باقاعده فوج تيار کړ او قبايلي لښکريان يې کورونوته ولېږل- د ټېکسونو ټولوَنه يې پېل کړه او ورو ورو يې خزانه ترې ډکه کړه- د هندوکُش په دَرو کي يې تر شماله يوه لار جوړه کړه چي وروسته بيا د شوروي په مرسته پوخ سړك شو- نادرشاه په کال ۱۹۳۱ کي د هېواد په آئين کي غوره بدلون راووست ، په کوم کي چي تر ډېره حده د بشري حقوقو د خيال ساتني ضمانت ورکړل شو، په رسمي توګه اسلام د افغانستان مذهب ومنل شو او حنيفي فقه هم په رسمي توګه د

هېواد فقه شوه- که څه هم نادر د هېواد کابینه له خپلوانو جوړه کړه خو حکومت يې لويه جرګه ته جوابده ؤ-

د کال ۱۹۳۳ د نومبر د میاشتي په اتمه نېټه نادرشاه په کابل کي د هایي سکول (ښوونځي) یوهٔ طالب علم قتل کړ- وايي چي دغه هلك جنرل غلام نبي چرخي د زوی په توګه لوی کړے ؤ خو کله چي د حکومت سپایانو یو کال مخکي چرخي په ناترسي وواژهٔ نو دهٔ د نادر د وژني لام وتاړ-

د نادرشاه تر وژني څو ساعته وروسته د هغهٔ زوی ظاهرخان د افغانستان د باچا په توګه وټاکل شو- ظاهرخان(عکس نمبر75) په کال ۱۹۱۴ کي زوکړے ؤ- تعلیم يې اوّل په کابل او بیا په پېرس کي شوے ؤ- د باچهۍ لومړي څو کلونه يې د خپل کاکا هاشم خان



عکس نمبر 76 نادر شاه او محمد ظاهر شاه

او محمودخان په مشورو تېر کړل- وروسته داؤد خان د صدرِاعظم په

توګه ورسره مل شو- د محمد **ظاهرشاه** په وخت کي افغانستان په دویم جنګِ عظیم کي هم غېر جانبدار پاته شو- له جنګه وروسته چي کله په کال **۱۹۴۵** کي د ملل متحده (United Nations) تشکیل وشو نو افغانستان هم په کال **۱۹۴۶** کي د ملل متحده د یوهٔ غړي په توګه وپېژندل شو- په همدغه کال په نیورمبرګ کي د جنګي جُرمونو ټرېبونل جوړ شو او بیا په **۱۹۴۸** کي د انساني حقوقو عالمي چارټر هم مخته راغے-

په **۱۹۴۷** کي چي کله انګرېزان د هندوستان (British india) واك پرېښوؤلو ته اړ شول نو افغانستان د پښتنو مسًله را اوچته کړه- د **خان عبدالغفارخان** سره یې په دې غوښتنه کي ملا تړ وکړ چي د هندوستان د تقسیم په وخت دي پښتنو ته خوښه ورکړل شي چي دوی د هند یا پاکستان سره پاته کیږي، آزاد اوسېدل غواړي او که د افغانستان سره بېرته ګډون طلبي، له کومه چي په کال **۱۸۹۳** کي د ډیورنډ په کرښه انګرېزانو را بېل کړي وو- خو انګرېزانو دا لویه پړه وکړه چي پښتنو ته یې خوښه ورنه کړه[۶]-

په **۱۹۵۳** کي سردارمحمد داؤد خان د افغانستان وزیراعظم شو او د هېواد د پرمختګ په لړ کي یې غوره کارونه پېل کړل- د سالانګ لوی سړك، له کابل څخه ترکندهاره لویه لار او بیا له کندهار څخه تر هراته لوی سړك ټول په دغه وخت کي جوړ شول- درونټې، سروبي، دنغلو، د ننګرهار کېنال او دهلمند ودانئی ټولي په همدغه وخت کي وشوې- داؤد خان غوښت چي په هېواد کي بدلون راولي- په دې لړ کي دهٔ له روس څخه فوجي او اقتصادي مدد هم وَغوښت- د پاکستان سره سیاسي مسئلې افغانستان ودې ته اړ کړ

چي په نظامي توګه پر روس تکيه وکړي- خو دغه فېصله وروسته د افغانانو په لوی زيان تمامهٔ شوه او شوروي ته د افغانستان په فوج کي د لاس وهني موقعه په لاس ورَغه[۵]-

په کال ۱۹۵۵ کي افغانستان د داؤد په مشری دا پاليسي خپله کړه چي "پښتنو ته دي يو آزاد ټاټوبے د پښتونستان په نامه ورکړل شي"- محمد ظاهرخان د پاکستان سره د اړيکو خرابَولو په حق کي نه ؤ او نه يې په افغانستان کي د روس لاس وهنه خوښه وه- ځکه محمد داؤد خان په ۱۹۶۳ کي له خپله منصبه لري کړل شو[۷]-

ظاهرشاه د جمهوريت په اعلانولو حکومت له دولت څخه بېل کړ- د خانداني صدراِعظم پرځای يې ډاکټر يوسف صدراِعظم کړ- په کال ۱۹۶۴ کي افغانستان نوے آئين جورکړ اوپه هېواد کي يې خلګو ته څه ناڅه آئيني آزادي هم ورکړه- د هېواد تر نوي اساسي قانون لاندي په افغانستان کي د سياسي ګوندونو د تشکيل اِجازه ورکړه شوه- ظاهرشاه په هېواد کي آزاد او صفا پارليماني انتخابات هم وکړل- دهٔ د شاهي خاندان څو عهده داران لري کړل او څو نورو خلګو ته يې په اِقتِدار کي ځای ورکړ- د مطبوعاتو آزادي يې اعلان کړه چي په نتيجه کي يې په هېواد کي ډېري کمونسټي، اسلامي او ملي جريدې شايع شوې- کمونسټانو له دغې موقعې څخه بشپړه ګټه واخسته- خپله نظريه يې د دغو جريدو په ذريعه ترڅه تعليميافته خلګو ورَسوله اوڅه لوستونکي(طالبعلمان) يې هم تر اثر لاندي راغلو- د ګاونډيانو په مرسته کمونسټانو او ځينو اسلامي ګوندونو ډېر خلګ راوپارول او په لنډ وخت کي د خلګو غوښتني دومري زياتي شوې چي د ډاکټر يوسف چوکۍ د دوی د مظاهرو په

سوَب نسکوره شوه-

تر دويم عالمي جنګ وروسته په ټوله نړۍ کي سياسي هلي ځلي رواني وې- محمد ظاهر شاه د لويو قوتونو تر منځ په جګړه کي تر کال ۱۹۷۰ پوري افغانستان غېر جانبدار ساتلے ؤ- له روس او امريکا دواړو څخه يې امداد اخست خو د چا تر اثر لاندي نه ؤ[۸]- هغه وخت افغانستان د لويي کاختۍ سره هم مخامخ شو او د هېواد اقتصاد دومره ضعيف شو چي خلقو دا محسوسه کړه چي ظاهرشاه دا اقتصادي حالت په سمه توګه نه کړ کنټرول- بلي خواته سياسي حالات هم خرابېدو ته روان وو نو ځکه په کال ۱۹۷۳ کي د جولايي په مياشت کي يو څو فوجي افسرانو د ظاهرشاه باچهي هغه وخت ور نسکوره کړه کله چي دے له هېواد څخه بهر ؤ- افغانانو دغه تاريخي بدلون "دجمهوريت کودِتا" بللے دے چي په افغانستان کي يې د باچهۍ دور پای ته ورَساوۀ-

محمد داؤد خان تر دغي کودِتا وروسته افغانستان ته د يوۀ ريپبليك (Republic) حېثيت ورکړ او پخپله دافغانستان صدر شو- پخوانے باچا محمدظاهرشاه له اګست ۱۹۷۳ څخه په اټلي کي استوګن شو- افغانانو تر داؤد خان وروسته ډېري بدي ورځي او شپې وليدې- دکمونيستانو په وخت کي او بيا تر دوی هم وروسته خلګو په ظاهرشاه پسې ارمان کاو، غوښت يې چي ظاهر شاه بېرته هېواد ته راشي او په افغانستان کي د عبوري حکومت مشري وکړي خو د نورو هېوادونو منشا دا نه وه چي باچا دي د افغانستان واك تر لاسه کړي- ظاهر شاه ته د واك نه ورکولو د ځينو نورو وجوهاتو تر څنګ يوه وجه دا هم وه چي دے د عمر په هغه برخه کي ؤ چي د حکومت

چلولو هيله تري نه شوه کېدای- خو د قام د"بابا" په توګه دے بېرته وطن ته را ستون شو او د سهېل جعفر د دي شِعر په مصداق يې په خپل ښارکابل کي تش د دوو ګزو د قبرغوښتنه وکړه چي:

زۀ پرخپل کور يم که دباندي که تر خاورو لاندي
په دغه ښارکي د خپل ورك وجود مزار غواړمه

## اخځليك


١ - لو ئز ډوپري ، افغانستان ( Afghanistan ) ، پرنسټن يونيورسټي پرېس ٢٠٠٣

٢ - غبار غلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل، ١٩۶٧-

٣ - کرسټينا لېمب ، The sewing circles of heart ، اردو ترجمه ( طالبان کا افغانستان ) محمد يحي خان ، نګارشات لاهور ، ٢٠٠٣ -

۴ - رسانېاګم انجيلو، د افغانستان جديد تاريخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آيي بي ټارس لندن ٢٠٠۵ -

۵ - رفيع حبيب ا لله ، د افغانستان لنډکے تاريخ، دانش کتابتون، پېښور، ١٣٧٨

۶ - خان عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد ، کابل دولتي مطبعه ، کابل ١٣۶۴ هـ

٧ - ډګلس جي برينکلي ، Visual History of the World (د نړۍ عکسي تاريخ ) ، نېشنل جغرافيك ، واشنګټن ډي سي ، ٢٠٠۵ -

٨ - مېګنم رالف اېچ او نبي اېډن ، افغانستان: ملا ، مارکس او مجاهدين ، هارپر کولن پبلکېشنز انډيا -١٩٩٨


Pukhto.Net

# ۲۶

# داؤد خان او جمهوريت

سردار محمد داؤد خان (عکس نمبر77) په کال ۱۹۱۹ کي د سردار محمد عزيز خان پر غولي زوکړے ؤ کوم چي وروسته په کال ۱۹۳۳ کي په برلن کي ووژل شو- داؤد خان يو سترنېشنلسټ ؤ چي د افغانستان پرمختګ يې د ژوند يوازينے مقصد ګڼلے ؤ- دۀ په افغانستان کي پر ډېرو مهيمو عهدو کار وکړ- دے په کال ۱۹۳۴ زېږده کي د هېواد د مشرقي صوبو والي او کمانډنګ افسر ؤ او بيا په ۱۹۳۵ کي په کندهار کي هم پاته شوے ؤ- له ۱۹۳۹ څخه تر ۱۹۴۷ پوري په کابل کي د مرکزي قوواوو کمانډر ؤ چي بيا د دفاع د وزير تر منصبه هم ورسېد- له کال ۱۹۴۹ څخه تر۱۹۵۰ پوري داخله وزير ؤ او بيا له ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۶۳ پوري د افغانستان وزيرِاعظم ؤ-

لکه وړاندي چي بيان شو په ۱۹۴۷ کي انګرېزانو د هندوستان واك پرېښوو- په برطانوي هند کي د افغانستان هغه څنډه هم وه چي انګرېزانو لاندي کړې وه- پښتنو د ډاکټرخان صاحب او باچاخان



عکس نمبر 77 سردار محمد داؤد خان

په مشرۍکي غوښتنه وکړه چي د هندوستان د تقسيم په وخت دي پښتنو ته خوښه ورکړل شي چي دوی د هندوستان سره پاته کيږي، په نوي هېواد پاکستان ګډيږي، آزاد اوسېدل غواړي او که د افغانستان سره بېرته ګډيږي، له کومه چي په کال ۱۸۹۳ کي د ډيورېنډ په کرښه انګرېزانو را بېل کړي وو[۱] - له بده مرغه انګرېزانو د هند د تقسيم پر وخت پښتنو ته د آزاد اوسېدوخوښه ورنه کړه بلکي په هندوستان او پاکستان کي د يوۀ سره د اوسيدو مجبوري يې ورته وړاندي کړه-

## داؤدخان دصدراعظم(وزيراعظم) په حيث

کله چي سردار محمد داؤد خان په کال ۱۹۵۳ کي د افغانستان صدراِعظم شو نو يې د سماجي بدلون په حواله هلي ځلي شروع کړې- د هېواد د ترقی په لړ کي يې ډېر غوره کارونه پېل کړل- د ښځو د ښېګړي او پرمختګ لار يې خلاصه کړه- دافغانستان خپل وسايل دومره نه وو چي داؤد خان هېواد ته په چسپاندي ترقي ورکړې واى او ورسره ورسره يې خپل عسکري ضرورتونه هم پوره کړي واى ځکه يې له نورو هېوادونو څخه د امداد اخستلو فېصله وکړه- دغي فېصلې وروسته دغېرجانبدارهېواد په حېث دافغانستان پوزيشن مشکوک کړ-

داؤد خان چونکي يونېشنلسټ ليډرؤ ځکه يې په کال ۱۹۵۵ کي دا پاليسي خپله کړه چي "پښتنو ته دي د پښتونستان په نامه يو آزاد ټاټوبے ورکړل شي"- د پښتونستان دغي غوښتني د افغانستان او ګاونډي پاکستان تر منځ دښمني پېداکړه[۲]- له کابل ربړيو څخه د پښتونستان پروګرام پېل شوچي لرو او برو پښتنو ډېر په شوق اورېدۀ- د پښتونستان په معنا کي د ډېورينډ د کرښي يوې غاړي او بلي غاړي ته فرق ؤ- په لره پښتونخواکي دملتپاله پښتنو غوښتنه داوه چي په پاکستان کي دننه په ټُکړوکي وېشلي پښتانه دي په يوۀ وحدت کي سره يوځاى کړل شي، صوبايي خودمختاري دي ورکړل شي او د پښتونستان نوم دي ورباندي کښېښوول شي- دغه مقصد ته ورسېدو دپاره هغوی د آئين اوقانون په دايره کي دننه لګياوو هلي ځلي يې کولې خو د افغانستان له خوا د يوۀ آزاد پښتونستان تبليغات هم کېدل- د کرښي يوې او بلي غاړي ته د نارې په معنا

کي موجود دغه توپير ته که هر څوهغه وخت چا ګوته نه نيوه خو ددغي لوبي د لوبغاړو په ذهن کي يوه پوښتنه په هرحال موجوده وه- خان عبدالولي خان پر دغه مسئله باندي په تفصيل د خپل کتاب "باچاخان او خدايي خدمتګاري" په دويم ټوک کي بحث کړے دے[۳]- ولي خان ليکي چي ما له باچا محمد ظاهر شاه څخه د پښتونستان په اړه پوښتنه کړې وه چي له پښتونستان څخه ستاسي څه مطلب دے، هغهٔ راته وئېلي ؤ چي په دې به تا صدرِ اعظم پوهـ کړي- دے وايي چي زه پوهـ شوم چي باچا د کومي خبري سپيناوے کول نه غواړي نو صدرِاعظم به يې څه وکړي- پخپله ولي خان د آزاد پښتونستان په اړه خپل دريځ په ډېرو صفا ټکو کي بيان کړے دے- هغهٔ وايي چي د آزاد پښتونستان معنا د ډېورينډ کرښه منل او دپښتنو پر دوو ټوټو وېشل دي- دے دغي خبري منلو ته په هيڅ توګه تيار نه دے او کوزه پښتونخوا د افغانستان يوه برخه ګڼي- د دغي برخي د بېرته ورسره يوځای کولو پس به افغانستان بشپړ کيږي او دغه کار دے خپله اصلي موخه ګڼي- د باچا خان په جلال آباد کي ښخېدل هم په علامتي توګه دغه معنا ښندي- هسي د ډيورېنډ کرښه خو د افغانستان حکومت هم نه منله او داسي وضاحت يې هم کله نه دے کړے چي د لوی افغانستان له دعوې څخه دوی لاس اخستے دے- د آزاد پښتونستان تر پرده لاندي تبليغات کول ښايي د هغه وخت د شاهي نظام يوه مجبوري وه- ښايي د دوی موخه داوه چي له دغسي کولو څخه به د تبليغاتو مخه د کوزي پښتونخوا د خلګو خواته شي او هغوی به راوېښ کړي- د افغانستان د خلګو خواخوږي به هم ورسره زياته کړي، پرځای د دې چي د تبليغاتو اغېز

يې پام خپل حکومت ته راواړوي- د افغانستان د خلګو توجه به هم
د کرښي هغه بلي غاړي ته وي- په هرحال هر څه چي وو، هغه وخت
د پښتونستان په معنا کي دغه فرق موجود ؤ-

باچاخان (عکس نمبر78) په ۱۸۹۰ کي د بهرام خان محمدزي



عکس نمبر 78 ډاکټر خان صاحب، باچاخان او عبدالصمدخان اکا

پر مېنه په چارسده کي د اُتمانزو په کلي کي زوکړے ؤ- دغه محمد زي پخوا د یوې پېښي په وخت د شېخ ملي په خواست د یوسفزو سره د مرستي په خاطر له ننګرهاره دالته راغلي او آباد شوي وو- د باچاخان اصل نوم عبدالغفار ؤ خو د پښتنو بې تاجه باچا ؤ ځکه خلګو ورته باچاخان وئېل- غفارخان پښتون قام لره تر ډېرو باچهانو هم لوی لوی کارونه وکړل- پښتنو بچیانو لره یې مدرسې او ښوونځي (سکولونه) جوړ کړل، "پښتون" رساله یې چاپوله او د خلګو ښېګړي لره یې د خدایي خدمتګارۍ تحریك شروع کړ- دغه تحریك د پښتنو د تاریخ یو ډېر مهم باب دے- عبدالغفار د خان زوی ؤ خو په پښتنو کي د مُلایانو په قوت بلد ؤ ځکه یې د دوی ملګري د قام په ګټه ګڼله- دیوبند ته ولاړ او د شېخ الهِند محمود الحسن صاحب او مولانا عبېدالله سیندهي د ډلي سره یې تعلق وَموند- وروسته د خپل مشر ورور ډاکټر خان صاحب سره عملي سیاست ته راغے- بیا نور پښتانه لکه خان عبدالصمدخان اڅکزے هم د دهٔ سره مله شول-

**عبدالصمدخان** له باچاخانه پس په پښتني سیاست کي دویم لوی نوم ؤ- دے په جنوبي پښتونخوا کي د سیاست بنسټ اېښوونکے ګڼل کېدای شي-" انجمنِ وطن" یې د انګرېزانو په وخت کي جوړ کړے ؤ او د هند په سیاست کي یې د انډین نېشنل کانګرس سره لاس یوکړي وو- دے د باچاخان ډېرنزدې ملګرے ؤ- د انګرېزانو تر وتلو وروسته یې په پاکستان کي د "ون یونټ" ماتولو په هلوځلوکي په ټینګه ګډون کړے ؤ- د نېشنل عوامي پارټۍ غړے ؤ خو د ون یونټ دماتېدو په وخت یې له پارټۍ سره اختلاف راغے او بېله پارټۍ

يې جوړه کړه- هيله وه چې د وخت په تېرېدوسره به دا اختلاف ببرته له منځه ولاړشي خو د دغسي وخت تر رارسېدو له مخه دے شهيد کړل شو او پښتانه لا تر اوسه د پښتني سياست د دغه خپلمنځي اختلاف له منځه وتو ته سترګي په لاردي-

په کال ۱۹۴۷ کي د انګرېزانو له هندوستان څخه تر لاس ختني وروسته او دپاکستان سره د پښتونستان پر مسئله د اختلاف له کبله افغانستان د يوۀ ښه تربيت لرونکي فوج ضرورت محسوس کړ- صدرِاعظم داؤد خان د افغانستان د خزانې وزير عبدالمجيد خان زابلي دکال ۱۹۴۸ په دسمبرکي واشنګټن ته واستاؤ چي له امريکا څخه د "روس نه د وېري" په دليل وسله ترلاسه کړي- د برطانيه تر وتلو وروسته او په مشرقي يورپ کي د روس له عمله دا ثابته وه چي د افغانستان وېره پر ځای ده- د خزانې وزير عبدالمجيدخان زابلي امريکا ته دا ورپه ګوته کړه چي افغانستان به د وسلې بيه هم ادا کړي خو امريکا نه په عسکري تربيت راضي شو او نه په وسله ورکولو- محترم وزير ذابلي د افغانستان د ترقۍ دپاره د مالي مرستي غوښتنه ترې وکړه چي تر عالمي اصولونو لاندي قرضه حاصله کړي خو د امريکا جواب بيا هم مثبت نه ؤ- د افغانستان دغه غوښتنه سياسي وه چي خپله روايتي غېرجانبداري څرګنده کړي او امريکا چي په جغرافيايي توګه يو لري لوی قوّت دے، هماغه شان د ځان مرستيال کړي لکه چي په ۱۹۳۰ کي جرمني، جاپان او اټلي د افغانستان مرسته کړې وه-

سردار محمد داؤد خان په دغه دور کي د خلګو د ژوند د ښېګړي دپاره د دوو پنځکلنو منصوبو نيت وکړ- يوه منصوبه له

کال ۱۹۵۶ څخه تر۱۹۶۱ پوري وه او بله له ۱۹۶۲ څخه تر ۱۹۶۷ پوري- د دغو منصوبو تکميل په خپلو وسايلو څه امکان نه درلود ځکه يې بيا خپل ورور محمد نعيم خان چي د افغانستان خارجه وزير هم ؤ په کال ۱۹۵۴ کي واشينګټن ته ولېږۀ چي يو ځل بيا دمالي اوعسکري مرستي غوښتنه ترې وکړي- د امريکا سېکرټري (Secretary of state) جان فوسټرډوليس درې مياشتي وروسته جواب راواستاؤ چي:

"Instead of asking for arms, Afghanistan should settle the Pashtunistan dispute with Pakistan"

يعني د وسلې تر غوښتني له مخه دي افغانستان د پاکستان سره د پښتونستان مسئله حل کړي[۴]- د دغه جواب نقل امريکا پاکستان ته هم واستاؤ چي د سفارتي آدابو منافي ؤ-

د سېکرټري جان فوسټرډوليس د دغه جواب وجه په ظاهره دا ښکارېده چي د افغانستان "غېرجانبدار" حېثيت د امريکا د پاليسۍ جوړونکو په نظرکي د "غېراتحادي" معنا لرله چي دوی لره ګټه ور نه ؤ، خصوصاً په داسي حال کي چي هغوی په نړۍ کي د روس خلاف د سيټو (SEATO) او بغداد پېکټ (CENTO) په نامه اتحادونه جوړول لګياؤ- پاکستان په هم دغه کال (۱۹۵۴) په سيټو کي شامل شو او يوکال وروسته يې په بغداد پېکټ کي هم ګډون وکړ-

داؤدخان دې ته اړ شو چي د روس هغه ورکړه (Offer) قبوله کړي چي له ډېره وخته افغانستان د خپلي "غېرجانبدار" پاليسۍ

له کبله تړې ډاډه کوله- که څه هم د روس او افغانستان تر منځ دجولايي ۱۹۵۰ د بارټر لوظنامه د څلورو کالو دپاره وه خو روس افغانستان ته پټروليئم ، کپړې او سيمنټ د وړيو، پمبوو او نورو شيانو په بدل ورکول- روس د افغانستان مالونو ته پر خپله ځمکه د تېرېدو بشپړه آزادي هم ورکړې وه- په ۱۹۵۲ کي افغانستان هم روس ته په کابل کي د تجارتي مشن اجازه ورکړې وه- په کال ۱۹۵۵ کي د روس مشر خروشېف د افغانستان سرکاري دوره وکړه او دعسکري امداد اوفوجي تربيت د اعلان سره يې د ډېري لويې مالي مرستي اعلان هم وکړ- ورسره ورسره يې په وازکومې دپښتونستان پرمسئله چي په ۱۸۹۳ کي د برطانيه له خوا دډيورېنډ دکرښي له کبله زېږېدلې وه، د افغانستان بشپړحمايت هم وکړ- د ډيورېنډ د دغي کرښي پر ختيځ د سيند تر غاړې پوري لويه علاقه هغه وخت تش په نامه د انګرېزانو ترکنټرول لاندي وه-

په کال۱۹۰۱ کي برطانوي هند صوبه سرحد ( North West Frontier Province or NWFP ) جوړه کړه چي په انتظامي توګه پر دوو څنډو وېشلې وه- پنځه آزادي علاقې د اېجنسيانو په توګه د خانانو تر واك لاندي وې چي برطانوي پوليټيکل اېجنټ به ورسره ناست ؤ او يوه لويه علاقه انګرېزانو تر خپل انتظامي کنټرول لاندي راوسته- د آزادو علاقو اېجنټ به په کلکته کي وايسراى ته راپورټ ورکاؤ د صوبې ګورنر هېڅ کارورسره نه درلود- د۱۹۲۱ په لوظنامه کي هم دغه علاقه د دواړو خواوو تر منځ اړه علاقه ګڼل شوې ده او د ډيورېنډ کرښه د عالمي سرحد په توګه نه وه منل شوې- حقيقت دادے چي د کال ۱۹۳۰ د سايمن کمېشن په راپورټ کي خو

انګرېزانو پخپله آزاد قبايل د برطانوي هند ترآخري حد بهر ښوولي دي- کله چي پاکستان په ۱۹۴۷ کي ملل متحده ته دا درخواست ورکړ چي د غړي په توګه دي دے هم ومنل شي نو افغانستان يوازينے هېواد ؤ چي مخالفت يې وکړ-

په کال ۱۹۵۵ کي افغانستان لره د روس عسکري او اقتصادي مرستو امريکن پاليسي جوړوونکي و دې ته اړ کړل چي د افغانانو امداد وکړي- دا رنګه داؤد خان له دواړو لويو قوتونو څخه مرستي ترلاسه کړې او د افغانستان روايتي "غېرجانبداري" يې هم وساتله- په کال ۱۹۵۶ کي امريکا افغانستان ته غنم ورکړل او د تعليم د پاره يې هم مرسته وکړه- امريکا بياهم خپله مرسته پټه ساتله چي د نورو هېوادونو سره يې اړيکي خرابي نه شي- د ډوپري[۲] له قوله د امريکا له لسو مرستو څخه نهه په پټه وې-

لکه وړاندي چي بيان شو داؤد له دواړو لويو قوتونو څخه د هېواد د ګټې د پاره مرستي تر لاسه کړې ځکه به دۀ کله کله داخبره کوله چي "زۀ په روسي اورلګيت امريکايي سګرېټ بلَوم"- د کندهار دهوايي جهازونو ډګر د امريکا پروژه (Project) وه- له کابل څخه تر کندهاره لوی سړك د امريکا په مرسته جوړشو او له کندهارڅخه تر هرات پوري د روس په امداد بشپړ شو- د سالانګ لويه لار چي په تاريخ کي يې اوّل ځل هندوکش غر په ځان وپېود د روس د انجينئرنګ يو لويه نخښه ده-

د برطانوي هند تر تقسيم وړاندي د صوبه سرحد ( North West Frontier Province or NWFP ) هغه څنډه چي د انګرېزانو تر خپل انتظامي کنټرول لاندي وه په سياسي توګه د برطانوي حکومت

خلاف را وپارېده- په دغه دور کي د پښتنو د حق دپاره لومړے ږغ د ډاکټرخان صاحب ۇ چاچي د پښتانه تقسیم په ډاګه غندلے ۇ- د دۀ ورور خان عبدالغفارخان هغه وخت د خدايي خدمتګارانو مشرۇ- دوی د انګرېزانو خلاف په هندوستان کي د سول نافرماني په تحريکونو کي هم په ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ کي ګډون درلود- ډاکټر خان صاحب او باچاخان پښتون قام را ويښ کړ- دوی په خلګو کي دومره سياسي بېداري پيدا کړه چي تر تقسيم وړاندي يې خپل آواز تر نړيوالو هم ورَساوۀ-

د داؤدخان پښتنو لره د آزاد وطن غوښتني د پاکستان او افغانستان تعلُقات ډېر سره ترخه کړل- د کال ۱۹۵۵ په مارچ کي حکمرانانو د مغربي پاکستان صوبې ختمي کړې او دغه حصه يې يومُټ (One Unit) کړه- دا رنګه پاکستان دوې صوبې شو چي يوه يې مشرقي پاکستان او بله مغربي پاکستان شو- دا اقدام په افغانستان کي د ډيورېنډ د کرښي د عالمي سرحد په توګه د ظاهرَولو پاکستاني کوښښ وګڼل شو چي داؤد لره د تشويش وړ وګرځېد- خلګو په کندهار او جلال آباد کي پاکستاني کونسلګرئ وسوځلې او په کابل کي يې پر سفارتخانه هم ور و دانګل- داؤد لويه جرګه راوغوښته په کومه کي چي دغه فېصله وغندل شوه او د پښتنو د حق غوښتني بشپړحمايت وشو[۴]-

د داؤد خان د پاليسی دوه اړخونه وو- يو په هېواد کي د سماجي بدلون(Social Transformation) راوستلو مُخلصانه کوښښ او دويم پښتونستان- د کال ۱۹۵۶ وروسته داؤد خان د هېواد د ترقی په لړکي غوره کارونه وکړل[۵]، د نوي نسل تعليم او تربيت يې

په نوي انداز وکړل، د ښځو د ترقۍ دپاره يې هم هلې ځلې کولې- ډېرو ښځو ته يې د نمايندګۍ حق ورکړ اوډېرو نورو ته يې په هېواد کي پر ښو عُهدو د کارکولو موقعه ورکړه- په کال ۱۹۵۷ کي د افغانستان ښځو په کولمبو کي د ښځو په عالمي کانفرنس کي برخه واخسته- په ۱۹۵۸ کي د مللِ متحده د پاره په افغان وفد کي يوې ښځي هم نمايندګي لرله- داؤد خان وسله وال فوج هم پر جديد انداز تيار کړ- په روس، امريکا، هندوستان او نورو ډېرو هېوادونو کي يې تربيت ورکړ- په افغانستان کي يې ملي اداري جوړي کړې-

د داؤد د پاليسۍ دويم اړخ ډېر پېچيده ؤ- د پاکستان پښتون صدر ايوب خان چي په خټه بټېزے ترين ؤ، د پښتونستان پر مسئله داؤد خان ته ودرېد- کله چي په ۱۹۶۰ کي د باجوړ د دوو قبيلو ترمنځ جګړه وشوه نو دواړه حکومتونه د خپلو خپلو پلويانو مرستو ته تيار شول- پاکستان خو له امريکا څخه اخستي جنګي جهازونه هم استعمال کړل- امريکا په دغه واقعه خپله خواشني څرګنده کړه خوصدر ايوب يې څه پروا ونه کړه- حالات تر دې حده ورسېدل چي پاکستان په جلال آباد او کندهار کي خپلي کونسلګرئی بندي کړې او له افغانستانه يې د کوټي او پېښور څخه د کونسلګريانو د بندولو غوښتنه وکړه- د کال ۱۹۶۱ په ستمبر کي داؤد د سفارتي اړيکو د ختمَولو او باړر بندَولو فېصله وکړه- د سرحدونو تر بندېدو وروسته افغانستان يوازي روس ته وتړل شو-

لکه مخکي چي يې بيان وشو، محمد ظاهرشاه نه خو د روس له لاس وهني څخه خوښ ؤ او نه د داؤد خان د پاکستان سره د اړيکو خرابَولو په حق کي ؤ ځکه هغۀ داؤد خان په کال ۱۹۶۳ کي له لوی

وزارت څخه لري کړ- ظاهرشاه د خانداني صدراعظم پرځای ډاکټر يوسف صدراعظم کړ- په هېواد کي جمهوريت لره هلي ځلي پېل شوې- ډاکټر يوسف لومړے اعلان دا وکړ چي د هېواد د نوي آئين جوړولو د پاره د اوو غړو يوه کمېټۍ تشکيل شوه- په کال ۱۹۶۴ کي دغي کمېټۍ د نوي آئين مسوده د ۲۹ غړو يوې بلي لويي مشاوراتي کمېټۍ ته ور وسپارله چي بيا يې تر کتَني وروسته د افغانستان نوے آئين ترې جوړکړ- وروسته د ۴۵۲ غړو لويه جرګه دکال۱۹۶۴ په ستمبرکي راوبلل شوه چي د آئين مسوده تربحث لاندي راوړي- دغه لويه جرګه د افغانستان په روايتي معاشره کي د تاريخ يوه بېله جرګه وه چي په هره توګه ورته يوه نماينده اسمبلۍ وئيل کېدای شوای- دجرګې لوی شمېرغړو د هېواد نوے اساسي قانون منظورکړ او د آزاد عدالتي نظام په حق کي يې ووټ ورکړ- د مصر له الاظهر يونيورسټۍ څخه فارغ شوي ډاکټر موسیٰ شفيق په آئين کي د اسلام په حواله د سوالونو جوابونه ورکړل- د هېواد دغه نوے اساسي قانون د ظاهر شاه د حکومت له خوا اعلان کړل شو، ورسره ورسره د مطبوعاتو آزادي هم اعلان شوه- خلګو ته څه ناڅه آئيني آزادي ورکړل شوه او انتخابات هم وشول- صدراعظم ډاکټر يوسف د جمهوريت په اعلانولو حکومت له دولته بېل کړ[5]-

ډاکټر محمد يوسف چي لومړے عبوري صدراعظم (وزيراعظم) ټاکل شوے ؤ، تر انتخاباتو وروسته صدراعظم شو- د اولسي جرګې د غړو توقعات ډېر وو او پر ډېرو وزيرانو دکرپشن تور هم ولګول شو- دکابل طالبعلمانو د صدراعظم د کور تر مخ مظاهره وکړه - د حکومت وسلوالو پر دغو مظاهره کوونکو ډزي وکړې چي درې تنه

پکي ووژل شول-

په لنډ وخت کي د خلګو غوښتني دومره زياتي شوې چي د ډاکټر يوسف چوکۍ د دوی د مظاهرو په سَوب نسکوره شوه- د تعليم وزير محمد هاشم مېوندوال يو د احترام وړ ليډر ؤ ځکه ظاهر شاه د صدرِاعظم په توګه وټاکۀ- په هېواد کي تعليم او تربيت ته اهميت ورکړل شو- نوي آئين خلګو ته د سياسي ګوندونو د تشکيل آزادي هم ورکړه ځکه په هېواد کي دکمونيسټي او اسلامي ګوندونو پرته د نورو فکرونو خلګو هم سياسي ګوندونه جوړکړل او له دغي موقعې څخه يې ګټي واخستې- د مطبوعاتو د آزادۍ سره په افغانستان کي ډېري کمونسټي، اسلامي او ملي جريدې شايع شوې- خصوصاً کمونسټانوله دغي موقعې څخه بشپړه ګټه واخسته- خپله نظريه يې د دغو جريدو په ذريعه ترڅه تعليميافته خلګو ورسوله[۶]-

دافغانستان آمدني اوخرڅ سره برابر نه وو، آمدني کمه او خرڅ ډېر ؤ ځکه د ترقۍ دپاره بهرنے امداد ضروري شو- افغانستان په مالي توګه د نړۍ تر ټولو هېوادونو شاته پاته شو- د هېواد عسکري قوّت پرکمونيسټ، اسلامي او ملي دړو چاودلے ؤ- د يوۀ مُخلص نېشنليسټ په حېث سردار داؤد خان مخکي د صدرِاعظم په توګه هم په افغانستان کي د سماجي بدلون په حواله ډېري هلي ځلي کړي وې، د هېواد د ترقۍ په لړ کي يې ډېر غوره کارونه پېل کړي ؤ او د ښځو د ښېګړي او پرمختګ لار يې خلاصه کړې وه ځکه يې د هېواد دغه بېوسي نه شوه ځغملای-

## داؤدخان د افغانستان د صدرپه حېث

لس کاله وروسته داؤد خان د کال ۱۹۷۳ د جولايي په اولسمه نېټه د يوې کودتا له لاري د افغانستان واك بېرته تر لاسه کړ- د سردار داؤد "د جمهوريت کودتا" په هېواد کي د باچهۍ اوږد دور پای ته وَرساوۀ- ددغي کودتا اصل سَوب دا ؤ چي تېر لس کلن ظاهرشاهي"محدودجمهوريت" اوسياسي آزادۍ د افغانستان سماجي او معاشي حالات ښه نه کړل ځکه محمدداؤدخان افغانستان ته د يوۀ ريپبليك (Republic) حېثيت ورکړ او پخپله د هېواد صدرشو- د دفاع وزارت هم سردار داؤد خان له ځان سره وساتۀ- په همدغه کال د اګست په څلورويشتمه نېټه ظاهرشاه د داؤد خان حکومت تسليم کړ- په فروري ۱۹۷۴ کي صدرداؤد خان د ايران سره يوه تجارتي معاهده لاسليك کړه- داؤدخان اوّل د کمونيسټانو په مرسته په افغانستان کي ځان ځای کړ- دا مهال ببرك کارمل، ډاکټر انايته راطبزاد او نورمحمد نور د پرچم دړي هغه کمونيسټان وو چي د داؤد سره ډېر نزدې وو- بيا يې په کال ۱۹۷۵ کي خپله ملت پارټۍ (National Revolutionary Party) جوړه کړه[۴]-

په کال ۱۹۷۶ کي د افغانستان د ترقۍ په لړ کي دۀ يو اووه کلن پلان جوړکړ، د عسکري ، سماجي او اقتصادي پرمختګ د پاره يې پر روس تکيه وکړه- لکه چي مخکي يې ذکر وشو، دسالانګ لوی سړك، د کابل او کندهار ترمنځ او بيا د کندهار او هرات ترمنځ سړکونه ټول په همدغه وخت کي جوړ شول- د ننګرهارکېنال او د هلمند ودانۍ هم ټولي دغه مهال وشوې- د پاکستان سره دهغه وخت سياسي مسئلو افغانستان دې ته اړکړ چي په نظامي توګه هم پر

روس تکيه وکړي- دغه فېصله وروسته د افغانستان په ګټه نه شوه او شوروي د افغانستان په فوج کي د لاس وهني موقعه ومونده- کله چي داؤد په دې پوهـ شو چي پر روس دومره تکيه کول د افغانستان خپلي آزادۍ لره خطره کېداى شي نو يې د ايران او عرب ملکونو مرسته طلب کړه- له غربي ملکونو سره يې هم خپلي اړيکي زياتي کړې- داسي برېښېده چي افغانستان د روس له اړتيا څخه ځان ايستل غواړي-

دپاکستان وزيراعظم ذوالفقارعلي بهټو د ۱۹۷۱ په پاى کي په دې پوهـ شو چي افغانستان پاکستان ماتول نه غواړي ولي چي د مشرقي پاکستان د جلا کېدو او بنګله دېش د جوړېدو په وخت پښتونستان جلاکول څه ګران کارنه ؤ خو افغانستان د پاکستان بده نه غوښته- په کال ۱۹۷۳ کي ذوالفقار علي بهټو د نېشنل عوامي پارټۍ (چي د خان عبدالولي خان تر مشرۍ لاندي وه) منتخب حکومت په بلوچستان کي ورختم کړ- په پېښور کي د جميعتِ علماءِ اسلام او نېشنل عوامي پارټۍ ګډ حکومت اِحتِجاجاً واك پرېښوو- د بلوڅو مري او مېنګل قبايل غرونو ته وختل او د بهټو خلاف يې بغاوت وکړ- وزيراعظم بهټو د بلوڅانو خلاف بمباري پېل کړه او د نېشنل عوامي پارټۍ غړي يې نيول لګياؤ، ځکه ډېرو بلوڅانو افغانستان ته هجرت وکړ او کندهار ته نزدې يې په مهاجر کېمپ کي ژوند کاوو- دنېشنل عوامي پارټۍ سېکرتراجمل خټك هم افغانستان ته ولاړ- بهټو په جلال آباد او کابل کي اسلامي تنظيمونه د داؤد خلاف را وپارول خو عامو افغانانو د هېواد خلاف کار ونه کړ-

آخر دا څرګنده شوه چې ذوالفقار علي بهټو د داؤد سره مفاهمت غواړي- په کال ۱۹۷۴ کې بهټو ماسکو ته ولاړ او د روس صدر برژنيف يې په دې قانع کړ چې د پاکستان نوري ټُکړې به د علاقې امن برباد کړي- کله چې دے اسلام آباد ته بېرته راستون شو نو يې هلته په هسکه غاړه ووئيل چې:

"I have cut the string that flew the Afghan kite" يعني ما هغه پړے (مانجه) پرې کړ په کوم چې افغان ګُډے (پتنګ) الووت- په همدغه کال داؤد خان د جون په مياشت کې ماسکو ته ولاړ خو په تشه لمن کې يې يوازې دا نصيحت راوړ چې د پاکستان سره خپلې اړيکې سمې کړي[۴]-

له بلې خوا د ايران باچا پاکستان ته هېلي کاپټران ورکړل چې د بلوڅو خلاف يې استعمال کړي ولې چې رضاشاه پهلوي د بلوڅو د آزادۍ خبره د ايران خلاف ګڼله ځکه يې نه شوه ځغملای- ايران سمدستي افغانستان هم په اعتماد کې واخست او په ۱۹۷۴ کې يې د هېلمند لوظنامه ورسره لاسليك کړه چې له افغانستان څخه د ايران تر بندر عباس پورې د رېل ګاډۍ پټرياني وغزوي او يو ډېم هم جوړکړي چې د دواړو خواوو په ګټهٔ وي- که څه هم رضاشاه د داؤدخان په افغانستان کې دشاهۍ ختمولو د فېصلې څخه خوښ نه ؤ خو دے د امريکا د پاليسۍ پابند ؤ ځکه يې د روس او افغانستان ترمنځ نفاق ته هوا ورکول غوښت چې د امريکا لاس ورته جوړ شي- داؤد هم د ماسکو تر دورې وروسته پرچميان له ځانه لرې کول غوښت ځکه يې کمونستېان له انتظامي عهدو څخه بېل کړل خو بيا هم ډېر پر ووړو ووړو منصَبونو پاته شول چې وروسته يې ببرك کارمل

ته حال ورکاو-

په کال ۱۹۷۵ کي بهټو د افغانستان سره دښو اړیکو خواهش ظاهرکړ- دهٔ د ایران د رضاشاه پهلوي په مرسته د داؤدخان سره د اړو مسئلو په باب د خبرو اترو فیصله وکړه- ذوالفقارعلي بهټو د پاکستان، ایران او افغانستان ترمنځ د کنفیډریشن جوړولو خواهش هم وکړ ولي چي دهٔ د اقتصادي ترقي راز او پښتنو او بلوڅو د مسئلو حل په کنفیډریشن کي لید- دهٔ د ایران شاه د ممکنه کنفیډریشن د مشر په توګه قبول کړے ؤ او د دغو ملکونو ترمنځ يې د ویزا ختمولو، اقتصادي مرستو او یوې کرنسۍ خواهش درلود- دکال ۱۹۷۶ د جون په اوومه نېټه د پاکستان صدر ذوالفقار علي بټهو له صدر داؤد خان سره لیدنه کتنه وکړه- په همدغه کال دجولايي په څلورمه نېټه دهندوستان مشري مېرمن اندراګاندهي په کابل کي د صدرداؤدخان سره خبري اتري وکړې او تر درو ورځو يې په افغانستان کي خپلي دورې ته دوام ورکړ- په هم دغه کال د اګست په میاشت کي صدرداؤد پر سرکاري دوره اسلام آباد ته ولاړ- د داؤد او بهټو ترمنځ د عوامي نېشنل پارټۍ د بندیانو په حقله خبري اتري وشوې او د ډیورېنډ د کرښي په حواله هم د داؤد په سوچ کي مثبت بدلون ولیدل شو- څو ورځي وروسته د امریکا د سټېټ لوی سېکرټر هېنري کسینګر د کابل دوره وکړه او د داؤد پالیسي يې د علاقې دپاره ګټوره وبلله- هماغه وخت هېنري کسینګر د افغانستان د مرستي اعلان وکړ-

له دغه وخته په دې سیمه کي د لویو قوتونو ترمنځ د طاقت هغه توازن پاته نه شو چي دوی له ډېره وخته ساتلے ؤ- روس خپل

زاړه ملګري د بهټو په وجه پرېښول او بهټو ته امريکا د شك په سترګه وکتل- د پاکستان ايران او افغانستان د کنفېډرېشن تصوّر هم د لويو طاقتونو د پاليسۍ جوړوونکو په ذِهنونو کي سوالونه راپورته کړل- دغه حالات وروسته په افغانستان کي د روس د مداخلې، د بهټو د پانسۍ او د رضاشاه خلاف د انقلاب لوی وجوهات شول-

داؤدخان غوښت چي په هېواد کي يو غوره بدلون راولي خو کمونيستانو مرسته ورسره ونه کړه- د کال ۱۹۷۶ د دسمبر د مياشتي په نهمه نېټه زياتوکم پنځوس کسان داؤدخان د حکومت د نسکورولو د سازش په تور ونيول چي دکمونيستانو سره د دهٔ د خوابدۍ لوی ثبوت ؤ- ځکه د افغانستان پيپلز ډېموکرېټك پارټۍ چي په کال ۱۹۶۵ کي جوړه شوې او په ۱۹۶۷ کي پر خلق او پرچم دړو ځله چاودلې وه، د داؤد د حکومت خلاف هلي ځلي پېل کړې- د کال ۱۹۷۷ د فروري په څلورويشتمه نېټه صدر داؤد خان د افغانستان د نوي آئين منظوري ورکړه- د مارچ په نويشتمه نېټه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د هوايي سفر شروع کولو لوظنامه وشوه- په همدغه کال په جولايي کي د ذوالفقارعلي بهټو حکومت پاکستاني فوج ورنسکور کړ اوجنرل ضياالحق د ملك واك ترلاسه کړ- ذوالفقار علي بهټو يې د سياسي وژنو په تور بندي کړ- په افغانستان کي د نومبر په شپاړسمه د پلاننګ وزير علي احمد خرم ووژل شو ځکه صدر داؤدخان هم د خلقيانو او پرچميانو خلاف کار تېز کړ-

د ۱۹۷۸ د فروري په يويشتمه چي کله صدر محمد داؤد خان له

کابله بلغراد ته په سرکاري دوره روان شو نو د همدغي میاشتي په آخرکي۲۵تنه نور د صدر خلاف دسازش په تور ونیول شول- بیا د اپریل د میاشتي په اوولسمه نېټه دپیپلز ډیموکرېټک پارټۍ غړے میراکبرخیبر هم په کابل کي ووژل شو- د اکبرخیبر وژني په افغانستان کي کمونیستانو ته د بغاوت موقعه په لاس ورکړه- د کال ۱۹۷۸ د اپریل پر اویشتمه نېټه د داؤدخان خلاف د روس په مرسته کمونیستانو کودتا وکړه په کومه کي چي داؤد پخپله ووژل شو- په همدغه کال په ایران کي د رضاشاه خلاف لویې مظاهرې وشوې او حالات د خانه جنګۍ ترحده ورسېدل- د کال ۱۹۷۹ په جنوري کي رضاشاه پهلوي له خپله هېواده په تېښته ولاړ او په اپریل کي ذوالفقارعلي بهټوته په هماغه تور پانسۍ ورکړل شوه-

که څه هم داؤد خان یو ټینګ پښتون ؤ او د ملت خوا خوږے هم ؤ خو حالات ښه نه وو- سردار داوود خان د کودتا په وخت او تر دې وروسته هم په روس کي روزل شوي ډېرمنصبداران د ځان ملګري کړل- دۀ غوښت چي د کمونستانو په مرسته له روسه څخه ګټه واخلي- د داؤد خان د جمهوریت پنځه کلن دور افغان ملت لره ګټور ؤ- د دۀ په وخت کي په هېواد کي علمي سیمینارونه وشول، په نصاب کي غوره بدلون راغے ، اقتصادي اصلاحات وشول او د عربو سره لومړے ځل سیاسي اړیکو ته اهمیت ورکړل شو- کله چي دفوجي افسرانو یوې ډلي دافغانستان د پیپلز ډیموکرېټک پارټۍ (People's Democratic Party of Afghanistan P.D.P.A) دخلق او پرچم ډړو په مرسته په کال ۱۹۷۸ کي د داؤد خان خلاف د ثور انقلاب راووست او دے یې د ډېرو نورو ملګرو سره په ډېره ناترسي

شهيد کړ نو د افغانستان واکې د نور محمد ترکي او دهغهٔ د نورو مارکسيستو (Marxist) ملګرو په لاس ورَغلې[7] - له همدغه وخته د افغانستان بدي ورځې شروع شوې-

## اخځليك


١ ـ خان عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد ، کابل دولتي مطبعه ، کابل ۱۳۶۴ هـ

٢ - لوئز ډوپري، افغانستان (Afghanistan)، پرنسټن يونيورسټي پرېس ۲۰۰۳

٣ - خان عبدالولي خان، باچاخان او خدايي خدمتګاري، پېښور، ۱۹۹۳ -

۴ - رسانباګم انجيلو، د افغانستان جديد تاريخ ( Afghanistan a Moderan History) ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

٥ - رفيع حبيب ا لله ، د افغانستان لنډکے تاريخ، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۸

۶ - مېګنم رالف ابچ او نبي ابېن ، افغانستان: ملا ، مارکس او مجاهدين ، هارپر کولن پبلکېشنز انډيا -۱۹۹۸

٧ - ډګلس جي برينکلي ، Visual History of the World (د نړۍ عکسي تاريخ ) ، نېشنل جغرافيك ، واشنګټن ډي سي ، ۲۰۰۵ -

# ۲۷

# د روس پرضد مزاحمت

د روس خلاف مزاحمت خو په اصل کي د کال ۱۹۷۴ د جون په میاشت کي هماغه وخت ښکاره شو چي صدرداؤد خان له ماسکو څخه تشه لمن راوړه- روس د بهټو په دوستۍ د بلوچستان او سرحد قام پرست ملګري وشړل او افغانستان ته يې د مرستي په توګه د پښتونستان له مسئلې څخه د تل دپاره د لاس اخستني مشوره ورکړه- نېشنليسټان ټول د روس په اراده پوهـ شول چي دوی يې مېرَني او مارکسیسټان يې مورني دي- بیا دري کاله وروسته په جون ۱۹۷۷ زېږده کي هم د داؤد خان او برژنېف ترمنځ په ماسکو کي ډيري ترخې خبري وشوې- په همدغه کال روس د ایران د تودا پارټۍ دمارکسیسټ لیډر احسان طباري او هندوستاني کمونیسټانو په ذريعه د افغانستان د پیپلز ډېمو کرېټک پارټۍ (PDPA) دوې ډړي بېرته سره وتړلې او د ۳۰ غړو يو مرکزي کمېټۍ يې ترې جوړه کړه[۱] -

حفیظ الله امین چي د کابل یو غریب طالبعلم ؤ او د حکومت په خرڅه یې په امریکا کي تعلیم کړے ؤ، له ۱۹۶۵ څخه د کمونیسټ په توګه په کابل کي وپېژندل شو- کله چي داؤد د جمهوریت هلي ځلي کولې نو کمونیسټانو هم په دغه وخت کي پیپلزډېموکرېټک پارټۍ جوړه کړې وه چي دوه کاله وروسته پر دوو دړو ځله وچاوده- حفیظ الله امین په کابل کي د اُستاذانو د تربیت په اِداره ' ابنِ سینا' کي سراُستاذ ؤ- له دغه ځایه دهٔ د افغانستان په تعلیمیافته خلګو کي ملګري وموندل او د وسلوالو قوّتونو هغه افسران یې هم وپېژندل چاچي تربیت له روسیه څخه اخستے ؤ- تر کال ۱۹۷۶ پوري حفیظ الله امین په فوج کي د خلقیانو یو لوی ګروپ جوړ کړ- تر ۱۹۷۸ پوري په سِول ملازمتونو کي هم لوی شمېر خلقیان جمع شول، ولي چي د داؤد خان د صدراعظمۍ په وخت کي له کال ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۶۳ پوري لوی شمېر طالبعلمان د حکومت په خرڅ روس ته لېږل شوي ؤ چي دا وخت ټول پر ښو عهدو وو-

د پیپلزډېموکرېټک پارټۍ دواړو دړو دکال ۱۹۷۸ دمني ترمخه د اِنقلاب راؤړلو فېصله کړې وه، خو د امیراکبرخېبر وژني تر وخت لمخه وار ورکړ- د اپرېل په اولسمه نېټه دوو تنو د پرچم دړي یو غړے اکبرخېبر ماښام له خپله کوره بهر راوغوښت او ویې واژهٔ- د مړي تر جنازې وروسته۱۵۰۰۰کمونیسټانو د داؤد خلاف مظاهره وکړه چي پکې د امریکي سي آي اې خلاف هم آوازونه اوچت شول- نورمحمد ترکي او ببرک کارمل دواړو په دغه مظاهره کي ترخه تقریرونه وکړل[۲]- د پینځویشتم اپرېل په شپه حکومت د پیپلز

ډيموکرېټک پارټۍ ليډران ونيول چې پکې نورمحمد ترکې او ببرک کارمل هم وو خو حفيظ الله امين څکه ترې بچ شوچې په مظاهرينو کې يې نوم نه ؤ- کله چې د هغهٔ د کور پلټنه وشوه نو څه ترې ونه وتل څکه دے بندي نه کړل شو بلکې تر خپل کوره يې محدود کړ-

وئيل کېږي چې د اِنقلاب بشپړ پروګرام دحفيظ الله امين سره ؤ او د دهٔ د کور د پلټنې په وخت دهٔ خپلې ښځې ته په لاس ورکړ چې د ماشومانو په خونه کې يې تر نيالې لاندې پټ کړي- له بده مرغه دا پروګرام د دهٔ کور پلټونکو ته په لاس ورَنه غے- تر پلټنې وروسته چې امين د ترکي پر کور پښتنه ونيوه نو څرګنده شوه چې هغهٔ حکومت نيولے دے- د شپوږويشتم تاريخ په سهار وختې د اِنقلاب دغه بشپړ پروګرام دفقير محمد فقير په لاس حفيظ الله امين ترګلابزي پورې ور ورَساوهٔ چې دهٔ لومړے لا په دغه پروګرام غوږولے ؤ[٣]- خپل زوی يې انجينئرظريف ته هم لېږلے ؤ چې دکابل رېډيو سټېشن نيولو کار به څه رنګه تر سره کيږي- په همدغه نېټه ماښام امين ونيول شو او له خپلو ملګرو سره بندي کړل شو- دا بله ورځ سهار يعني د اپرېل په اولسمه نېټه مېجراسلم وطن جار خپل جنرل ته خواست وکړ چې ددهٔ تر قدرت لاندې چې کوم دوولس ټانګونه دي، هر يوهٔ لره شپږ شېله (ګولې) څکه پکار دي چې د بلوا په حال کې يا د بدې پېښې په وخت کار ترې واخلي- جنرل دغه درخواست لاسليک کړ چې شېلونه دي ورکړل شي- اسلم وطن جار د پروګرام سره سم يو ټکے بل ورسره زيات کړ او له شپږو نه يې شپېته جوړ کړل- دا راز يې لوی شمېر شېلونه تر لاسه کړل[٣]-

د امين د پروګرام په ترڅ کې به عبدالقادرډګروال له باګرام څخه

د غرمې په وخت پر صدارتي ماڼۍ هوايي حمله کوله خو د ماځیګر تر څلور نيمو بجولاهم حمله ونه شوه- ګلابزے او اسدالله سروري د کابل پر هوايي ډګر په دې انتظار وو چي کار پرمخ ولاړشي يا بيا ښايي چي د ماتي په وخت تېښته ورته ګرانه نه وي- د قادر ځنډ اسلم وطن جار دې ته اړ کړ چي دوه ټانګونه دوري هم واستوي- اوّل شل پخپله اسلم وطن جار دداؤد پرمحل تس کړچي نورو کمونیسټانو لره د انقلاب د پېل بړغ ؤ-

دبمبارۍ د اِبتِدا په وخت په محل کي کابينه ناسته وه چي د کمونیسټانو په باب فېصله وکړي خو له دغي پېښي سره داؤد وزيرانو ته د ځان ژغورني امر ورکړ- زيات شمېر وزيرانو په نزدې جُمات کي پناه واخسته خو د دفاع او داخله وزيران د مقاومت په غرض له محله ووتل- د صدارتي ماڼۍ پر دفاع چي کوم دوه زره نفره مامور وو هغوی ټينګ مقاؤمت وکړ- داؤد خان پخپله هم هغه وخت ژوندے ؤ او مقابله يې کوله کله چي د اويشتم په ماښام عبدالقادر ډګروال او اسلم وطن جار پر کابل رېډيو د انقلاب اعلان وکړ- دوی دا اعلان هم وکړ چي په راتلونکي وخت کي به د هېواد په نظام کي د اسلامي قدرونو او افغاني روايتونو احترام کيږي- دوی هغه وخت د سوشليزم ياکمونيزم هيڅ ذِکر ونه کړ، ځکه دا پته نه لګېده چي کودتا چاکړېده؟ او انقلاب راوړونکي څوك دي؟ د اپرېل دمیاشتي په نويشتمه حکومت پر کابل رېډيو دا اعلان وکړ چي صدرداؤد خان، ددهٔ ورور سردار نعيم خان، د دِفاع وزير غلام حېدر رسولي، د داخله وزير عبدالقادرنورستاني اونايب صدر سعيد ټول په انقلاب کي د دروېش ددې شعر په مصداق ووژل شول چي :

دا چي څېرېږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کي بس همدغه وو دکارسرونه

درې ورځي وروسته يعني د اپرېل د مياشتي په دېرشمه نېټه، کله چي دپيپلزډيموکرېټك ګوند دواړو ډړو په ګډه يو انقلابي کونسل جوړکړ نو دا څرګنده شوه چي دا د کمونيستانو اقدام ؤ- د کونسل په پنځه دېرش غړو کي پنځه فوجيان او دېرش د پارټي غړي وو- د دغه کونسل مشر د خلق ډړي نورمحمد تره کی شو او د پرچم ببرك کارمل يې ورسره نايب کړ- د مې په لومړۍ نېټه د پيپلز ډيموکرېټك پارټۍ دواړو ډړو دکونسل په اِجلاس کي نوې کابينه وټاکله- تره کی وزيراعظم شو، ببرك کارمل، حفيظ الله امين او اسلم وطنجار ددۀ نائبان شول- امين او ببرك له همدغي ورځي د اقتدار په جنګ سره اخته شول- د مې په شپږمه نېټه تَرکي دا اعلان وکړ چي "افغانستان آزاد اوغېرجانبدارهېواد دے" [۳]

کمونيستانو ډېر ژر انقلابي کونسل د روس په شان په پولټ بيورو بدل کړ خوحفيظ الله امين يې دبيورو غړے نه کړ ځکه هغۀ دا غوښتنه وکړه چي کومو کسانو چي د داؤد حکومت نسکورکړ هغوی ته دي په پولټ بيورو کي ځای ورکړل شي- د حفيظ الله امين په اشاره خلقيانو پر پرچميانو تور ولګاوۀ چي دوی موقعه پرستان دي ځکه پر اقتدار قبضه کول غواړي- ترکي د خلقيانو څلور نور ملګري د بيورو غړي کړل خو کله چي د خلق ګوند کارکوونکو تره کی د"عظيم ليډر" يا ستر رهبر په خطاب وبالۀ نو دا هم حفيظ الله

امین نه شو ځغملای- امین لومړے کارمل لري کول غوښت او بیایې نورمحمد ترکے هم له منځه وړل په نیت کې ؤ-

**دثورکودِتا**[۴] چې کمونستانو د روسانو په مرسته وکړه او د ثور د فوجي اِنقلاب نوم یې ورته ورکړ، په اصل کې د حفیظ الله امین په قومانده کې د روسانو تېرے ؤ- لکه وړاندې چې یې ذکر وشو په دغه کودِتا کې کمونیستانو سردارمحمد داؤد خان شهید کړ او د هېواد واك نور محمد تَرکي ترلاسه کړ، چاچې افغانان په سیاسي توګه روس ته وتړل- تَرکي اوّل ځان وزیراعظم کړ خو بیا بېرته پخپله د روس پر طرز صدرشو- ببرك کارمل او حفیظ الله امین یې له ځان سره د نایبانو په توګه وټاکل-

د خلق او پرچم ګوندونو یو پر بل اعتماد نه ؤ ځکه د جون پر اوویشتمه نېټه د مرکزي کمېټۍ په میټینګ کې دا فېصله وشوه چې د هېواد پالیسي به دخلق ګوند تر منشا لاندې وي- ببرك کارمل او ډاکټر نجیب الله یې د سفیرانو په توګه له هېواده وشړل- کارمل یې چېکوسلواکیه ته او نجیب یې تهران ته ولېږۀ- دغې فېصلې د پرچم ګوند غړي په تشویش کړل- د سفیر په توګه تر تګ لمخه ببرك کارمل خپل ملګري لکه د دفاع وزیر عبدالقادر ډګروال او د وسلوالو قواوو مشر شاه پور احمدزے ولیدل چې د اختر په ورځ یعني د ستمبر په څلورم تاریخ باید چې د خلقیانو خلاف یوه بله کودتا وشي- حفیظ الله امین په دغه پروګرام خبر شو ځکه د اګست په اتلسمه نېټه کابل ریډیو دا اعلان وکړ چې د حکومت نسکورولو پلان خطا شو او د دفاع وزیر عبدالقادر، شاه پور او نور ډېر مُهِم پرچمي افسران په دغه تور ونیول شول- د دغې میاشتې په

درويشتمه نېټه، په همدغه تور، پولټ بيورو د وزير سلطان علي کشتمند او محمد رفيع د نيولو حکم هم وکړ- د ستمبر په دوويشتمه نېټه تَرکي هغه شپږ پرچمي سفيران بېرته راوغوښتل کوم چي څو مياشتي مخکي استول شوي وو خو ببرك او نجيب بېرته رانه غلل[۲]-

مارکسيستانو په افغانستان کي په ډېره تلواره روسي اصلاحات پېل کړل- د ځمکو تقسيم، د ښځو د حقوقو روسے انداز او په زوره په ښځو تعليم داسي خبري وې چي افغانانو نه شوې منلای- کمونيستانو غوښت چي د ژوند هر اړخ په ډېره چسپاندي کمونيستي کړي خو دا کار يې د ناپوهه خلګو په لاس ورکړ چي نه يې تعليم درلود اونه تجربه- ځکه يې ډېر وطنوال په ناترسي ووژل، د ډېروکورونه يې وپلټل اوبيا يې لوټ کړل، ډېريې ونيول اوبنديان يې کړل، د ډېرو سپين پوښو خلګو ګرېوانونو ته يې لاس وَغزول- د مجددي خاندان هغۀ ټول نارينه يې ووژل کوم چي په کابل کي موجود وو- له پنځوسو زرو نه تر يو لَك کسانو پوري په د غه شخړه کي ژوندي ورك شول- له دغه عمله خلګ دکمونيستانوخلاف را وپاڅېدل- د کال ۱۹۷۸ تر آخره تقريباً اتيا زره (۸۰۰۰۰) نفرو پاکستان ته هجرت وکړ- په همدغه کال د دسمبر په درېيمه نېټه نورمحمد ترکے او حفيظ الله امين دواړه ماسکو ته ولاړل چي د امان الله خان د۱۹۲۱ لوظنامه له څه بدلون سره نوې کړي- د دسمبر په پنځمه نېټه د افغانستان او شوروي ترمنځ د شلو کالو د پاره يوه لوظنامه لاسليك شوه په کومه کي چي د ضرورت په وخت دشوروي د عسکري مرستي ذکر هم ؤ- روس ته ورروسته د دغي

لوظنامې په ترڅ کې د مداخلې لارخلاصه شوه-

ورو ورو نورو هېوادونو هم د افغانستان په معاملاتو کي لاس واچول- ګاونډيانو خپل خپل پلويان پکي ځايول لګيا وو- د کال ۱۹۷۹ د فروري په څوارلسمه نېټه يو امريکايې سفير **اډولف ډيويز**[۳] په دې نيت وتښتول شو چي ددهٔ په بدل کي تښتوونکي خپل ملګري راخلاص کړي خو داسي ونه شو بلکي وروسته دکمونيسټ حکومت په ايکشن کي سفير ووژل شو- د اپرېل په دېرشمه نېټه صدر ترکي دا څرګنده کړه چي د شرقي افغانستان دکونړ او اسد آباد په پېښو کي، چي د حزبِ اسلامي (حکمتيار) تر بېرغ لاندي وشوې پاکستان لاس لري-

کله چي کمونيسټان وارخطا شول نو يې په خپلو کي ځله وځنډل- د ۱۹۷۹ له مارچ څخه تر جولايي پوري د تَرکي او امين ترمنځ هم خوابدي ښکاره شوه- حفيظ الله امين چي لومړے د خارجه چارو وزير ؤ، په اپرېل کي وزير اعظم شو- د جولايي په اتويشتمه نېټه په يوه غونډه کي حفيظ الله امين مخامخ ترکے د حکومت د ناکامۍ يوازنے ذمه وار وګاڼهٔ- په اګست کي دا څرګنده شوه چي خلق ګوند هم د تَرکي او امين پر بېلا بېلو ډړو وچاود- د ترکي ملګري "سره کمونيسټان" بلل کېدل او د امين پلويان "تورکمونيسټان"- د ستمبر په څلورمه نېټه ترکے هوانا ته د غېرجانبدارهېوادونو کانفرنس ته ولاړ په کوم کي چي پاکستان هم ګډون درلود- تر واپسۍ وړاندي سروري د روس د مخابراتو په مرسته ترکي ته خبر ورکړ چي امين دے لمخه لري کول غواړي- ترکي د سروري د ټيلفون تصديق وکړ اوبيا يې خپل ملګري په خبر

کړل- تر دغه سازش وروسته د امين زاړه ملګري هم ترې خفه شول- ترکي روس په اعتماد کي واخست چي امين به له هېواده وشړي خو له راتګ سره سم دے پخپله ونيول شو او په خپل محل کي بندي کړل شو- د ستمبر په پينځلسمه نېټه کابل رېډيو دا اعلان وکړ چي د داخله وزير اسلم وطن جار، او دسرحدونو وزير شېرجان مزدوريار له وزارتونو څخه لري کړل شول- په دا بله ورځ حفيظ الله امين د مرکزي کمېټې په اجلاس کي دا اعلان وکړ چي ترکي د ناروغۍ له کبله اِستعفیٰ ورکړه- تر دې وروسته سروري،



عکس نمبر 79 نور محمدترکے، حفيظ الامين، ببرک کارمل ، ډاکټر نجيب الله

ګلابزے او اسلم وطن جار له وېري روس ته وتښتېدل- په کال ۱۹۷۹ کي د ستمبر د مياشتي په اتمه نېټه نورمحمد ترکے د امين او د هغهٔ د ملګرو له لاسه ووژل شو او د هېواد واك د ستمبر په شپاړسمه نېټه حفيظ الله امين په خپل لاس کي واخست- د دهٔ کردار دومره مشکوك ؤ چي چا ورته د سي آيي اې اېجنټ وئېل او چا افغان ټيټو بالهٔ- خلګو حفيظ الله امين هم نه کړ قبول او ورو ورو د مارکسيستانو خلاف د هېواد په هره څنډه کي پاڅونونه ښکاره شول[1] -

په هېوادکي افغاني پاڅونونو او کورَنيوو شخړو کمونيستان نور هم وارخطاکړل ځکه يې له شوروي څخه درنې وسلې راوغوښتې- د دسمبر په شپوږويشتمه نېټه امريکا خبر ورکړ چي په تېرو ۲۴ ساعتونو کي شوروي د هوايي جهازونو په ذريعه افغانستان ته ډېر فوجي سامان واستاوهٔ چي د روس په افغانستان کي د مداخلې ثبوت دے- د شوروي مداخلې د افغانستان سپېځلي خلګ دومره سره وپړکول چي د نورو هېوادونو محتاجي ته اړ شول- همدغو حالاتو امريکا، يورپ او د افغانستان ګاونډيانو ته دلاس وهني موقعه ورکړه- دهرچا مخته خپله ابجنډه وه، د کومي ترسره کول چي هغوی خپل هدف ګڼلے ؤ- د روس په شان دوی هم په افغانستان کي خپلي ډلي روزلې- امين د امريکا او پاکستان پخوا د مدد دپاره هڅه وکړه خو اوبه تر ورخ اوښتي وې ځکه يې نُوك ونه نيو-

لږ موده وروسته په همدغه کال ۱۹۷۹ کي د دسمبر د مياشتي پرپنځويشتمه نېټه، روس خپل فوجونه افغانستان ته را ولېږل- ببرك کارمل پر روسي ټانګ سپور افغانستان ته راستون شو او کابل يې ونيو- د دسمبر پر اوويشتمه (۲۷) نېټه حفيظ الله امين هم په دارالامان کي د شوروي دسپېشل قواوو له لاسه ووژل شو- دا رنګه روس د پرچم پارټۍ ببرك کارمل له ماسکو څخه کابل ته را ووست او د افغانستان صدر يې کړ- د روس دا خيال ؤ چي کارمل تر حفيظ الله امين نرم او اعتدال خوښؤونکے سياستدان دے ځکه به حالات کنټرول کړي خو داسي ونه شو[۲]-

ببرك کارمل د حفيظ الله امين د پاليسۍ غندنه وکړه او دا وعده يې وکړه چي د افغانستان سماجي او اقتصادي وضع به ښه

کړي- هغه دا وعده هم وکړه چي د اسلام او افغاني روايتونو احترام به کوي خو پر روس د خلګو اعتماد نه ؤ ځکه افغانانو وسله راپورته کړه او ټولو مجاهدينو (Guerrilla opposition forces) د روسي مداخلې خلاف په ګوريله جنګ لاس پوري کړ[٢]-

ايمپيريليستي قوتونه چي د سرمايه دارانه نظام د ساتلو په غرض يې مارکسيزم ته غاښ وينېدل او سوړ جنګ يې تود ساتل غوښت، د مجاهدينو ملګرتيا ته تيار شول- امريکا او يورپ د روسي کمونيزم پر ضد افغان مجاهدينو ته ښېخي ډېره وسله ورکړه او مالي مرسته يې هم ورسره وکړه- د مجاهدينو مخته دکمونيسټانو پښې نه ټينګېدې ځکه روس نور فوجونه هم افغانستان ته راولېږل-
د کال ۱۹۸۰ د جنوري په لومړۍ نېټه ببرك کارمل دا ووئېل چي د روس فوجونه افغانستان پخپله را غوښتي دي ولي چي د بهرنيو له لاس وهني څخه د افغانستان سلامتۍ ته خطره وه- د همدغي مياشتي په څوارلسمه نېټه د ملل متحد په جنرل اسمبلۍ کي ۱۰۴ غړو د روس له افغانستان څخه د بشپړه وتني غوښتنه وکړه- ۱۸ غړو يې په حمايت کي ووټ ورکړ او ۱۸ غړي داسي هم وو چي د يوې خواهم نه وو-

د فروري په دوويشتمه نېټه د شوروي صدر برژنېف دا ووئېل چي که له نورو خواوو په افغانستان کي لاس وهنه ختم شي نو شوروي کولای شي چي له افغانستان څخه خپل فوجونه بېرته وباسي- وروسته په افغانستان کي روسيانو ته حالات نور هم ورو وروخراب شول- د دسمبر دمياشتي په پينځويشتمه نېټه د مصر صدر انورالسادات په يوه ټېلي وژني انټرويو کي ووئېل چي موږ د

مجاهدينو د مدد په خاطر افغانستان ته وسله استَولېده او نوره هم استَوو- دکال۱۹۸۱ د مې په نهمه نېټه پاکستان په رسمي توګه دا ووئېل چې د افغان مهاجرينو تعداد تر دوو مِليونوهم واوښت- په همدغه کال د اګست په دوويشتمه نېټه د مصر صدر انورالسادات بياپه يوه بله ټېلي وژني مرکه کې دا ووئېل چې امريکا زَړه روسی وسله په دې غرض اخلي لګياده چې د شورَويانو خلاف دمقاؤمت کوونکو ملاتړ په وکړي- دلته دا سوال پورته کيږي چې زَړه وسله ولې؟ يوه وجه يې دا ښول کېده چې د روس زړه وسله لکه کلاشنکوف (AK-47 assault rifles) له خاوري بد نه وړي، په نودَبل او په ګرز کې هم کار ورکوي خو دويم سَوب يې دا هم ؤ چې يوازې د وارسا پېکټ وسله چې بېرته تر امريکا پَل پسې نه شو راتلای افغانانو ته ورکړل کېدای شوه-

د ۱۹۸۳ د جنوري په نولسمه نېټه د مللِ متحده جنرل سېکرتر جنرل ډيګوکارډو وېز په افغانستان کې د امن دپاره هليځلي پېل کړې- هغهٔ يو مِشن جنېوا، تهران، اسلام آباد اوکابل ته دافغانستان د شخړي د هوارولو په خاطر واستاو- ورو ورو د شوروي خلاف د افغان مجاهدينو مقاؤمت نور هم زور واخست- امريکا د ۱۹۸۵ د جنوري په اتلسمه نېټه دا اعلان هم وکړ چې د افغان مجاهدينو مرسته به نوره هم زياته کړل شي او په روان کال کې به تر۲۸۰ بِليونو ډالرو پوري ورکړل شي- روسيانو ته روځ په روځ حالات خرابېدل لګيا وو او ورو ورو د جنګ خرڅه ترکاوړ وَوَته- ځاني زيان يې ډېر زيات وشو او اقتصاد يې هم پر ځوړه روان شو- دا اوّل ځل ؤ چې روس تر اقتصادي فشار لاندي راغے او د هغهٔ کورنی او بهرنی

کمزورياني نږۍ ته ښکاره شوې- دارنګه د شوروي پښې له افغانستانه ختې لګيا وې-

دکال ۱۹۸۶ د اپرېل په مياشت کي امريکا افغان مجاهدينو ته په سلګونو سټينګر ميزايل (توغندي) هم ورکړل- په همدغه کال د مې دمياشتي په څلورمه نېټه ببرك کارمل واك پرېښو او ډاکټر نجيب الله د افغانستان صدرشو- دۀ ته د افغانستان واك په ډېرو کړکېچنو حالاتو کي په لاس ورَغے- چونکي له ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۸۶ پوري دے د خاد مشر پاته شوے ؤ او له خاد څخه افغانانو ډيري بدي خاطرې درلودې، ځکه د سولي په هلو ځلو کي هيچا ورسره مرسته وَنه کړه او قام ورباندي اعتماد هم ونه کړ- د مې په نولسمه دافغانستان او پاکستان ترمنځ په جنېوا کي د مللِ متحده په مرسته اووم ځل د پټوخبرواترو انتظام وکړل شو- د دۀ تر وخته دهېواد ډېر ځاني او مالي نُقصان شوے ؤ- خلګ له لسو کلونو (۱۹۷۹-۱۹۸۹) څخه په جنګ سره اخته وو او د آبادۍ يو لوی شمېرله هېواده هجرت کړے ؤ- د ګاونډيانو لاسونه هم د افغانستان تر ګرېوانه رسېدلي وو[۳]-

د ۱۹۸۸ د جون د مياشتي په اوومه نېټه ډاکټر نجيب الله د مللِ متحده جنرل اسمبلۍ ته خطاب وکړ او د افغانستان د شخړي اوارولو په حقله يې خبري وکړې- د همدغي مياشتي په نهمه نېټه يې د باختر رېډيو څخه په لس کاله کي د جنګ له کبله د مړو شمېر۲۴۳۹۰۰ نفره وښوو- ډاکټر نجيب د کمونيسټانو مرکزي کمېټۍ ماته کړه او د ۱۹۸۸ او ۱۹۹۰ ترمنځ يې نوي خلګ حکومت ته را داخل کړل-

ډاکټر نجیب الله یو دلیر کمونیسټ ؤ- د کال ۱۹۸۹ د نومبر په څوارلسمه نېټه چې کله مجاهدینو د خپلو ګاونډیانو په مرسته پر جلال آباد درې اړخیځ یرغل وکړ نو ډاکټر نجیب او ملګرو یې سخته مقابله وکړه، ځکه هغوی څه حاصِل نه کړل اومات شول- بیا یې د مارچ ۱۹۹۰ په کودتا کې هم د دفاع د وزیر شاهنواز تنې مقابله وکړه او هغهٔ یې پاکستان ته په تېښته مجبور کړ-

کله چې میخائیل ګورباچوف په کال ۱۹۸۵ کې د روس صدر شو نو یې دا محسوسه کړه چې په افغانستان کې جنګ ګټل د چا د وس خبره نه ده- په کال ۱۹۸۶ کې په افغانستان کې ۱۱۸۰۰۰ روسي فوجیان ووچې د ۱۳۰۰۰۰ مجاهدینوسره مخامخ جنګېدل- د افغان حکومت خپل فوج زیاتوکم ۵۰۰۰۰ نفره وو- پر افغانستان د جنګ اثرات دومره زیات وو چې د هېواد نیمه آبادی د مهاجرینو په توګه په نورو ملکونو کې خوره وره وه - له لسو څخه تر پنځلس لکه پوري خلګ شهیدان شوي وو او یو لوی شمېر ژوبل شوي هم وو چې د ګډانو او ړندو په توګه یې په ګاونډ کې د ژوند ترخې ورځې او شپې سبا کولې- جنګ هېواد له هره اړخه برباد کړے ؤ- ښارونه، پولونه او سړکان نړېدلي وو- تعلیم، صحت، صنعت او زراعت ټول تباه شوي وو[۵]- د ډاکټر نجیب په دور کې روس له افغانستان څخه بېرته وَتلو ته اړ شو- نجیب الله د کال ۱۹۸۷ د جولای په شلمه د شوروي اتحاد د وتني په حقله دصدرمیخائیل ګورباچوف سره لیدنه کتنه وکړه- تر دې وروسته میخائیل ګورباچوف دا فیصله وکړه چې روسي فوج له افغانستان څخه وباسي- د ډیګوکاږو وېز په هلوځلو دکال ۱۹۸۸ د اپرېل د میاشتې په څوارلسمه نېټه په جنېوا کې د

روس، افغانستان، امريکا او پاکستان ترمنځ **دجنېوا لوظنامه** په اتفاق سره ومنل شوه چي:

۱ - ټول بهرني (روسي) فوجونه به له افغانستان څخه په نهه مياشتو کي وزي-

۲ - پاکستان او افغانستان به يودبل په هېوادونو کي مداخلت نه کوي-

۳ - افغان مهاجرين به پخپله خوښه وطن ته بېرته ځي-

د جنېوا دغه لوظنامه چي کله د نوموړو هېوادونو ترمنځ لاسليك شوه نو مجاهدينو ځکه لاسليك نه کړه چي هغوی جنګ ته نور هم دوام ورکول غوښت خو بيا هم روسي فوجونه له افغانستان څخه روان شول او تر فروري ۱۹۸۹ پوري يې ټول افغانستان خالي کړ[۶]-

د روسي فوج د وتني په وخت پاکستان کي د افغان مهاجرو تعداد ۳۷۲۲۰۰۰ او په ايران کي ۲۹۴۰۰۰۰ وو- مللِ متحده پاکستان ته د مهاجرو د واپسۍ په مد کي لوی رقم او ډېر غنم د UNHCR او WFP په واسطه ورکړل- د افغان پوهاند امين سېکل[۷] په قول ډيګوکارډو وېز په دغه لوظنامه کي د افغانستان مسئله ته د لويو طاقتونو ترمنځ د جنګ په سترګه کتل نه چي د افغانستان د الميې په توګه، ځکه يې دا لوظنامه هم د ماسکو او واشنګټن تر منځ د ساړه جنګ په تناظر کي بشپړه کړه- د امين سېکل په نظر ډيګوکارډو وېز په "جنېوا لوظنامه" کي د افغان مجاهدينو د شمول (ګډون) څه غوره کوښښ ونه کړ ځکه د روسي فوج تر وتلو وروسته کورنۍ جنګ (Civil War) پېل شو د کوم چي په جنېوا لوظنامه کي جواز ورکړل شوی وو- ورو ورو په افغانستان کي ګوريله حملو نور

هم زور واخست او هري جهادي ډلي پر اقتدار د قبضې هلي ځلي چسپي کړې- د ډاکټر نجیب دسولي هلي ځلي خلګو ونه منلې- ګاونډي هېوادونه هم په افغانستان کي د امنیت په حق کي ځکه نه وو چي په افغانستان کي د روسي مداخلې سره هغوی د نړۍ د ټولو مِلتونو مرسته تر لاسه کړې وه- کوم هېوادونه چي د روس خلاف وو او د روسانو د مداخلې مخنیوے یې غوښت هغوی ډېري مالي ګټې ورَسولي وې چي په افغانستان کي له امنیته وروسته ترلاسه کېدای نه شوے-

ډاکټر نجیب الله د افغانستان ټولو سیاسي ګوندونو ته د قامي حکومت جوړولو او په حکومت کي د ګډون بلنه هم ورکړه خو هغوی ونه منله بلکي د ډاکټر نجیب الله د امنیت جوړولو خواهش یې د هغهٔ کمزوري وګڼله او پرجلال آباد یې دومره لویه حمله وکړه چي په ټول افغان جنګ کي دمجاهدینو ترټولوغټ یرغل بلل کېدای شي- د کال ۱۹۸۹ زېږدي د مارچ په اوومه نېټه د ګیلاني ګوریلا NIFA جنګیالیانو له جلال آباد څخه دوولس میله لري ثمرخېل د نجیب له ملګرو څخه ونیو- لکه مخکي چي یې ذکر وشو د نجیب مخالیفو ګاونډیانو په دغه جنګ کي د حمله کوونکو په ټینګه ملاتړ وکړ خو افغانانو دهېواد دِفاع وکړه او د روس غوندي د نورو لاس وَهنکو غاښ یې هم ورمات کړل- مجاهدینو د جلال آباد پر ښار وس تمام کړ او غونډه میاشت یې جنګ ته دوام ورکړ خو برے یې ونه موند- په جولایي کي حکومتي فوجونو ثمرخېل هم بېرته له دوی څخه ونیو- د جلال آباد تر دِفاع وروسته چي کله په مارچ ۱۹۹۰ کي د نجیب الله خلاف شاهنواز تڼي (د دفاع وزیر) بغاوت وکړ نو هم دا

ثابته شوه چي په زور له نجيب څخه واك اخستل د چا د وس خبره نه ده- کله چي د تڼي بغاوت ناکامه شو او دۀ په تېښته ګاونډ ته مات سر يووړ نو نجيب الله په هېواد کي د سولي په خاطر نور پرمختګ وکړ-

په همدغه کال د مې په يويشتمه نجيب الله فضل حق خالق يار چي کمونيسټ نه وو د افغانستان وزير اعظم کړ او يوه هفته وروسته يې په اتويشتمه نېټه لويه جرګه را وغوښته چي په آئين کي د بدلون راوړلو کار پېل کړي- په جون کي د يورپ ټولو سفارتخانو بېرته په کابل کي کار شروع کړ- د اګست په آخرکي نجيب الله په سرکاري دوره ډيلي ته ولاړ- د ستمبر په درېيمه نېټه دۀ په پېرس کي د مللِ متحده په يوۀ کانفرنس کي ګډون وکړ او د فرانس له خارجه وزير سره يې هم ليدنه کتنه وکړه- د نومبر په نولسمه دے د جنېوا ميټينګ ته ولاړ چيري چي دۀ له افغانانو سره د يوۀ قامي حکومت د جوړولو په حقله خبري اتري وکړې- د۱۹۹۱ د اپرېل په شپاړسمه نېټه ډاکټر نجيب الله د ملي روغي جوړي او سولي اعلان وکړ چي هرافغان که هېواد ته راتګ غواړي نو په پراخه پښه دي راشي، حکومت به ورسره بېله څه اِمتيازه مرسته وکړي-

د کال ۱۹۹۱ په آخر کي روس او امريکا يوه لوظنامه سره لاسليك کړه چي روس به د نجيب الله حکومت ته نوره وسله نه ورکوي او نه به امريکا د نورو سياسي ګوندونو مرسته کوي- افغانان به د خپلي شخړي حل په خپله لټوي- ځکه ډاکټر نجيب د ټولو سياسي ګوندونو سره د يوۀ ملي سياسي حکومت دجوړولو او ساتلو په هلو ځلو لګياشو- ددۀ ځيني پلويان چي په دې پوهـ شول

چي اقتدار پر تلو دے نو يې نوي لاري لټولې- ځينو فوجي افسرانو يې د احمد شاه مسعود سره لاس يو کړ او ځينو يې د فوجي بغاوت لار خپله کړه- ځکه دے په کال ۱۹۹۲ کي د اپرېل په پنځويشتمه نېټه د ملل متحده په دفترکي پناه اخستلو ته ترخپل کار پوره کولو لمخه اړ شو او د طالبانو تر وخته په همدغه دفترکښې استوګن ؤ-

د پاکستان وزير اعظم نواز شريف د مجاهدينو مشران سره راوبلل چي په ګډه يو ملي حکومت جوړ کړي- د مجاهدينو تر منځ په ۲۴ اپرېل ۱۹۹۲ **دپېښورلوظنامه** وشوه چي صبغت الله مجددي به د ټولو مجاهدينو له خوا د دوو مياشتو دپاره د دوی عبوري حکومتي مشر وي- بيا به تر څلورو مياشتو پوري رباني دعبوري مشر په توګه کار کوي چي يو عبوري کونسل به جوړوي- کونسل به په ۱۸ مياشتو کي انتخابات کوي- مجاهدينو د پنځوسو(۵۰) غړو شوریٰ يا کونسل جوړکړ- ګلبدين دغه لوظنامه لاسليك نه کړه ولي چي دهٔ د دفاع وزير(مسعود) تر وزيراعظم (ګلبدين) لاندي ساتل غوښت نه چي تر صدر لاندي- ګلبدين حکمتيار په همدغه کال د اګست په مياشت کي پر کابل لوی شمېر توغندي ورتس کړل او د ښار ډېرمالي او ځاني زيان يې وکړ- د ۱۹۹۳ د مارچ په مياشت کي يوه بله لوظنامه په اسلام آباد کي وشوه په کومه کي چي دے وزيراعظم وټاکل شو خو بيا هم کابل ته ستون نه شو-

د مجددي د دوو مياشتو صدارت په کابل کي تر دوو کالو يعني تر اکتوبر ۱۹۹۳ پوري دوام درلود- شوریٰ برهان الدين رباني د يونيم کال دپاره دمجاهدينو د کونسل عبوري مشرکړے ؤ خو دهٔ هم د لوظنامې سره سم يونيم کال وروسته خپله عُهده پرې نه ښووه او

تر۱۹۹۶ پورې يې اقتدار ته دوام ورکړ- دۀ د خپل صدارت ټول وخت د نورو مجاهدينو سره په جنګ تېرکړ- ګلبدين حکمتيار يې دڅه وخت د پاره وزيرِاعظم کړخو سره وَنه چلېدل- ډېر ژر د ګلبدين حکمت يار ملګرو پر کابل حملې پېل کړې او يو ځل بيا يې پرښار



عکس نمبر80 مجاهدين مشران

د توغندويو باران وکړ- تر دغو حملو وروسته خلک د نورو ګوندونو په شان له ګلبدين حکمتيارڅخه هم خوښ نه وو- چونکې مجاهدين په خپل منځ کې مُتحِد نه ووځکه په افغانستان کې ورور وژني نور هم دوام وَموند- وروسته حالات دومره خراب شول چې افغانستان په حقيقتت کې پر وړو وړو آزادو علاقو تقسيم ښکا ريد-

دملل متحده نماينده لخدار ابراهيمي[۸] په افغانستان کې د امن د پاره ډېرې منډې ترنډې وکړې خو مجاهدينو افغانستان جوړنه کړ بلکې وران يې کړ، ځکه نورو ګاونډيانو په هېواد کې لاس وهنه زياته کړه- د روس خلاف افغاني مزاحمت له دويم جنګِ عظيم څخه وروسته تر ټولو اوږد او خونړے جنګ ؤ- دا يو داسې اور ؤ چې سکارۀ يې لاتراوسه د نړۍ په نغَري کې دوديږي- مُجاهدينو ليډرانو

د افغانانو دامنيت ارمان پوره نه کړېلکي په خپلوکي يې هم څله وځنډل- نه ختمېدونکي جنګ نه يوازي پښتون والے تري يووړ بلکي داِسلام زرين اصولونه يې هم په هېرکړل- حرص اوځانځاني غوندي پرَدي خاصيتونه اوس په دغو روزل شوو ليډرانو کي داسي وکرل شول چي د خپلواکۍ او غېرجانبدارۍ فصلونو ته به خطره وي- په همدغو حالاتو کي چي کله د احمدشاه مسعود، عبدالرشيد دوستم، ګلبدين حکمتيار او نورو لوبغاړو ترمنځ "بزکشي"روانه وه[۳]، له کندهار ښار څخه يو نوي تحريك د "طالبانو"په نامه راپورته شو چي خلګو ته يې خپل مقاصد له جنګ پرستو توپکيانو څخه وسله اخستل، امن جوړول او اسلامي قانون راوستل وښوول[۹]-

## اخځليك

١ - راجه انور، دافغانستان الميه (The tragedy of Afghanistan)،
انګرېزي ترجمه خالدخالد حسن، لندن او نيويارك، ١٩٨٨

٢- هنري اېس براډشر، افغان كمونزم او روسي مداخلت
(Afghan communism and Soviet intervention) ، آكسفورډ
يونيورسټي پريس كراچي ، ١٩٩ -

٣- رسنياګم انجيلو، Afghanistan a Moderan History يعني د افغانستان
جديد تاريخ ، آيي بي ټارس لندن ٢٠٠٥ -

۴ - رفيع حبيب ا لله ، د افغانستان لنډكے تاريخ، دانش كتابتون، پېښور، ١٣٧٨

٥ - مېګنم رالف اېچ او نبي اېډن ، افغانستان: ملا ، ماركس او مجاهدين ، هارپر
كولن پبلكېشنز انډيا ١٩٩٨

۶ - هنري براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد (Afghanistan & Soviet Union).

Pukhto.Net

۷ - امین سیکل، مللِ متحده او افغانستان The UN and Afghanistan:A case of failed peace keeping intervention in Intrnational peacekeeping دربیم والیوم، د پسرلي گڼه، ۱۹۹۶ -

۸ - لخدار ابراهیمي ( په افغانستان کي د ملل متحده سپیشل نماینده) ، دَملل متحده و سیکرتري جرنل ته لیږلے راپورټ ، ۱۹ جولايي ۲۰۰۲-

۹ـ مکرجي اپراتم ، افغانستان: له دهشته تر جمهوریته ( Afghanistan from terror to freedom) سټرلنګ پبلشرز ډیلی ،ینډیا ۲۰۰۳

Pukhto.Net
پښتو

# ۲۸

# د طالبانو خوځښت

## او د امريکا مداخلت

کله چي ډاکټر نجيب الله د افغانستان واك پرېښوو نو صبغت الله مجددي په هېوادکي دعبوري حکومت لومړے مشرشو- لکه چي په تېرڅپروکي کي بيان شو، مجاهدينو دپنځوسو(۵۰) غړو شورىٰ جوړه کړه چي دويم مشر يې برهان الدين رباني ؤ- دوی چونکي په خپل منځ کي سره مُتحِد نه وو ځکه د ګلبدين حکمت يار ملګرو پر پايتخت کابل حملې پېل کړې- رباني ته د خپلي کمزورۍ احساس وشو او دا حقيقت هم ورباندي ځرګند شو چي دے يوازي د افغانستان واك په لاس کي نه شي ساتلای نو يې د ګلبدين حکمتيار سره "واك په ګډه" يعني په اقتدار کي د شراکت يوه لوظنامه لاسليك کړه او هغهٔ يې د لوی وزير په توګه وټاکهٔ- د لوظنامې له رويه چي کله د رباني مدت تمام شو نو دهٔ د لوظنامې خلاف خپل اقتدار نورهم اوږدکړځکه ګلبدين حکمتيار د وزير اعظم عهده پرېښووه او خپلو هلو ځلو ته يې دوام ورکړ- خو په کابل کي د جمعيت څخه د

پاکستان طمع ختلې وه ځکه يې نوو اړيکو ته ضرورت درلود[1]-
اسماعيل خان هغه وخت له کابله ځان آزاد ګاڼۀ او د مغربي افغانستان د ' امير' په توګه يې کارکاوۀ- پاکستان غوښت چي سياسي اوتجارتي ګټې ترې واخلي چي په کابل کي يې رباني حکومت او په ايران کي يې رفسنجاني حکومت دلاس وهني په معنا غندنه وکړه-

د کال ۱۹۹۳ د نومبر په مياشت کي د ايران صدر رفسنجاني په دغه لاس وهنه خواشني څرګنده کړه او د پاکستان وزيراعظمي بېنظير بهټو ته يې دا ورپه ګوته کړه چي که اسلام آباد خپلي لاس وهني ته دوام ورکړې نو ايران به دې ته اړ شي چي د مخنوي دپاره به يې عسکري لار خپله کړي[2]- کله چي بېنظير بهټو له تهران څخه وطن ته راستنه شوه نو يې د خپلو نزدې ملګرو سره يوه غونډه وکړه په کومه کي چي نصرالله خان بابر ورته څرګنده کړه چي که د افغان پاليسی پُرے ددۀ په لاس ورکړل شي نو به د ايران بشپړجواب وکولای شي[3]- نصرالله خان بابر د افغانستان له جنوب مغربي لاري په منځنی آسيا کي تجارتي ګټه اخستل غوښت ځکه يې د اسماعيل خان او دوستم سره هم اړيکي ولټولې- د کال ۱۹۹۴ په ستمبر کي بابر له شپږو سفيرانو سره هرات ته ولاړ او د اسماعيل خان سرۀ يې په دې لړ کي خبري اتري وکړې- اسماعيل خان د سياسي مرستي په عوض دا ومنله چي که د کندهار او هېلمند په سيمو کي د پاکستان تجارتي لاري وساتل شي نو دے به يې هم د حفاظت پابند وي- دوستم ته هم په شبرغان کي د تېلو ايستلو او په

مزارشریف کې د ټیلفون نظام ورکولو وعده ورکړل شوه[۲]- تر دې وروسته بېنظیر بهټو په همدغه کال د اکتوبر په اتویشتمه نېټه اشك آباد ته ولاړه چیرې چې دې له دوستم او اسماعیل خان سره لیدنه کتنه وکړه-

دکال ۱۹۹۴ د نومبر په میاشت کې طالبان د افغانستان پر سیاسي منظر د یوهٔ لوی قوت په توګه راپورته شول- دوی په اصل کې د مجاهدینو له منځه د هغوی پخپلو کې د جګړو له کبله راښېل شوي وو او د ملا محمد عمر اخوند تر مشرۍ لاندي یې له کندهار ښار څخه د توپکیانو خلاف کار پېل کړ- دغه طالبان هغه وخت ښکاره شول چې د پاکستان۳۰ تجارتي لاریاني توپکیانو له کوټې څخه د ترکمانستان په خوا پرلار ونیولې اوبیا دوی له توپکیانو څخه راخوشي کړې- د درو هفتو په لږ موده کې طالبانو ۲۵۰۰ جنګیالیان وموندل، چې بېخي نوې وسله یې پر وړو وه او په څه ناڅه یې زړه هم پوره ؤ- په کندهار کې فوجي ګاډۍ، ټانګونه، هېلیکاپټران او جهازونه هم ولیدل شول-[۴] طالبانو په ډېره چسپاندي سره دجنوب ټول ولایتونه ونیول، پرلوېدیځ مخ ترهراته وَرَسېدل او پر ختیځ یې هم تر کابله پر مختګ وکړ- عجبه خو داوه چې د مدرسو ساده طالبان څنګه دومره لوی او فعال قوت شول چې په دومره تېزي یې شل کلن جنګ سوړکړ او له وسلوالو جنګ سالارانو څخه یې وسلې ټولي کړې[۲]؟ ښکاره خبره ده چې دا یوازي د دوی خپل قوت خونه ؤ بلکي پاکستان، سعودي عرب او امریکا یې ټول مرستیالان وو- امریکا د طالبانو مرسته ځکه کوله چې د ایران خلاف یو بل مخالف قوت جوړ کړي او د منځنۍ آسیا څخه د تیلو او ګېس

پايپونه د افغانستان له لاري ترخليج پوري وغزوي[1] -

دا يو حقيقت دے چي طالبانو خپله اېجنډه هم درلوده- اوّل اوّل خو د طالبانو مقاصد له جنګ پرستو توپکيانو څخه وسله اخستل، امن جوړول او اسلامي قانون را وستل وو ځکه خلګو ورسره ټينګه مرسته وکړه- دوی له خپلي وعدې سره سم د هېواد په زياتو برخو کي اسلامي قانون راووست، افغانستان ته يې سياسي وحدت ورکړ او په هېواد کي يې د امنيت د پاره غوره کارونه وکړل- د طالبانو سره د هېواد ډېر د احترام وړ علما او روحانين هم ملګري وو ځکه خلګو وربانديي اعتماد کړے ؤ خو طالبانو خپل حکومت ته څه قانوني بڼه ورنه کړه- اولس يې په واك ورشريك نه کړ- د خپلي خوښي څه تش په نامه اِنتخابات يې هم ونه کړل- هيڅ پارليمان يا د اولس له خوا ترتيب شوې اِداره يې جوړه نه کړه- په توپك يې واك اخستے ؤ او په توپك يې ساتۀ لګيا وو- تر دې حده چي د دوی اميرالمومنين تر پايه پايتخت ته لا هم نه ولاړ- په کندهار کي هغۀ نه له خپله کوره را ووت او نه يې له چا سره د څه سپيناوے کاوۀ- د نظام چلولو دپاره چي يو هېواد څنګه مشر ته اړتيا لري، طالبانو هغه افغانستان ته ورنه کړ- په اسلامي نظام کي خو د امير ارزښت نور هم زيات وي ځکه نو د سم لارښود دنه لرلو له کبله طالبان لکه ړاندۀ داسي شول او لار ترې ورَکه شوه-

د ۱۹۹۵ د فروري په مياشت کي ګلبدين حکمتيار د طالبانو تر راتګ لمخه چاراسياب خالي کړچي د رباني حکومتي فوجونو ونيو خو د طالبانو د غوښتني په وخت يې بېرته په خوښه طالبانو ته ورکړ- تر دې حده چي يو خراب هېليکاپټر لا هم د سرکاري

فوج کاریګرو ورجوړکړ- مسعود د طالبانو سره نښتي نه غوښتې بلکې دوه ځله یې ورسره لیدنه کتنه هم وکړه، یوځل په مېدان ښارکې او دویم ځل په کابل کې- مسعود تر دغه وخته دطالبانو د امن او روغې جوړې هلې ځلې د هېواد په ګټه ګڼلې یا ښایي چې هغهٔ خپل نور دښمنان لکه عبدالعلي مزاري او عبدالرشید دوستم تر دوی لمخه زېرَول غوښت-

کله چې مسعود د ۱۹۹۵ دمارچ په شپږمه نېټه پرحزبِ وحدت یرغل وکړ نو دوې ورځې وروسته عبدالعلي مزاري طالبانو ته تسلیم شو او خپله وسله یې د طالبانو مخته کښېښوه خو ددهٔ ډېرو ملګرو د وحدت دهغې ډلې سره چې د ایران تر اثر لاندې وه او شېخ علي اکبري یې مشر ؤ شمالي اتحاد ته لاس ورکړ- ښایي چې طالبانو دغه د مزاري دهوکه وګڼله یا واقعي عبدالعلي مزاري له یوه عسکره وسله غوټه کړه ځکه د کندهار په خوا په الوتې هېلي کاپټر کې ووژل شو- تر دغې واقعې وروسته مسعود د کابل په خواوشا د طالبانو پر خزو حملې پېل کړې او د مارچ په نولسمه یې چاراسیاب هم ترې ونیو-

طالبانو اوّل ځل د پاکستان د منشا خلاف د ۱۹۹۵ په مارچ کې پر هرات هم حمله وکړه- عالمي تاریخ پوهان دا د پاکستان دویمه لویه غلطي ګڼي چې طالبان یې د ځان ګوډاګي وګڼل[۲] لکه چې لومړے یې ګلبدین حکمتیار ګڼلے ؤ، ولې چې په تاریخي توګه افغانان دچا مشوره اوري خو فېصله پخپله کوي- طالبانو اوّل نیمروز او فراه ونیول بیا د شینډنډ په خوا ور وغزېدل- همدغه وخت دوستم او مسعود دواړو د اسماعیل مرستي لره خپل فوجونه

راولپنډۍ- د رباني د حکومت هوايي حملو په افغانستان کي د طالبانو لوی زيان وکړ ځکه د دوی نور پر مختګ ګران شو- دوی تر څومياشتو په مشکل کي وو خو وروسته ګاونډيانو زاړه جهازونه ورجوړکړل او سعودي عرب هم د پيك اپ (Pick-up) ګاډيانو بخښنښ ورته وکړ ځکه يې په رګونو کي بيا وينه ښکاره شوه-

د اګست په درېيمه نېټه قِسمت ورسره يوه بله مرسته هم وکړه- له آرمينيا څخه دوَسلې ډکه يوه روسی طياره چي کله دکابل پخوا روانه وه نو د طالبانو ميګ طيارې په کندهار کي په ځوه کېدو مجبوره کړه- د اګست په مياشت کي اسماعيل خان پر طالبانو ځکه نور زور واچاوۀ چي په کابل کي پر حکومت دباؤ کم شي خو په همدغو څو مياشتو کي يوې خواته د مدرسو ډېر نور طالبان جنګ ته تيار شول او بلې خوا ته د جلال آباد تقريباً ۲۰۰۰ تربيَت لرونکو مجاهدينو هم د جلال الدين حقاني سره د طالبانو ملاتړ وکړ- د کال۱۹۹۵ تر آخره تقريباً ۲۵۰۰۰ طالبان جنګياليان جمع شول- د ستمبر په درېيمه نېټه اسماعيل خان له شينډنډ څخه شاته شو او په پنځمه نېټه يې هرات هم خالي کړ- له هرات څخه د اسماعيل خان تېښتي طالبانو ته زړه ورکړ او د رباني حکومت يې ولړزاوۀ- رباني پر پاکستان تور ولګاوۀ چي د طالبانو سره پاکستاني عسکر ملګري دي- په کابل کي د پاکستان خلاف مظاهره وشوه او پر سفارتخانه ډبري هم ور تسي کړل شوې- طالبانو د کال په آخرکي د کابل په خوا هڅه وکړه خو احمد شاه مسعود د ښار دفاع وکړه-

د کال۱۹۹۶ په جنوري کي طالبانو هم پر ښار توغندي ور وغورځول- دحکمتيار، او مسعود فوجونو تر ستمبره د طالبانو

مقابله وکړه خو آخر د دوی ملګري مات شول- د ستمبر په څلورويشتمه نېټه طالبانو درې اړخيځه حمله وکړه په کومه کې چې دحکومتي فوجونو ډېر زيان وشو- طالبانو له يوې خوا د لوی سړك پرڅنګ څنګ د کابل په لور پرمختګ ته دوام ورکړ، له بلې خوا يې پر شمال مخ په وړاندې د باګرام هوايي ډګر ته خطر جوړکړ او درېيم طرف ته يې له کابله دشمال پر لور وتونکے لوی سړك هم بند کړ- احمد شاه مسعود د پنځويشتم ستمبر په ورځ پر پُلِ چرخي خپل وس وکړ، له طيارو او هېليکاپټرانو يې هم کار واخست خو څه يې تر لاسه نه کړل- د شپږويشتم په ماځيګر احمد شاه مسعود خپل قومندانان سره راغونډ کړل او له ښاره يې د وتلو حکم ورکړ- دۀ په هوشياري سره د شمال په خوا وتونکے سړك خلاص کړ او د درنې وسلې سره يې خپل فوج له کابل ښار څخه د شمال پر لور روان کړ- تقريباً د ۱۰۰۰۰ طالبانو تر فشار لاندې رباني او حکمتيار دواړو شمال ته هڅه وکړه- د شمال نورو ورو ورو ګوندونو هم د احمد شاه مسعود او عبدالرشيد دوستم په شمالي اتحاد کې ګډون وکړ-

دا رنګه په کال ۱۹۹۶ کې طالبانو د ستمبر په او ويشتمه کابل هم ونيو او افغانستان ته يې "اسلامي امارت" نوم ورکړ- په کار خو داوه چې طالبانو "فتحِ مکه" په نظر کې اېښې وای او ابوسُفيان غوندې دښمنان يې هم بخښلي وای خو داسې ونه شو، دوی لومړے ځل دا ثبوت ورکړ چې د انسانيت احترام د طالبانو په ترجيحاتو کې نه دے- ډاکټر نجيب الله چې له څلورو کالوڅخه يې د مللِ متحده په دفتر کې پناه اخستې وه په ناوړه توګه ووژل شو او د مړي د توهين منظر يې ټولې نړۍ وکاتۀ- حالانکې دۀ ته د اسلامي عدالت

په وينا په سمه توګه هم د مرګ سزا ورکړل کېداى شوه-
دکابل ترنيولو وروسته که څه هم طالبان د افغانستان پر ۷۰ ٪ ځمکه واکمن شول خو د هېواد سياست پوهان ترې مايوسه وو- هغوى دې نتيجې ته ورَسېدل چي طالبان يو سنجيده سياسي قوت نه دے او نه تر ډېره د هېواد واګې ددوي په لاس ورکړل کېداى شي-
د شمالي اتحاد احمد شاه مسعود، عبدالکريم خليلي او عبد الرشيد دوستم د کال ۱۹۹۶ د اکتوبر په مياشت کي د وطن د فاع کونسل جوړ کړ چي مرکز يې مزار شريف ؤ[۴]- په همدغه مياشت کي شمالي اتحاد جبل سراج، باګرام او چاريکار بېرته ونيول او د سالانګ لويه لار هم طالبانو خوشي کړه ځکه دشمالي اتحاد فوجونه کابل ته بېخي ورنزدې شول- بلې خوا ته طالبانو بادغېس له دوستم څخه ونيو- اسماعيل خان له ايران څخه د ۲۰۰۰ تربيتيافته لښکر سره د دوستم مرستي ته راستون شو او په فارياب کي يې د هغهٔ مرسته وکړه- د نومبر او دسمبر په مياشتو کي له جنګ څخه پنځوس زره نفرو هرات ته هجرت وکړ چي له لوړي يوه انساني الميه ترې جوړه شوه- د کال ۱۹۹۶ په آخر کي د احمد شاه مسعود فوجونه هم له کابله لري وشړل شول-

د کال ۱۹۹۷ د مې په مياشت کي يو مشر ازبك قومندان عبدالرحمان حقاني ښايي چي د دوستم په حکم ووژل شو- دغې پېښې شمالي افغانستان هم ولړزاوهٔ- په مېمنه کي د پنځه دېرش کلن عبدالمالك پهلوان دا وېره وشوه[۵] چي د دوستم دويم هدف به دے وي ځکه يې له دوستم څخه ځان لري کړ- د دوستم او د هغهٔ د قومندان عبدالمالك ترمنځ د اختلاف نتيجه دا شوه چي مالك

پهلوان د طالبانو سره مل شو او اسماعیل خان یې د طالبانو په لاس ور کړ- دوی پر مزارشریف حمله وکړه او تر لوی نُقصان وروسته یې ښار ونیو- عالمي تاریخپوهان[۲] د مالك پهلوان او طالبانو تر منځ د روغې ثالث پاکستان ګڼي ولي چي د مې په درویشتمه نېټه د کونسلېټ کارکوونکي ټول د جنګ له کبله د مللِ متحده په طیاره کي اسلام آباد ته وتښتېدل خو په پنځویشتمه نېټه بېرته د خاریجه وزیر او نورو مشرانو سره مزارشریف ته راغلل- په یوهٔ پرېس کانفرنس کي پاکستان طالبان د افغانستان د واکمنو په توګه په رسمي توګه وپېژندل- سعودي عرب او عرب امارات هم د مزارشریف ترنیولو وروسته طالبان په رسمي توګه وپېژندل- طالبانو د مزار شریف تر نیوني وروسته هم هېواد والو ته په درنه سترګه ونه کتل- دوی څه سیاسي بصیرت هم نه کړ ښکاره ځکه د هېواد خلګ پر راټول نه شول- طالبان د مالك پهلوان سره پر کَړو وعدو هم پښېمانه شول- دوی به د وعدې په ترڅ کي نایب خاریجه وزارت عبدالمالك پهلوان ته ورکاوهٔ خو داسي ونه شو- دوی یونیورسټۍ (پوهنتون) او سکولونه (ښوونځي) بند کړل، د اِنجونو پر تعلیم یې بندیځ ولَګاوهٔ او د ښار نظام یې دومره برباد کړ چي خلګو بېرته پردوستم شُکر وکړ-

ډېرژر د ښارخلګو بغاوت وکړ او طالبان چي د ښار په جنګ بلد نه وو په کوڅو کي راګیر شول[۴]- چا له چتونو په خښتو ویشتل، چا وربالندي ډزي کولې او چا له کورونو څخه اورونه پر پاشل، ځکه دې ته اړ شول چي ښار بېرته خوشي کړي- خواوشا شپږ سوه تنه یې ووژل شول او په زرګونو ژوبل وو- د طالبانو خاریجه وزیر او نور ډېر

مشران هم د تېښتي په حال کي پر هوايي ډګر ونيول شول- د مالك پهلوان ملګرو ښار لوټ کړ او بېرته يې خپل هغه څلور ولايتونه کنټرول کړل کوم چي پنځه ورځي وړاندي طالبانو ته تسليم شوي وو- عبدالمالك او خليلي د جون د مياشتي په ديارلسمه د دوستم له ترکستان څخه د بېرته راتلو له وېري يو اتحاد جوړکړ-

بلي خواته د احمد شاه مسعود قومندانانو د طالبانو د وتو لاري ونيولې- په زرګونو طالبان يې ووژل او لوی شمېر يې بنديان کړل- شمالي اتحاد هم په دغه جنګ کي د بشري حقوقو هيڅ خيال ونه ساتۀ او د يوۀ سنجيده سياسي قوت ثبوت يې ورنه کړ- د شمالي اتحاد د تحمُل او تدبُر ټولي دعوې دغي المېې غلطي کړې- د ستمبر تر مياشتي له دواړو خواوو تقريباً اووه زره کسان ټپيان شول- په دغه جنګ کي درې زره طالبان ووژل شول او تخميناً درې زره شپږ سوه بنديان هم شول-

تر دغي ماتي وروسته ملا محمد عمر اخوند لومړے ځل له کندهار ښار څخه کابل ته ولاړ- دۀ د خپلو قومندانانو سره ليدنه کتنه وکړه او حوصله يې ورکړه چي زړه وانه چوي- ملا عمر اخوند له مدرسو څخه داخواست هم وکړ چي طالبان جنګ ته را ولېږي- تر دغي غوښتني وروسته د پولي له دواړو خواوو څخه د مدرسو په زرګونو طالبان د کابل پخوا روان شول- داسي مدرسې هم وې چي طالبان يې ټول جنګ ته ولاړل او ترڅه مودې بندي پاته وې-

د ۱۹۹۷ د اګست په مياشت کي شمالي اتحاد هغه وخت له لوی مشکل سره مخامخ شو کله چي د دوی نوے ټاکل شوے وزيرِاعظم عبدالرحيم غفورزے د څلوېښتو نورو مشرانو سره د

طیارې په راغورځولوکي ووژل شو- د ستمبر په میاشت کي طالبانو د قندوز له خوا بېرته د شمالي اتحاد پر فوجونو حمله وکړه- دستمبر په اومه نېټه یې شکرګان ونیو اوپر مزار شریف یې ور وَدانګل- په همدغو ورځوکي دمالك پهلوان اودوستم ترمنځ خونړے جنګ وشو په کوم کي چي مالك مات شو او د ترکمانستان له لاري ایران ته وتښتېد- چونکي د مزار شریف واك د هزارَګانو په لاس کي ؤ ځکه طالبانو د هزارجات په خوا غزېدلي ټولي لاري ونیولې- کریم خلیلي د عالمي مرستي د تر لاسه کولو په نیت تهران، انقره، ډیلي او ماسکو ته ولاړ- ایران د طیارو په ذریعه بامیان ته ډېر عمومي اوعسکري سامانونه وَرسَول[۲] -

طالبانو په ژمي کي د شمالي اتحاد ترمنځ دجګړو نظاره کوله- د کال ۱۹۹۸ د فروري په میاشت کي د اُزبکو او هزارَګانو ترمنځ درنې نښتي وشوې- احمد شاه مسعود د دوی د روغې په نیت ایران ته هم ولاړ چي شمالي اتحاد مات نه شي- په همدغه کال ایران او روس په ښکاره د شمالي اتحاد مرسته وکړه- ایران له مشهد څخه د وسلې ډکي طیارې بامیان ته واستولې او روس په تاجکستان کي د دوی د مرستي په غرض وسله جمع کړه-

طالبانو هم خپل خواخوږي درلود[۶]- د سعودي انټېلیجنس مشر شهزاده تُرکي الفېصل د جون په میاشت کي کندهار ته راغے او د مالي مرستي سره یې څلور سوه نور پیکپ موټران هم طالبانو ته ورکړل- پاکستان هم دوه بیلیونه روپۍ په خپل بجټ کي د طالبانو د مرستي په نیت کښېښوولې- دکال ۱۹۹۸ په جولایي کي طالبانو له هرات څخه پرمېمنه حمله وکړه او ترخپل واك لاندي یې راوسته- له

مېمنې څخه دوی ته سل ټانګان هم په لاس ورَغلل- د اګست په لومړۍ نېټه دوی د دوستم څخه شبرغان هم ونیو او دے یې اُزبکستان ته په تېښته مجبور کړ چي بیا ترکي ته ولاړ- د اګست په څلورمه نېټه طالبانو د هزارګانو مقابله وکړ په کومه کي چي د هزارګانو لوی زیان وشو- طالبانو په مزارشریف کي هم هغه څه وکړل چي هزارګانو یو کال وړاندي ورسره کړي وو- دوی ژر مزاره او بامیان تر خپل کنټرول لاندي راوستل او ملا نیازي یې ور ګورنرکړ- په همدغه اګست کي د طالبانو یوهٔ بل قومندان ملا دوست محمد د ایران یوولس سفارتکاران ووژل- ایران د دغو سفارتکارانو په وژنه کي د پاکستان لاس هم لید ځکه یې تر وژني لمخه لا د پاکستان څخه د دوی د ژغورني غوښتنه کړې وه- لنډه دا چي په اګست ۱۹۹۸ کي طالبانو تقریباً ۹۰ ٪ افغانستان تر خپل واك لاندي راوړ[۱] -

د طالبانو له ځینو ملګرو څخه لویې غلطیاني وشوې- دهېواد لایبرېریاني او دوکانونه له تاریخي او تهذیبي کتابونو څخه ځکه خالي شول چي طالبانو هغه ټول کتابونه وسوځل په کومو کي چي تصویرونه وو- د کابل، هرات کندهار غزني او نورو ښارونو علمي خزانې یاخو دوی وسوځلې یا بیا د نورو هېوادونو په کوڅو کي په نه څه خرڅي شوې- د هېواد تهذیبي او ثقافتي میراث لوټ شو- د کابل موزېم د ورانوَلوحکم ورکړل شو- طالبان کابل موزېم ته ننوتل او د کوشاني باچا کنیشکا هغه مجسمه یې هم ماته کړه کومه چي یوه تهذیبي نخښه وه او له دوو زرو کلونو څخه خوندي ساتلې شوې وه- دا خلګو د کوشاني شهزادۍ مجسمه هم ټُکر ټُکر کړه- تر درو

میاشتو پوري دوی هره ورځ د موزېم مجسمې او نوري تهذیبي او ثقافتي نخښي ماتولې[۲]-

په کال ۲۰۰۱ کي دوی په بامیان کي د بودا لوی او پخواني بتان هم په بمونو والوزول- دا نه یوازي د افغانستان لوی زیان ؤ بلکي د نړی د ډېرو خلګو زړونه په ودړدېدل، ولي چي د دغو بتانو عبادت خو دا وخت هیچا هم نه کاوۀ بلکي د تهذیبي نخښو په توګه په هېواد کي خوندي وو- دا بتان د یوۀ تهذیب یادګارونه وو او د هېواد ثقافتي نخښي وې- د بامیان دغه بُتان په ټوله نړی کي د بودا تر ټولو لوی بتان وو چي د غازي امان الله خان په وخت کي د حفاظت په غرض په قامي ملکیت کي اخستل شوي وو-

د هرات هغه زوړموزېم هم طالبانو تباه کړ چي پکې د افغاني تاریخ ډیري زړې نخښي پرتې وې- د سکندر اعظم د وخت ډېر لوښي، مجسیمې او ګلدانونه په دغه موزېم کي افغانانو له زرګونو کلونو څخه خوندي ساتلي وو- تر دغو پېښو وروسته د نړی نورو قامونو طالبانو ته په ښه نظر نه کتل- یوې خوا ته د امریکا او د یورپ د طالبانو حکومت نه ؤ خوښ او بلي خوا ته د عرب مجاهدینو په افغانستان کي استوګنه هم هغوی ته لوی خنډ وه- ځکه امریکا پر کابل میزائل ورتس کړل او د کابل سره نژدې د اسامه بن لادن تربیتګاه یې تباه کړ خو اسامه په خېریت له دغه ځایه و ووت[۱]-

امریکا پر اسامه داتور لګولے ؤ چي نومَوړي څه وخت مخکي په تنزانیه او کېنیا کي د امریکا پرسفارتونو، بمونه غورځولي وو په کومو کي چي ډېرخلګ وژل شوي هم وو- ملل متحده په نومبر

۱۹۹۸ کي پر افغانستان ځکه اقتصادي اوتجارتي بنديځونه ولګول چي طالبان د بشري حقوقو خيال نه ساتي- امريکا د طالبانو څخه دا غوښتنه وکړه چي اسامه بن لادن د خپل هېواد څخه وباسي- طالبانو چي کله انکار وکړ نو په کال ۲۰۰۰ کي د دسمبر په مياشت کي پر افغانستان نور بنديځونه هم ولګېدل په کومو کي چي د وسلو د اخستلو بنديځ هم شامل ؤ[۳]- تر کال ۲۰۰۰ پوري ۹۰ في صده افغانستان د طالبانو تر واك لاندي ؤ خو دُنيا په رسمي توګه د دوی حکومت نه ؤ پېژندلے-

ملل متحده شمالي اتحاد او برهان الدين رباني په رسمي توګه پېژندلي وو- شمالي اتحاد د احمد شاه مسعود تر کمان لاندي د طالبانو سره په جنګ ؤ- لوی شمېر خلګ په دغه خانه جنګي کي ووژل شول او ډېرو له وطنه بيا هجرت وکړ[۴]-

دقدرت شان ؤ چي له۱۹۹۰څخه په مرکزي آسيا او افغانستان کي اوړېده وچکالي شوه چي د ملت صبر او حوصله يې ولړزوله- کله چي په کال ۲۰۰۱کي طالبانو په افغانستان کي موجود بتان مات کړل نو نړی والو په ډاګه د دغه فعل غندنه وکړه- په همدغه کال د ستمبر په مياشت کي يوه لويه پېښه دا وشوه چي د شمالي اتحاد مشر احمد شاه مسعود په يوه سرتېره (خودکش) حمله کي ووژل شو، په کومه کي چي حمله کوونکي د عرب صحافيانو په جامو کي ورغلي وو[۱]-

دوې ورځي وروسته يعني د ستمبر پر يوولسمه (۱۱) نېټه، په کال۲۰۰۱ کي د امريکا پر ورلډ ټرېډ سېنټر او پنټاګان حملې وشوې- امريکا د دې حملو زمه وار اسامه بن لادن وبالۀ[۷]- ورلډ

ټرېډ سېنټر، په نيويارك ښارکي، د نړۍ تر ټولو غټ اقتصادي مرکز ؤ- ددې مرکز دوه غبرګولي مينارونه وو چي يَو ۱۳۶۲ فټه يعني ۴۱۵ مِتره جګ او ۱۱۰ مزله لوَړ ؤ او بل ۱۳۶۸ فټه يعني ۴۱۷ مِتره جګ ؤ- د دواړو چتونه يو يو ايکړ پراخ وو- د ستمبر په يوولسمه نېټه د امريکا څلور جهازونه وتښتول شول او دوه جټ لاينر جهازونه په دوو غبرګولي مينارونو کي ونښتل- دواړو مينارونو اور واخست او ورو ورو يو په بل کي را ونړېدل- په دغه پېښه کي ۲۷۰۰ کسان مړه او ۷۰۰۰ پکي ټپيان شول- درېيم تښتَول شوے جهاز په واشنګټن کي د دفاع په عمارت پنټاګان کي وَنښت او تباهي يې جوړه کړه- څلورم جهاز په پنسلوانيه کي امريکايانو پخپله را غوځار کړ او هغه تر خپل هدفه، چي سپينه ماڼۍ وه، وَنه رسېد- دا حملې د نړۍ په تاريخ کي يو عجوبه غوندي حملې وې چي د نړيوالو سره ما هم پر ټليوژن وکتلې-

د امريکا صدر جارج بش د دهشتګردۍ خلاف د جنګ اعلان وکړ او د نړۍ څو نور ملتونه يې هم د ځان ملګري کړل[۸] - امريکا د القاعده مشر اسامه بن لادن او دهغهٔ ملګري، کوم چي د روسيانو خلاف د جهاد څخه وروسته په افغانستان کي استوګن وو، د دغو حملو زمه وار وګڼل- په دې لړ کي امريکا د طالبانو څخه له خپلي خاوري نه د اسامه بن لادن د ايستلو پرغوښتنه ټينګار وکړ- د طالبانو شورىٰ هم دغه سفارش وکړ چي ترڅه وخته د اُسامه له افغانستان څخه وتل دا هېواد له ډېره زيانه بچ ساتلاى شي خو د طالبانومشر ملامحمدعمراخوند د اُسامه بن لادن له افغانستان څخه د ايستلو نه انکار وکړ-

امريکا د کال ۲۰۰۱ د اکتوبر په مياشت کي پر افغانستان حمله وکړه[۶]- په شمالي اتحاد کي شامِل ګوندونو د امريکا په مرسته د طالبانو خلاف جنګ ته دوام ورکړ- ملل متحده هم د شمالي اتحاد مرسته وکړه- په همدغه مهال د افغانستان يو غښتلے او آزاد کمانډر عبدالحق[۹] چي په خلګو کي يې ريښې درلودې له پېښوره جلال آباد ته په دې نيت روان شو چي تر طالبانو وروسته د هېواد خلګ سره راغونډ کړي او د پردو له لاس وهني خپل وطن وژغوري- چونکي د افغانستان دا خواخوږے د نورو هېوادونو د اېجنسيانو خوښ نه ؤ ځکه د طالبانو د دور په آخري ورځوکي شهيد کړل شو-

امريکايانو پر افغانستان بمبارئ ته دوام ورکړ- طالبانو تر يوې مياشتي پوري څه ناڅه مزاحمت وکړ خو ورو ورو يې واك له لاسه ووت لګيا ؤ- د نومبر تر مياشتي دوی د ډېرو ښارونو واك بائلوو- وروسته امريکائي پياده فوجونه هم افغانستان ته را داخل شول او د طالبانو حکومت يې ورختم کړ[۱۰]- امريکا د اُسامه بن لادن او ملا عمراخوند تلاش ته دوام ورکړ خو تر اوسه لا هم دوی په لاس نه دي ورَغلي-

د ځينوليکوالو او پوهانو[۱۱] دا وَيَني چي" طالبان خو تش په نامهٔ حکمرانان وو اصل کنټرول او طاقت خو د عرب جنګياليانو په لاس کي ؤ" او يا بيا دا چي دوی د نورو ګوډاګي دي، د خلګو په ذهنونو کي دا شك هم واچاو چي د دوی حکومت هم د پرَديو تېرے دے- افغانان چونکي فطرتاً آزاد خلګ دي ځکه دوی د خپلواکئ خلاف نه څه اورېدل غواړي او نه څه ليدلای شي- دغو خبرو هم د

خلګو په زړونو کې مايوسئ وکړلې- جُمات چې له ډېر پخوا څخه د پښتنو يو مُهم قامي مرکز ؤ په همدغو وجوهاتو دطالبانو تر حُکمرانۍ وروسته وران شو- په پښتني ټولنه کې د لويو فېصلوکولو ځايونه جُمات او حُجره وو خو د طالبانو حکومت د دغو دواړو اِدارو ترمنځ نفاق را ووست- افغاني ټولنه ته يې لوی زيان دا ورَساو چې مُلا يې هم له بهَره نازل شوي جنګ کې **فريق** کړ او د قبايلو ترمنځ يې د دهٔ د **ثالث** حېثيت ور مشکوك کړ- هېواد وال اوس په لوی زړه د مُلا او طالب هغه ثالثي او د خېرخبري نه قبلوي کومې چې دوی له پېړيو مَنَلې- په هېواد کې تر سرتېرو (خودکش) حملو وروسته د روا او ناروا بحث هم پېل شو ولې چې په دغو حملو کې لوی شمېر بېګناه خلګ هم ووژل شول- د ډېرو جرمونو په تور نيولي خلګ په چړو حلال شول او پر ډېرو دېوالونه راونړول شول- ډېر د مخبرۍ په تور بېله څه ثبوته ووژل شول- دارنګه په پښتني ټولنه کې د ملا او طالب هغه ځای پاته نه شو کوم چې پخوا ؤ ولې چې پښتنو مُلا د حاکم په توګه نه ؤ ليدلے بلکې د ناصح په توګه يې پېژندلے ؤ-

## اخځليك

۱ - احمد رشيد ، طالبان، اسلام ، تېل اوپه منځنۍ آسيا کې نوې لويه لوبه

(Taliban, Islam, Oil and th New Great Game in Central Asia)

آئي بي ټارس، ۲۰۰۰

۲ - رسنياګم انجيلو، Afghanistan a Moderan History يعني د افغانستان

جديد تاريخ ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۲ - اعجاز حیدر، (Pakistan's Afghan Policy and its Fallout's) یعني دپاکستان افغان پالیسي، Central Asia Monitor نمبر ۵ ، ۱۹۹۸ -

۴ - کرسټینا لیمب ، د طالبانو افغانستان ( The sewing circles of heart) ، ترجمه محمد یحي خان ، نګارشات لاهور ، ۲۰۰۴ـ ۳

۵- کریسټوفر کریمر ، دَ غالیو جنګ (The Carpet Wars) ، هارپر کولن پبلیشرز، لندن ، ۲۰۰۲ -

۶ - مکرجي اپراتم ، افغانستان: له دهشته تر جمهوریته ( Afghanistan from terror to freedom) سټرلنګ پبلشرز، ډیلی، اینډیا ، ۲۰۰۳

۷- یوسف بوډنسکي ، بن لادن : چا چي پر امریکه هم وار وکړ (Bin Laden:The Man Who Declared War on America ) پرایما پبلیکاشنز ، روکلن ، کیلیفورنیا ، ۱۹۹۹ -

۸ - کولي جان کې، غیر مقدس جنګ ( Unholy Wars: ( Afghanistan, America and InternationalTerrorism پنګوئن بُکس انډیا ۲۰۰۰

۹ - مکرجي اپراتم ، افغانستان : د عبدالحق قتل (Afghanstan: The Execution af Abdul Haq ) ، میبن سټریم ، نوے ډیلے ، ۳ نومبر ۲۰۰۱

۱۰ - بالز ډین او وُډ ورډ بوب ، د امریکا د جنګ لاره غیر دانشمندانه ده (America,s Chaotic Road to War) واشنګټن پوسټ ، ۲۷ جنوري ۲۰۰۲ -

۱۱ - جدون شاهد اقبال، وانا آپریشن، انټیلیجنس پبلیشرز، اردوبازار، لاهور، ۲۰۰۳ -

# ۲۹

# تهذیبي،تاریخي اوثقافتي ورثه

که څه هم په شلمه پېړۍ کې مغربي میډیا د افغانستان یو جنګ پرستانه تصوّر مخ ته راووست، خو دا هېواد له ډېرپخوا څخه د لویو لویو تهذیبونو مرکزپاته شوے دے- مېګیلن (Mageelan)، چا چې د یورپ او آسیا سمندري لاري اوّل ځل لټولي وې، په خپله زمانه کې د دې حقیقت تصدیق کړے ؤ چې افغانستان دقدیم تهذیب او ثقافت یو لوے مرکز دے- په افغانستان کې د پامیر د دنګو غرونو لوړ مقام ، نومیالي ګرځندوی مارکوپولو "د نړۍ څوکه" بللې ده[1] - یونیسکو هم د زړو نخښو (آثارِقدیمه) په حواله د افغانستان هرات ښار د یونان د ایتهنز ښار برابر ګڼلے دے -

د دغو زړو تهذیبونو لوی شمېر نخښې (آثار) تر شلمي پېړۍ پوري د افغانستان په ځمکه کې خوندي وې- له تېرو یونیم سلو کلونو څخه دا هېواد د لویو قوتونو ترمنځ د جنګ میدان دے ځکه په سیاسي او سماجي توګه له ډېرو لویو ستونزو سره مخامخ دے- په دغو حالاتو کې هم افغانستان د کوشانیانو د محَلونو او کلاګانو

ځمکيندنه وکړه او د آسيا تر ټولو لويه تهذيبي ورثه يې وموندله او بيا يې وَهم ساتله-

تر دويم عالمي جنګ پوري خو پر زړو تهذيبي او ثقافتي نخښو څه خاص کار نه ؤ شوے- تر دې وروسته د زړوآثارو ماهرانو په نادعلي کي د ځمکيندني په کار پېل وکړ- د ساکستان (سيستان) هغه زاړه آثار يې ترلاسه کړل کوم چي تر عيسي عليه السلام لا هم زرکاله پخواني دي- په افغانستان کي تر تاريخ ليکني وړانديني (Pre-historic) زړوآثارو پلټنه هم په کال ۱۹۴۹ کي پېل شوه- د افغانستان خپل وسايل دومره نه وو چي پخپله توګه يې ځمکيندنه کړې وای ځکه يې په دغه کار کي د امريکا د قدرتي تاريخ د موزيم (American museum of natural history) د يوۀ ګروپ مرسته قبوله کړې وه- په ۱۹۵۰ کي يو بل ګروپ وايسراې فېر سروس (Viceroy fair serves) کندهار ته نِژدې په ځمکيندنه لاس پوري کړ-

له کال ۱۹۵۱ زېږدي څخه تر ۱۹۵۸ پوري د زړو آثارو ماهري مېرمن جين مېري کاس په منديګاك کي دځمکيندني له امله د مِسّو د دور قيمتي قامي خزانه راوکښه- په کال۱۹۶۰ کي د ايټلي يو ماهر سلوايور ايم پګلسي له ايبك څخه د ډبرين دور ډېري توري، اوزار او د استعمال نور ډېر شيان وموندل- په ۱۹۶۶ کي د بدخشان په علاقه "کوه" کي ډوبري د خپلو افغانانو، امريکايانو او فرانسويانو ماهرانو په مرسته څلور نور زاړه ځايونه وموندل چيري چي د زړو تهذيبونو ډېر آثار وو- په دغو آثارو کي د ډبرين دور، د مسودور، د وسپني دور او د اسلامي دور ډېر آثار موندل شوي وو-

له دغو آثارو څخه دا حقيقت هم څرګند شوے ؤ چي دا زاړه شيان هماغو زړو آثارو ته ښېخي ورته ووکوم چي په يونان، روم ، او فرانس کي موندل شوي وو- د مثال په توګه د افغانستان "سوريه" او د روم "اپالو" سره ورته دي- د اټلي رېمس، د پېرس نورډېم او په افغانستان کي موندل شوي آثار هم سره ورته دي- دا تهذيبي نژدېکت د يوې تهذيبي څپې غوره ثبوت ګڼل کېداى شي- تر اوسه په افغانستان کي د بودايي مذهب تر زرو زياتي مجسمې موندل شوي دي- افغانستان دا تهذيبي ورثه په کابل کي د يوۀ لوی موزېم په توګه خوندي کړے وه-

تر محمود غزنوي وروسته خو د افغانستان هر څه ښکاره دي- غزني د هغۀ پايتخت ؤ او د خپل وخت ډېر ښايسته ښار ؤ- محمود دا ښار د بغداد په مقابله کي د اسلامي نړۍ دويم ترقي يافته ښار جوړول غوښت ولي چي هغۀ د بغداد تر اثر لاندي نه ؤ او په هندوستان کي اسلام خورَوونکے لومړے مسلمان حکمران ؤ- دے يو علم دوست افغان ؤ چي په دربار کي يې ډېر ستر پوهان سره غونډ شوي وو- په کال۱۹۶۰ کي د غزنوي دور د آثارو پلټون هم وشو-

امان الله خان يو وېښ او د هېواد خواخوږے مشر ؤ- هغۀ خپل پايتخت د جرمني او فرانس په ماهرانو جوړ کړ- دارالامان هم دۀ جوړ کړ او د رېل پټړۍ يې د ښاره څخه تر دار الامان پوري وَغزوله چي شپږ ميله اوږده وه- په پغمان کي يې د سويزرلېنډ غوندي د سَيل ځايونه جوړکړل- د کابل لوی موزېم هم امان الله خان جوړکړ[۲]- ورو ورو د هېواد ټول پخواني آثار په همدغه موزيم کي خوندي کېدل، چي د ظاهر شاه تر دوره لا هم په بشپړه توګه خوندي

ساتل شوي وو- خو د روسانو خلاف په افغاني مزاحمت کې د تهذیب دغو آثارو ته ډېر لوی نقصان وَ رَسېد-

په کابل موزیم کې د پیتلو، سرو زرو او سپینو زرو دسیکو ډېر لوی تعداد خوندي ؤ خو له بده مرغه روس په افغانستان کې مداخلت وکړ او د هېواد دغو خزانو ته یې هم لوی زیان ورَساوۀ- په کابل موزیم کې تقریباً د هغو ټولو تاریخي شیانو نمونې خوندي وې کومې چې تر اوسه په نړۍ کې موندل شوي دي- د دغه موزیم لوی شمېر نخښې د کوشانیانو د دور له محلونو څخه لاس ته راغلي وې چې پکې د سکندر د دور لوښي هم وو- د لرغوني دور ډېري نایابه مجسیمې په همدغه موزیم کې خوندي وې- په کابل موزیم کې د آسیایي آرټ هغه نمونې هم وې چې د لومړي عالمي جنګ په ورځو کې له ځمکیندني له امله لاس ته راغلي وې[۳]-

له روسي مداخلې سره سمه د افغانستان دغه تهذیبي او ثقافتي ورثه ورو ورو و نورو ملکونو ته منتقله شوه- په روس، امریکا، یورپ، ایران او پاکستان کې دغه تهذیبي آثار په نغه خرڅ شول- په کال ۱۹۷۹ کې د کابل موزیم ډېر قیمتي او نایاب څیزونه غلا شول خو بیا هم په دغه موزیم کې ډېر څه پاته وو- په کال ۱۹۹۲ کې د مجاهدینو حکومت جوړ شو- د موزیم ساتنه ډېر ګران کار شو، ولې چې هره روځ به دَ یوۀ نه یوۀ ګروپ یو نه یو توغندے پر کابل موزیم نښت-

افغانستان له زرګونو کلونو راهسي دعالمي تهذیبونومرکز ؤ- دا سیمه د ختیځ او لوېدیځ (مشرق او مغرب) ترمنځ د تجارت مرکز ؤ- په عسکري توګه هم افغانستان د فاتِحانو په نظر کې له پخوا

څخه مهم پاته شوی دی- ځکه خو یونېسکو په کال ۱۹۷۵ او ۱۹۷۶ کي د هرات ښار د عالمي تهذیبي ورثې د ساتلو منظوري ورکړې وه-

روسانو هم په افغانستان کي د باختري دور د زړو تهذیبي آثارو یوه لویه خزانه په تلیاتپې کي موندلې وه[۴]- په دغه تهذیبي خزانه کي۲۱ زره زاړه شیان وو چي پکې د سروزرو زېور، تختیاني، جواهرات او نور ډېرڅه شامل وو- په ۱۹۸۹ کي دا افوا ګډه شوه چي روسانو دغه خزانه هم له ځانه سره یووړه خو ډاکټر نجیب الله په ۱۹۹۲ کي دا خزانه مغربي سفیرانو ته ځکه ښکاره کړه چي د هغوی شك په لري کړل شي- وروسته یې دغه ۲۱ زره زاړه شیان ټول صدارتي محل ته مُنتقل کړل- کله چي نجیب د هېواد واك پرېښوو نو بیا دا خزانه د احمد شاه مسعود تر نګرانۍ لاندي وه-

د مجاهدینو وخت په حقیقت کي د طوایف الملوکۍ دور ؤ- د جهادي ګروپونو ترمنځ د اقتدار کشمکش هغه هرڅه له منځه یووړل کوم چي په صدارتي محل کي ؤ- په هېواد کي خلګو، په خپل اوږدهٔ تاریخ کي لومړی ځل د ورور وژني هغه ننداري وکړې چي انساني تاریخ ډیري کمي لیدلي وې- هرکمانډر تر خپله وسه د وطن زړګی زخمي کړ- په لَکونو افغانان شهیدان شول- د زرګونو کلونو تهذیب او ثقافت برباد شو- دکابل ښار کنډوالې شو او سترموزیم یې په کال ۱۹۹۳ کي د مې په نونسمه نېټه لوټه لوټه کړل شو چي د افغاني تاریخ یوه لویه المیه وه- دا موزیم د نړۍ پر مخ یو ډېر لوړ مقام درلود- د منځنۍ او سهېلي آسیا ډېر مخَنی تهذیب، چي له عیسي علیه السلام څخه هم وړاندي تېر شوی ؤ، په همدغه موزېم

کي د نخښو په توګه خوندي ساتل شوے ؤ-

کله چي په کال ۱۹۹۴ کي طالبان د مجاهدینو له منځه د هغوی پخپلو کي د جګړو له کبله رابېل شول او له کندهاره یې د یوۀ لوی قوت په توګه پرمختګ وکړ نو یې دوه کاله وروسته یعني په کال ۱۹۹۶ کي د ستمبر په میاشت کي کابل هم ونیو- د طالبانو د ثقافت وزیر د فروري په میاشت کي د کابل موزیم پاته حصه هم ورانولو حکم ورکړ- شپاړس طالبان چي ورسره خپل ګارډز (حفاظت کونکي) هم وو، کابل موزیم ته ننوتل او د عظیم کوشاني باچا کنیشکا مجسمه یې ماته کړه[۳]- د کشن شهزادۍ مجسمه یې هم ټُکر ټُکر کړه- له دغي ورځي څخه تر درو میاشتو پوري دوی هره ورځ د موزیم مجسمې ماتولې- تر کال ۲۰۰۱ پوري یې په افغانستان کي خوندي ټول بتان مات کړل په کومو کي چي په بامیان کي دبودا دوه ډېر لوی او پخواني بتان هم شامل وو- د زړو آثارو ماهرانو دغه پېښهٔ نه یوازي د افغانستان بلکي د نړۍ لوی نقصان ګڼلے دے ولي چي دا د یوۀ تهذیب یادګارونه وو او د هېواد یوه ثقافتي اثاثه هم وه- اشوکا په ۲۶۲ مخزېږده کي بودایي مذهب خپل کړے ؤ- د هغه دور آثار په هندوستان او افغانستان کي بېخي ډېر دي خو د بامیان بتان په نړۍ کي تر ټولو لوی بتان وو- له کابله ۸۰ میله پرشمال د کوه بابا په لمن کي دا بتان ۵۳ او ۳۵ میتره اوږده وو چي په اصل کي یې غر تراشلے ؤ او دغه بتان یې ترې جوړ کړي وو- لکه وړاندي چي یې ذکر وشو، دغه علاقه غازي امان الله خان په خپل وخت کي د حفاظت په نیت په قامي ملکیت کي اخستې وه- دوکانونه او سرایونه یې ټول نَړولي وو او دغه ثقافتي

ورثه یې خوندي کړې وه-

کله چي طالبانو بامیان ونیو نو یې دا اعلان هم وکړ چي د بودا دغه تاریخي بتان دي په بمونو والوزَول شي- سري لنکا (کُړم) جاپان، نېپال، تائیلېنډ، سینګاپور، هندوستان او د ملل متحده عالمي اداري یونیسکو له دوی څخه دا خواست وکړ چي داسي نه دي کول پکار- طالبانو بیا هم په کال ۲۰۰۳ زېږده کي د مارچ په میاشت کي دغه تاریخي بتان مات کړل چي د نړیوالو په نېز یوه سپکتیاوه ولي چي هیچا هم د دغو بتانو عبادت نه کاو-

د طالبانو تر وخته د هرات په عجائبګرکي هم ډېري زړې نخښې پرتې وې- د سکندر اعظم د دور لوښي، ګلدانونه او مجسیمې د زرګونو کلونو څخه دالته خوندي وې- په دغه موزیم کي هم د زړو وختونو لویي تهذیبي خزانې محفوظه وې خو له بده مرغه دا موزیم هم طالبانو تباه کړ[۵]-

افغانانو دا تهذیبي او ثقافتي ورثه تر زرګونو کلونو پوري له طوفانونو، سېلابونو جنګونو او زلزلو څخه ساتلې وه خو د حکمرانۍ له آدابو ناواقفو خلګو د قام د تهذیب، تاریخ او ثقافت هیڅ خیال وَنه ساتهٔ- دَ ځینو خاریجیانو دا خواهش چي د افغانانو پر تهذیبي څهره بدنما داغونه کښېږدي، د خپلو د ناپوهۍ له کبله پوره شو- تر دغو پېښو وروسته، د تهذیبي، تاریخي او ثقافتي میراث د ساتلو په غرض پر دولتي او عالمي سطح داسي قانون په کار دے چي هرڅوک د دغي ورثې د خوندي ساتلو پابند وي-

د پېښورمیوزیم لاتراوسه هم د تېر مهال ډېري لرغونې تهذیبي

او ثقافتي نخښي ساتلي دي- له ۱۹۰۷ څخه په دغه ميوزيم کي د ګندهارا تهذيب زړې نخښي خوندي کېدل پېل شو- چي د صوبه پښتونخوا له هري څنډې څخه ترلاسه شوي زړې نخښي پکي شاملي دي- ګندهارا تهذيب تر شپاړسو سوو کلونو دوام درلود او د ختيځ اولوېديځ ترمنځ يې د تجارتي مرکز حېثيت هم ۀ ځکه يې په آرټ کي د افغاني، ايراني، هندي، يوناني او رومي فن اثرات ټول شته- د اسلامي دور، مغلي دور او انګرېزي دور نخښي هم په لوی شمېر په دغه موزيم کي خوندي دي- پېښور موزيم پر پنځو برخو وېشل شوے دے- په اوله برخه کي يې د ګندهارا تهذيب لوی شمېر زړې نخښي دي چي په نړۍ کي د دغه تهذيب ترټولو لويه زخيره ګڼل کيږي- په دويمه برخه کي يې د تېر مهال لوی شمېر سکې او مُهرونه خوندي دي چي پکي د ساکانو، کوشانيانو، ېپتاليانو، يونانيانو، هندوشاهانو، غزنويانو، غوريانو، لوديانو او دُرانيانو ټولو سکې او مُهرونه شته- په درېيم سېکشن کي يې د اسلامي دور لرغونی نخښي خوندي دي- په دغه سېکشن کي د قُرآن شريف زړې نُسخې، د هغه وخت وسله، زاړۀ ټايلونه او نور ډېر څه موجود دي- په څلورم سېکشن کي يې د کلتوري نخښو يوه لويه زخيره ده او په پنځمه برخه کي يې د ساکانو، هخامنشيانو او پښتنو ډېري لرغونی نخښي دي چي د ايراني تهذيبي ورثې په نامۀ يادېږي- دغه موزيم اوس هم د افغانانو د قديم تهذيب او ثقافت يو لوی مرکز دے چي د نړی له ډېرو هېوادونو څخه د کتني په نيت سېلانيان او څېړونکي ورته راځي او ګټې ترې اخلي- په ټېکسيلا ميوزيم کي هم د هغه

وخت ډېري تهذيبي خزانې خوندي دي- هېروډوټس په پنځمه مخزېږده پېړۍ‌کي ګندهارا د نړۍ تر ټولو مړه او په تهذيب ښايسته علاقه بللې وه چي د تهذيب لوی شمېر زړې نخښي يې د پېښور ميوزم سره سره په ټېکسلا موزيم کي هم خوندي دي- د دغو تهذيبي خزانو ساتنه د هر پښتانۀ قامي ذمه واري ده-

## اخځليك -


۱ - مېنوؤل کومروف ، د ما رکوپولو سفر نا مه (The Travels of Marcopolo)

هوربس ليورائټ ، نيويارك ۱۹۲۶ -

۲ - غبار ميرغلام محمد، افغاستان در مسير تاريخ ، کابل ،۱۹۶۷

۳ - کرسټينا لېمب ، د *طالبانو افغانستان* ( The sewing circles of heart) ،

ترجمه محمد يحي خان ، نګارشات لاهور ، ۲۰۰۴

۴ - هنري ابس براډشر، افغان کمونزم او روسي مداخلت

(Afghan communism and Soviet intervention) ، آکسفورډ

يونيورسټي پريس کراچي ، ۱۹۹ -

۵ - احمد رشيد ، *طالبان، اسلام ، تېل اوپه منځنی آسيا کي نوې لوبه لوبه*

(Taliban, Islam, Oil and th New Great Game in Central Asia)

ادو ترجمه، حميدجهلمي، مشعل لاهور، ۲۰۰۱-


Pukhto.Net
پښتو

# ۳۰

# "نوې لويه لوبه"

د تهذيبونو ټکراؤ[1] (Clash of civilizations) په حقيقت کې په منځنۍ آسيا کې د تيلو پر دولت د قبضې د پاره د امريکا او دهغهٔ د اِتحاديانو ضرورت دے- دکاسپين سمندرګي په خواوشا کې د تيلو لويې زخيرې دي- ترکمانستان، قازقستان، آزربائيجان او ازبکستان د دغو تيلو مالکان دي- د منځنۍ آسيا دغه هېوادونه د افغانستان، پاکستان او ايران له لارې د سمندر تر غاړې پائپ لائنونه غزول غواړي، چې د دوی تيل تر عالمي منډۍ پورې په آسانۍ ورسيږي-

ترکمانستان غواړي چې د خپل اقتصاد د پاره د روس په خوا کتنه پريږدي، خو دا هله کېدای شي چې د هغهٔ تېل ترعالمي منډۍ پورې ورسيږي- ترکمانستان د روس له لارې هم خپل تېل اوګېس عالمي منډۍ ته رسولای شي خو روس پخپله د سائبېريا څخه تېل

او ګېس عالمي منډۍ ته رَسوَل غواړي، ځکه هغه نه غواړي چې ترکمانستان يې په مقابله کي راشي[۲]- د ترکمانستان بله مسئله دا ده چې د هغهٔ يو سرحد له ايران سره دے اوبل يې له افغانستان سره- له ايرانه (عکس نمبر81) د پائپ لائنونو تېرول امريکا نه




عکس نمبر81 له منځنی آسيا څخه د تيلو (سپين) او ګېس(تور) ممکنه لاينونه

قبلوي او په افغانستان کي دامنيت مسئله ده- روس په افغانستان کي ځکه امن نه غواړي چې جنګ او بدامني هغه ته په منځنۍ آسيا کي د فوج ساتلو جواز ورکوي-

ايران ډېر وس کوي چې په خپلو علاقو کي پائپ لائنونه تېر کړي- په کال ۱۹۹۷ کي ايران دترکمانستان له **کوربېډزي** ګېس فيلډ

څخه تر کورډکيوې (ايران) پوري ۱۱۹ ميله پائپ لائن وَغزاوهٔ- له دغه پائپ لائن څخه شمالي ايران ته اوس هم ګېس راځي او کار تريې اخستل کيږي- دغه پائپ لائن په تيرو پنځلسو کلونو کي لومړے پائپ لائن دے چي له ترکمانستانه بل هېواد ته غزېدلے دے-

په افغانستان کي د روس تر بربادۍ وروسته امريکا په دې سيمه کي امن غواړي[3]- د امريکا مفاد په دې کي دے چي په افغانستان کي امن شي او په منځنۍ آسيا کي تر تيلو د امريکايي کمپنيانو رَسايي وشي خو روس امريکا ته پر خپله سيمه د اِقتصادي ګټو اخستتلو اِجازت ورکول نه غواړي- د روس پخواني صدر بورس يلسن په ۱۹۹۸ کي دا وَيلي ؤ چي د کاسپين دغاړي تېل د ځنو مغربي ملکونو د پروپيګنډو موضوع دے خو روس دا نه شي اوربېدلای- بيا د روس اوسني صدر ويلادي مير پوټن هم د سعودي عرب او قطر تر دورو وروسته د امريکا د پاليسۍ په ډاګه غندنه وکړه- ويلادي ميرپوټن په ميونيخ کي د يورپي يونيئن د سلامتۍ په کانفرنس کي هم په خپل تقرير کي د امريکا او د هغهٔ د پلويانو په حقله ترخې خبري وکړې- د امريکا په مخالفت کي روس يوازي نه دے بلکي د "شنګايي تعاون کونسل" نور غړي لکه چين او ايران هم په منځنۍ آسيا کي د امريکا مداخلت غندي-

د شلمي پېړۍ آخري لس کاله په منځنۍ آسيا کي د تيلو د تلاش او د پائپ لائنونو د غزولو کلونه دي- د تيلو سوداګر يعني د تېلو عالمي کمپنياني او حکومتونه يوه "نوې لويه لوبه"[1] لوبَوي

لګيادي- په دغه نوې لويه لوبه کي لوبغاړي امريکا، روس، چين، برطانيه، ايران، پاکستان، ترکمانستان، قازقستان، آزربائيجان او ازبکستان دي- خو امريکا او روس يې اوس هم لوی لوبغاړي دي لکه چي د نولسمي پېړۍ په وروستۍ برخه کي د انګلستان او روس ترمنځ "لويه لوبه" شوې وه- هغه وخت هم د جګړو اصل بُنياد دَ رېلوې لائنونو (پټړيانو) غزَول وو[۲]-

په کال ۱۹۹۲ کي د تيلو کمپنۍ "بريداس" ته د ترکمانستان په ياشر بلاک کي د نيم په نيمه پېداوار په اساس د تيلو د تلاش کار ورکړل شوے ؤ- په کال ۱۹۹۳ کي هم دغه کمپنۍ بريداس ته دلوېديځ ترکمانستان په کېمبر بلاک کي په يوه څلورمه د تيلو د راکښلو اجازت ورکړل شوے ؤ- ۷۵ ٪ ګټه د کمپنۍ وه او ۲۵ ٪ د ترکمانستان- د دغه کال د مارچ په مياشت کي د ترکمانستان صدر نيازوف د امريکا دوره وکړه او د امريکا د مخني وزير الېکزنډر هېګ سره يې خبري اتري وکړې- نيازوف له الېکزنډر هېګ څخه په ايران کي د تيلو د پائپونو د تېرېدو خواست وکړ چي هغهٔ د امريکا پاليسي په دې حقله څه نرمه کړي- د روس صدر بورس يلسن په ۱۹۹۳ کي دا اعلان وکړ چي د تاجکستان او افغاناستان سرحد په اصل کي د روس سرحد دے په کوم کي چي د روس ۲۵ زره فوج اوس هم د روس دفاع کوي- دا اعلان په حقيقت کي له نوې سره په منځنۍ آسيا کي د روس کردار څرګندَوي-

په کال ۱۹۹۴ کي ترکمانستان د تيلو کمپنۍ بريداس له کېمبر

بلاك د تيلو کښلو څخه منع کړه- بريداس او هېګ دواړو کمپنيانو ته يې د ګېس د پائپ لائنونو د لارو معلومولو کار په لاس ورکړ- په دغو ورځو کې طالبانو پر کندهار قبضه وکړه- په کال ۱۹۹۵ کې بريداس کمپنۍ خپله ګټه کمه کړه او په ۶۵ ٪ راضي شوه- دارنګه کمپنۍ ته د تيلو کښلو او نورو ملکونو ته دَ لېږلو اجازت ورکړل شو- په همدغه کال د ترکمانستان صدر نيازوف د پاکستان د وزير اعظمې بېنظير بهټو سره ملاقات وکړ او د افغانستان له لارې يې د پائپ لائنونو غزولو د جائزه اخستلو کار بريداس کمپنۍ ته وسپارۀ- ترکمانستان او ايران هم تر تُرکيې پورې د ۱۸۰ ميله پائپ لائن غزولو فېصله وکړه، خو امريکايانو ترکمانستان ته دا حقيقت ور په ګوته کړ چې مريکا د دې فېصلې سره اختلاف لري، ځکه ترکمانستان ته پکار دے چې نورې لارې ولټوي- د ترکمانستان يو وفد د بريداس په بلنه امريکې ته په دې غرض ولاړ چې په ټېکساس کې د هوسټن دوره وکړي- همالته دغه وفد له "يونو کال" نامې کمپنۍ سره لومړے ځل ملاقات وکړ- د يونوکال وفد وروسته اشك آباد او اسلام آباد ته د افغانستان له لارې د پائپ لائن غزولو په منصوبه کې د بريداس د برخه اخستو په نيت ولاړ- بريداس کمپنۍ ترکمانستان ته د پائپ لائن د غزولو د منصوبې تفصيل ورکړ- په دې لړ کې د بريداس نمايندګانو له طالبانو سره په کابل، هرات او مزار شريف کې ليدنه کتنه وکړه- هم دغه کمپنۍ وروسته په پېښور کې د تيلو او ګېس د زخائرو جاج اخستے ؤ چې پېښور ته

نژدې د تيلو او ګېس لويې زخيرې شته- وروسته د ترکمانستان صدر نيازوف هم په نيويارك كې له "يونوكال" او "ډېلټا" سره په افغانستان کې د پائپ لائن د تېرولو يوه لوظنامه لاسليك كړه-

ترکمانستان يوځل بيا برېداس د کېمبر بلاك له تيلو كښلو څخه منع كړ- په كال ۱۹۹۶ كې دغې كمپنۍ د افغانستان له حكومت سره د پائپ لائن د غزولو لوظنامه لاسليك كړه- په همدغه كال برېداس كمپنۍ په هوسټن كې د يونوكال او ډېلټا كمپنيانو خلاف مقدمه پېل كړه چې دغه كمپنيانې په تركمانستان كې دَ دوی كاروبار خرابوي لګيا دي- دكال ۱۹۹۶ د مارچ په مياشت كې د امريكې سفير ټام سيمنز د پاكستان وزير اعظمې بېنظير بهټو ته ووېل چې يونوكال كمپنۍ ته د پائپ لانونو په لړ كې مُكمل اختيار وركړي خو بېنظير بهټو په دغه خبره خواشني څرګنده كړه او غوښتنه يې وكړه چې سفير دي پر دغه سپين سترګي له پاكستانه بخښنه وَغواړي-

په همدغه كال د امريكې برېداس كمپنۍ د تركمانستان خلاف پرلوظنامه د عمل نه كولو تور ولګاوۀ او د امريكا سټېټ سېكرټري رابن رافيل يې كابل او كندهارته په تګ راضي كړ- افغانستان، پاكستان، تركمانستان او ازبكستان يوه لوظنامه لاسليك كړه په كومه كې چې تركمانستان ته د پائپ لائن غزَولو حق وركړل شو- تر دغه لوظنامې وروسته د روس ګازيروم كمپنۍ، دَامريكا يونوكال ډېلټا او د تركمانستان راسګاز كمپنۍ د پائپ لائنونو په لړ كې

لوظنامه وکړه- کله چې په کال۱۹۹۶ کې دَ ستمبر د میاشتې په وروستیو تاریخونو کې طالبانو پر کابل قبضه وکړه نو امریکا د افغانستان سره د سفارتي اړیکو د بېرته ټینګولو هڅه هم وکړه- دَ دسمبر په میاشت کې د پاکستان خارجه سېکرټري نجم الدین شېخ په کندهار کې له طالبانو سره د تیلو د پائپ لائنونو په لړ کې خبرې اترې وکړې-

په کال ۱۹۹۷ کې د طالبانو یو وفد واشنګټن ته په دې غرض ولاړ چې امریکا د طالبانو حکومت په رسمي توګه وپېژني- دغه وفد هلته له یونوکال کمپنۍ سره لیدنه کتنه وکړه- بیا د طالبانو یوۀ بل وفد په ارجنټائن کې له بریداس کمپنۍ سره هم خبرې اترې وکړې- تر دغو ملاقاتونو وروسته یونوکال په کندهار کې او بریداس په کابل کې دتیلو دکمپنیانو دفترونه خلاص کړل- دبریداس کمپنۍ کارلوس بلګروني د طالبانو سره وعده وکړه چې کمپنۍ به په افغانستان کې کارخانې لګوي او سړکان به هم جوړوي- د"شل" کمپنۍ صدر ایلن پارسلې د ترکمانستان له صدر نیازوف سره لیدنه کتنه وکړه او له ترکمانستان څخه ترترکیې پورې د تیلو د پائپ لائن د غزولو د پاره یې د امداد پېشکش وکړ- د طالبانو یوۀ وفد چې پنځه تنه پکې ټاکل شوي وو، د پائپ لائن په حواله د بریداس سره د خبرو اترو په نیت ارجنټائن ته تلل غوښت خو پاکستان تر پنځو ورځو پورې په پېښور کې راګرځول او پخپله یې له یونوکال کمپنۍ سره د ملتان له لارې ګېس راوستلو لوظنامه وکړه- د لوظنامې له

رويه به کمپنی ته پر ملتان د زرمکعب فُټه ګېس قيمت دوه ډالره ورکړل کيدل او طالبانو ته به ۱۵ سېنټه د لاري خرڅ ادا کيدۀ، څکه دغه لوظنامه طالبانو ونه منله-

تر دې وروسته د پاکستان صدر نواز شريف د يوې ورځي په دوره د نيازوف سره د پائپ لائن په حواله د خبرو اترو د پاره اشك آباد ته ولاړ- د تيلو د سوداګرانو د ملاقاتونو، اجلاسونو او لوظنامو دا سلسله روانه وه چي په امريکا کي د يونوکال په سالانه اجلاس کي کمپنۍ د افغان پائپ لائنونو پر منصوبو څکه اعتراض وکړ چي د دوی په نظر افغان حکومت د بشري حقوقو هيڅ خيال هم نه ساتۀ- امريکا دا محسوسه کړه چي د طالبانو سره نور وخت ضائع کول عقلمندي نه ده نو يې د افغانستان واك د دوی له لاسه ايستل او خلګو ته بېرته ورسپارل لازم وګڼل[۴]- په دې لړکي يونوکال په افغانستان کي پائپ لائن پروژه (پروجېکټ) ختم کړ او امريکا په افغانستان کي د اسامه بن لادن پر اوتاك په ميزائلو حمله وکړه[۵]-

په کال ۱۹۹۹ کي د ترکمنستان خارجه وزير شېخ مُرادوف له ملاعمراخوند سره په کندهار کي وليدل او د ګېس پائپ لائن په حواله يې ورسره خبري اتري وکړې- د امريکا د تيلو کمپنياني په پټه له ډېره وخته د طالبانو سره د پائپ لائنونو په لړکي په خبرو اترو لګياوې- د "بريداس" له "يونوکال" سره مقابله وه- دلته داخبره د پاملرني وړ ده چي د امريکا غوندي هېواد دغه لويي کمپنياني د افغانستان په دغو غرونو او رېګونو کي دومره زياته دلچسپي ولي

لرله؟[6] په دغه غېر محفوظه او جنګ ځپلي سیمه کې دومره پېسه لګوَل آخر کومه عقلمندي وه؟ له دغو سوالونو څخه نړۍ دا نتیجه واخسته چې اصل جنګ د تیلو او د ګېس پر دولت دے او دا دلچسپي هماغه شان ده کومه چې په ۱۹۲۰ کې په عرب ملکونو کې لیدل شوې وه-

لکه چې په نوولسمه پېړۍ کې د روس او برطانیه تر منځ یوه لویه لوبه (Great Game) لوبېده لګیا وه هماغه شان اوس یوه نوې لویه لوبه روانه ده- هغه وخت دبرطانیه او د روس ترمنځ اصل جنګ د رېلوې پر لائنونو ؤ، اوس د تیلو او د ګېس پر پائپ لائنونو دے- هغه وخت یوې خوا ته روس دا وېره لرله چې برطانیه به د منځنۍ آسیا مسلمانان د روس خلاف راپورته کړي او بلې خواته برطانیه دا خوف درلود چې روس به پښتانهٔ را وَپاڅوي او په بلوچیستان او اوسنۍ صوبه سرحد کې به انګرېزانو ته حالات خراب کړي-

اوسنے جنګ هم یوه نوې لویه لوبه (New Great Game) ده چې د لویو طاقتونو ترمنځ رووانه ده- د پائپ لائنونو غزېدل به طالبانو غوندي نور هم ډېر حکومتونه له منځه یوسي خو کله به د بشري حقوقو پرنامه وي، کله د اېټمي وسلې اوکله د دهشت ګردۍ-

د روس د صدر ویلادي میر پوټن سعودي عرب او قطر ته تګ هم د تیلو د دغه سیاست حِصه ګڼل کېږي- سعودي عرب د تیلو د پېداوار یو لوی هېواد دے ځکه پوټن ورته د روسي وسلې او اېټمي

توانايي څخه د ګټې اخستلوبلنه ورکړه او په منځني ختيځ کي يې د امريکا د پاليسۍ هم په ډاګه غندنه وکړه-

نړيوالو ته دي دا څرګنده وي چي د شلمي پېړۍ په شان به په افغانستان کي ناآرامي، په يويشتمه پېړۍ کي هم د تيلو پائپ لائنونه غزولو لره يوه لويه اِمکاني خطره وي- ځکه چي په دې سيمه کي د هر قِسم تجارت اولنۍ شرط امن دے او امن د افغانستان په ټينګه مرسته راتلای شي نه چي په لاس وهنه او ورور وژنه-

## اخځليك


۱ - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت
(The clash of civilizationz and the new world order)
اوکسفورډ ، ۱۹۹۷ -

۲ - احمد رشيد، *طالبان اسلام ، تېل او نوې لويه لوبه* ( Taliban, Islam, oil and new great game) ادو ترجمه، حميدجهلمي، مشعل لاهور، ۲۰۰۱-

۳ - هنري اې کسينجر، ډيپلومېسي (Diplomacy)، سائيمن اينډ شسټر نيويارک، ۱۹۹۴ -

۴ - مکرجي اپراتم ، *افغانستان: له دهشته تر جمهوريته* ( Afghanistan from terror to freedom) سټرلنګ پبلشرز ډيلی ،ينډيا ۲۰۰۳

۵- يوسف بوډنسکي ، بن لادن : چا چي پر امريکه هم وار وکړ
(Bin Laden:The Man Who Declared War on America )
پرايما پبليکاشنز ، روکلن ، کېليفورنيا ، ۱۹۹۹ -

۶ - کولي جان کې، غير مقدس جنګ ( Unholy Wars: Afghanistan, America and InternationalTerrorism) پنګوئن بُکس انډيا ۲۰۰۰

# پنځمه څپه

# دانفارمېشن ټېکنالوژي اوکمپيوټر دور

Pukhto.Net
پښتو

# ۳۱

# يويشتمه پيړۍ

د تهذيب پنځمې څپې يعنې يويشتمې پېړۍ افغانستان لره نوې ستونزې راوړې- د هېواد پر لويه برخه د طالبانو حکومت ؤ او پر افغانانو د امريکا او اتحاديانوله خوا بنديځونه وو چې يو سوَب يې په افغانستان کې د اسامه بن لادن موجودګي وه او بل سوَب يې نوې لويه لوبه- امريکا او د هغهٔ پلويان د طالبانو د حکومت سره جوړ نه شول ځکه په افغانستان کې د هغو قوتونو مرستې ته تيار شول چې د نړۍ په ګام يې تګ غوښت او په هېواد کې يې د لويې جرګې له لارې د روغې جوړې هلې ځلې کولې-

لوېديځ (مغربي) تهذيب په شلمه پېړۍکې ډېر پرمخ تللے ؤ- د سياسي، عسکري، اقتصادي، سماجي او سائنسي منډو ترنډو او پېوسته پلټون له کبله نوي نوي اِيجادونه شوي وو- په علمي توګه هم مغرب تر مشرق ډېر وړاندې ؤ، ځکه د يورپ او امريکا خلګو په

یویشتمه پېړۍ کې خپل تهذیب آفاقي وګاڼۍ- مغربي تهذیب ورو ورو د نړۍ ډیري ختیځي(مشرقي) برخې هم تر خپل اثر لاندې راوړي لګیا دے- خو دآفاقیت دا دعوې د چین او اسلامي نړۍ سره د مغربي تهذیب د ټکراؤ خطره هم پیښه کړې ده-

مغربي لیکوال هم د تهذیبونو ټکراؤ (Clash of civilizations) یوه لویه امکاني خطره ګڼي[٢]- دا خطره یوه حقیقي خطره ده چې روځ په روځ زیاتیږي- که څه هم مغربي تهذیب یو منفرد تهذیب دے خو د امریکایانو او د یورپ د خلګو دا خوش فهمي چې مغربي تهذیب یو آفاقي تهذیب دے، له حقیقته لرې ښکاري- د تهذیبونو ټکراؤ په حقیقت کې یوه عالمي کرکه ده چې د مشرق او مغرب د خلګو ترمنځ نفرتونه را پاڅوي- د دهشت ګردۍ پر شخړو، په آسیا کې د تیلو د دولت پر تقسیم او پر نورو ډېرو مسئلو د مشرقي او مغربي قامونو ترمنځ یقیناً اختلاف شته خو دا د تهذیبونو د ټکراؤ ترحده باید چې نه وي، ولې چې دغه سوچ پخپله د نړۍ امن له لویې ستونزې راوړای شي-

په اوسني دور کې هم لوېدیځ اوختیځ بېل بېل تهذیبونه دي- هر یو ځان له خپل معاشرتي قدرونه لري- د مشرق جلا کلتور دے او د ښه او بد یې خپل معیاردے- هم دارنګه په مغرب کې د ژوند یوه بېله فلسفه ده[٣]- نن هم د لوېدیځ خلګ صلیب د ثقافتي علامت په توګه په غاړه کوي او د ختیځ خلګ "الله" - هِلال یعني میاشت هم د ختیځ د خلګو خپل شناختي علامت دے- د مغرب د خلګو نومونه د مشرق له نومونه څخه ډېر بېل دي- مغرب په وارو وارو

پر مشرق یلغرونه کړي دي[۴] - که څه هم د مغرب د خلګو خوراك څښاك او پوښاك له موږه ډېرجلا دي خو دا هم یو لوی حقیقت دے چي موږ په ډېرو انساني رشتو سره تړلي یو-

د ختیځ قامونه په ډېرو مشرقي تهذیبي قدرونو سره ګډ دي خو هر قام ځان لره خپل بېل ثقافتي شناخت هم لري- افغانان د ژوند یو ښه نظام لري چي "پښتونوالے" بلل کیږي او پټو (څادر) د خپل ثقافتي علامت په توګه تر هر څه مهم ګڼي خو ډېر قدرونه یې نوره اسلامي نړۍ ته ورته دي- مغربي قامونه هم په هرڅه سره ګډ نه دي، خپل بېل بېل کلتوري قدرونه لري خو ډېر قدرونه یې سره مشترك هم دي ځکه یو مغربي تهذیب ګڼل کیږي-

په دې پنځم تهذیبي دورکي هم خلګ خپل قام، خپله ژبه، خپل ثقافت او خپله تاریخي ورثه د خپل شناخت لازمي برخي ګڼي ځکه مغربي تهذیب د آفاقي تهذیب په توګه نه شي قبلَولای- خلګ نن هم د نوي شناخت په بنه دخپل پخواني شناخت په لټون دي- که څه هم موږ د یورپ او امریکا د تهذیب او کلتور په حواله اوس په ډېر څه خبر یو خو په خپل تهذیب مو لا تر اوسه نه ځان خبر کړے دے او نه د نړۍ نور قامونه- داځکه چي موږ ته دا تعلیم راکول کیږي چي د دې سیمي د خلګو کار یوازي جنګ دے ، او د جنګیالو له تهذیبه سره څه کار دے؟ د دې هېواد خلګ خو وحشیان دي، د وحشیانو له ښه ژوند او ښکلا سره څه پاته دي؟ داخو د یوۀ بل جهان خلګ دي ځکه د جنت په هیله خپل کورونه سوځي- دا ځنګلیان

خو نه څه سوچ لري او نه يې څه احساس شته- د نورو قامونو دغه سوچ بدلول هم زموږ قامي زمه واري ده، ځکه ددې سيمي ليکوال دخپل پخواني شناخت په آئينه کي خپله نوې بڼه کتل غواړي-

پښتنو همېشه د خپل کلتور او پښتونوالي ساتنه کړې ده- په دې خاطريې په زرګونو مبارزې کړي دي- خپلواکي له پخوا څخه افغانانو تر هرڅه مهمه ګڼلې ده- د نړۍ دلويو تهذيبونو ترمنځ لوی شمېر مبارزې هم د افغانانو پر ځمکه شوي دي ولي چي دوی هرکله د زورَور مخ ته درېدلي دي- افغانان خو د سايرسِ اعظم، سکندر اعظم، چنګېزخان، برطانوي سامراج او روسي يلغرګرو مخته هم ودرېدل، نو څوك په زور او زبردستي دوی له خپله شناخته نه شي بېزاره کولای- افغانان له زورورو څخه سترګي نه پټوي او په هره بيه خپله خپلواکي ساتل غواړي، خو د نړۍ د نورو قامونو سره په امن اوسېدل هم د دوی پخوانے رِوايت دے-

په تېره څپه کي هم دا بيان وشو چي د شلمي پېړۍ په وروستۍ برخه کي له طالبانو څخه ډېري لويي غلطياني وشوې- د هېواد لايبرېرياني له تاريخي او تهذيبي کتابونه څخه خالي شوې- هغه ټول کتابونه وسوځل شول په کومو کي چي تصويرونه وو- د کابل موزيم وران کړ شو او د هرات په موزېم کي هم څه پاته نه شو- د موزېم تهذيبي او ثقافتي نخښي ټولي ماتي کړل شوي- ملل متحده پر افغانستان اقتصادي او تجارتي بنديځونه ولګول، ولي چي په افغانستان کي د بشري حقوقو خيال نه ساتل کېدۀ- په هېواد کي داسي حالات پېدا شول چي په کال ۲۰۰۱ کي، د ستمبر په يوولسمه



عکس نمبر 82 په "ورلډ ټرېډ سېنټر" کې د دويم جهاز تر ننښتې وړاندې منظر

نېټه دامريکاپرلوی تجارتي مرکز"ورلډ ټرېډسېنټر"(عکس نمبر82) اوترټولوغټ عسکري مرکز"پنټاګان"حملې هم له دې خاوري وشوې- څکه امريکايانو د دغو حملو تور هم د اسامه بن لادن له کبله پر افغانستان وَلګاوهٔ- په دغو حملو کې۲۷۰۰ کسان ووژل شول او زياتوکم ۷۰۰۰ پکې ټپيان شول- دغو حملو د نړۍ پر مخ يو نوے جنګ پيل کړ چې د پنځمي تاريخي څپې آغاز ورسره وشو-

دامريکا صدربش د دهشتګردۍ خلاف جنګ(War on terror) پيل کړ، او په دې لړ کې يې دنړۍ نور هم ډېر مِلّتونه دځان ملګري کړل- له طالبانو څخه يې غوښتنه وکړه چې اسامه بن لادن له خپلې خاوري وشړي خو طالبانو انکار وکړ- امريکا په کال ۲۰۰۱ کې، داکتوبر دمياشتي په اوومه نېټه، پر افغانستان هوايي حمله وکړه- په دغه حمله کې امريکا او برطانيه له خپلو بحري بېړو څخه

۵۰ میزائیل (توغندي) په دې غرض پر افغانستان ورتس کړل چي ددوی هوايي قوّت ورختم کړي- دوی ۳۵ طیارې هم د دغه مقصد د پاره استعمال کړې او د کابل، جلال آباد، کندهار او هرات هوايي ډګرونه یې ټول برباد کړل- په "سمارټ" بمونو یې د طالبانو پټې طیارې او هېلیکاپټران هم تباه کړل- تر دې وروسته امریکا خپل جدید ګنشِپ یا سپکټرز هم په کار راوستل چي ډېرکښته هم الوَته کوای شي- دارنګه دوی د طالبانو مورچې او خزې ټولي ور ورانې کړې- د امریکا د هوايي حملو جواب له طالبانو سره نه ؤ ځکه یې لوی زیان وشو-

د اپرېل په نولسمه نېټه ماښام امریکا خپل فوجي رېنجرز او ایلیټ ډِلټا فورس په کندهار کي د ملاعمراخوند پر نوي کور ور وپارول- په دغه حمله کي دوه امریکایان هم ووژل شول چي په پاکستان کي د هېلیکاپټر د راغورزېدو په بنه د خلګو مخ ته راغلل- د مېداني حملې د پاره روس هم د امریکا مدد وکړ او دېرش جنګي ګاډیاني، شپېته T-55جنګي ټانګان، اودوولس کمانډ ټانګان (T-62K) یې شمالي اتحاد ته ورکړل چي د طالبانو مقابله په وکړي[۵]- د امریکا سپېشل فورس او د سي آيي اې اېجنټان هم په شمالي افغانستان کي د هوايي فوجونو د مرستي او صحیح نښانو دپاره موجود وو-

په باګرام کي پر طالب جنګیالیانو "کارپټ بمبینګ" هم وشو چي د جنګ د جدیدو طریقوڅخه یوه وه- امریکا پخپله هم د بشري حقوقو خلاف واړه "کلسټربمونه" او درانه "ډېزي کټر" چي وزن یې ۱۵۰۰۰ پونډه وو په افغانستان کي استعمال کړل- په قندوز کي د

طالبانو د مخ صفونه په همدغو درنو وسلو برباد کړل شول- د طالبانو تر بربادۍ وروسته د شمالي اتحاد فوجونه رامخته شول- که څه هم شمالي اتحاد د افغانستان په مشرق او جنوب کې هيڅ قوت نه درلود خو د طالبانو مخالفي ډلي د عبدالحق اوحامد کرزي تر اثر لاندي له ډېره وخته د شاه پرستو په بڼه د طالبانو سره مخامخ وې- عبدالحق خو د اکتوبر په شپوږويشتمه نېټه ووژل شو مګر کرزے لا تر اوسه خدای ساتلے دے-

د امريکا په مرسته اتحادي فوجونه د نومبر په نهمه نېټه مزارشريف ته ور داخل شول- د اسماعيل خان فوجونو د نومبر په دوولسمه نېټه هرات ونيو- اتحادي فوجونه دنومبرپه ديارلسمه نېټه کابل ته هم ورننوتل او د نومبر په پنځلسمه نېټه يې جلال آباد ښار هم تر خپل واک لاندي راووست-

کله چي طالبان له مزاري مات شول نو يې د قندوز په خوا مخه وکړه- په قندوز کي تقريباً پنځَلس زره طالبان محاصره شول- طالبانو د اميرجان په ثاليثي د عبدالرشيددوستم سره په خبرو اترو پېل وکړ- دوی په دې راضي شول چي دځانبخښني په بدل وسله اېښوولوته غاړه کښېږدي- اميرجان د طالبانو دغه مجبوري تر دوستم پوري ورَسوله چي هغه وخت په **جنګي کلا** کي د څو امريکايانو او برطانويانو سره ناست ؤ- د نومبر په يويشتمه نېټه طالبانو وسله کښېښووه- اميرجان اته زره طالبان په حساب ور وشمېرل او په لاس يې ورکړل- تقريباً اونيم زره لاس تړلي طالبان يې **زيني کلا** ته بوتلل او ۴۷۰ يې په جنګي کلا کي بند کړل- درېيمه ورځ يعني په درويشتمه نېټه دا خبر ورکړل شو چي بنديانو بغاوت

وکړ ځکه تر پنځويشتم نومبر پوري له ۴۷۰ طالبانو څخه فقط ۸۵ ژوندي پاته شول نور ټول دوستم، امريکايانو او برطانويانو ووژل- عجبه خو داوه چي امريکا پر دغو بنديانو هم بمباري وکړه- د صحافي جېني ډوران[۶] په قول څو ورځي وروسته چي اميرجان د زيني کلا بنديان وګڼل نو درې زره پنځلس پاته وو نور يې ټول غايب کړي وو- دغه بنديان د دوستم مليشيا په ۲۵ کنټېنرانو کي (په هر يوه کي ۲۰۰ کسان) اچولي وو او شبرغان جېل ته يې وړل چي په جوزجان کي ؤ- داټول طالبان په همدغو کنټېنرانو کي وژل شوي وو- جېني ډوران تر شپږو مياشتو په دغه الميه پسې وو چي پېښه څه وه او مړي څه شول؟ آخر پته ورته ولګېده چي دوي يې د شبرغان په **دښتِ ليليٰ** کي غورځولي وو-

ورو ورو واك د طالبانو له لاسه واتۀ لګياؤ- کله چي د دسمبر د مياشتي په پنځمه نېټه په بون کي دعبوري حکومت جوړولو خبري رواني وې نو ملاعمراخوند هم په شپږم دسمبرله کندهار څخه د وتني اراده وکړه، دارنګه د طالبانو حکومت ختم شو[۷]- په همدغه دسمبر کي د امريکا B-52 بمبار طيارو د سپينغر په توره بوره (عکس نمبر83)کي پرهغوغارو بمباري وکړه کومي چي ددوی په خيال د القاعده مسکن ؤ- تر طالبانو وروسته امريکا په توره بوره کي د اُسامه بن لادن او د هغۀ د ملګرو پر اُتاق ځکه بمونه ورتس کړل چي د اسامه بن لادن او ملا عمراخوند نيونه يا وژنه د جنګ په لويو مقاصدو کي وه خو امريکايانو ښايي دا همت ونه کړ چي پر ځمکه يې هم دهغوی د تېښتي لار نيولې وای، ځکه خود څو افغان کمانډرانو په مرسته بچ شول-



عکس نمبر 83 پر "توره بوره" دامریکایانو د بمباری منظر

ناین الیون" یعني د کال ۲۰۰۱ د ستمبر د میاشتې نهمه نېټه د پنځمې تاریخي څپې تر ټولو مهیمه نېټه ده او د غبرګولیو مينارونو ويشتنه د دې پېړۍ لويه پېښه- تر دغې پېښې وروسته د تهذيبونو د ټکراؤ خطره نوره زياته شوه- ټول مغربي قامونه د افغانستان او عراق په اوسنيو جنګونو کې د امريکا ملګري دي- دوی روځ په روځ تېرے کوي او نوي نوي پلمې لټوي- امريکا او يورپ اوس ايران او شام ته هم نه ټينګيږي- په دې پنځمه تهذيبي څپه کې د مغربي او مشرقي تهذيبونو تر منځ د بېلتون اصل سَوب د امريکا او د هغې د اتحاديانو دغه غېر دانشمندانه جنګ دے[۸]-

جديديت له مغربيته بېل شے دے او ترقي د مشرقي قامونو هم حق ده- نوې ټېکنالوژي د مشرقي قامونو تر ټولو لوی ضرورت

ګنهل کېدای شي- په نوي وخت کي د پرمختګ د پاره پر نوو کرښو ګام په کارده- ديني او دُنيايي تعليم دواړه لازمي دي- نوې ټېکنالوژي او زدَکړه د ترقۍ زينې دي- قلم د نن ورځي ترټولو لويه وسله ده چي له بده مرغه د پښتنو بچيانو په لاس کي نه ښکاري- پښتانهٔ که په راتلونکو وختونو کي خپله آزادي او خپل شناخت ساتل غواړي نو قلم او کتاب به د وسلې په توګه اخلي او د نړۍ په ګام به تګ ته تیارېږي-

## اخځليك


١ - سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizationz and the new world order) اوکسفورډ ، ١٩٩٧ -

٢ - احمد رشيد، طالبان اسلام ، تېل او نوې لويه لوبه ( Taliban, Islam, oil and new great game) ادو ترجمه، حميدجهلمي، مشعل لاهور، ٢٠٠١-

٣- هنري اې كسينجر، ډيپلومېسي (Diplomacy)، سائيمن اېنډ شسټر نيويارك، ١٩٩۴ -

۴ - احمد ډاکټر رياض ، مغربي يلغر لاهور ، ٢٠٠۴

٥ - رسنياګم انجيلو، Afghanistan a Moderan History يعني د افغانستان جديد تاريخ ، آيي بي ټارس لندن ٢٠٠٥ -

۶ - جيمي ډوران *Monde diplomattique* انګرېزي ژباړه ، The Guardian ستمبر ٢٠٠٢ -

٧ - مکرجي اپراتم ، *افغانستان: له دهشته تر جمهوريته* ( Afghanistan from terror to freedom) سټرلنګ پبلشرز ډيلی ،ينډيا ٢٠٠٣

٨- بالز ډېن او وُډ ورډ بوب ، د امريكا د جنګ لاره غېر دانشمندانه ده (America,s Chaotic Road to War) واشنګټن پوسټ ، ٢٧ جنوري ٢٠٠٢

# ۳۲

# حامدکرزے

## او لويه جرګه تحريك

حامد کرزے په کال ۱۹۴۷ کي په کندهار کي زوکړے ۇ- دے د عبدالاحدخان کرزي زوی دے چي د افغانستان په مُهمو سياسي مشرانو کي ۇ او په همدغه تور شهيد کړل شو- حامد کرزي اِبتدايي تعليم په حبيبيه سکول کابل کي کړے ۇ، بيا د نور تعليم دپاره د شمله هماچل پردېش يونيورسټي ته ولاړ- دے لا په هندوستان کي طالبعلم ۇ چي په هېواد کي د ۱۹۷۹ روسي مداخلت وشو- د کرزي کورنۍ د روس خلاف په مزاحمت کي مخته مخته وه- حامدکرزي پخپله هم ډېري ستونزي وليدلې ځکه مجاهدينو په ۱۹۹۲ کي د صدربُرهان الدين رباني سره نايب خاريجه وزير وټاکۀ- د مجاهدينو په خپلو کي د جګړو له کبله حامد کرزي وزارت پرېښوو- کله چي په ۱۹۹۶ کي طالبانو واك تر لاسه کړ نو کرزي د طالبانو سره هم د لنډي مودې د پاره اتحاد وکړ خو پر ډېرو مسئلو يې ورسره اختلاف ۇ ځکه ترې بېل شو- حامد کرزي " لويه جرګه" تحريك په دې نيت

شروع کړ چې د طالبانو پر ځای د هېواد د ټولو خلګو په نمایندګۍ د افغانستان واك لویه جرګه ته وسپارل شي- کرزي دا تجویز ورکړ چې پخوانے باچا ظاهرشاه (عکس نمبر84)



عکس نمبر 84 ظاهر شاه و حامد کرزي ته دقرآن شریف یوه نسخه ورکوي

دي بېرته افغانستان ته راستون شي او دلويي جرګې مشري دي وکړي چې هېوادوال وربانديي راټول شي او دملي روغي جوړي لار خلاصه شي- ددهٔ په مرسته ظاهرشاه په کال ۱۹۹۹ کي لويه جرګه په روم کي راوغوښته- په همدغه کال د حامدکرزي سپينږږے پلار عبدالاحد کرزے، د لمانځه پر وخت، د جُمات تر څنګ شهيد کړل شو-

لکه مخکي چې بيان شو، طالبانو ته په نړۍ کي په ښه نظر نه کتل کېدل ولي چې د هغوی په نظر دوی د خپل هېواد تهذيبي او

ثقافتي ميراث بربادکړ، د بشري حقوقو خيال يې ونه ساتهٔ او د امر بالمعروف او نهي عنِ المنکر پر نامهٔ يې ډېر بېګناه خلګ زهير کړل- علماء د اسلامي حکومتي نظام خواهشمند وو خو د ناپوهه حکومتي کار کوونکو د کارکولو طريقه د افغانانو په ګټه نه وه- دوی دکال ۱۹۹۸ د جولايي په اتمه نېټه په هېواد کي پر ټيليويژن، ويډيوټېپ او سېټلايټ ډِش بنديځ ولګاوهٔ او حکم يې ورکړ چي په پنځلس ورځو کي دننه بايد چي دغه څيزونه ختم کړل شي- ځکه د امريکا صدر کلنټن پر طالبانو بنديځونه ولګول او بيا مللِ متحده په همدغه کال دنومبر دمياشتي په پنځلسمه نېټه دغو بنديځونو ته پر عالمي سطح دوام ورکړ-

په کال ۲۰۰۰ کي حامد کرزي د امريکا د سېنټ دخاريجه اموروکمېټۍ په دې قانِع کړه چي طالبان نور د ځغملونه دي- کله چي دوی په کال ۲۰۰۱ کي په باميان کي د بودا لوی بُتان په بمونو والوزول او د نړۍ د ډېرو خلګو زړونه يې په خوږ کړل نو د کرزي د لويي جرګې هلي ځلي دُنيا پرحق وګڼلې[1] ولي چي دغه بتان د عبادت د پاره نه وو بلکي د يوې تهذيبي نخښي په توګه په هېواد کي خوندي وو- تر دغو پيښو وروسته ملل متحده د طالبانو حکومت يو غېرزمه داره حکومت وګاڼهٔ او فېصله يې وکړه چي طالبان به لري کوي[2]-

د عرب مجاهدينو په افغانستان کي موجودګي هم د امريکا او مغربي اتحاديانو په سترګوکي خيره وه- په کال۲۰۰۱ کي د ستمبر دمياشتي پر يوولسمه نېټه (نائن الېون)، کله چي د امريکا پر ورلډ ټرېډ سېنټر او پنټاګان حملې وشوې او غبرګولي ميناروونه ونړول

شول نو افغانستان ته له روسه پس د يوۀ بل عالمي قوت (امريکا) مخه شوه- نړۍ د يوۀ بل جنګ سره مخامخ شوه چې په عالمي تاريخ کې "د دهشتګردۍ خلاف جنګ" (War on terror) په نامه ياديږي- له بده مرغه داجنګ هم له افغانستان څخه پېل شو- امريکا د کال ۲۰۰۱ د اکتوبر په مياشت کې پر افغانستان حمله وکړه- حامدکرزے هم له کوټې پر موټر سائکل هېواد ته داخل شو او د خپلو جنګياليانو لاربښونه يې پېل کړه- قسمت ورسره مرسته وکړه چې په دغه جنګ کې دوه واره دمرګ له خولې را وَ ووت- يوځل طالبانو ګيرکړ او بل ځل امريکا په غلطۍ بمونه ورباندې وغورځول- د نومبر تر مياشتې طالبانو د افغانستان واك له لاسه ورکړ-"تر طالبانو وروسته افغانستان" دعالمي ميډيا خاص موضوع ؤ[۳]- عالمي سياست پوهانو په افغانستان کې د يوۀ داسې سياسي نظام پرضرورت ټينګار وکړ چې د هېواد ټولو خلګو پکې ګډون وي- د ملل متحده تر څار لاندې يو داسې حکومت جوړ کړې چې د حقيقي امن لارې ولټوي او د نړېدلي وطن تعمير وکړي- د دهشتګردۍ د مخنيوي او حکومتي اتارټي د پاره د ملل متحده د فوجونو(MNF & ISAF) تر سايه لاندې خپل ملي فوج جوړ کړي[۴]-

**دبون افغان کانفرنس:**

د حامدکرزي په زيار د کال ۲۰۰۱ د نومبر په ديارلسمه نېټه، په نيويارك کې يوه غونډه وشوه په کومه کې چې دافغانستان د شپږو ګاونډ هېوادونو د خارجه وزيرانو سره د امريکا او روس نمايندګان هم شامل وو- په دغه غونډه کې "تر طالبانو وروسته افغانستان"

تر بحث لاندي راغے- بيا د همدغه نومبر پر اتويشتمه نېټه ۲۸ افغانان مشران چي د پېښور، روم او ساييپرس د شورىٰ ګانو غړو پکې ګډون درلود، بون ته نژدې په کنيګسوينټر کي د جرمني د چانسلر جراړ شروډر په مېلمستيا کي سره راغونډ شول- داغونډه عامه غونډه نه وه بلکي ډېري افغاني ګيلې پکي نغښتي وې- په هره شورىٰ کي به ترآخري فېصلې وړاندي غړو ښه ځله څنډل، سرونه به يې شربل، بيا به يې نو څه نا څه کُچ تري ايستل- د خوش قِسمتۍ خبره دا وه چي د دوی په منځ کي د افغانستان يو عظيم خواخوږے او دمللِ متحده نماينده محترم لخدار ابراهيمي هم ناست وو چاچي د افغانستان د ستونزو اوارولو دپاره خپل ټول صلاحيّتونه په کار راوړل- د وزارتونو وېش يوه لويه مسئله وه خو د رباني له صدارته نه کوزېدل دبون کانفرنس تر ټولو لوی خنډ ؤ- کور يې د يونس قانوني او عبدالله عبدالله ودان چي آخر يې دے کونج ته کړ نو بيا خبري پر مخ ولاړې-

د کال ۲۰۰۱ د دسمبر په پنځمه نېټه د افغانستان د ټولو نورو ګوندونو ترمنځ په بون کانفرنس کي يوه لوظنامه لاسليك شوه خو طالبانو پکي برخه نه درلوده- دا لوظنامه د ملل متحده تر بېرغ لاندي وشوه چي تر طالبانو وروسته د افغانستان عبوري حکومت جوړولو او چلولو طريقه پکي څرګنده شوه- د تاريخ په پاڼو کي دا لوظنامه د "بون لوظنامه" بلل کيږي-

ددغي لوظنامې په ترڅ کي حامد کرزے د شپږو مياشتو د پاره دافغانستان عبوري مشر وټاکل شو- د دسمبر په دوويشتمه نېټه دهٔ د هېواد د عبوري صدر په حېث واك ترلاسه کړ او د افغانستان په

تعمير يې له نوې سره لاس پوري کړ- دهٔ د نړۍ د نورو هېوادونو څخه د جنګ ځپلي افغانستان د پاره د امداد کولو خواست وکړ- برطانيه، کنېډا او نورو ناټو اِتحاديانو ددهٔ مرسته وکړه اوخپل ۴۵۰۰ فوجيان يې افغانستان ته د امنيت په غرض را ولېږل- د افغانستان پخوانے باچا محمد ظاهر شاه هم بېرته خپل وطن ته را ستون شو-

**لويه جرګه:**

دبون په لوظنامه کي دا هم څرګنده شوې وه چي د کال ۲۰۰۴ د جون تر مياشتي پوري به په افغانستان کي يو داسي حکومت ټاکل کيږي په کوم کي چي به د هېواد د ټولو خلګو نمايندګي وي او دا حکومت به خلګو پخپله په جمهوري توګه ټاکلے وي- ځکه د کال ۲۰۰۲ د جون له ديارلسمي څخه تر شپاړسمي نېټي پوري حامد کرزي په کابل کي لويه جرګه را وغوښته (عکس نمبر85) چي پکې د جنګ ځپلي هېواد له هره ګوټه ۱۵۰۰ نمايندګانو برخه لرله- د



عکس نمبر85 په لويه جرګه کي رباني وحامدکرزي ته دافغانستان واک ورسپاري

جرګې د غړو ټاکنه هم د ملل متحده ترڅار لاندي وشوه چې د ښځو او غېرمسلم افغانانو نمايندګي هم پکې وه- د دغې لومړۍ لويې جرګې پرانسته د افغانستان پخواني باچا محمد ظاهر شاه وکړه- ټولو نمايندګانو د ووټ له لاري، د دوو کالو دپاره، د عبوري صدر په توګه، ددۀ د مشرۍ توثيق وکړ- همدغې لويې جرګې پخواني باچا ظاهر شاه ته د قام د "بابا" حېثيت ورکړ- د لويې جرګې غړو د افغانستان د نوی اساسي قانون (آئين) د جوړولو کار پېل کړ- د کال ۲۰۰۲ د اکتوبر په مياشت کې د افغانستان د نوي کرنسۍ نوټونه هم چاپ شول- سل نوي افغانۍ د يوه لك پخوانيو په تول وې يعني يوه نوې افغانۍ د زرو پخوانيو په قيمت-

هغه وخت د نړۍ د لوی شمېر هېوادونو دا ګمان ؤ چې په دومره کمه موده کې په افغانستان غوندي جنګ ځپلي هېواد کې جمهوريت راوستل ممکن نه دے- خو افغانانو نړۍ ته ورثابته کړه چې دوی کولای شي چې ناممکن هم ممکن کړي- که څه هم دغه ټاکلے وخت په افغانستان کې د جمهوري نظام د کاميابۍ د پاره ډېر کم ؤ، خو د افغانانو په ډېر زيار دا کار هم تر سره شو- د افغانستان نوی اساسي قانون (آئين) د کال ۲۰۰۴ په جنوري کې عملي کړل شو- د اپرېل په مياشت کې د جرمني په برلن ښارکې د افغانستان دبېرته جوړېدو په حقله يو عالمي کانفرنس وشو- په دغه کانفرنس کې که څه هم د نوي تعمير د ضرورتونو جاج واخست شو خو ورسره ورسره دا هم څرګنده کړل شوه چې منتخب صدر به لويه جرګه ته جوابدِه وي-

د انتخاباتو د پاره د ووټ ورکوونکو رجسټرېشن يو لوی کار ؤ

چي افغانانو په ډېر محنت او حوصله د ملل متحده تر څارلاندي تر سره کړ- انتخابات د کال ۲۰۰۴ د جون له میاشتي څخه لږ وروسته د اکتوبر دمیاشتي په نهمه نېټه پېل شول- اوّل صدارتي انتخابات وشول په کوم کي چي حامد کرزے منتخب شو بیا تر یخ وروسته په ۲۰۰۵ کي د اپرېل په میاشت کي پارلیماني، صوبایي او ضلعي انتخابات هم وشول-

کرزي او د دهٔ نورو حکومتي غړو ته ډېري ستونزي مخ ته وې- نائب صدرحاجي عبدلقدیر شهید کړل شو او پخپله پرکرزي هم قاتلانه حملې وشوې- خو حقیقت دادے چي ترکال ۲۰۰۲ وروسته په افغانستان کي څه نا څه آرامي شوه د ښارونو ترحده حکومتي کنټرول وجود وَدرلود- دوه ملیونه خلګ بېرته خپل وطن ته راغلل او آباد شول- که څه هم د وران افغانستان بېرته جوړېدل هغه شان نه ؤ کوم چي نړۍ والو د افغانانو سره وعده کړې وه خو د "بون لوظنامه" د افغانانو ترمنځ "پښتو" وه ځکه تر ډېرو ستونزو وروسته هم حامد کرزي خپله پښتو تر سره کړه او صدارتي انتخابات یې د اکتوبر د میاشتي په نهمه نېټه پېل کړل-

**ټاکني (انتخابات):**

تر طالبانو وروسته په هېواد کي د لومړیو انتخاباتو خلګو هر کلے وکړ- افغانانو خپل وس وکړ چي په هېواد کي ورور وژنه ختم شي او د خلګو حکومت جوړشي- ډېرو پښتنو لیکوالو د دغو انتخاباتو د کامیابۍ په هلوځلو کي خپل قلمي فرض اداکړ[۶]- په افغانستان کي د انتخاباتو زمه واري دملل متحده او افغان عبوري

حکومت (UN Afghan joint election management body) دواړو پر غاړه وه- د انتخاباتو د دغه اداري مشر بسم الله خان بسمل ؤ- دغي اداري د کال ۲۰۰۴ په وروستۍ برخه کي ، په ډېرو سختو حالاتو کي، په افغانستان کي صدارتي انتخابات وکړل- حامد کرزے د افغانستان په تاريخ کي اول ځل د خلګو په ووټ، په لوی اکثريت د افغانستان د مشر په توګه وټاکل شو- په لږ وخت کي دملت نوے دستور هم تشکيل شو- يو کال وروسته د ستمبر د مياشتي په اتلسمه نېټه ، په کال ۲۰۰۵ کي کامياب پارليماني انتخاب هم وشو- د ۲۴۹ ممبرانو(غړو) لويه جرګه يا ملي اسمبلۍ وټاکل شوه- په دغه لويه جرګه کي د ښځو د پاره اول ځل ۶۸ چوکۍ کښېښوو شوې- د پارليماني انتخاباتو تر بشپړه کېدو وروسته د افغانستان د ۳۴ ولايتونو ټاکني هم په خېر خېريت وشوې-

که څه هم د افغانانو "پښتونوالے" هم تر ډېره حده جمهوري ؤ خو د اکتوبر ۲۰۰۴ انتخابات د افغانستان په پنځه زره کلن تاريخ کي لومړي انتخابات وو- په دغه صدارتي انتخاباتو کي حامد کرزے د افغانستان په تاريخ کي اول ځل په ووټ د هېواد صدرمنتخب شو[۲]- حامد کرزے د افغانستان اوّل صدر دے چي خلګو پخپله په جمهوري توګه ټاکلے دے- د انتخاباتو دويمه برخه هم حامد کرزي په ښه توګه تر سره کړه- د کال ۲۰۰۵ د اپرېل په مياشت کي په افغانستان کي د پارليماني، صوبايي او ضلعي انتخاباتو پروګرام ؤ خو دانتظامي مشکلاتو له کبله څه وځنډېدل او د ستمبر په مياشت کي دا انتخابات هم په ښه توګه مکمل شول- په افغانستان کي د صدارتي، پارليماني، صوبايي او ضلعي انتخاباتو مرام په اصل کي

دا ۀ چي خلګ د افغانستان په اقتدار کي برخه ولري او هېواد کي په سمه توګه د خلګو نماينده حکومت وي- په کال ۲۰۰۵ کي د ستمبر د مياشتي پر اتلسمه نېټه د پارليماني انتخاباتو نتيجې هم راغلې- د حامد کرزي ډېرومخالفانو هم په دغه انتخاباتو کي برخه واخسته او لوی شمېر پکې کامياب هم شول- دا وخت د افغانستان په حکومت کي د ټولو نسلي ګروپونو نمايندګي شته- د پښتنو، تاجکو، ازبکو، ترکمانو، هزارګانو او بلوڅانو مشران د خپلو خپلو خلګو په نمايندګی د پارليمان غړي دي او پر خپلو مسئلو د هېواد په پارليمان کي د ږغېدو پوره پوره حق لري- د طالبانو ډېرو ملګرو په انتخاباتو کي برخه واخسته په کومو کي چي حميدالله توني اوملا عبدالسلام راکټي هم کاميابه شول-

په دغو انتخاباتو کي دښځو نمايندګي په سل کي پنځويشت (۲۵٪) ټاکل شوې وه خو د طالبانو له وېري په سل کي دوولس (۱۲٪) ښځو برخه واخسته په کومو کي چي زرمينه پښتون هم له زابله د لويي جرګې د غړي په توګه وټاکل شوه- په ټاکلو شوو ښځو کي ملالی شنوارې ، شکريه بارکزی ، فاطمه نزري، فوزيه ګيلاني ، فريبه احمدي ، صفيه صديقي ، طاهره شريفه ، شکيله هاشمي، موسيه عالم، سهېله شفيق، شيرين محسني، فوزيه روفي، زهره احمديار، صالحه، حمېره ګلستاني، نجمه سعيد، عزته رفغت، سميعه عزيزي، سيما جوندا، حبيبه دانش او نورو سياسي او سماجي کارکونکي مېرمني شاملي وې- ملالی خو ډېرو غښتلو ته په ټاکنو کي ماته ورکړه- د افغانستان په تاريخ کي د ښځو د نمايندګی په غرض ، اوّل ځل په جرګه کي ۶۸ چوکی کښېښول

شوې- په هېوادکي ډېر وخت وروسته په خبر خبريت پارليماني انتخابات کول يوه ډېره مهمه واقعه وه- که څه هم دا شان جنګ ځپلے هېواد په لږ موده کي نه شي سمېداى خو تر دغو انتخاباتو وروسته د افغانستان پر تعمير، سياست، استحکام ښه اثر شوے دے او ځلاند مستقبل لره يې اميد کېداى شي -

هېواد ته يوه نوې او مُستحکمه کرنسي ورکول، دوه واره لويه جرګه کول، يوله بله سره په جنګ اخته ګروپونه تر يوه چت لاندي کنټرولول او متفقه اساسي قانون (آئين) جوړول د حامد کرزي د يادوني وړکارونه دي خو "ملي فوج" جوړول او د ملل متحده فوجونه د مننني سره له هېوادهٔ رُخصتول لا تر اوسه ورته ګوري-

حامد کرزي خلګو ته په خپل لومړي تقرير کي په ډاګه ووئېل چي د هېواد د پر مختګ او تعمير لومړے شرط امن دے او حقيقي امن به د قوي"ملي اردو" په جوړېدو سره راځي- په دې لړ کي د افغانستان پخوانے دوست هېواد جرمني په ښه نيت د افغانستان عسکرو ته تربيت ورکوي لګيا دے-

حامد کرزي د ۲۳ جولايي ۲۰۰۷ په سهار د "ظاهرشاه بابا" له دُنيا څخه د رُخصتېدو په وخت د يوهٔ مُدبرمشر په حېث چي کوم عقيدت ورته وړاندي کړ هغه يوې خواته په کړکېچنو حالاتو کي د ظاهر شاه بابا د لويو خدماتو اعتراف ؤ او بلي خواته په خپلواک هېواد کي د هغهٔ د غېر جانبدارۍ او ملي روغي جوړي د پاليسۍ توثيق هم ؤ-

د افغانستان او پاکستان ترمنځ " امن کمېشن" جوړول او بيا په دې لړکي د دواړوو هېوادونو ترمنځ د اړيکو ټينګولو په خاطر د

کال ۲۰۰۷ زېږدي د اګست له نهمي څخه تر دوولسمي نېټې پوري "لويه امن جرګه" رابلل هم د حامد کرزي د ملي روغي جوړي په حقله د کوښښونو حصه ده- په کومه کې چي د پښتونخوا د ټولو مشرانو سره د پاکستان صدر جنرل پروېز مُشرف او وزير اعظم شوکت عزيز هم ګډون درلود- که څه هم طالبانو دبون کانفرنس په شان د افغانستان او پاکستان ترمنځ په دغه امن جرګه کي هم ګډون ونه کړ خو له دغي جرګې څخه چي د روغي جوړي د کومو هلوځلو هيله پېدا شوه ښايي چي په راتلونکو ورځوکي به د طالبانو سره هم دخپر د خبرو اترو پيلامه شي او افغانانو لره به د امن زېرے شي- خو د امريکا اېجنډه څه بله ښکاري ځکه به د خداى فضل غواړو-

## اخځليك


١- مکرجي اپراتم ، *افغانستان: له دهشته تر جمهوريته* ( Afghanistan from terror to freedom) سټرلنګ پبلشرز ډيلی ، اينډيا ۲۰۰۳ -

۲ - کرسټينا لېمب ، The sewing circles of heart ، اردو ترجمه ( *طالبان کا افغانستان* ) محمد يحي خان ، نګارشات لاهور ، ۲۰۰۴ -

۳ - لخدار ابراهيمي ( په افغانستان کې د ملل متحده سپېشل نماينده) ، دَملل متحده سېکرتري جرنل ته لېږلے راپورټ ، ۱۹ جولايي ۲۰۰۲

۴ - رچرډ هالبروک ، Send a Multinational Security Force to Afghanistan (واشينګټن پوسټ) انټرنېشنل هېرالډ ټرايبيون ، ۱۵ نومبر ۲۰۰۱ -

۵- رسنياګم انجيلو، Afghanistan a Moderan History يعني د افغانستان جديد تاريخ ، آيي بي ټارس لندن ۲۰۰۵ -

۶ - رفيع حبيب ا لله ، په افغانستان کي د تاريخي انتخاباتو بهير، بګړی، لومړی ګڼه ، لښکرګاه ، هېلمند ، ۱۳۸۳ لمريز کال-


Pukhto.Net

# ۳۳

# عالمګيريت او افغانان

په شلمه عيسوي پېړۍ کي انسان ډېرمخ په وړاندي ولاړ او د کائنات پرډېرو پټو خزانو يې غلبه حاصله کړه- سائنسي ټېکنالوژي د انسان د پاره ډېري آسانتياوي پېدا کړې- دې ترقۍ نړۍ پر دوو جلاجلا فکري ډلو تقسيم کړه- يوه ډله هغه ده کومه چي له دغه ترقۍ سره سمه روانه ده او په دې کي نوره چسپاندي غواړي اوبله ډله د ترقۍ له دې رفتاره وېره لري- د دې دويمي ډلي وېره دا ده چي د ترقۍ له دې منځي څخه به ډېري لوئي معاشي، معاشرتي، ثقافتي، سماجي او سياسي پېښبي وشي، چي د نړي امن به له لويه خطره سره مخامخ کړي، لکه دا کرکه چي په آسيا کي معاشي بُحران مغرب پېدا کړے دے[۱]-

سائنسي ټېکنالوجي د انسان د پاره که څه هم ډېري آسانتياوي پېدا کوي او مصروفه يې هم ساتي خو دجنګي ټکنالوجي پرمختګ د انسانانو د پاره يوه لويه فکرمندي هم راځرګندوي- اېټم بم، هائيډروجن بم او نوري ډول ډول وسلې د نړۍ په ګټه نه دي بلکي د

لويي تباهۍ نخښي دي- دترقۍ له دې منډي څخه به په نړۍ کي د وسائلو وېش د برابرۍ او انصاف پر اصولونو نه وي بلکي غريبي او لوږه به نور هم زيات شي- دولت به د څه خاصو خلګو سره جمع شي او د نړۍ زيات شمېر خلګ به له ډېرو مسئلو سره مخامخ شي-

**سائبرانقلاب** دعالمګيريت (ګلوبلائزېشن ) يو لوی مثال دے- انټرنېټ دعالمګيريت تر ټولو لويه وسله ده، چي د کوم له کبله مغربي تهذيب په لکونو ميلونه لري خپل حکومت کوي- عالمي اداري او جديد اليکټراني ميډيا په اصل کي د ګلوبلائزېشن د پاره کار کوي چي د دوی په عقيده په جديد دور کي د انسانيت بقا لره يوازنۍ لار ده- دا حقيقت د عراق او افغانستان په جنګونو کي ښېخي ښکاره شو او په نړۍ کي د بشري حقوقو دعوېدارانو وليدل چي په عراق کي څومره بېګناه خلګ ووژل شول او څومره نور د بېعزتيو سره مخامخ شول- په جېلونو کي له بنديانو سره هغه ناوړه سلوك وکړ شو چي د تهذيب او انسانيت پر مخ يو تور داغ دے-

کومي عالمي اِدارې چي د شلمي عيسوي پېړۍ په آخري برخه کي زياتي فعاله شوې، دګلوبلائزېشن اصل کارکوونکي دي او په معاشي، سياسي او ثقافتي توګه پر نړۍ کنټرول غواړي- دا اِدارې د"ملټي نېشنل کمپنيانو" په توګه او د مالياتي ادارو په بڼه د نړۍ تجارت ، معيشت او سياست تر خپل اثر لاندي ساتي- نړۍ ته د يوۀ لوی عالمي کلي (ګلوبل ويلېج) په سترګه ګوري- د اېن جي اوز (NGOs) په بڼه دا هلي ځلي هم رواني دي چي په ټوله نړۍ کي بايد يو مغربي ثقافت، يو سرمايه دارانه معاشي نظام ، يو سياسي فکر او يوه انګرېزي ژبه وي- خو دا د عالمي کلي (ګلوبل ويلېج)

سوچ پخپله هم د کلي له جوړښت سره سمون نه لري، ولي چي کلي خو خپل ثقافت، خپله ژبه، خپل تاریخ، خپل معاشي او سیاسي ضرورتونه لري- د ګلوبلائزېشن دا تصوّر کېدای شي چي پرمخ د بېلا بېلو قامونو شناخت ته خطر شي-

عالمي اداري او لویي عالمي کمپنیاني د نوي الیکټراني میډیا په مرسته ورو ورو د مشرقي قامونو ژبي، ثقافت، سماجي او سیاسي شناخت ترخپل اثر لاندي راوړي لګیا دي- نوي سکولونه په ټوله نړۍ کي د یوې انګرېزي ژبي د خپرولو په کوښښ کي دي[۲]- له نورو قامونو سره سم، ښایي چي افغانان هم د خپل شناخت د ساتني د پاره خپل روایات، خپله ژبه او خپله خاوره له دې خطره په امان وساتي- د زرګونو کلونو زړو روایاتو پښتنو ته دومره قوت ورکړے دے چي خپله خپلواکي یې تر اوسه ساتلې ده او بشري رشتې یې هم ټینګي نیولي دي- که څه هم له بده مرغه پښتو لا تر اوسه سرکاري او علمي ژبه نه ده خو د جدیدو علمي کتابونو ترجمې دا کمي پوره کولای شي- له انګرېزي ژبي څخه په ډېرو جدیدو علمي مسئلو کي فائده اخستل پکارده ، خو په ویښو سترګو-

که څه هم د دې دورعالمګیریت(ګلوبلائزېشن)[۳] په یوۀ بل انداز کي دے خو په تاریخ کي دا تصؤر څه نوے نه دے- عالمګیریت په څه نا څه شکل کي له همېشه څخه په تاریخ کي وجود درلود خو اثرات یې دومره ډېر نه وو لکه چي په دې نوي دور کي ښکاري- پخپله دا حقیقت چي آدم علیه السلام پر ځمکه د خدای له خوا د نائب په توګه راغلے ؤ، له اَزَله د عالمګیریت یو غټ تصوّر ورکوي- سومریانو او مصریانو هم په زړو مهالونو کي په خپل خپل انداز د

محدوده ګلوبلائزېشن لار خپله کړې وه-

يونانيانو چي کله سياسي واك تر لاسه کړ نو يې د سکندر اعظم په وخت کي پر ټوله نړۍ د قبضې کوښښ وکړ او يوناني ګلوبلائزېشن يې عملي کړ- کومي سيمي چي سکندراعظم ونيولې، هلته يې ښارونه په خپل نامه کړل او يوناني ژبه يې د نړۍ تر ټولو ژبو افضله ګڼله- خپل تهذيب يې په زوره پر خلګو توپلے ؤ او نورو خلګو ته يې د وحشيانو په نظر کتل[۴]- يونانيانو د افغانستان او هندوستان کلتور تر ډېره حده د بدلولو هلي ځلي وکړې چي يومثال يې **ګندهارا** کلتور دے- کله چي د يونانيانو قوت کم شو نو يې ورو ورو له دې سيمي څخه لاس وخاتو- افغانانو خپله خپلواکي او شناخت بېرته بحال کړل- روميانو هم په خپل وخت کي لاطيني ژبه پر هغو ټولو علاقو خپره کړه کومي چي د هغوی تر واك لاندي راغلې وې- رومي ژبه خو له رومي ايمپراتورۍ څخه وروسته هم تر ډېره وخته په يورپ کي د علمي او مذهبي ژبي په توګه منله شوې وه- هغه مهال د يورپ خلګو خپلي ژبي غېرعلمي ژبي ګڼلې اولاطيني يې د ادب، فلسفې او سائنس يوازينۍ ژبه ګڼلې وه[۵]-

عربو هم د عالمګيريت يو خپل انداز درلود- چېري چېري چي عربو نوري سيمي فتح کولې او اسلام يې خپراوهٔ، هلته د خلګو خپلي ژبي شاته پاته کېدې او عربي ژبي يې ځای نيوهٔ- په افريکا کي خو اوس هم عربي مورنۍ ژبه ده او د خلګو خپلي ژبي ټولي ختم شوې- په ايران او افغانستان کي خلګو عربي ژبه، د رابطې د ژبي په توګه قبوله نه کړه او خپل شناخت يې وساتهٔ، خوبيا هم له دې سيمي څخه پهلوي رسم الخط ولاړ اوعربي رسم الخط يې قبول

کړ، چي لا تر اوسه دوام لري- عربو په خپله ژبه ډېر فخر کاوۀ او نورو ژبو ويونکو او لوستونکو ته به يې عجمي (ګونګ) ويېل- عرب چي کله کمزوري شول نو فارسي بېرته مخ په وړاندي روانه شوه او په ترکي، ايران، منځنۍ آسيا او افغانستان کي دعلمي، درباري او سائنسي ژبي په توګه وپېژندل شوه-

دمغربي تهذيب او عالمګيريت (ګلوبلائزېشن) له ناوړو اثراتو څخه د قام د ژغورني لار دا ده چي ماشومانو ته پرخپله خاوره په خپله ژبه تعليم ورکړل شي- هرچا ته بنيادي تعليم په مورنۍ ژبه ورکولو لره هلي ځلي وشي- د ملت د جوړښت په خاطر د رياست ژبه بايد يوه وي چي قام متحد وساتي او دغه ژبه نه يوازي د رابطې ژبه وي بلکي يوه علمي، ادبي او ساينسي ژبه هم وي چي پکي ټول علوم په آساني ولوستل شي-

په کال ۱۶۴۸ کي د "وېسټ فېليا" تر لاسليك وروسته په يورپ کي ښکاره بدلون راغے- مقدس رومن سلطنت مات شو او د کليسا قبضه ختمه شوه- قامي رياستونه جوړشول او خلګو ته د ژبو آزادي هم ورکړل شوه- کله چي د قامي رياستونو د جوړېدو وخت راغے نو دا خبره په ګډه ومنل شوه چي د رياست ژبه به يوه وي- ځکه د فرانس تر انقلاب وروسته په کال ۱۷۸۹ کي د قام د جوړښت په غرض، په سل کي پنځوس کسان (۵۰٪) چي فرانسيسي يې نه وئيله، دغي ژبي زده کولو او وئيلو ته مجبور کړل شول او فرانس يې په متحد کړ[۳]-

په نولسمه عيسوي صدۍ کي په يورپ کي د فرانسيسي ژبي اثر دومره زيات شو چي هغه مهال د روس او جرمني حکمرانانو هم

خپلي ژبي علمي ژبي نه ګڼلې او فرانسيسي ژبه يې د علم او ادب ژبه بلله- د جرمنيانو په سوچ کي هغه وخت بدلون ښکاره شو کله چي هغوی له نيپولين څخه ماته وخوړله- تر شکست وروسته جرمن پوهان سره راغونډ شول او دا تحريك يې شروع کړ چي جرمني ژبه به علمي او ادبي ژبه جوړه وو او خپل پاشلي جرمنيان ورونه به بېرته پرخپله ژبه سره راټوله وو چي متحد قام تري جوړ شي- هرډرنطشې او ګرام برادرز له هغو خلګو څخه وو کومو چي په خپلو خوږوخوږو تخليقاتو جرمني ژبه يوه علمي او ادبي ژبه ثابته کړه- جرمن قام يې متحد کړ او يو سترملت يې تري جوړ کړ چي تر اوسه لا د جرمني په نامه د نړۍ پر مخ د يوۀ مهم رياست په توګه دوام لري- له دې تاريخي تجزيې څخه دا حقيقت څرګنديږي چي د عالمګيريت د ناوړو اثراتو څخه د قام د ژغورني لار په هېواد کي د امن سره تړلې ده خو د پښتنو الميه دا ده چي نړيوالو دوی "تش په جنګ غښتلي" پېژندلي دي ځکه د درويش په قول د پردو وار ورته جوړ دے:

د خنجر مخته خو زما زخمي زخمي سينه وه
د خنجر شاته دچالاس ۀ، په دې پوی نه شوم

د افغانستان د شخړي يو مُحقق محترم امين سپکل[۶] هم په دې نتيجه رسېدلے دے چي افغانستان د عالمي او علاقايي طاقتونو د غاښونو ترمنځ دے ځکه يې منطقي نتيجه د نظرياتي انتها پسندۍ سېوا بل څه نشي کېدای- دنړيوالو چي کوم چېلنج ته مخه ده هغه د افغانستان په بشپړه مرسته پوري اړه لري چي هېواد مستحکم او په

امن شي او دنړۍ پر مخ د يوۀ مستقل دولت په دوګه وپايي- امن پخپله د قامونو د مذهب، ژبي، ثقافت، سماجي او سياسي شناخت حفاظت کوي- امن له يوې خوا حکومتونو ته دکار کولو ډاډه ورکوي او له بلي خوا د شناخت د خوندي ساتلو د پاره د خپلي ژبي د خدمت موقعه هم ورکوي- کومه ژبه چي سرکاري ژبه شي نو پخپله علمي او ادبي حېثيت پېدا کوي، خو ژبي ته دا مقام ورکول د پوهانو اوليکوالو ټېنګ ټرون غواړي، چي قام ته شعور ورکړي او متحد يې وَساتي- ټول مذهبي، سائنسي او سماجي علوم په خپله ژبه را ترجمه کړي او د علم نوي خزانې خپله ژبه ته را واړوي ولي چي تګ که پر سکروَټو وي نو پښولره د بل چوټي عار نه دے-

## اخځليك


۱- مهاتير محمد ، د *آسيا* مقدمه ، اردو ترجمه نعيم قادر ، جمهوري پبليکېشنز لاهور ، ۲۰۰۴ -

۲ - عارف تبسم ، ګلوبلايزېشن او مودنۍ ژبي ، آيي ډي ابس پي ، کوټه ، ۲۰۰۴

۳ - سبموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت (The clash of civilizationz and the new world order))

اوکسفورډ ، ۱۹۹۷ -

۴ - احمد ډاکټر رياض ، مغربي يلغر لاهور ، ۲۰۰۴ -

۵- ويليم مېك ګاګي، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه ، حسن عابدي ، مشعل لاهور،۲۰۰۵

۶ -امين سبکل، Modern Afghansistan: a history of struggle and survival، يعني " نوے افغانستان" ، آيي بي ټارس لندن او نيويارك، ۲۰۰۴

# ۳۴

# دعالمي نظام نوے تشکيل

په افغانستان کي د روس تر شکست وروسته کمونيزم ختم شو او په نړۍ کي يوه سياسي خلا پيدا شوه- دا مهال په عالمي سياست کي د "نظريو" ځای "تهذيبونو" واخست- مغربي تهذيب د يوۀ آفاقي تهذيب په توګه پر نړۍ وزر غوړوي- مغربيت او جديديت د ميډيا له لاري په يوۀ نوي انداز عالمګيريت خپروي- مشرقي تهذيب د مغرب دا نوے انداز د نړي امن لره لويه خطره ګڼي- "دتهذيبونو تصادم"[1] نړۍ لره يوه امکاني خطره ګڼل کېږي ځکه عالمي سياسي نظام له نوي سره تشکيل غواړي-

دا وخت خلګو لره ثقافتي شناخت ورو ورو ډېر اهميت اختياروي- د خلګو لوی شمېر ثقافتي شناخت اصل شناخت ګڼي، او د دې شناخت ريښې په تېرو وختونو کي لټوي- ثقافت او ثقافتي شناخت پر لوړه سطح "تهذيبي شناخت" بلل کېږي- ځکه له کميونزم او نظرياتي جنګ څخه وروسته نړۍ د يوۀ نوي انتشار سره مخامخ ده- ډېرهېوادونه دسياسي اوجغرافيايي بدلون په وېره کي دي ځکه

"د تهذيونوتصادم" دعالمګيريت يوه منطقي نتيجه هم ګڼل کيږي-

افغانستان له ازله د عالمي طاقتونه تر منځ د جنګ مېدان پاته شوے دے، او د عالمګيريت خوب ليدونکو لويو لويو لېونو طاقتونو په دې هېواد کي ماته خوړلې ده- پښتنو "د خپلواکۍ د حق دفاع" په هر وخت کي په خپلو وينو کړې ده او پر خپله خاوره يې خپل حاکميت هرکله په نره قائم ساتلے دے- روس او کمونيزم هم د نورو يلغرګرو په شان په افغانستان کي ماته وخوړه، ځکه اوس دنيا "يو قطبي" ښکاري، چي واګي يې د امريکا په لاس کي دي- خو په اصل کي نړۍ اوس هم "کثير قطبي" ده او په دې کي تهذيبونه هم ډېر دي[۲]- مغربيت او مشرقيت له ډېرپخوا څخه د خلګو په مغزو کي ځای موندلے دے خو جديديت له مغربيته څخه بېل او ډېرلوړ دے-

جديديت مغربي تهذيب ته د آفاقي تهذيب ځای نه ورکوي او نه غېر مغربي معاشره مغربي کولای شي- حقيقت خو دادے چي د مغرب اثر ورو ورو پرځوړه روان دے او آسيايي (اېشيايي) ملکونه خپل فوجي، سياسي او معاشي قوت زياتوي لګيادي[۳]- اسلامي نړۍ د "يو قطبي دنيا" له تصوّره په اِنتشار کي ده- غېر مغربي ملتونه دخپلو ثقافتونو پر بُنياد يو بل ته نژدې کيږي لګيا دي- د مغربي تهذيب د آفاقيت دعوېداران مغرب له اسلامي نړۍ اوچين سره په تصادم کي اچوي- دمغرب حکمرانان اسلام سيولائزډ (مغربي) دنيا ته لويه خطره ګڼي او د اسلام ممکنه خطره تر وخت له مخه ختمول غواړي[۴] ، ځکه هغوی پر عراق حمله وکړه او ايران ته هم غرېږي- مغرب دا غواړي چي دآفاقي تهذيب په توګه ځان په

نورو معاشرو قبول کړي، خو دا کوښښونه په اوّل سرکي لا په عراق کي له ماتي سره مخامخ شول- دا عقیده چي نور قامونه دي مغربي قدرونه خپل کړي او د هغوی ثقافت دي د میډیا له لاري بدل شي، پخپله غېراخلاقي اوغېر دانشمندانه ده[۵]- مغربي آفاقیت د نړۍ په ګټه ځکه نه دے چي دا د تهذیونو ترمنځ د لوی جنګ په توګه مخ ته راتلای شي-

د افغانستان مسئله له عراق څخه ډېره بېله ده- په افغانستان کي د روس تر وتني وروسته یوه خلا پېدا شوه- له کلونو په جنګ سره اخته ټبرونه په لویو لویو بڈیو کي ولوېدل- مجاهدینو یو پر بل اعتماد ونه کړ ځکه "واك په ګډه" تړون ونه شو او ورور وژني هماغه شان دوام ودرلود لکه چي وړاندي وه- طالبانو په هېواد کي د امن جوړولو هلي ځلي پېل کړې- قام ورسره مرسته وکړه او د دوی ملاتړ یې وکړ خو ورو ورو د دوی په خوځښت کي هم د پرَدیو تېرے ښکاره شو ځکه خلګو له روس څخه وروسته د نورو لاس وهنه هم ونه منله- په هېواد کي بل څوك داسي نه ؤ چي پاشلے قام یې سره یو ځای کړے وای ځکه خلکود پخواني باچا ظاهر شاه تر مشرۍ لاندي د لویې جرګې غوښتنه وکړه- حامد کرزي د دغي لویي جرګي په لړ کي ډېري ستونزي ولیدلې خو آخر یې ملل متحده په دې قانع کړ چي د کوسووو(سرائیو) اومشرقي تېمور په شان افغانستان ته هم "امن فوج" راولېږي چي تر هغه وخته د جنګ ځپلي قام سره مرسته وکړي تر څو چي امن راشي یا بیا د هېواد خپل فوج دومره فعال شي چي د وطن دفاع پخپله وکړي- د ملل متحده دغه کثیرالملکي فوج (MNF) د روس په شان د یوۀ ګاونډي قبضه نه ده بلکي د ډېرو

هېوادونه فوجونه دي چې دا وخت د ترکي تر قوماندانۍ لاندې کار کوي- د دغو فوجونو وتنه په هېواد کې د امن سره تړلې ده- د وطن خواخوږي که د دغو فوجونو وتنه غواړي نو ښايي چې د امن او ورور بخښنې لار خپله کړي-

اوس د نړۍ بقا په دې کې ښکاري چې نړيوال فکر وکړي او دا نړۍ د"کثير قطبي" ځای په توګه قبوله کړي- مغرب خپل تهذيب پر نورو ونه توپي او د خپل مغربي شناخت غوندې نورو تهذيبونو ته هم د خپل شناخت ساتلو حق ورکړي- "د تهذيبونو د عالمي جنګ" څخه د نړۍ د ژغورنې يوازينۍ لار دا ده چې عالمي سياسي مشران د دنيا کثير تهذيبي حېثيت په ورين تندي قبول کړي او د دې تحفظ د نړۍ د بقا ضمانت وګڼي-

## اخځليك


۱- سېموئيل پي هنټينګټن ، دتهذيبونو ټکراؤاودعالمي نظام نوے جوړښت
(The clash of civilizationz and the new world order )
اوکسفورډ ، ۱۹۹۷ -

۲- ويليم مېك ګاګي، (Five epochs of civilization) دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه ، حسن عابدي ، مشعل لاهور،۲۰۰۵

۳- مهاتير محمد ، د *آسيا* مقدمه ، اردو ترجمه نعيم قادر ، جمهوري پبليکېشنز لاهور ، ۲۰۰۳ -

۴ - هنري اې کسينجر، ډيپلومېسي (Diplomacy)، سائيمن اېنډ شسټر نيويارك، ۱۹۹۴-

۵ - بالز ډېن او وُډ ورډ بوب ، د امريکا د جنګ لاره غبر دانشمندانه ده (America,s Chaotic Road to War) واشِنګټن پوسټ ، ۲۷ جنوري ۲۰۰۲ -

# ٣٥

# پښتانهٔ د سبا په څار

دشلمي پېړۍ آخري څلورمه د افغانستان د بربادۍ دور ؤ- په کال ١٩٧٨ کي د سردار محمد داؤد خان خلاف فوجي بغاوت وشو- دغه فوجي بغاوت د افغانستان د تاريخ تر ټولو لويي بدبختۍ ته بلنه ورکړه- پر صدارتي محل خپلو جهازونو هغه بمباري وکړه چي د افغانستان په تاريخ کي کله پرکابل نه وه شوې- د هېواد ړانده فوجي افسران د کابل پر سړکونو په ټانګانو کي د خپل صدارتي محل په خوا روان وو او د هوايي فوجونو په مرسته يې د خپل دولت په بربادۍ لاس پوري کړ- د روسانو په مرسته فوجي انقلاب راغے، سردارمحمد داؤد خان او د هغه نور ډېر ملګري شهيدان کړل شول- نور محمد ترکي واك تر لاسه کړ، ببرك کارمل يې ورسره نايب کړ- په کال ١٩٧٩ کي، د ستمبر په مياشت کي نور محمد ترکے خپلو ملګرو و واژهٔ او د ملت واك د حفيظ الله امين په لاس ورغے مګر

امين هم افغانستان کنټرول نه کړ- دَ مارکسيستانو خلاف خلګ راپورته شول ځکه په کال ۱۹۷۹ کې، د دسمبر د مياشتې پر پنځويشتمه نېټه ، روس خپل فوجونه افغانستان ته را ولېږل[1]- له دغه وخته افغانان د بهرنيو قوتونو د لاس وهني له کبله يو له بله سره اخته شول- افغانستان د عالمي سازشونو مرکزشو- دافغانستان بدخواهانو د هېواد سپېځلو خلګو ته په يوۀ لاس کي ډوډۍ ورکړه او په بل لاس کي يې ګولۍ، د ډوډۍخوړلو شرط يې دا ؤ چې ورور به وژني- د ورور وژني دا سلسله تر اوسه لا روانه ده-

لکه مخکي چې مو وليد، روس خو مجبوره شو له افغانستان څخه و ووت، مګر نورو ګاونډيانو خپل لاسونه ترې ونه ايستل- د فوجي حکمرانانو بقا د افغانستان په جنګ پوري اړه لرله ځکه هغوی جنګ ته دوام ورکړ[2]او د جنګ پرستو روزنه يې جاري وساتله- دا پاليسي وروسته د ګاونډيانو په خپل نقصان هم تمامه شوه-

د روس له وتلو سره سره پکار خو دا ؤ چې مجاهدينو په ګډه د خپل جنګ ځپلي هېواد پړکېدلي خلګ سره راټول کړي وای او يو عبوري حکومت يې ترې جوړکړے وای، چې په انصاف يې د لويې جرګې د غړو د ټاکيني (انتخاب) انتظام کړے وای، خو داسي ونه شو- که څه هم مجاهدينو د پنځوسو(۵۰) غړو شورآ جوړه کړه او بُرهان الدين رباني يې د افغانستان صدر کړ خو هغوی په خپل منځ کي اتحاد ونه ساتۀ- پرکابل د بېلا بېلو ګروپونوحملې شروع شوې- وروسته حالات دومره خراب شول چې افغانستان په عملي توګه پر وړو وړو آزادو علاقو تقسيم ښکارېد- مجاهدينو افغانستان جوړنه کړ بلکي نوري ورانۍ يې هم وکړې- د افغاني يَتيمانو اوښکي يې

پاکي نه کړې بلکي نوري مندي يې هم بُري کړې- د هېواد ښارونه روغ په روغ نړېدل لګياوو- نورو هېوادونو هم په هېواد کي لاس وهنه زياته کړه- په دغو حالاتو کي د طالبانو تحريك د ملاعمر اخوند تر مشرۍ لاندي راپورته شو-

عام طالبان په حقيقت کي د سمي لاري خلګ وو خو د نورو په چل ول يې سر نه ؤ خلاص، ځکه يې وروسته ورخونه ترې يووړل- د يويشتمي پېړۍ په سرکي دهېواد خلګ د افغانستان د تاريخ تر ټولو لويي تباهۍ نه، د شل لکه کسانو د شهادت له رنځه او د پېوسته جنګونو له ستړياوو بېخي تنګ وو ځکه د طالبانو تر سايه لاندي په تشويش ناست ول- افغانانو دا هيله لرله چي طالبان به په افغانستان کي امنيت راولي او يوله بله سره اخته جنګ سالاران به له منځه يوسي خو د طالبانو له ځينو ملګرو څخه لويي غلطياني وشوې- هغوی څه ناڅه امن خو راووست او د هېواد سياسي ټولواکي يې هم تر لاسه کړه خو د افغانستان لايبرېرياني يې له تاريخي او تهذيبي کتابونو څخه خالي کړې- بېشمېره کتابونه يې وسوځل- د کابل ، هرات کندهار غزني او نورو ښارونو علمي خزانې يې برباد کړې- د هېواد تهذيبي او ثقافتي ميراث يې له لاسه وَايست- دکابل تاريخي موزېم يې تباه کړ- د هرات موزېم يې هم برباد کړ- د خلګو سرونه يې په زوره ورخرَيل[٣] او د غلو اعضا به يې د درختو په ښاخونو راځړول چي خلګ ترې عبرت واخلي- تر دغو پېښو وروسته د نړۍ د نورو قامونو طالبانو ته پام شو-

ملل متحده په نومبر ۱۹۹۸ کي پر افغانستان ځکه اقتصادي اوتجارتي بنديځونه ولګول چي طالبان د بشري حقوقو خيال نه

ساتي- کله چې په کال ۲۰۰۱کې دوی په باميان کې د بودا دوه ډېر پخواني بتان هم مات کړل نو دا فعل نړۍ ډېر وغاندۀ- امريکايانو د طالبانو حکومت د مغرب مفاداتو لره خنډ وګاڼۀ- دا رنګه بېله څه ضرورته د نوي جنګ اسباب پېدا کړل شول او افغنستان يو ځل بيا د جنګ ميدان شو[۴]-

نړۍ تر يويشتمي پېړۍ پوري ډېر پرمخ تګ وکړ- په سياسي، عسکري، اقتصادي، سماجي او سائينسي توګه د آسيا دا ځنډه له مغربي هېوادونو څخه شاته پاته شوه- افغنستان خو د روس د مداخلې سره، د شلمي پېړۍ په آخري څلورمه برخه کې، په وارو وارو تباه کړل شو- دا يوه داسي الميه وه چې ټول افغاني تاريخ په اَفسرده شو- هره روځ به يو نوے ناورين ؤ- يو وخت خوداسي هم راغے چې په ټول هېواد کې يوائنۍ کارخانه د مصنوعي پښو او لاسونو جوړولو کارخانه وه ، نور هرڅه له منځه تللي وو-

کله چې د يويشتمي پېړۍ څرك وشو نو افغنستان کنډ والې ؤ- د افغنستان هغه "دخېر وَګړي" چې د خلګو او قبايلو ترمنځ به يې شخړې اوارَولې، په جنګونو کې له منځه تللي وو- څه خاص ليډر په هېواد کې نه ؤ چې خلک ور پسې راټول شوي واى- پر وطن مېَنانو دا وېره لرله چې هېواد چيري پر ټبرواکيو ځله تقسيم نه شي- په افغنستان کې د ملي حکومت او قامي طاقت کوم تړون چې د پښتنو، تاجکو، اُزبکو، ترکمانو، هزارګانو او بلوڅانو ترمنځ له پېړَيو راروان ؤ پر ماتېدو شو- په افغنستان کې د دغه اوږد جنګ اصل سَوب د ګاونډيانو لاس وهنه ګڼل کيږي- روس اوّل ځل په افغنستان کې د خپلو ملګرو مارکسيسټانو مرسته وکړه او په

وحشيانه توګه يې د افغانستان خلګ ځله وپړکول- بيا امريکا، سعودي عرب، ايران، پاکستان او هندوستان هم خپل خپل ګروپونه په افغانستان کي مُنظم کړل چي اوّل يې د روس خلاف د افغانانو مدد وکړ خو د روس تر ماتي وروسته يې هم په افغانستان کي ورور وژنه ته دوام ورکړ- روس افغانستان برباد کړ خو پخپله هم تر اوسه لا زخمونه څټي لګيا دے- سوئيت يونيئن ټُکر ټُکر شو او په افغانستان کي مداخلت کوونکو لره يې دا سبق پرېښو چي په دې هېواد کي نورلاس وهونکي هم بايد چي د خپلي بقا سوچ وکړي او د خوشحال بابا دا شعر په مغزوکي وساتي چي:

لاتر اوسه يې ماغزۀ په قلار نه دي
چا چي ماسره وهلے سر په سنګ دے

ښايي چي مغرب له روس څخه سبق واخلي او خپله مرسته يوازي تر خپلو مفاداتو محدوده نه کړي بلکي په افغانستان کي د حقيقي امنيت لار صفا کړي- دا هېواد دومره مستحکم کړي چي د يوۀ آزاد او مترقي دولت په توګه د نړۍ پر نقشه دوام ولري- امريکا او د هغۀ اتحاديان دا هلي ځلي کوي لګيا دي چي په منځنۍ آسيا کي د حکومتونو او د تيلو د کمپنيانو تر منځ جوړه وشي چي له باکو څخه تر سايِهان پوري د تيلو لوی پائِپ لائِن وغزول شي- د کاسپېن سمندرګي په شاوخواکي خورا ډېر تېل دي چي د امريکا ورباندي نظر دے- ترکمانستان يو وړوکے ملك دے خو تېل ورپکې ډېردي- ځکه امريکا په راتلونکي وخت کي له ترکمانستانه

کويت جوړول غواړي خو دامقصد به يې هله تر لاسه کيږي چې په افغانستان کې امن شي[۲] - امن نه خو په خواست راتلای شي او نه په ډنډه- د امن دپاره دالازمي ده چې په نړۍ کي فېصلې په انصاف وشي- دقامونو دکلتور، آزادۍ او مذهب احترام وشي- په معاشره کي دتحفظ احساس پېدا کړل شي، تعليم عام شي او خلګو ته روزګار ورکړل شي-

د تيلو دپائپ لائنونو غَزَول په افغانستان او عراق کي تر امنيت راوستلو وروسته په عملي توګه ممکن دي، ځکه امن د مغرب او امريکا هم ضرورت دے- په دې سيمه کي د روس خپل تاريخي حېثيت دے ، ځکه د امن په عمل کي دروس شاملَول هم دومره مهم دي لکه چي په افغانستان کي د ګاونډيانو لاسنيونه- لاس وهنه لکه چي د روس په نقصان تمامه شوه همدغه شان د نورو ګاونډيانو په زيان تمامېدای شي-

مستحکم او خپلواك افغانستان د ايران او پاکستان دواړو په ګټه دے- چونکي منځنۍ آسيا ته هره لار تر افغانستان تېريږي ځکه محفوظه لار په افغانستان کي د امنيت سره تړلې ده او امنيت د "نه مداخلې"سره پېوند دے- د پاکستان او ايران پاليسي جوړوونکو ته پکارده چي په دې سيمه کي د جنګ پرستو مخنيوے وکړي او د امن لار خپله کړي ولې چي جنګ د مسئلو سَوب دے حل يې نه دے- له پاکستان څخه تر منځنۍ آسيا پوري د ګېس او تيلو پائپ لائنونه ، په مستحکم افغانستان کي خو په آساني تېرېدای شي مګر د چاؤدونو په ګړزونو او توغندَيو په باران کي ممکن نه دي-

د افغانستان تقسيم نه د ايران په ګټه دے او نه د پاکستان، ولي

چي دا شان د ګاونډيانو د تقسيم لار هم خلاصېداى شي- د خپلي قامي سلامتۍ په خاطر بايد چي ګاونډيان د افغانستان د بقا خيال وساتي او هلته د يوۀ ټاکلي حکومت مرسته وکړي- په افغانستان کي تر امنيت وروسته به په دې سيمه کي د ښېګړي او ترقۍ لاري هم خلاصي شي- د منځنۍ آسيا ټولو هېوادونو ته به تر سمندره ډېره لنډه لار په لاس ورشي او د افغانستان سره سره به د پاکستان اقتصاد هم ښه شي- پاکستان به د منځنۍ آسيا سره د مواصلاتي روابطو له کبله ډېره زياته ګټه تر لاسه کړي- ايران چي دا وخت په نړۍ کي بېخي يوازي پاته دے، په افغانستان کي تر امنيت وروسته په عالمي منډۍ کي خپل مقام لټولاى شي- چين به د سينکيانګ صوبې د سر پورته کولو له وېري آزاد شي- امريکا به د منځنۍ آسيا له قدرتي وسائلو نه ګټه واخلي او روس ته به له جنوبي آسيا سره د اړيکو ساتلو پوره پوره موقعه په لاس ورشي-

د انساني تهذيب د پنځمي تاريخي څپې اوس يويشتمه پېړۍ په مخه ده چي د"کمپيوټر ټېکنالوژي" دوربلل کېږي[5] - دانټرنېټ او سېټلايټ په قوت د جديد او بالا دست کلتور رامخته کولو هلي ځلي له ١٩٩٠ څخه رواني دي- امريکا، يورپ ، چين ، جاپان، روس او هندوستان غوندي عالمي قوتونه په دغه منډه کي شامل دي- سرمايه داران د مغربي تهذيب د آفاقيت دعوي په حقيقت بدلولو د پاره د عالمګيريت تصوّر په عملي توګه پر نړۍ خورول غواړي ځکه دانټرنېټ او سېټلايټ په قوت يې "ميډيا وار" روان کړے دے- مشرقي تهذيب او اسلامي قدرونه له خطرې سره مخامخ دي- دا وېره هم شته چي يوشمېرمغربي قوتونه زموږ پر ځمکه جنګ ته دوام

ورکول غواړي ولي چي که امن راشي نو مشرقي قامونه هم مخ په وړاندي تلای شي- مشرقي قامونه د تعليم او ټېکنالوژي په مېدانونو کي تر مغرب ځکه ډېر وروسته پاته شول چي پر دې سيمه کله د فلسطين جنګ وي، کله د کشمير کشاله او کله د افغانستان شخړه-

د پاکستان، افغانستان ، ايران او منځنۍ آسيا د ټولو هېوادونو مذهب اسلام دے او اسلام دامن دين دے- جنګ که څه هم کله کله دمسلمانانومجبوري شوې ده خواسلامي تهذيب ډېرجنګ سالاران د انسانيت عَلم برداران هم کړل- مونږ ټول يو اُمت يو او فرقه پرستي د اُمت ريښې کاږي- رواداري د امن ضمانت ورکوي خو انتقام د هېواد بُنياد لړزوي- انصاف او مساوات (برابري) د اسلامي معاشرې تنبې دي چي د اُمت اصل قوت بلل کيږي- اسلام خو د ټولو پښتنو مذهب دے چي هر پښتون په ټينګه ورباندي ولاړدے خو د اِقتدار جنګ له اوّله سره د مسلمانانو ملا ور ماته کړې ده- دا وخت هم د پښتنو تر منځ د اِقتدار جنګ روان دے چي د دوی په ګټه نه دے- د حکومت کولو حق پکار دے چي د نورو قامونو غوندي پښتانه هم خلګو ته ور کړي- د ووټ له لاري بايد چي د ټولو جرګو غړي وټاکل شي او ټاکني هم د ټولو ګوندونه په ګډه او په صفا انداز- د پښتنو دُښمنان دا غواړي چي ملا او خان تل سره ښکر په ښکر وي خو د مولانامفتي محمود او ولي خان په ګډه حکومت جوړول او بيا چي کله ذوالفقارعلي بهټو د ولي خان د پارټۍ حکومت ور ړنګ کړ نو د مفتي صاحب له حکومته ببلېدل د دوی تر منځ د تاريخي اِتحاد امکان ته تقويّت ورکوي-

د نېکمرغی خبره داده چي په افغانستان کي ښکاره بدلون راروان دے- دا بدلون د خلګو په خوراك، چښاك، پوښاك او استوګه کي نه بلکي ددوی په فهم اوفکرکي ښکاري- شپږ کاله وړاندي چي په کوم هېواد کي تعليم منع ؤ اوس په زرګونه سکولونه او پوهنځي پکي فعاله دي- چيري چي د ټيلي ويژن کتنه جُرم وه هلته اوس تردرزن زيات افغاني چېنلونه کتل کيږي- هره روځ په سوونو اخبارونه او رسالې د خلګو د لوستني د پاره چاپېږي- د لراوبر ټول ښتانه دکمونيسټانو تر ماتې  وروسته اوس د يوۀ دين منونکي، د يوۀ قام غړي او د يوې ښتو ويونکي دي ځکه له دوی څخه قام د دې غوښتني حق لري چي پخپلوکي سره وبخښي، نفرتونه ختم کړي، ګيلې هېري کړي، يو مُټ شي ا وتل سره په خندا (عکس نمبر86)



عکس نمبر 86  مولا نا فضل الرحمان ، اسفند يار ولي او محمود خان اڅکزے

وي- نفرتونه ختمول اوس د ملا او خان ګډه ذمه واري ده- ځکه خو رحمان بابا وايي:" کردګلوکړه چي سيمه دي ګلزارشي"- که د ميرويس نيکه، احمد شاه بابا او باچاخان په وخت کي ملايان، خانان او پوهان سره يو مُټ وو نو اوس ولي نه شي کېداى؟- جنګ ته دوام ورکول د قام ريښې کاږي ځکه د امن لار دعدم تشدد لارده- مدرسې خو باچاخان هم جوړولې[۶] او عبدالصمد خان شهيد يې ملګرے ؤ، ولي چي هغوى دواړو تعليم د قام د پرمختګ يوازينى لار ګڼله-

که ارباب سکندرخان په مولانا مفتي محمود پسې اِقتِدا کولاى شوه نو اسفنديارولي اومحمودخان دمولانا فضل الرحمان او مولانا محمدخان شېراني سره ولي نه شي جوړېداى؟ او حامدکرزے د ملا عمراخوند سره روغه ولي نه شي کولاى؟ يووالے د قامونو د بقا يوازينے ضمانت دے- قامونه په اِتحاد او اتفاق د هري بلا مقابله کولاى شي- دا وخت په هېواد کي لګېدلے اورمړکول يوه مهمه مسئله ده- اوس په دې سيمه کي عملاً له هري خوا د امن لاري تړل کيږي، ولي چي امن د پښتنو د ترقۍ او پرمختګ ضمانت ورکوي او دا د دې سيمي هيڅ يو قوت هم نه شي ځغملاى- ځکه امن د پښتنو تر ټولو لوى ضرورت دے چي په هرقيمت ترلاسه کول پکار دے- دا جنګ د پښتنو خپل نه دے بلکي له بهَره ورباندي توپل شوے دے چي اوس ځان تري خلاصواى نه شي- وينه که په افغانستان کي بهيږي او که په وزيرستان کي، د سپېځلو پښتنو وينه ده- مري که طالب او که عسکر، ښځه او که نر، ماشوم او که

سپينږږے، ټول پښتانهٔ دي- د هېواد نه کلے پاته دے او نه ښار، نه سړك روغ دے نه پُل، نه روغتون پاته شو او نه پوهنتون، هرڅه د پردو توپلي جنګ کي وسوځل ايره شول- دا نه ختمېدونکے جنګ به لا ترکله د اور په شان افغان وجود سوځي لګيا وي؟ ترڅوبه افغاني وينه د تيلو په شان دغه پردے اور بل ساتي؟

د دې سيمي پخوانے تاريخ د نورو قامونو په وړاندي دا حقيقت څرګندوي چي پښتنو په اتحاد ډېرو زورَورو ته هم ماتي ورکړي دي خو بې اتفاقي يې الميه ده- ځکه هغوی د پښتنو ترمنځ روغه جوړه نه غواړي او په بېلا بېلو کشالو يې بوخت کړي دي- کله يې د بې دينۍ په تور وژلي دي او کله يې د دين په سزا خپل کور ورته اور کړے دے:

پرون يې مړ په بې دينۍ کړم
نن مي د دين په تور اعدام ته جګوينه

د روس ترمداخلې وروسته د افغانستان دښمنانو د ډالرو په زور د سپېڅلو پښتنو وينه پرځای او بې ځايه تويوله- هرسهار به د يوهٔ نه يوهٔ مشرمړے د کور بهر پروت ؤ- پته به يې نه لګېده چي چا وژلے دے؟ او په څه تور يې نيولے دے؟ کله به يې دا رنګ ورکاوهٔ چي د دين دښمن ؤ ځکه مجاهدينو وواژهٔ او کله دا چي ديندارہ سړے ؤ کمونيستانو به وژلے وي- دا لوبه دومره اوږده شوه چي د قام د لوی شمېرمشرانو سرونه يې وخوړل- هماغه شان اوس بيا په وزيرستان او نورو قبايلي علاقو کي په زرګونو مشران داسي ووژل

شول چي نه يې ګناه معلومه شوه اونه وژونکے- ملا په دې تور وژني چي دهشت ګرد دے او خان په دې چي امريکا لره مخبري کوي- څکه خو سايل وايي چي"ماپه ما وژني عجب هنردے"-

حُجره اوجُمات لا تر اوسه هم د پښتنو دوې مهمي قامي اِدارې دي چي په پښتني ټولنه کي د لويو فېصلوکولو او عَمَلي کولو صلاحيت لري- اوس هم د لوی شمېرغريبانو بچيان له مدرسو څخه زدکړي کوي او مدرسې د تعليم سره سم د دغو ماشومانو د خوراك اوڅښاك بندوبست هم کوي، خو د ورور وژني اِجازت اسلام نه دے ورکړے- د هېواد قدرمنو علماوو او خانانوته پکاردے چي په ټينګه يو و بل ته لاس سره ورکړي- د ورور وژني لار ونيسي او د ورور والی د پاره ږغ وکړي- خاريجيان که عرب دي، که چچن، که اوزبك او که په دوی پسې راغلي اوروپايان او امريکايان، بايد چي له افغانستانه ولاړشي ولي چي دوی نه خو افغانانو رابللي دي او نه د افغانستان شخړي په دوی اوارېدای شي- پښتانهٔ به د خپل قام حالت پخپله بدلوي ولي چي خدای هم د هغه قام حالت نه بدلوي کوم چي پخپله د څه بدلون په لټون نه وي- ښايي چي پښتانهٔ له پڼونه زدکړه وکړي چي سبايې په څلاند شي او د حمزه بابا غوندي له خدايه "خواست" وکړي:

" چي بې تا چاته ټيټ نشي ننګيالے زما ژوندون کړه
زړه زما دي مسلمان وي، تفکر مي د پښتون کړه"

افغانان اوس د هماغه سبا په څار دي چي پکي امن، يووالے، انصاف، تعليم، روزګار، او خپلواکي وي- دوی نن د هغه رهبر په انتظار دي چي دميروېس نيکه او احمدشاه بابا په شان يو ځل بيا ځپلے قام سره يو مُټ کړي- هېواد مستحکم او په امن شي چي د نړۍ پرمخ د يوۀ مستقل دولت په توګه وپاېږي- حقيقت داده چي توره شپه که څومره هم اوږده شي خو سبا لري-

## اخځليك


١ - هنري اېس براډشر، افغان کمونزم او روسي مداخلت (Afghan communism and Soviet intervention)، آکسفورډ يونيورسټي پريس کراچي، ١٩٩ -

٢- احمد رشيد، طالبان اسلام، تېل او نوي لويه لوبه (Taliban, Islam, oil and new great game) اُردو ترجمه، حميدجهلمي، مشعل لاهور، ٢٠٠١

٣ - ډګلس جي برينکلي، Visual History of the World (د نړۍ عکسي تاريخ)، نېشنل جغرافيك، واشنګټن ډي سي، ٢٠٠٥ -

۴ - کرسټينا لېمب، The sewing circles of heart، اردو ترجمه (طالبان کا افغانستان) محمد يحي خان، نګارشات لاهور، ٢٠٠۴ -

۵ - ويليم مېك ګاګي، دبشري تهذيب پنځه مهالونه، اردو ترجمه، (Five epochs of civilization) حسن عابدي، مشعل لاهور، ٢٠٠۵

۶ - خان عبدالولي خان، باچاخان او خدايي خدمتګاري، پېښور، ١٩٩٣ -


❊❊❊